Ministry of Higher Education
Al-Taqwa Insitute of Higher Education
VC Academic Affairs
Publication Department

# Al-Taqwa Journal of Social Sciences

In this issue:

- Practical and Theoretical Relations between National and International Law
- The Origin of Shura(Consultation) in Islam
- Kafu (Competent), According to the Jurists in Marriage
- Similarities and Differences between Crime and Administrative Violation
- The Cultural, Economic, and Political Importance of the Lapis Lazuli Corridor
- Unfair Competition in Business

Year of Establishment: 2022
Nangarhar - Afghanistan
Six-month, Second Volume-2023

التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

۱۴۰۱ ل کال- دویمه ګڼه

لوړو زده کړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
علمي چارو معاونیت
نشراتو آمریت
د علمي مجلې مدیریت

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

## په دې ګڼه کې لولئ!

- د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکې
- د شورى اصل په اسلام کې
- د فقهاوو له انده په نکاح کې کفوه
- د جرم او اداري تخلف ورته‌والی او توپیرونه
- د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي آهمیت
- په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت

د تاسیس کال: ۱۴۰۱ ل
ننګرهار-افغانستان
شپږ میاشتنۍ خپرونه- د ۱۴۰۱ ل کال دویمه ګڼه

بسم الله الرحمن الرحيم

لوړو زده‌کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

علمي چارو معاونیت

نشراتو امریت

د علمي مجلې مدیریت

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۱ ل کال دویمه گڼه

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه


**د امتیاز خاوند**

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

**مسؤل مدیر**

پوهنوال منگل شېرزاد

**د تصحیح مدیر**

حبیب‌الله لوراند

**د توزیع مدیر**

شکرالله شینواری



**تحریر هیيت**

- دوکتور عبدالوهاب حسام
- دوکتور حمدالله کاکړ
- دوکتور هلمند بختانی
- دوکتور اظهارالحق عزیز
- پوهاند فرمان الله هیله مند
- پوهاند شاه ولي خان
- پوهنوال منگل شېرزاد



**د چاپ تیراژ: ۵۰۰ ټوکه**

**چاپ ځای: زکریا گرافیکس، جلال آباد**



**کتنپلاوی**

- پوهنوال معروف شاه شینواری
- پوهنوال محمد ایمل حقمل
- عرفان الله ستانکزی



**کلنی گډون:**

- **ننگرهار : ۳۰۰ افغانۍ**
- **ولایات: ٦۰۰ افغانۍ**
- **بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امریکایي ډالر**

**د یوې گڼې بیه: ۱۲۰ افغانۍ**

**استادانو لپاره : ۸۰ افغانۍ**

**محصلینو لپاره: ۵۰ افغانۍ**

**همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانۍ**



**اړیکو شمېرې: 077323368/0783287788**

**ایمیل ادرس: magazine@altaqwa.edu.af**

**پته: عربانو گولايي، دویمه ناحیه، جلال اباد ښار، ننگرهار- افغانستان.**

## لیکلړ

**سرلیکونه** | **مخګڼه**


| سرلیکونه | مخګڼه |
|---|---|
| **سریزه** | **۱** |
| **د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکې**<br>خوشحال جواد | **۳** |
| **د شورى اصل په اسلام کې**<br>نجیب الله نصرت | **۳۱** |
| **د فقهاوو له انده په نکاح کې کفوه**<br>دوکتور شفیق الله امین | **٦۱** |
| **د جرم او اداري تخلف ورتهوالی او توپیرونه**<br>زاهدالله سیدي | **۸۹** |
| **د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي آهمیت**<br>عبدالحمید سیرت | **۱۱۳** |
| **په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت**<br>بختیار حلیمي | **۱۴۱** |
| **په اسلام کې د چکچکو حکم**<br>اسلام الدین منیب | **۱٦۳** |
| **نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه**<br>خوشحال جواد | **۱۷۹** |

| | |
|---|---|
| **د اسلامي فقهې او افغانستان د مدني قانون له نظره د خيار تعين**<br>عزيزالدين نجات | ۲۱۳ |
| **د شريعت له نظره د نشه‌يي او مخدره توکو حکمونه**<br>محصل غازي زاده | ۲۳۳ |

## سریزه

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥

د قرانکریم نزول په پورته پنځو ایتونو باندې پیل شوی دی، که چېرته مونږ د ذکر شوو ایتونو تفسیر ته دقیقاً پاملرنه وکړو نو د یادو ایتونو د تفسیر په منطق انسان ته تکراراً او په تاکید سره د لوستلو، او زده کولو سپارښتنه شوې، او له دې نه معلومېږي چې الله تعالی جل جلاله هر انسان ته د دې وړتیا وربخښلې چې د کوښښ، ریاضیت او تحقیق له طریقه مختلف علوم ایجاد کړي، زده کړې پکې وکړي او انکشاف ورکړي.

د ذکر شوو ایتونو د تفسیر په موجب لوستل، زده کول، علم، قلم او تحقیق د انساني ټولنې د نیکمرغۍ، پرمختګ، هوساینې او ابادۍ مبدا ده.

تاسو وګورې کومو انساني ټولنو چې د قرانکریم پورته نسخه تطبیق کړې نن ورځ د پرمختګ او ترقۍ په اوج کې قرار لري د نورو له احتیاج څخه خلاص دي او د علم او پوهې په برکت یې خپلو خلکو ته یو هوسا او ارام ژوند برابر کړی دی، ولې چا چې د قرانکریم په ذکر شوې نسخه باندې عمل نه دی کړی نورو ته محتاج دي د ذلت او خوارۍ سره مخامخ دي او د دې وړتیا نه لري چې خپلې اړتیاوې پوره کړي او خپلو خلکو ته د عزت او اسودګۍ ژوند مهیاء کړي.

په افغانستان کې د علومو د انجماد یو بنسټیز لامل د علمي څېړنو کمزوري او نشتون دی پر همدې بناء د نورې نړۍ په څېر د افغانستان د لوړو زده کړو موسسات (پوهنتونونه او د لوړو زده کړو انستیټیوتونه) هم مکلف دي چې د تدریس تر څنګ

علمي څېړنو او تاليفاتو ته ځانگړې پاملرنه وکړئ؛ د دې موخې د تحقق لپاره التقوی د لوړو زده کړو موسسې د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د یوې علمي او څېړنیزې مجلې ( التقوی علمي مجلې ) په عنوان جواز واخیست څو د دې موسسې د علمي کادر غړي پکې خپلې علمي مقالې او څېړنې نشر ته وسپاري او ټولنه او ذیربط ادارات ورڅخه گټه واخلي.

د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د جواز له اخیستلو وروسته د دې مجلې دویمه گڼه د لس (۱۰) علمي او څېړنیزو مقالو په لړلو چاپ ته وسپارل شو، زمونږ هیله دا ده چې چې په دې گڼه کې نشر شوې مقالې د اړونده برخو علمي غناء تامین او د ټولنې ستونزې به حل کاندي.

درنښت

اداره

**خوشحال جواد**

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه

لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمل حقمل

# د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکې

**لنډیز**

د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ د اړیکو په مورد کې حقوقپوهانو زیات نظریات وړکړي دي چې له دې جملې څخه دوه نظریې مهمې او معمولې دي، د حقوقو د دوه ګوونې توب نظریه او د حقوقو د یووالي نظریه. د حقوقو دوه ګووني توب په دې معنی چې ملي حقوق او بین المللي حقوق کاملاً دوه جلا او مستقلې حقوقي رشتې دي چې یو په بل باندې هیڅ ډول تکیه نه لري. د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره ملي حقوق او بین المللي حقوق هغه دوه تعمیرونو ته ورته دي چې هر یو په یوې جلا ځمکې او پایو سره جګ شوي وي، غیر له دې نه چې یو په بل باندې تکیه ولري. د حقوقو د یووالي نظریې پر بنسټ ملي او بین المللي حقوق یو له بل څخه جلا نه دي بلکې د یو واحد حقوقي جوړښت دوه نه بیلیدونکي اجزاء دي، د دې نظریې له مخې بین المللي حقوق په اتوماتیک ډول د ملي حقوقو قلمرو ته داخلیږي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم کولای شئ مستقیماً په هغوی باندې استناد وکړئ یعنې په ملي حقوقي ارګانونو او محاکمو کې د بین المللي حقوقو تنفیذ د داخلي ذیصلاح مقاماتو تصویب او تائید ته اړتیا نه لري.

له عملي حیثه ملي او بین المللي حقوق په څلورو طریقو یو له بل سره اړیکې ټینګوي چې له دې جملې څخه احاله او وصول اصلي طریقې دي او تکمیل او تعارض فرعي د دې علمي مقالې د لیکلو اساسي موخې د ملي او بین المللي حقوقو

تر منځ په تیوریکي او عملي اړیکو پوهېدل دي. د دې موضوع د لیکلو لپاره د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د معتبرو اثارو او کتابونو څخه مو معلومات راټول کړي دي.

د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ د تیوریکې اړیکو په مورد کې د حقوقپوهانو نظریات تر اوسه پورې کومې واحدې پایلې ته نه دي رسیدلي؛ اما له عملي حیثه د ملي او بین المللي حقوقو د اړیکو چوکاټ تقریباً مشخص شوی او دولتونه په ځینو مواردو کې د حقوقو د یووالي او په ځینو مواردو کې د حقوقو د دوه ګووني توب نظریه عملي کوي.

**سریزه**

د ملي او بین المللي حقوقو د اړیکو اړوند بحث اوږده تاریخي مخینه لري، په پخوا وختونو کې (د شلمې پیړۍ تر شروع پورې) د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ اړیکې سطحي او په ساده شکل مطالعه کېدې او د هغه مهال لیکوالانو د نورو علومو (سیاست، اخلاقو، ټولنپوهنې...) سره د بین المللي حقوقو د اړیکو د بحث کولو تر څنګ د ملي حقوقو سره هم د دې حقوقي رشتې اړیکو ته (یوازې د دواړو حقوقي رشتو د اشتراک او افتراک نقاطو تر بریده ) اشاره کړې ده.

د لومړي ځل لپاره د نولسمې پیړۍ په اواخرو کې د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ اړیکې په فلسفي، کم ساري او نوې بڼه مطرح شوې، او یو تن الماني حقوقپوه هاینریش تریپل Heinrich Triepel څرګنده کړه چې: (ملي او بین المللي حقوق نه یوازې دا چې د حقوقو دوه مختلفې برخې بلکې دوه جلا حقوقي سیستمونه او هغه جریانونه دي چې یو له بل سره نېږدې اړیکې لري ولې هیڅکله یو بل نه قطع کوي).

د حقوقو د دوه ګووني توب نظريې له مخې ملي او بين المللي حقوق يو له بل څخه دوه جلا حقوقي جوړښتونه دي چې هر يو په خپله حوزه کې غالب او حاکم او هيڅ يو د بل تابع نه ګڼل کېږي، د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره د ملي او بين المللي حقوقو منشاء، اشخاص، قلمرو، منابع، جوړښت، اجرائيوي قدرت، قضايي ارزښت او موضوعات يو له بل سره توپير لري او همدغه موارد د خپلې ادعا د اثبات د دلايلو په توګه وړاندې کوي.

د دوی په مقابل کې يو شمېر نور ليکوالان او حقوقپوهان پيدا شول کومو چې د دوی نظريه رد او د ملي او بين المللي حقوقو منشاء يې يوه وګڼله او د حقوقو دغه دوه رشتې يې د يو واحد حقوقي جوړښت دوه نه بېلېدونکې برخې يادې کړې. د دې نظريې له مخې ملي او بين المللي حقوق دواړه يو او د يوې سکې دوه مخونه دي، دا نظريه د ادغام دوکتورينو (Incorporation, Doctrine of) اصل باندې ولاړه ده (د دې اصل پر بنسټ په ملي محاکمو او ارګانونو کې د بين المللي حقوقو تنفيذ د داخلي ذيصلاح مقاماتو تائيد او تصويب ته اړتيا نه لري او بين المللي حقوق مستقيماً د ملي حقوقو قلمرو ته داخلېږي). د دوی له نظره د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ د ماهيت (منشاء، اشخاصو، منابعو او موضوعاتو ) له حيثه اساساً کوم توپير وجود نه لري.

زمونږ د مقالې موضوع د ملي او بين المللي حقوقو تيوريکي او عملي اړيکې دي، بناء د دې مقالې په لومړۍ برخه کې د ملي او بين المللي حقوقو تيوريکي اړيکې او په دويمه برخه کې د ملي او بين المللي حقوقو عملي اړيکې د بحث لاندې نيسو.

**د موضوع مساله**

د ملي حقوقو او بین المللي حقوقو اړیکې یو حساسه، تخنیکي او پېچلې موضوع ده ځکه منطقاً او ظاهراً داسې تصور کېږي چې ګوندې ملي حقوق د یو هېواد د سرحداتو په داخل او بین المللي حقوق د یو هېواد د سرحداتو څخه بهر د اعتبار وړ ګڼل کېږي په داسې حال کې چې په دې مورد کې حقوقپوهان او دولتونه متفاوت لیدلوري لري.

همدارنګه د ملي حقوقو او بین المللي حقوقو تر منځ په ځینو حالاتو کې ټکر رامنځ ته کېږي دا چې په دې صورت کې کومې حقوقي رشتې ته ترجیح ورکول کېږي په دې اړه هم د حقوقپوهانو او دولتونو نظر توپیر کوي. همدارنګه د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې هم کاملاً توپیر لري.

چې د دې مقالې په تکمیل سره پورته پوښتنې دقیقاً ځواب او څېړل شوي.

**د موضوع اهمیت**

د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ اړیکې د حقوقو د علم یوه مهمه موضوع ده، په ځانګړې توګه د قاضیانو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو لپاره، ځکه دوی په ځینو مواردو کې د حق د اثبات لپاره په بین المللي حقوقو باندې استناد کوي. مثلاً د افغانستان د ۱۳۹۶ هـ ش کال د جزا کود په ۲۱ ماده کې راغلي: ( که چېرې د ملګرو ملتونو کار کوونکي، یا د نورو نړیوالو سازمانونو کار کوونکي، یا د بهرني دولت سیاسي استازي د داسې جرم مرتکب شي چې د دې قانون حکمونه پر هغه باندې د تطبیق وړ وي، له هغوي سره د بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو سره سم،

چې د نوموړو کار کوونکو او استازو موقف، امتیازونه او مصوونیتونه تنظیموي او د افغانستان اسلامي جمهوریت هغو ته ملحق شوي دي، چلند صورت مومي ).

همدارنګه د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ په ځینو مواردو کې تعارض ( ټکر ) واقع کیږي یعنې امکان لري چې یو عمل د ملي حقوقو له حیثه مشروع او د بین المللي حقوقو له حیثه غیرې مشروع وي نو په دې حالت کې به کومو حقوقو ته ترجیح ورکول کیږي نو له دې حیثه هم د دواړو حقوقي رشتو تر منځ د اړیکو لوستل مهم ګڼل کیږي.

دغه علمي مقاله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو، محصلانو، حقوقپوهانو او مقننینو لپاره هم مهمه ګڼل کیږي ځکه د مسلکي، تخنیکي او وظیفوي حیثه دوی د یادې موضوع سره په مستقیم او غیرې مستقیم شکل تړاو لري او اړ دي چې په دقیق او هر اړخیز شکل وربانديې پوه اوسئ.

دا چې د ملي او بین المللي حقوقو اړیکې د بین المللي حقوقو د بحث یوه مهمه او اساسي موضوع تشکیلوي نو د دې مقالې په لیکلو سره د حقوقو یاده ځانګه لا زیاته غني شوه، او د بین المللي حقوقو او مسلک استادانو او محصلانو چې په دې اړه کومې ستونزې او پوښتنې درلودې هغه په ښه شکل روښانه شوې.

همدارنګه د دې مقالې د لیکلو په پایله کې د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې په دقیق شکل روښانه شوې.

## د موضوع د اختیار سببونه

(د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې) موضوع نظر لاندې دلایلو ته ما د خپلې علمي مقالې لپاره غوره کړه.

۱ـ (د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکو) موضوع باندې تر اوسه کوم مستقله علمي مقاله نه ده لیکل شوې نو ځکه ما د خپل بحث لپاره غوره کړه.

۲ـ د دې مقالې لیکل د حقوقي علومو استادانو، محصلانو، مقنینینو او حقوقپوهانو د علمي سویې د لوړولو لپاره هم ممد واقع کېږي نو ځکه ما د خپلې مقالې لپاره غوره کړه.

۳ـ له بلې خوا زه د عمومي بین المللي حقوقو د مسایلو سره ځانګړې علاقه لرم چې د حقوقو د یادې څانګې یو مهم بحث (د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې) تشکیلوي چې د نهو کلونو راپدېخوا په پوهنتون کې دا موضوع تدریسوم نو د دې موضوع د غوره کولو یو سبب دا هم کېدای شي چې زه په اړونده موضوع کې کافي معلوماتو او موادو ته لاس رسی لرم.

## د موضوع د لیکلو موخې

دغه علمي مقاله چې ( د ملي او بین المللي حقوقو د تیوریکي او عملي اړیکو ) سرلیک لاندې لیکل شوې، اساسي موخې په لاندې ډول دي.

۱ـ د ملي او بین المللي حقوقو د اړیکو په مورد کې د حقوقپوهانو د نظریاتو تحلیل.

۲ـ د ملي حقوقو قلمرو ته د بین المللي حقوقو د واردیدلو میکانیزم توضیح.

۳ـ د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ ټکر او د هغې د رفع کولو طریقو باندې پوهېدل.

۴ـ په عمل کې د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ په اړیکو پوهېدل.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

(د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې) موضوع باندې کومه مستقله علمي مقاله نه ده لیکل شوې، که څه هم د بین المللي حقوقو په اکثریت کتابونو کې د دې موضوع په هکله بحث شوی ولې ډېر پیچیده او محدوده بڼه لري لکه د پرویز ذوالعین د (حقوق بین الملل عمومي) په نوم کتاب کې د ملي او بین المللي حقوقو اړیکې په عمومي شکل د بحث لاندې نیول شوي؛ همدارنګه هوشنګ مقتدر په نوم لیکوال هم د (حقوق بین الملل) په نوم کتاب کې د ملي او بین المللي حقوقو اړیکې ډېر په محدوده بڼه د بحث لاندې نیولي؛ د دې تر څنګ د رابرت بلدسو او بوسچک له خوا ( فرهنګ حقوق بین الملل ) په نوم د انګلیسي ژبې په کتاب کې چې د بهمین اقایي له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د ملي او بین المللي حقوقو اړیکې مجملاً څېړلي ؛ همدارنګه د انتونیو کاسسه له خوا د ( حقوق بین الملل ) په نوم کتاب کې د ذکر شوې موضوع په مورد کې د ځینو مسایلو یادونه کړې؛ د دې علاوه د نګوین کلکه دین، پاتریک دینه او والن پله له خوا د ( حقوق بین الملل عمومي ) په نوم کتاب کې چې د حسن حبیبي له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د ملي او بین المللي حقوقو د اړیکو په اړه عمومي حکمونه ذکر کړي.

د پورته اثارو څخه دا مقاله له دوه اړخونو توپیر لري لومړی دا چې په پورته کتابونو کې د ملي او بین المللي حقوقو د تیوریکي او عملي اړیکو په اړه مجمل بحث شوی ولې په دې مقاله کې ذکر شوې موضوع په هر اړخیز، تفصیلي او وسیع شکل

توضيح شوې ده؛ دويم دا چې په پورته اثارو کې د ملي او بين المللي حقوقو د تيوريکي او عملي اړيکو بحث پيچيلې بڼه لري ولې په دې مقاله کې هڅه شوې چې ياد بحث ساده او بسيط شي.

## د موضوع د ليکلو کړنلاره

د دې مقالې د ليکلو لپاره د کتابتوني ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده، د دې سره په خوا کې د دې مقالې په ترتيب او تنظيم کې لاندې اصول په پام کې نيول شوي دي:

۱ـ وروسته له دې چې معلومات مو راټول کړل بيا مو په دوه برخو وويشل چې هره برخه مو په کوچنيو جزونو باندې وويشله.

۲ـ د معلوماتو په راټولونه کې د معتبرو کتابونو او اخځليکونو څخه استفاده شوې ده.

۳ـ هره موضوع په خپل ځای کې تحليل شوې او مثبت او منفي اړخونه يې روښانه شوي د دې لپاره چې په راتلوونکي کې د لوستوونکو د ذهنيت د ګډوډۍ باعث ونه ګرځي.

۴ـ د موضوعاتو په تحليل کې مې خپله پوره بې طرفي ساتلې او د هر راز تعصب څخه مې ډډه کړې تر څو په پوره عدل او انصاف سره د موضوع ټول اړخونه روښانه شي.

۵ ـ د موضوعاتو د ترتيب پر مهال د مراتبو سلسله په پام کې نيول شوې هغه موضوعات چې لومړی راتلل په لومړی سر کې ځای په ځای شوي او کوم موضوعات چې وروسته راتلل وروسته ځای په ځای شوي چې دا کار له يوې خوا د

موضوعاتو په تنظيم کې رول لري او له بلې خوا د موضوع په زده کړه او پوهاوي کې مرسته کوي.

## لومړی مبحث: د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ تیوریکي اړیکې

د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ د اړيکو په مورد کې حقوقپوهانو زيات نظريات وړاندې کړي دي چې له دې جملې څخه دوه نظريې مهمې او معمولې دي.
د حقوقو د دوه ګوونې توب نظريه او د حقوقو د يووالي نظريه، چې هر يوه په ترتيب سره د بحث لاندې نيسو.

### لومړی مطلب: د حقوقو د دوه ګووني توب نظريه (Dualistic Doctrine)

د دې نظريې بنسټ ايښودونکی الماني حقوقدان او د برلين پوهنتون استاد هاينريش ترپيل Heinrich Triepel دی، نوموړي ( د ملي او بين المللي حقوقو ) تر عنوان لاندې په خپل کتاب کې چې په ۱۸۹۹ م کال کې خپور شو، د دواړو حقوقي رشتو اړيکې له علمي او فلسفي اړخه د بحث لاندې ونيولې.

د شارل روسو او بادوان پرته چې فرانسوي حقوقپوهان دي د دې نظريې اکثراً طرفداران الماني او ايټالوي حقوقپوهان دي.

اوس پوښتنه مطرح کيږي چې د ملي او بين المللي حقوقو دوه ګووني توب څه معنی او مفهوم لرئ؟

د حقوقو دوه ګووني توب په دې معنی چې ملي حقوق او بين المللي حقوق کاملاً دوه جلا او مستقلې حقوقي رشتې دي چې يو په بل باندې هيڅ ډول تکيه نه لري. د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره ملي حقوق او بين المللي حقوق هغه دوه تعميرونو ته

ورته دي چې هر يو په يوې جلا ځمکې او پايو سره جګ شوي وي، غېر له دې نه چې يو په بل باندې تکيه ولري.

دا نظريه د تبديل دوکتورينو (Transformation, Doctrine of) اصل باندې ولاړه ده { د دې اصل پر بنسټ بين المللي حقوق مستقيماً د ملي حقوقو قلمرو ته نه داخليږي او بين المللي حقوق ملي حقوقو ته د اړولو ( ملي تقنيني اسنادو کې د تصريح او وضع کولو ) وروسته په ملي کچه الزامي جنبې غوره کوي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم هغه مهال په بين المللي حقوقو باندې استناد کولای شئ چې د ملي ذيصلاح مقاماتو له لورې ملي حقوقو ته تبديل شي؛ له بل لوري د ملي حقوقو يوه قاعده هم په هغه صورت کې د نورو هېوادونو لپاره الزامي حيثيت خپلوي چې د بين المللي حقوقو برخه وګرځي}.

د دې نظريې له مخې کله چې يو دولت يوه معاهده لاسليک کوي نو لومړی بايد وڅېړي چې د نوموړې معاهدې متن او محتوا د مربوطه هېواد د ديني اساساتو او قوانينو سره هيڅ ډول ټکر او تضاد نه لري، او له هغه وروسته دې لاسليک کړئ، بيا دې د همدې معاهدې متن او محتوی د يو ملي تقنيني سند ( قانون، فرمان... ) په بڼه تصريح او ذيصلاح ارګانونو ( شوری، پارلمان ) ته دې د تصويب لپاره وړاندې کړي، که شوری يا پارلمان د مربوطه معاهدې متن او محتوا د ديني اساساتو او ملي حقوقو سره سمه او مطابق وګڼله نو امکان لري چې تصويب يې کړي چې په دې ترتيب به ياده معاهده په ملي کچه الزامي حيثيت خپل کړي او د ملي حقوقي ارګانونو او محاکمو لپاره به د استناد يو حقوقي دليل شي.

د حقوقو د دوه ګووني توب نظريې پر بنسټ هيڅ دولت نشئ کولای چې په بين المللي محکمه کې د خپلې دفاع او مسووليت د رفع کيدو لپاره په ملي حقوقو استناد وکړي. مثلاً د ويانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسيون په ۲۷ ماده کې راغلي: ( د معاهدې يو اړخ نشي کولاي چې د معاهدې د اجراء په برخه کې د خپل قصور د توجيه کولو لپاره په ملي حقوقو استناد وکړي ).

د دې نظريې له مخې د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو د ټکر په صورت کې ملي حقوقو ته ترجيح ورکول کيږي. انګلستان، هندوستان او پاکستان يوازې د معاهداتو په برخه کې د دې نظريې پيروي کوي.

**لومړی جز: د حقوقو د دوه ګووني توب نظريې د ثبوت دلايل**

د حقوقو د دوه ګووني توب مکتب پيرو حقوقپوهان د دې نظريې د ثبوت لپاره لاندې دلايل وړاندې کوي چې هر يو په ترتيب سره د بحث لاندې نيسو.

**لومړۍ فقره: د منشاء له حيثه**

د هاينريش ترپيل Heinrich Triepel له نظره ملي حقوق د يو واحد دولت له ارادې څخه منشاء اخلي ځکه په هر هيواد کې دولت د افرادو څخه مافوق دی او پر همدې بنسټ حق لري چې د خپلو اتباعو لپاره قوانين او مقررات وضع کړي، په داسې حال کې چې بين المللي حقوق د څو دولتونو د مشترکې ارادې څخه منشاء اخلي ( ځکه په نړيواله ټولنه کې دولتونه سره مساوي دي او يو پر بل باندې کوم فوقيت نه لري بناء د يو واحد دولت د ارادې په پايله کې بين المللي حقوق نشئ ايجاديدای ).

انزيلوتي هم د ترپيل نظر تائيدوي او د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو منشاء جلا ګڼي ولې د دې موضوع د ثبوت لپاره خپل نظر په متفاوته بڼه بيانوي د نوموړي له

نظره د ملي حقوقو منشاء (له مقنن څخه د اطاعت اصل) او د بين المللي حقوقو منشاء (پر ژمنې د وفا اصل ) تشکيلوي.

د دې بحث پايله دا ده چې ملي حقوق او بين المللي حقوق د منشاء او اساس له حيثه يو له بل سره کوم ارتباط نه لري.

**دويمه فقره: د اشخاصو له حيثه**

د حقوقو د دوه گووني توب مکتب پېروان د خپل نظريې د ثبوت لپاره دويم دليل د اشخاصو له حيثه وړاندې کوي، د دوی له نظره د ملي حقوقو شخصيتونه افراد او د بين المللي حقوقو شخصيتونه دولتونه دي؛ د ملي حقوقو موضوع د افرادو تر منځ د اړيکو ترتيب او تنظيم دی او په ډېرو محدودو مواردو کې ملي حقوق خارجي دولتونو د حقوقي اشخاصو په توگه مطالعه کوی چې د دې په مقابل کې بين المللي حقوق د دولتونو تر منځ اړيکې ترتيب او تنظيموي او دغه حقوقي رشته غېر له استثنايي مواردو څخه افراد د فرد په توگه نه مطالعه کوي.
له دې څخه معلومېږي چې ملي او بين المللي حقوق دوه مختلف جهتونه او هدفونه لري پر همدې بناء د دې دوه حقوقي رشتو مقررات هم يو ډول نه دي.

**درېيمه فقره: د قلمرو له حيثه**

ملي حقوق يوازې د يو دولت د سرحداتو په داخل کې اعتبار لري او د دې حقوقي رشتې د قواعد اعتبار د مربوطه دولت له سرحداتو څخه بېرون تجاوز نه کوي په داسې حال کې چې بين المللي حقوق د دولتونو له سرحداتو څخه بېرون د اعتبار وړ دي او مستقيماً د يو دولت د قلمرو په داخل کې معتبر نه گڼل کېږي.

يا په بل عبارت په کوم ځای کې چې د ملي حقوقو قواعد اعتبار لري د بين المللي حقوقو قواعد هلته قابل د اعتبار نه دي او هغه ځای کې چې بين المللي حقوق معتبر دي ملي حقوق اعتبار نه لري.

له دې څخه معلومېږي چې د ملي حقوق او بين المللي حقوقو قلمرو کاملاً يو له بل څخه جلا دی.

**څلورمه فقره: د منابعو له حيثه**

د ملي حقوقو منابع قوانين، تقنيني فرامين او داخلي عرف دی په داسې حال کې چې د بين المللي حقوقو منابع بين المللي معاهدات او بين المللي عرف دی.
له دې جهته هم دواړه حقوقي رشتې کوم ارتباط نه لري.

**پنځمه فقره: د جوړښت له حيثه**

ملي حقوق په يوې سازمان شوې ټولنه باندې واکمني کوي چې د هغې ټول افراد د مربوطه دولت تابع او مطيع دي او قوانين هم د فرمانبردارۍ پر بنسټ جوړ شوي دي په داسې حال کې چې بين المللي حقوق برعکس د خپلواکو دولتونو له ترکيب څخه په يوې غېرې سازمان شوې ټولنې باندې واکمني کوي په کومه کې چې دولتونه له ځان مافوق مقام نه پېژني او د بين المللي حقوقو هدف هم د همرديفۍ پر بناء ددولتونو تر منځ د همکارۍ او همغږۍ رامنځ ته کول دي.

**شپږمه فقره: د اجرائيوي قدرت له حيثه**

د پورته دليل څخه معلومېږي چې د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو قواعد د اجرائيوي قدرت له حيثه هم يو ډول ارزښت نه لري ځکه ملي حقوق اجباري او امري جنبې لري او هر دولت د خپل قلمرو په داخل کې د هغه اجرا تضمينوي په

داسې حال کې چې بین المللي حقوق اجباري او امري جنبې نه لري او په نړیواله سطحه داسې کوم ارګان هم وجود نه لري چې د ملي حقوقو په څېر د بین المللي حقوقو اجرا تضمین کړي.

**اوومه فقره: د قضایي ارزښت له حیثه**

د قضایي ارزښت له حیثه هم ملي او بین المللي حقوق توپیر لري ځکه د هېوادونو په داخل کې داسې حقوقي ارګانونه او محاکم وجود لري چې د داخلي قوانینو پر بنسټ اجباراً قضاوت کوي او که چېرته د افرادو تر منځ اختلاف رامنځ ته شي کولای شئ مربوطه ارګانونو او محاکمو ته مراجعه وکړي او د خپلو حقوقو غوښتنه وکړي په داسې حال کې چې په نړیواله سطحه داسې حقوقي ارګانونه او محاکم وجود نه لري چې د دولتونو په منځ کې اجباراً قضاوت وکړي او د بین المللي حقوقو قواعد تطبیق کړي.

**اتمه فقره: د موضوعاتو له حیثه**

د ملي حقوقو موضوعات د افرادو تر منځ په اړیکو او دولتي تشکیلاتو پورې اړوند دي مثلاً ددولت بڼه، سیاسي رژیم، د درې ګوونو قواوو تر منځ اړیکې، د اتباعو اساسي حقوق او مکلفیتونه، د داخلي ارګانونو او مقاماتو دندې او واکوونه، ازدواج، وصیت، وراثت او دې ته ورته نور مسایل چې د بین المللي حقوقو سره اصولاً ارتباط نه لري په داسې حال کې چې د بین المللي حقوقو موضوعات د دولتونو خپلمنځي اړیکو، دولتي نړیوالو سازمانونو خپلمنځي اړیکو، دولتونو او دولتي نړیوالو سازمانونو اړیکو او د دولتونو او دولتي نړیوالو سازمانونو سره د افرادو په اړیکو پورې اړوند دي مثلاً د بحرونو د ازادۍ موضوع، د دولتونو د رامنځ ته کېدو څرنګوالی او دې ته ورته نور موضوعات.

**دويم جز: د حقوقو د دوه ګوونې توب نظريې حقوقي اثار**

د حقوقو د دوه ګوونې توب مکتب له مخې ملي او بين المللي حقوق کاملاً دوه جلا حقوقي جوړښتونه دي او اساساً يو له بل سره هيڅ اړيکه نه لري.

بناء د حقوقو د دوه ګوونې توب نظريې څخه لاندې منطقي پايلې تر لاسه کېږي.

**لومړۍ فقره: د ملي او بين المللي حقوقو قواعد يو د بل په قلمرو کې حقوقي اعتبار نه لري**

لومړۍ منطقي پايله چې د حقوقو د دوه ګوونې توب مکتب څخه تر لاسه کېږي هغه دا ده چې د ملي او بين المللي حقوقو قواعد يو د بل په قلمرو کې حقوقي اعتبار نه لري، بين المللي حقوق مستقيماً د ملي حقوقو قلمرو ته نه وارديږي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم ملي حقوقو ته د بين المللي حقوقو د اړولو وروسته په هغې استناد کولای شي پر همدې بنسټ که چېرته بين المللي حقوق په ملي تقنيني اسنادو کې تصريح او وضع نشي ملي حقوقي ارګانونه او محاکم نشئ کولای هغه د يو حقوقي دليل په توګه وکاروي.

همدارنګه هيڅ دولت نشئ کولای چې په بين المللي محکمه کې د خپلې دفاع او مسوليت د رفع کېدو لپاره په ملي قوانينو استناد وکړي.

**دويمه فقره: د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ کوم ټکر وجود نه لري**

دويمه منطقي پايله چې د حقوقو د دوه ګوونې توب مکتب څخه تر لاسه کېږي هغه دا ده چې د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ کوم ټکر وجود نه لري ځکه د دوه حقوقي سيستمونو تر منځ ټکر هغه مهال متصور وي چې يو له بل سره ارتباط ولري په داسې حال کې چې د دې نظريې له مخې ملي او بين المللي حقوق اساساً يو له بل سره هيڅ ارتباط نه لري.

د حقوقو د دوه ګووني توب مکتب له مخې ملي حقوق او بين المللي حقوق دوه مختلف حقوقي نظامونه دي نه مخالف .

**دويم مطلب: د حقوقو د يووالي نظريه(Monistic Doctrine)**

دا نظريه د ملي او بين المللي حقوقو په يووالي باندې استواره ده د دوی له نظره ملي او بين المللي حقوق يو له بل څخه جلا نه دي بلکې د يو واحد حقوقي جوړښت دوه نه بيليدونکي اجزاء دي، د دې نظريې له مخې بين المللي حقوق په اتوماتيک ډول د ملي حقوقو قلمرو ته داخلېږي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم کولای شئ مستقيماً په هغوی باندې استناد وکړئ يعنې په ملي حقوقي ارګانونو او محاکمو کې د بين المللي حقوقو تنفيذ د داخلي ذيصلاح مقاماتو تصويب او تائيد ته اړتيا نه لري.

د دې نظريې له مخې ملي او بين المللي حقوق دواړه يو او د يوې سکې دوه مخونه دي، دا نظريه د ادغام دوکتورينو (Incorporation, Doctrine of) اصل باندې ولاړه ده (د دې اصل پر بنسټ په ملي محاکمو او ارګانونو کې د بين المللي حقوقو تنفيذ د داخلي ذيصلاح مقاماتو تائيد او تصويب ته اړتيا نه لري او بين المللي حقوق مستقيماً د ملي حقوقو قلمرو ته داخلېږي).

د دوی له نظره د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ د ماهيت ( منشاء، اشخاصو، منابعو او موضوعاتو ) له حيثه اساساً کوم توپير وجود نه لري (د دې نظريې پر بنسټ د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ بنسټيز اختلاف نه تر سترګو کېږي او يادې حقوقي رشتې د يو واحد حقوقي جوړښت دوه برخې دي).

دغه نظریه په اروپايي ژبو کې د ( Monisme Juridique, Incorporation Doctrine or Doctrine Moniste ) په فارسي ژبه کې د ( وحدت حقوقي يا يگانگي حقوق ) او په پښتو ژبه کې ( د حقوقو د يووالي ) په نوم مسمی شوې ده.

د حقوقي د يووالي نظریې پر بنسټ کله چې حقوقي ارگانونه او محاکم د يوې مسالې په اړه پريکړه کوي نو ملي او بين المللي حقوق دواړه په نظر کې نيسي.

ولې په دې نظريه کې اساسي پوښتنه دا ده کله چې د يوې موضوع په تړاو ملي او بين المللي حقوق سره په ټکر کې واقع شي مثلاً يو عمل په بين المللي حقوقو کې جايز او په ملي حقوقو کې غيرې جايز وي نو په دې صورت کې کومې حقوقي رشتې ته ترجيح ورکول کيږئ، ملي حقوقو ته که بين المللي حقوقو ته؟

په دې صورت کې يو ډله حقوقدانان په بين المللي حقوقو باندې ملي حقوقو ته ترجيح ورکوي چې د دوی نظريې ته (د حقوقو يووالی د ملي حقوقو د ارجحيت له حيثه) ويل کيږي، او بله ډله حقوقدانان په ملي حقوقو باندې بين المللي حقوقو ته ترجيح ورکوي چې د دوی نظريې ته (د حقوقو يووالی د بين المللي حقوقو د ارجحيت له حيثه ) ويل کيږي.

چې د حقوقو د يووالي نظريې د پورته ويشنې هر ډول په جلا جلا توگه د بحث لاندې نيسو.

**لومړی جز: د حقوقو د يووالي نظريه د ملي حقوقو د برترۍ له حيثه**

د دې نظريې طرفداري زياتره د هغو حقوقپوهانو له خوا کيږي چې دولت ته په زيات قدرت قايل دی او د دولتونو په خپلواکۍ او حاکميت کې مبالغه کوي، د دوی

له نظره دولتونه مطلق واک لري او له دولت څخه مافوق مقام وجود نه لري تر څو د هغوی لپاره او د هغوی تر منځ قوانین وضع کړي، د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره خپله دولتونه ټول حقوقي قواعد ايجادوي (که چېرته وضع شوي قواعد د يو هېواد په اتباعو او داخل پورې مربوط وي ملي حقوق، او که چېرته د نورو دولتونو سره د اړيکو د تنظيم لپاره وضع شوي وي بين المللي حقوق ګڼل کېږي).
د دوی له نظره بين المللي حقوق د ملي حقوقو تابع ګڼل کېږي پر همدې بنسټ دا ډله حقوقپوهان غوره ګڼي چې بين المللي حقوقو ته ( خارجي عمومي حقوق ) وويل شي.

د دې نظريې اکثريت وړاندې کوونکي هغه حقوقپوهان تشکيلوي چې پخوا يې د بين المللي حقوقو له وجود څخه انکار کاوه او يا دا چې د بين المللي حقوقو قواعدو ته په حقوقي بودن باندې قايل نه وو.

انګريز ليکوال استين، يلينګ، هګل، ونتسل، دسانسير فرانديز، شايه، ترزن او کافمن هغه پخواني او معاصر حقوقدانان دي چې پورته نظريه يې وړاندې کړې او ورڅخه ملاتړ کوي.

د دې نظريې له مخې که چېرته د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ ټکر رامنځ ته کېږي نو په دې صورت کې ملي حقوقو ته ارجحيت ورکول کېږي او بين المللي حقوق د ملي حقوقو تابع ګڼل کېږي. د امريکا متحده ايالات او انګلستان يوازې د عرفي نړيوالو حقوقو په برخه کې د همدې نظريې پيروي کوي.

**دويم جز: د حقوقو د يووالي نظريه د بين المللي حقوقو د برترۍ له حيثه**

د دې نظريې څخه اکثره معاصر حقوقپوهان پېروي کوي، د دوی له نظره حقوق يو واحد حقوقي جوړښت دی چې د دې جوړښت په سر کې بين المللي حقوق او نورې حقوقي رشتې ښکته قرار لري.

د دې نظريې پېروان چې څومره بين المللي حقوقو ته په اهميت قايلېږي په هماغه اندازه د دولتونو د خپلواکۍ او حاکميت سره مخالفت ښکاره کوي او له دې جملې يو شمېر حقوقپوهانو دا مخالفت دې حد ته رسولی چې بين المللي حقوق اصل ګڼي او نورې حقوقي رشتې فرعي. دا ډله حقوقپوهان حتی د ملي حقوقو له جود څخه انکار کوي او نفې کوي يې.

اوپنهايم، ژان هويليه، ګوګنهايم، لويي لوفور، بورکن، ژر ژسل، پوليتيس، هنس کلسن او الفردفردرس هغه پخواني او معاصر حقوقدانان دي چې پورته نظريه يې وړاندې کړې او ملاتړ يې کوي.

د دې نظريې له مخې که چېرته د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ ټکر رامنځ ته کېږي نو په دې صورت کې بين المللي حقوقو ته ترجيح ورکول کېږي او ملي حقوق مد نظر نه نيول کېږي هغه هېوادونه چې دا نظريه تعقيبوي خپل ملي حقوق د بين المللي حقوقو په رڼا کې وضع، تفسير او تطبيقوي. فرانسه، المان او هالند هغه هېوادونه دي چې د حقوقو د يووالي همدغه طريقه تطبيقوي.

**دويم مبحث: د ملي او بين المللي حقوقو عملي اړيکې**

د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ د تيوريکي اړيکو په مورد کې د حقوقپوهانو نظريات تر اوسه پورې کومې واحدې پايلې ته نه دي رسيدلي؛ اما له عملي حيثه د

ملي او بين المللي حقوقو د اړيکو چوکاټ تقريباً مشخص شوی او دولتونه په ځينو مواردو کې د حقوقو د يووالي او په ځينو مواردو کې د حقوقو د دوه ګووني توب نظريه عملي کوي.
په پخوا وختونو کې چې د دولتونو د مطلقې خپلواکۍ او حاکميت فکر حاکم وو، دولتونو د حقوقو د دوه ګووني توب نظريې ته ډېر تمايل درلود، ولې نن ورځ د بين المللي همکارۍ وده او پراختيا د دې باعث ګرځېدلې چې د دولتونو خپلواکي او حاکميت محدود شي پر همدې بنسټ نننۍ نړۍ کې د حقوقو د يووالي نظريه د بين المللي حقوقو د ارحجيت له حيثه ډېره عملي کېږي.

له عملي حيثه ملي او بين المللي حقوق په څلورو طريقو يو له بل سره اړيکې ټينګوي چې له دې جملې څخه احاله او وصول اصلي طريقې دي او تکميل او تعارض فرعي.

چې هر يو په ترتيب سره د بحث لاندې نيسو.

**لومړی مطلب: احاله ( Renvoi )**

احاله په لغت کې حوالې، سپارلو، انتقالولو، بل ته په غاړه اچولو او ارجاع کولو ته وايي. او په اصطلاح کې د يو حقوقي سيستم د قلمرو پورې د اړونده موضوع ارجاع کول دي د بل حقوقي سيستم قلمرو ته.
احاله په اکثريت مواردو کې د بين المللي حقوقو څخه ملي حقوقو ته کېږي مثلاً د نړيوالو کنفراسونو د تشکيل موضوع د بين المللي حقوق اړوند موضوع ده ولې د هغو نماينده ګانو په انتخاب کې چې په دغو کنفراسونو کې ګډون کوي بين المللي حقوق مداخله نه کوي بلکې دا موضوع د کنفراس د ګډون کوونکو دولتونو ملي

حقوقو ته احاله کوي، همدارنګه د معاهداتو انعقاد د بين المللي حقوقو د قلمرو پورې اړوند موضوع ده ولې د معاهداتو د انعقاد لپاره د ذيصلاح مقاماتو تعين د هېوادونو د ملي حقوقو له خوا صورت نيسي، همدارنګه د دولتونو رئيسان چې په نړيوالو اړيکو کې د دولتونو نمايندګي کوي او د بين المللي حقوقو سره مستقيماً تماس لري د هېوادونو د ملي حقوقو په واسطه تعينېږي.

د پورته توضيحاتو څخه معلومېږي چې احاله د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ د يو ارتباطي پول نقش لوبوي.

**دويم مطلب: وصول ( Reception )**

وصول په لغت کې داخلولو، واردولو، لاس ته راوړلو او داسې نورې معناوې لري. او په اصطلاح کې وصول دې ته وايي چې يو حقوقي سيستم يوه موضوع چې د بل حقوقي سيستم سره تعلق لري د شکل او ماهيت په تغير سره او د خاصو قواعدو په بڼه خپل قلمرو ته داخله کړي.

په دې مورد کې غالباً ملي حقوق د بين المللي حقوقو څخه يوه موضوع وصول کوي مثلاً يوه معاهده د دې لپاره چې د يو هېواد په قلمرو کې لازم الاجراء شي نو مربوطه دولت د دغې معاهدې محتويات د قوانينو او تقنيني فرامينو په شکل د ملي حقوقو قلمرو ته واردوي، او په دې ترتيب هغه مقررات چې د بين المللي حقوقو پورې مربوط دي د ماهيت په تغير سره د ملي مقرراتو په بڼه تنظيموي.

مثلاً د ويانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسيون مقررات د دې لپاره چې د افغانستان په قلمرو کې د اجرا او تنفيذ وړ وګرځي ( د افغانستان د بين المللي تړونونو او ميثاقونو قانون ) تر عنوان د افغانستان حقوقي نظام وصول کړي دي.

**دریيم مطلب: تکميل ( Complement )**

تکميل په لغت کې بشپړولو او پوره کولو ته وايي. او په اصطلاح کې هغه دليل دي چې په دلالت کې په خپل ذات ولاړ نه وي اما بل ناقص دليل تکميلوي. يعنې تکميل دې ته وايي چې يو حقوقي سيستم د هغو قواعدو د اجراء او تطبيق لپاره ( چې د بل حقوقي سيستم پورې اړه لري ) اصول وضع کړي يا په بل عبارت هغه تکميل کړي. مثلاً دوه يا څو دولتونه په خپل منځ کې د بحري غلا يا د مخدره موادو د مخنيوي لپاره تعهدات کوي خو د دغو تعهداتو د اجراء او تطبيق لپاره متعاهد دولتونه اړ دي چې په ملي حقوقو کې قوانين او لازم اصول وضع کړي نو په دې صورت کې ويل کېږي چې د ملي حقوقو له خوا وضع شوي قوانين او اصول د بين المللي تعهداتو د تکميل او اجراء د تامين لپاره دي، د تکميل عمل هم د ملي حقوقو له خوا صورت نيسي څکه په بين المللي تعهداتو کې دولتونه يوازې کلي مسايل او اصول وضع کوي، جزيي او فرعي مسايل ملي حقوقو ته سپاري.

مثلاً ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د تاپي تړون لاسليک کړی دی، د دې لپاره چې د ذکر شوي تړون مواد په ښه توګه تطبيق شي او له بل لوري افغانستان د تاپي د تړون په موجب خپل مکلفيتونه په بهتره توګه ادا کړي په همدې منظور د افغانستان دولت په ۱۳۹۸/۱۲/۲۵هـ ش نېټه (د تاپي ګاز د نل ليکې د پروژې د ځمکو د استملاک) تر عنوان لاندې قانون تصويب کړ چې دا قانون د تاپي د تړون محتوی تکميلوي.

**څلورم مطلب: تعارض (Conflict)**

د دوه حقوقي او قانوني متنونو تقابل ( ټکر ) ته وئيل کېږي چې يو د بل برعکس وي او د دواړو تر منځ يو ځاي کيدل مقدور نه وي.

يعنې هر کله چې د دوه حقوقي سيستمونو ( چې دلته ورڅخه منظور ملي حقوق او بين المللي حقوق دي ) تر منځ په عمل کې ټکر او تضاد وجود ولري، دې ته تعارض ويل کيږي مثلاً د بحري ازادئ په اړه په بين المللي حقوقو کې اصول او قواعد وجود لري نو که چېرته داخلي ذيصلاح مقامات داسې قواعد وضع کړي چې د ذکر شوې ازادئ سره مغايرت ولري نو په دې صورت کې د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ تعارض منځ ته راځي. اوس پوښتنه دلته دا ده چې په دې حالت کې به کومې حقوقي رشتې ته ترجيح ورکول کيږئ؟ ملي حقوقو او که بين المللي حقوقو ته؟ د دې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو چې په دې صورت کې د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو اعتبار په خپل حال او قوت باقي پاتې کيږي يعنې ملي محاکم ملي حقوقو ته ترجيح ور کوي او بين المللي حقوقو ته توجه نه کوي؛ او بين المللي محاکم بين المللي حقوقو ته ترجيح ورکوي او ملي حقوق مد نظر نه نيسي.

**پايله**

دغه علمي مقاله چې (د ملي او بين المللي حقوقو د تيوريکي او عملي اړيکو) تر سرليک لاندې ليکل شوې، لاندې پايلې ترې ترلاسه کيږي.

۱ـ د ملي او بين المللي حقوقو تر منځ د تيوريکي اړيکو په مورد کې بالعموم دوه نظريې وجود لري: د حقوقو د دوه گوونې توب نظريه او د حقوقو د يووالي نظريه.

۲ـ د حقوقو د دوه گوونې توب نظريه د تبديل دوکتورينو ( Transformation, Doctrine of) اصل باندې ولاړه ده؛ د دې اصل پر بنسټ بين المللي حقوق مستقيماً د ملي حقوقو قلمرو ته نه داخليږي او بين المللي حقوق ملي حقوقو ته د اړولو ( ملي تقنيني اسنادو کې د تصريح او وضع کولو ) وروسته په ملي کچه الزامي جنبې غوره

کوي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم هغه مهال په بین المللي حقوقو باندې استناد کولای شئ چې د ملي ذیصلاح مقاماتو له لورې ملي حقوقو ته تبدیل شي؛ له بل لوري د ملي حقوقو یوه قاعده هم په هغه صورت کې د نورو هېوادونو لپاره الزامي حیثیت خپلوي چې د بین المللي حقوقو برخه وګرځي.

۳ـ د حقوقو د یووالي نظریه د ادغام دوکتورینو (Incorporation, Doctrine of) اصل باندې ولاړه ده (د دې اصل پر بنسټ په ملي محاکمو او ارګانونو کې د بین المللي حقوقو تنفیذ د داخلي ذیصلاح مقاماتو تائید او تصویب ته اړتیا نه لري او بین المللي حقوق مستقیماً د ملي حقوقو قلمرو ته داخلیږي).

۴ـ له عملي حیثه ملي او بین المللي حقوق په څلورو طریقو یو له بل سره اړیکې ټینګوي چې عبارت دي له: احالې، وصول، تکمیل او تعارض څخه.

**مناقشه**

(د ملي او بین المللي حقوقو تیوریکي او عملي اړیکې) د حقوقو د علم یو مهمه او پیچیلې موضوع ده چې تر ډېره بریده په دې علمي مقاله کې هڅه شوې چې د یادې موضوع ټول اړخونه دقیقاً توضیح او مبهم مسایل روښانه شي.

د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ د تیوریکې اړیکو په مورد کې د حقوقپوهانو نظریات تر اوسه پورې کومې واحدې پایلې ته نه دي رسیدلي؛ اما له عملي حیثه د ملي او بین المللي حقوقو د اړیکو چوکاټ تقریباً مشخص شوی او دولتونه په ځینو موارډو کې د حقوقو د یووالي او په ځینو مواردو کې د حقوقو د دوه ګوونې توب نظریه عملي کوي.

په پخوا وختونو کې چې د دولتونو د مطلقې خپلواکۍ او حاکميت فکر حاکم وو، دولتونو د حقوقو د دوه ګوونې توب نظريې ته ډېر تمايل درلود، ولې نن ورځ د بين المللي همکارۍ وده او پراختيا د دې باعث ګرځېدلې چې د دولتونو خپلواکي او حاکميت محدود شي پر همدې بنسټ نننۍ نړۍ کې د حقوقو د يووالي نظريه د بين المللي حقوقو د ارجحيت له حيثه ډېره عملي کېږي. د دې نظريې له مخې که چېرته د ملي حقوقو او بين المللي حقوقو تر منځ ټکر رامنځ ته کېږي نو په دې صورت کې بين المللي حقوقو ته ترجيح ورکول کېږي او ملي حقوق مد نظر نه نيول کېږي هغه هېوادونه چې دا نظريه تعقيبوي خپل ملي حقوق د بين المللي حقوقو په رڼا کې وضع، تفسير او تطبيقوي.

ولې يو شمېر هېوادونه په ځانګړي توګه اسلامي هېوادونه نشئ کولای چې پورته نظريه عملي کړي ځکه په دې هېوادونو کې د حقوقو بنسټ او منشاء اسلامي شريعت دی او هيڅ حقوقي قاعده نشئ کيدای چې د اسلامي شريعت د احکامو او معتقداتو سره په ټکر کې واقع شي او که چېرته دغسې يو حالت رامنځ ته کېږي نو مربوطه حقوقي قاعده ملغاء او د اعتبار وړ نه ده. د دې طرز فکر له مخې کله چې يو دولت يوه معاهده لاسليک کوي نو لومړی بايد د دې معاهدې مطابقت د ملي حقوقو سره وڅېړي چې د نوموړې معاهدې متن او محتوا د مربوطه هېواد د ديني اساساتو او قوانينو سره هيڅ ډول ټکر او تضاد ونه لري، او له هغه وروسته دې لاسليک کړي.

**پايله اخيستنه**

د ملي او بين المللي حقوقو د اړيکو په اړه حقوقپوهانو زيات نظريات وړاندې کړي ولې له دې جملې څخه دوه ډېرې معمولې دي چې عبارت دي له: د حقوقو د دوه گووني توب نظريه او د حقوقو د يووالي نظريه.

د حقوقو دوه گووني توب په دې معنی چې ملي حقوق او بين المللي حقوق کاملاً دوه جلا او مستقلې حقوقي رشتې دي چې يو په بل باندې هيڅ ډول تکيه نه لري. د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره ملي حقوق او بين المللي حقوق هغه دوه تعميرونو ته ورته دي چې هر يو په يوې جلا ځمکې او پايو سره جگ شوي وي، غېر له دې نه چې يو په بل باندې تکيه ولري.

د حقوقو د يووالي نظريې له مخې ملي او بين المللي حقوق يو له بل څخه جلا نه دي بلکې د يو واحد حقوقي جوړښت دوه نه بيليدونکي اجزاء دي، د دې نظريې له مخې بين المللي حقوق په اتوماتيک ډول د ملي حقوقو قلمرو ته داخلېږي او ملي حقوقي ارگانونه او محاکم کولای شئ مستقيماً په هغوی باندې استناد وکړئ يعنې په ملي حقوقي ارگانونو او محاکمو کې د بين المللي حقوقو تنفيذ د داخلي ذيصلاح مقاماتو تصويب او تائيد ته اړتيا نه لري.

له عملي حيثه ملي او بين المللي حقوق په څلورو طريقو يو له بل سره اړيکې ټينگوي چې له دې جملې څخه احاله او وصول اصلي طريقې دي او تکميل او تعارض فرعي.

## وړانديزونه

د دې علمي مقالې په پای کې لاندې وړانديزونه کوم او هيله لرم چې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادان، محصلان، مقننين او حقوقپوهان ترې په خپله مسلکي او کاري ساحه کې ګټه پورته کړئ.

۱ـ د ملي او بين المللي حقوقو اړيکې يوه مهمه او حساسه مساله ده پر همدې بنسټ هر دولت ته پکار دي چې د دې چارې په تنظيم کې د پوره دقت څخه کار واخلئ په ځانګړي توګه اسلامي هېوادونه بايد په دې مورد کې داسې يو تګلاره غوره کړي چې له خپله اړخه ټول ملي او بين المللي حقوقي قواعد د اسلام د مبارک دين د احکامو او معتقداتو په رڼا کې وضع کړئ.

۲ـ دا چې د ملي او بين المللي حقوقو اړيکې د عمومي بين المللي حقوقو يو مهمه او پيچيلې موضوع ده پر همدې بناء د دې موضوع د ښه روښانه کولو لپاره دې د حقوقي علومو د استادانو، پوهانو او ليکوالانو له لوري نورې ليکنې او څېړنې هم تر سره شئ.

## ماخذونه


۱- بلدسو، رابرت او بوسچک ( ۱۳۷۵ش ). فرهنګ حقوق بين الملل، چاپ اول، ترجمه: بهمين اقايي تهران: کتابخانه ګنج دانش.

۲ـ خاتم، احمد خالد ( ۲۰۱۴م ). عمومي نړيوال قانون، لومړی چاپ، کابل: د افغانستان د پراختيا او بشر دوستانه مرستو ټولنه.

۳ـ د معاهداتو د حقوقو کنوانسيون ( ۱۹۶۹ م د مې ۲۳ نېټه ).

۴ـ ذوالعين، پرويز ( ۱۳۸۸ش ). مباني حقوق بين الملل عمومي، چاپ هفتم، تهران: وزارت امور خارجه، مرکز چاپ و انتشارات.

٥ـ سيدي، حسين ( ۱۳۸۳ش ). حقوق بين الملل عمومي، تهران: نشر قومس.
٦ـ ضيايي بيگدلي، محمد رضاء ( ۱۳۸۷ش ). حقوق بين الملل عمومي، چاپ سي و سوم، تهران: گنج دانش.
۷ـ کاسسه، انتونيو ( ۱۳۸۸ش ). حقوق بين الملل، ترجمه: حسين شريفي طراز کوهي، تهران، ميزان.
۸ـ کلکه دين، نگوين ، پاتريک دينه، والن پله ( ۱۳۸۲ش). حقوق بين الملل عمومي، چاپ اول، ترجمه: مقدمه و پيوست ها از حسن حبيبي، تهران، انتشارات گنج دانش.
۹ـ لنگرودي، محمد جعفر جعفري ( ۱۳۸۵ش ). ترمينولوژي حقوق، تهران: کتابخانه گنج دانش.
۱۰ـ مقتدر، هوشنگ ( ۱۳۷۲ش ). حقوق بين الملل عمومي، تهران: مطالعات سياسي و بين المللي وزارت امور خارجه.

**نجیب الله نصرت**
مستقبل پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
لارښود استاد: دوکتور اظهار الحق عزیز

# د شورى اصل په اسلام کې

**لنډیز**

دا یو ټولمنلی حقیقت دی، چې اسلام یو کامل او شامل دین دی او د دې دین احکام او ارشادات تر قیامته پورې په ټولو انسانانو یوشان د تطبیق وړ دي. هغه احکام چې په هغې کې صریح نص شتون ولري، قطعي دي اومسلمانان یې پر عملي کولو مکلف دي، البته داسې موارد هم شته دي، چې په هغې کې صریح نصوص شتون نه لري، نو د اسلامي امت علماوو او فقهاوو سره په هغې کې علمي مشورې ته اړتیا لېدل کېږي، چې د داسې مشورو بېلګې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند او له هغه څخه وروسته د خلفاءِ راشدینو د واکمنۍ په وختونو کې لېدل کېږي. البته په هغه چارو کې چې صریح نص به په کې شتون نه درلود، رسول الله صلی الله علیه وسلم به په خپله د صحابه وو سره مشوره کوله او د مشورې څخه وروسته به یې پرېکړه کوله.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاءِ راشدینو له دې عمل څخه دا جوتېږي، چې شورى په اسلام کې یو مهم اصل دی، چې الله جل جلاله هم په دې امر کړی دی او دا یې د مؤمنانو د صفاتو څخه یو صفت ګرځولی دی. الله سبحانه و تعالی په قرآن کریم فرمايي: (وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ). (سورت شورى ایت ۳۸)

پـه دې مقالـه کـې کوښـښ شـوی دی چـې؛ د شـورى اړونـد تعریفونـه، ارزښـت، حکـم او ډولونــه یــې د معتــبرو کتـابونو او مأخـذونو څخـه پـه اسـتفادې سره پـه لنډه توګه بیان شي.

**کلیدي کلمې:** اسلام، اصل، شورى

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علي سید الأنبیاء والمرسلین و علی آله و صحبه أجمعین. امّا بعد.

شورى د اسلام د اصولو او اساساتو څخه هغه اصل دی، چې الله تعالی خپل پیغمبر محمد رسول الله صلی الله وسلم ته پرې امر کړی دی او دا امر یې په غیر منصوص چارو کې واجب ګرځولی دی. د مشورې پر اساس چې کوم کار وشي، په هغې کې پښېمانتیا نه وي بلکې خیر او برکت په کې وي. په مشوره کې مسولیت تقسیمېږي او داسې نظر تاکل کېږي چې غوره او بهتره وي. په شورى کې د استبدادي نظر او رایې برعکس عمل کېږي خپله رایه په ټینګار او زور سره نه منل کېږي.

په همدې اساس شورى ضروري او اړین امر ګرځول شوی دی او دا یې د مسلمانانو د صفاتو څخه یو صفت او خوی بیان کړی دی، په دې هکله الله سبحانه و تعالی په خپل کتاب قرآن عظیم الشان کې یو مکمل سورت د شورى په نوم نومولی دی.

**د لیکنې اړتیا**

څرنګه چې شورى د دین یو اصل دی، نو په کار ده، چې د شورى په هکله بشپړ وضاحت او بیان وشي او په ټوله کې مسلمانان او د مسلمانانو امراء او حاکمان دا

اصل په خپلو کړنو او عمل کې تطبيق کړي؛ نو له دې امله لازم او اړينه مو وبلله چې يوه لنډه او مختصره مقاله (د شورى اصل په اسلام کې) په نوم باندې وليکم او په لنډه توگه د شورى اړوند احکام په کې واضح او شرح شي چې د اوسنۍ اسلامي نړۍ مشران او حاکمان د زور، جبر او تاو تريخوالي پرځای د مهرباني، رحمت او ښه چلند څخه د خپل رعيت او ملت په مقابل کې کار واخلي او خپلو ملتونو سره د مشورې پر بنسټ د خپل حکومت او نظام چارې مخې ته يوسي. دا کار هلته ممکن دی چې حاکمان په لومړي قدم کې د شورى په ارزښت او اهميت پوه شي، حاکمان ملتونو ته حساب ورکړئ او ځانونه د خپلو ملتونو خادمان وگڼي، د ديکتاتورۍ او زبردستۍ پرځای ملتونه خپلو غېږو ته رانږدې او د هغوی ستونزې او مشکلات ور حل کړي. په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې د حاکمانو او ملتونو ترمنځ ډېر لوی واټن موجود دی يو عمده او اساسي لامل يې د هماغسې شورى نه شتون دی کوم چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او خلفاءِ راشدينو په زمانو کې يې شتون درلوده. د اسلامي نړۍ حاکمانو او مشرانو ته مو مشوره داده چې، د الله تعالی دا حکم (وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ). (سورت ال عمران ايت ۱۵۹). جدي ونيسي او خپلو ملتونو سره په هغو چارو کې چې صريح نصوص په کې شتون و نه لري، مشورې وکړي او له مشورو وروسته پرېکړې وشي چې په دې پريکړو کې به د ملتونو خير، مصلحت او برکت وي.

## تېرو ليکنو ته کتنه

د اسلامي امت علماوو، فقهاوو او سياست پوهانو د شورى په موضوع ليکنې کړي او خپل مسوليت يې اداء کړی دی او د وخت حاکمانوته يې د شورى اهميت او ارزښت ور پېژندلی دی، چې هر کار په مشوره ترسره شي په هغې کې خير او برکت

وي ځکه چې د دې کلام الهام موږ له دې ایت څخه په اسانۍ سره اخلو چې ((و امرهم شورى بینهم)). (سورت شورى ایت: ۳۸)

## د لیکنې کړنلاره

په دې لیکنه کې د کتابتوني کړنلارې څخه استفاده شوې، ټول معلومات د معتبرو سرچینو څخه را غونډ شوي او لیکل شوي. د یادولو ده چې، د شورى په هکله چې کوم علمي اثار موجود وو له هغوى نه په کې استفاده شوې ده.

## پوښتنې

۱- شورى څه ته وایي؟

۲- په شرعي لحاظ د شورى اهمیت او ارزښت څه دى؟

۳- د شورى شرعي حکم څه دى؟

## شورى پېژندنه

د اسلامي علماوو په نظر شورى په لغت کې په لاندې معناوو باندې راغلې ده:

۱- د شاتو مچیو له کور څخه د گبین د ایستلو په معنا.

۲- په یو کار یا خبره کې د چا د نظر معلومولو په معنا.

۳- د اخیستلو په نیت د یوه حیوان سر، پښې او شاو خوا لېدلو په معنا.

۴- د بل چا په مخ کې د قتل لپاره ځان وړاندې کولو په معنا.

۵- د رایې د غوښتلو او د هغې رایې د پلټلو په معنا چې حق ته ډېره نږدې یا عیناً حق وي؛ ډېره استعمال شوې ده.

**شورى په اصطلاح کې**

د هغو خلکو د رايې له اخيستلو څخه عبارت ده چې په موضوع ښه باخبره وي او هغه نظر ته ځان رسوي چې حق ته ډېر نږدې وي.(اسلامی سياست، مخونه ۳۷۸-۳۷۹)

ځينو علماو شورى داسې تعريف کړې ده: شورى د ژوندانه په قضاياوو کې د يوې قضيې په هکله د مختلفو رايو پلټنه، له پوهانو او عالمانو خلکو سره مشوره کول چې حق يا هغه نظر ته چې حق ته ډېر نږدې وي، ورسېږي او په هغه عمل وشي او ښې پايلې ورڅخه لاس ته راشي.

د فقهاوو او مفسرينو پر وړاندې د شورى شرعي تعريف داسې دی: په يو شي يا کار کې د خلکو غونډول او له هغوی څخه د اړونده کار په باره کې مشوره غوښتل او د هغوی نظر ښکاره کولو غوښتنه چې د اړوند کار په باره کې د ده سره وي يا هغه کار چې په هغې کې خپلمنځي مشورې سره کولای شي يا د امت غوره خلکو ته د يو شي يا کار وړاندې کول، تر څو د هغه کار نصب العين او پايله ورڅخه معلومه او جوته کړي.

په هر حال د شورى مفهوم همدا دی چې انسان په خپل فکر او نظر بسنه ونه کړي، د موضوع د ښې روښنايي، سم او دقيق پوهاوي پر اساس هغه د علم، تجربې او درايت له خاوندانو سره مطرح کوي، څو غوره نظر لاس ته راوړي او په هغه عمل وکړي او د څو نظرونو او څو رايو د عمل توپير د يوه فرد د نظر په پرتله ډېر زيات دی څوک چې مشوره نه کوي يوه رايه خپلې مخې ته لري او په ذهن کې يې ځای نيولی دی او هر کله چې په خپله هم بشر دی له يوې خوا يې عمل ناقص او له بلې خوا د سهوې او خطا سره مخ کېدونکې دی، نو دا احتمال چې په هغه مشخص مورد کې غوره

نظر ولري او نظرونه ډېر کم لېدل کېږي هغه څوک چې شورى ته پابند او په هغه عقيده درلودونکى وي په هره موضوع کې څو رايې او نظرونه يې مخې ته اېښودل کېږي او هغه په خپلې پوهې او درايت سره هغه ښه غوره کوي وروسته هغه د عمل په ساحه کې وړاندې کوي او ګټورې پايلې ورڅخه په لاس راوړي.(انتخابات د اسلام له نظره ١٠٠-١٠١)

## د شورى ارزښت

شورى په اسلام کې ځانګړى اهميت لري. الله جل جلاله چې د انسانانو خالق دى د خپل مخلوق په طبيعت باندې خورا ښه پوهېږي، الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته په داسې شرايطو او حالاتو کې په شورى باندې امر کړى چې رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) وروسته له دې چې د اُحد په جنګ کې له مدينې منورې د صحابي په مشوره وځي او ماتې خورې خو بيا هم الله جل جلاله په شورى باندې امر کوي او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سربېره په عامو مسايلو تردې چې په خپلو شخصي مسايلو کې به يې هم مشوره کوله، لکه: چې د افک په واقعه کې يې له حضرت علي ابن ابي طالب (رضي الله عنه) او زيد بن ثابت (رضي الله عنه) سره مشوره وکړه. اسلام چې پوره او کامل دين دى، مسلمانانو ته يې د شورى کولو امر کړى دى.

د شورى د اهميت له امله الله تعالى په قرآن کريم کې يو سورت د شورى په نوم نومولى دى او په دې سورت کې د مؤمنانو د صفتونو په ترڅ کې د دوى يو صفت دا په ګوته شوى چې د دوى کارونه په مشورې سره ترسره کېږي او تر ټولو مهمه دا چې دا صفت د نورو ډېرو غوره او اساسي صفتونو ( لکه لمونځ، صدقې، له بې حياييو څخه په ډډه کولو) سره پېوست راغلى دى چې په دې سره يې ارزښت نور هم زياتېږي.

الله تعالی په قران کریم کې فرمايي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾. (سورت ال عمران ایت: ۱۵۹)

**ژباړه:** ای پیغمبره! دا د الله جل جلاله لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې که داسې نه وای او ته توند خویه او سخت زړه وی؛ نو دا ټول به ستا له شاو خوا نه خواره واره شوي وو. نو هغوی معاف کړه او د هغو د خطاوو ښښنه له الله جل جلاله نه وغواړه او د دین په چارو کې هغوی ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده په کومه رایه ټینګه شي، نو پر الله توکل وکړه، د الله تعالی هغه خلک خوښېږي چې د هماغه په توکل (ډاډینه) کار کوي.( ابن منظور، لسان العرب ج ٦، ص ۱۰۳)

علامه ابن منظور (افریقي) رحمه الله لیکي چې: (الأمر نقیض النهی.. والأمر الحادثة). (الطبرانی فی المعجم ص ۹۸۰)

**ژباړه:** امر د نهې په مقابل کې او د امر معنا حادثه او واقعه هم راځي.

د لغت د امامانو له دې تشریح څخه معلومېږي چې د امر معنا حکم او حکومت هم راځي او د مهمو او د (مهتم بالشان پېښې) په معنا هم استعمالېږي او د ایت مفهوم دا دی چې: ای نبي صلی الله علیه وسلم د حکومت په چارو کې او د مهمو پېښو په هکله د صحابه کرامو رضي الله عنهم أجمعین سره مشوره کوه.

علامه ابن جریر طبري د امام جصاص حنفي، امام بغوي، امام فخر الدین الرازي، امام قرطبي، علامه نسفي، علاءالدین بغدادي، قاضي ثناء الله پاني پتي او علامه آلوسي رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین ټولو په خپلو تفسیرونو کې لیکلي دي، چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د مشورې د اخیستو حکم په دې خاطر ورکړی شوی وو چې امت ته د شورى سلسله سنت پاتې شي، څو راتلونکې کې امت د آمریت او دیکتاتورۍ په لاره ولاړ نشي او د شورى په شرعي قاعدې باندې ټینګ او مستحکم و اوسي، د شورى د ارزښت په هکله ډېر احادیث هم راغلي دي، د بیلګې په توګه انس بن مالک له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی: « مَا خَابَ مَنِ اسْتَخَارَ، وَلَا نَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ».

**ژباړه :** هغه څوک تاواني نه شو چې استخاره یې وکړه او هغه څوک پښېمانه نه شو چې مشوره یې وکړه.

همدارنګه یوبل حدیث کې راځي: عن عبد الرحمن بن غنم رضي الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال لابي بکر و عمر: « لو انکما تتفقان علی امر واحد ما عصیتکما في مشورة ابدا ». (مسند اسحاق بن راهویه ص۱۴۹)

**ژباړه:** په یو روایت کې له عبدالرحمن بن منعم څخه روایت شوی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته وفرمایل؛ که چېرې تاسو دواړه په یوه کار کې سره متفق شئ، زه به هېڅکله ستاسو له مشورې څخه مخ ونه ګرځوم.

همدارنګه ابو هریرة رضي الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هکله وایي: «ما رأیت احدا قط کان اکثر مشورة لاصحابه من رسول الله صلی الله علیه وسلم». (سنن ترمذی حدیث رقم ۱۷۱۴)

**ژباړه:** هېڅوک مې نه دي لیدلي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په پرتله له خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره زیاته مشوره وکړي.

بل د شورى ارزښت له دې څخه جوتېږي کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو صحابه وو سره د احد په غزا کې مشوره وکړه که څه هم ظاهراً يې ډېرې دردونکې پايلې او ډېر تلفات رامنځ ته کړل، ځکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نظر دا ؤ چې بايد د مدينې منورې له داخل نه دفاع وکړو اما يو شمېر صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين په دې نظر ټينګ ولاړ وو او اصرار يې کاوه چې نه، له مدينې منورې څخه بېرون وځو او له دښمن سره مقابله کوو. هماغه ؤ چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د دوى په مشوره عمل وکړ او الهي تقدير داسې ؤ چې اويا تنه (۷۰) صحابه کرام رضي الله عنهم شهيدان او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مبارک غاښ شهيد او مبارک مخ يې ټپي شو، خو سره له دې آسماني وحې په همدې حالت کې خپل پيغمبر ته امر کوي چې: ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ﴾. (سورت ال عمران ايت: ۱۵۹) يعنې له دوى سره مشوره کوه په چارو کې.

ترڅو هغه پېښې چې رامخکې شوې وي د راتلونکو مشورو په هکله د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په زړه او دماغ کې څه را ونه ګرځي او سره له دې چې داسې نتيجه د دوى په مشوره مرتبه شوې وه او سره له دې چې د جنګ په وروستيو صحنو کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځو محدودو کسانو سره يوزاې پاتې شوى و خوبيا هم الله تعالى جل جلاله امر ورته کوي چې د دوى سره مشوره کوه او دوى ته عفوه کوه او د الله نه ورته ښښنه غواړه، نو له دې څخه معلومه شوه چې شورى په اسلام کې له څومره ارزښت څخه برخمنه ده. (سيرت ابن هشام ابن اسحق ج ۲، ص ۳۱۷)

البته دا اهتمام او پاملرنه شورى ته يوازې په دولتي چارو کې نه ده، بلکې د يوې کورنۍ د کارونو په هکله چې د ټوليز امت د جوړښت لومړنۍ ماده تشکيلوي هم په جدي توګه مطرح کوي.

**مثلاً :** الله تعالی په قران کریم کې فرمایي: ﴿فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا﴾. (سورت بقره ایت: ۲۳۳ )

**ژباړه:** که د مور او پلار مشوره راغله چې ماشوم د دوو کلونو په پوره کېدو له شېدو رودلو بیل کړي، نو دا کار کولای شي او څه گناه په کې نشته.

## د شورى حکم

شورى کوم نفلي او یا مستحب امر نه دی چې که مشرتابه وغواړي، شورى کوي او که نه نه یې کوي بلکې د شورى حکم واجب او لازمي دی پر وجوب یې تر ټولو پیاوړی دلیل الهي امر دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یې کړی: ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾. ( سورت ال عمران ایت: ۱۵۹ ) او د اصولو د قواعدو سره سم امر د وجوب غوښتنه کوي، څو چې د وجوب نه د گرځېدو په هکله قرینه پرې موجوده نه وي. هر کله چې شورى د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله چې د اسماني وحې په واسطه رهبري کېده او د پیغمبرۍ له عصمته برخمن و، واجب وه نو له ده څخه د وروستیو کسانو په هکله خو په اولی توگه واجب او لازم ده.

همدارنگه د وجوب دلیل یې دا الهي وینا ده: ﴿وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴾. (سورت شورى)

**ژباړه:** او هغو کسانو چې د خپل رب فرمان او حکم یې منلی او لمونځ یې اداء کړی او کار یې په خپلو منځو کې په مشوره سره دی او زموږ له ورکړې روزۍ څخه مصرفوي.

دلته وینو چې شورى په الله تعالی باندې د ایمان، لمانځه او زکات له څنگه چې ټول د فرایضو له ډلې څخه دي ذکر کړې ده، دا کار په خپله د شورى پر عظمت او لویۍ

دلالت کوي او واجبوالي يې تاييدوي. امام قرطبي رحمه الله  په خپل تفسير کې د ابن عطية نه د شورى پر وجوب اجماع  را نقل کړې ده.

ابن عطيه وايي: (والشورى من قواعد الشريعة و عزائم الاحكام و من لا يستشير اهل العلم والدين فعزله واجب هذا مالا خلاف فيه). (تفسير قرطبي ج ۳، ص ۱۴۹۱)

**ژباړه:** شورى له شرعي قواعدو او د احکامو له عزايمو څخه ده او څوک چې له علماوو او دين دارو خلکو سره مشوره نه کوي د هغه عزل او گوښه کول  واجب دي، دا خپله يو حقيقت دى چې هېڅ اختلاف په کې شتون نه لري.

همدارنگه د خپل تفسير په څلورم جلد او ۲۵ صفحه کې وايي: (په چارواکو لازم دي چې په څه نه پوهېږي او په هغه څه کې چې پوهه يې ور باندې مشکله شوې وي له علماوو سره مشوره وکړي او د لښکر له قوماندانانو سره د جنگ په هکله مشوره وکړي او د قوم له مخورو خلکو سره د مصلحتونو په هکله او له مشهورو ليکوالانو، سکرترانو، وزيرانو او واليانو سره د هېواد د مصلحتونو او د هغه د آبادۍ په اړه مشوره وکړي).

امام جصاص حنفي رحمه الله د هغه پاچا په رد کې چې شورى واجب نه گڼي وايي: {و غير جائز ان يكون الأمر بالمشاورة على جهة تطييب نفوس الصحابة و رفع اقدارهم كما ذهب بعض الفقهاء لانه لو كان معلوما عند المستشارين انهم اذا استفرغوا جهدهم في استنباط الحكم الذى ستشاورون فيه لم يكن معمولا به لا يتلقى القبول فلم يكن في ذلک تطييب نفوسهم ولا رفع اقدارهم بل فيه ايحاشهم و اعلامهم بان اراءهم غير مقبولة ولا معمول بها فهذا تأويل ساقط لا معنى له}. (احكام القرآن للجصاص ج ۲، ص ۲۳۰)

**ژباړه:** د دې وینا مفهوم دا دی چې، دا خبره غلطه او ناروا ده چې څوک ووايي چې؛ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره د دوی د خوشحالۍ او د دوی د عزت او کرامت په وجه مشوره کوله، ځکه که دوی پوهېدل چې دا مشوره یوازې د زړه د خوشحالۍ په خاطر ده او په هغه عمل نه مرتب کېږي، نو دا خبره د دې پر ځای چې زړه یې خوشاله کړي لا یې ځورولو، نو دغه تاویل ساقط دی کومه معنا نه لري.

لکه څنگه چې مشوره اخیستل واجب دي همدارنگه له چانه چې مشوره غوښتل کېږي، مشوره ورکول هم پر هغه واجب دي له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: « و اذا ستشار احدکم اخاه فلیشر علیه». (سنن ابن ماجه حدیث رقم ۳۷۳۷. ژباړه: هرکله چې څوک له خپل ورور نه مشوره وغواړي باید ده ته مشوره ورکړي.

ځینو علماوو شوری مستحب گڼلې ده او په دې هکله یې څه دلایل هم راوړي دي البته تېرو دلایلو ته په کتو او دا چې امت شوری ته ډېر ضرورت لري نو د وجوب دلایل یې ډېر قوي او واضح معلومېږي.

**د شوری نتیجه مُلزمه ده یا مُعلنه**

لکه څنگه چې د شوری په حکم کې د علماوو ترمنځ د نظر اختلاف شتون لري ځینو هغه واجب او ځینو مستحب گڼلې ده. د شوری د نتیجې او پایلې په هکله هم اختلاف شتون لري ځینې علماء وایي: امام باید د شوری د اکثریت په نظر التزام وکړي (یعنې د شوری د پرېکړې درناوی وشي او عملي دې شي) او وروسته له دې چې د اکثریت نظر معلوم شو په خپله رایه او یا د اقلیت رایې ته را ونه گرځي او دا چې وایي شوری ملزم ده منظور او موخه یې همدا دی او ځینې نور په دې نظر دي

چې شورى مُعلم ده یعنې شورى د مشورې اخیستونکې لپاره موضوع روښانوي او په قضیه کې مختلف نظریات ټاکي او د امام مخې ته یې ږدي، اوس د امام کار دی چې د مشورو په روښنایی کې څه هوډ او فیصلې نیسي یعنې د دې ډلې د علماوو د نظر په بنسټ امام د اکثریت د نظر او فیصلې په کړو وړو مکلف نه دي.
هغه موضوع ګانې چې شورى ورباندې بحث او څېړنه کوي په غوره توګه، په دوه ډوله دي:

۱ـ هغه موضوعات دي چې د شورى د اهل له ځانګړتیاوو څخه دي.

۲ـ هغه موضوعات دي چې د امیر یا امام له صلاحیتونو څخه دي او یا د ده په شخصي چارو پورې اړه لري.

په هغه موضوعاتو کې چې د شورى وړ کسانو له صلاحیتونو او ځانګړتیاوو له ډلې څخه دي په هغو کې د شورى فیصله باید ملزمه وي ځکه که چېرې یې فیصله د ده په ځانګړتیاوو کې ملزم نه وي، نو د شورى شتون یو اضافي او بې ارزښته کار دی او کومه مثبته پایله به ونه لري. نن ورځ په دنیا کې د شورى ګانو، پارلمانونو او سنا د مجلسونو او داسې نورو کارونه په داسې شکل تنظیم شوي چې کاري صلاحیتونه او ځانګړتیاوې یې مشخصې دي او په اسلامي نظامونو کې هم د شورى ځانګړتیاوې او صلاحیتونه مشخص دي. خو واضح او بهتره تنظیم ته اړتیا لري په هغه صورت کې چې د اعتماد ورکول او یا د اعتماد سلبول له حکومت څخه او یا د بودیجې تصویب او یا د جنګ او سولې فیصله په شورى پورې اړیکې ونیسي، په هغه صورت کې یې فیصله پر امام ملزمه ده او یوازې په هغه صورت کې امام یې له التزام څخه سرغړونه کولای شي چې نه شرعي والی یې په دلایلو ثابت شي چې د دې کار احتمال شاد او نادر دی (یعنې کم او لږ پیښېدونکې حالت دی).

۲ـ هغه موضوعات چې د امير يا امام له ځانګړتياوو او صلاحيتونو او يا د هغو کارونو له ډلې څخه وي چې شخصاً تر امام پورې اړه ولري، نو که امام دا مسايل شورى ته محول کړي ځو وکولای شي د ګڼو افکارو او نظرياتو په روښنايي کې مناسب تصميم ونيسي، په هغه صورت کې د شورى اکثريت نظر ملزم نه دى؛ بلکې دى په خپله د فيصلې خاوند دى او په هر ډول چې ورته خوښ، معقول او مناسب معلوم شو خپل تصميم نيسي، که چېرې د اکثريت نظر په دا رنګه توپير سره په ذکر شوو موضوعاتو کې مطرح شي، نو څه ستونزه او اختلاف به پاتې نه شي او مسلماً په اوله برخه کې د اکثريت نظر ملزم او په دويمه برخه کې معلم دى.

## هغه موضوعات چې شورى په کې رامنځ ته کېږي

په دې کې شک نشته چې د شورى د کار دايره د دولت په کچې معينه او موضوع ګانې يې ټاکلې دي او هره موضوع مطلقاً شورى ته نه وړاندې کېږي ځکه په زياتره کارونو کې د شارع نص موجود او حکم يې واضح دى او شورى ته ضرورت نه لري، مثلاً، داسې موضوع هېڅکله شورى ته نه وړاندې کېږي چې په خپلو بانکونو کې سودي معاملاتو ته اجازه ورکړو يا نه؟ ځکه د ربا (سود) حکم واضح او قطعي دى او سودي چلند حرام دى او د خلکو نظر يې هېڅکله پر وحې باندې نه شي مقدم کېداى. همدارنګه په هغه څه کې چې د الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم فيصله موجوده وي د هغو وړاندې کول شورى ته، ځو شورى نظر ورکړي حرام دى او په نور ټولو کارونو کې مسلمانان مشوره کولى شي لکه چې قرآن کريم فرمايي: ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾. (سورت شوى ايت: ۳۸ ) د مسلمانانو ټول کارونه په مشورې سره دي خو ټول علماء په دې متفق دي چې منظور له «امر» څخه هغه امر دى چې نص په کې نه وي راغلى يعنې د شورى د کار ساحه اجتهادي چارې وي،

نو همدا وجه ده چې صحابه کرامو رضي الله عنهم په کومه خبره یا کار کې مخکې له دې چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د نظر اظهار وګوري پوښتنه یې کوله چې ایا دا خبره او یا دا کار د آسماني وحې په اساس دی او که محض نظر او رایه ده که به هغه د وحې په اساس و، هېڅکله یې په کې نظر نه څرګنداوه او که به نظر او رایه وه نو بیا به یې خپل نظر څرګنداوه.

د مثال په توګه د بدر په غزوه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوبو څخه لرې ځای د مرکز لپاره خوښ کړی وحباب بن منذر رضي الله عنه ورته وویل: اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم ایا دغه ځای دې چې مرکز نیولی، الله تعالی درته تعین کړی او موږ ته یې د تغییر حق نشته او یا دا چې د جنګي تکتیک په وجه دې ټاکلی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل؛ دا مې د جنګي تکتیک د فکر پر اساس ټاکلی دی. نو حباب رضي الله عنه وویل: ای د الله رسول صلی الله علیه وسلم ! کله چې خبره داسې ده دا ځای د مرکز نیولو لپاره نه دی مناسب، بل مناسب ځای یې ور وښود، نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې مشوره قبوله کړه.

د حدیبې په صلحه کې چې کله خبره خط لیکلو ته ورسېده، د هغې په ځینو مادو عمر رضي الله عنه له خپل ځای څخه پورته شو او خیز یې وواهه او ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته راغی د هغه سره یې مجلس وکړ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ایا ته د الله جل جلاله پیغمبر نه یې؟ ویې فرمایل هو، زه د الله جلّ جلاله پیغمبر یم، عمر رضي الله عنه وویل آیا موږ مسلمانان نه یو؟ ویې فرمایل ولې نه. عمر وویل؛ ایا هغوی مشرکان نه دي؟ ویې فرمایل مشرکان دي. عمر رضي الله عنه وویل؛ نو ولې په دین کې ذلت قبول کړو،

البته منظور يې هغه ماده وه چې که د مشرکانو څخه څوک مسلمانېږي هغه به بېرته دوی ته سپارو او که زموږ څخه څوک مرتد کېږي هغه به موږ ته نه سپارل کېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:« زه د الله تعالى بنده او پيغمبر يم، د هغه له امرڅخه مخالفت نه کوم او الله به ما نه ضايع کوي». کله چې عمر رضي الله عنه ته معلومات حاصل شو چې موضوع تر وحې پورې اړيکه لري، قانع شو او سکوت يې غوره کړ.

ابوبکر ابن العربي وايي: {قال علماءنا المراد به استشارة في الحرب}. (احکام القران لابن ابى بکر العربى ۲ټوک ۱۵۳مخ)

يعنې منظور له دې څخه مشوره په جنگ کې ده او ځينې علماء وايي مشوره تر دنيوي چارو پورې ځانگړې ده.

علامه جارالله زمحشري (د تفسير کشاف مصنف) وايي: {في الحرب و نحوه مما لم ينزل فيه وحي}. (تفسير کشاف لزمحشري ج ۱، ص ۴۷۴) په جنگ او نورو چارو کې ده چې وحې نه وي په کې راغلې.

درېيمه ډله دا عقيده لري چې د شورى موضوعات ټول هغه امور دي چې نص په کې نه وي نازل شوی او د قرآني آيتونو او نبوي احاديثو څخه معلومېږي چې همدا درېيم نظر قوي او جامع دی ځکه الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مطلق فرمايلي دي :﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ او د مؤمنانو په صفت کې يې فرمايلي: ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾ دلته امر مطلق ذکر شوی او دا چې منصوصي شيان ورڅخه استثناء دي دا په دې خاطر چې د الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم په حکم

کې انسان ته د مشورې اخیستلو حق نشته ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾.( سورت احزاب: ٣٦ )

**ژباړه:** کله چې الله تعالی او د هغه پیغمبرصلی الله علیه وسلم په یوه څیز کې حکم وکړي، نو مومن او مومنې ته جایز نه دي چې له دې حکم سر وغړوي.

**د شورى وړ کسان او د ټاکلو طریقه یې**

هغه عمومي قرآني او نبوي نصوص چې د شورى پر مشروعیت دلالت کوي له ټولو مسلمانانو څخه عبارت دي ځکه په دواړو آیتونو ﴿و شاورهم في الامر﴾ ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾ کې پرته له دې چې مواصفات یې مشخص وټاکل شي ټولو مسلمانانو ته راجع دي.

اما دا چې د خلکو په استعدادونو کې تفاوت دی او د ټولو راجمع کول په یوه ځای کې ناممکن دي او دا چې خلک د ژوند په چارو کې مصروف دي، نو نه شي کولای چې مستقیماً په خپل فزیکي حضور سره عمل وکړي، نو دلته د ملت د استازیو مسله را منځ ته کېږي چې باید ملت خپل استازي وټاکې، خو د استازیو په ټاکلو کې د اهلیت او کفایت مسله باید مطرح وي، څو د دې کار توان ولري او هغه په بریا سره ترسره کړي، دا ډېر درونډ کار دی باید واجد شرایط کسان ورته مکلف شي.

د عالم او غیر عالم تر منځ توپیر وشي ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾.(سورت زمر ایت: ٩)

﴿وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ﴾. (سورت نساء ایت ٨٣)

**ژباړه:** او که دوی ته د امن او یا ویرې خبر راشي نو دوی دا خبر خپروي، په داسې حال کې چې که دوی هغه(خبر) پیغمبر  او د خپلې ډلې مسؤولو کسانو ته ورسوي، نو بیا هغه به داسې ډول کسان وپوهیږي چې د دوی په منځ کې ددې خبرې صلاحیت لري چې له هغې څخه سمه نتیجه واخیستلی شي.

## د مشورې اهمیت او آداب

باید په یاد ولرو چې، د انسان په ژوند کې له هر مهم کار نه مخکې اسلامي شریعت د دوه شیانو حکم کوي.

**لومړی:** مشوره (له مشرانو سره،  له عالمانو سره او د کور له غړو سره په چارو کې مشوره کول).

**دویم:** استخاره (یعنې د استخارې لمونځ کول). شیطان تل لپاره په مسلمان پسې لګېدلی وي او د دین له لارو څخه یې ګرځوي او د دین کارونه ورته په داسې شکل وړاندې کوي چې د ده د وس او توان نه پورته وي او کول یې ورته سخت تمامېږي، شیطان چې د مسلمان ازلي دښمن ځان بولي، له نورو احکامو سره - سره د مشورې او استخارې حکم هم مسلمانو ته سخت وړاندې کوي او ډول-ډول  بهانې او حیلې ورته وړاندې کوي. نو له همدې له امله ډېری خلک مشوره نه کوي او نه داسې انګېري چې ګوا کې په ژوند کې مشورې ته هم اړتیا پیدا کېږي او په حقیقیت کې داسې قسم خلک نه خوښوي چې په یو کار کې له نیک او صالح خلکو سره مشوره وکړي خو لیکن  ځینې خلک بیا مشوره کوي خو څنګه چې په کار وي، هغسې یې نه کوي.

ځنګه چې د استخارې په مقابله کې د مشورې اهميت ډېر ده نو الله سبحانه و تعالی په قرآن مجيد کې فرمايي:

(والذين استجابو لِربِهم و اقامو الصّلوة وامرهم شورى بينهمْ و ممّا رزقنهم ينفقون ). (سورت شورى ايت ۳۸)

**ژباړه:** او چا چې د الله جلّ جلاله حکم ومانه او لمونځ يې قايم کړ او د هغه هر کار له مشورې سره وي او د الله جلّ جلاله له ورکړل شوي مال څخه خرچ کړي، د الله سبحانه و تعالی په لاره کې د خرچ کولو لويه لاره زکات ده. مشوره د اهميت له وجې د لمونځ او زکات په منځ کې ذکر شوی او د دې سورت نوم هم شورى اېښودل شوی (يعني د مشورې د حکم سورة).

لمونځ او زکات دوه داسې عبادتونه دي، چې د قرآن مجيد په هر ځای کې يو ځای ذکر شوي ځکه دې دوو عبادتونو ته (قرينتان) هم وايي. ليکن په قرآن مجيد کې چې د لمونځ او زکات تر منځ د شورى اهميت ذکر شوی. د سوره شورى دغه ذکر شوی آيت دی.

له النضر ين شميل رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وآله وسلّم فرمايي: (ما سعد أحد برأيه ولا شقي عن مشورةٍ). (بلوغ الارب بتقريب کتاب الشعب ۱/۲)

**ژباړه:** له خپلې انفرادي رايې سره څوک هم نه دي کامياب شوي او له مشورې نه بعد هيڅ څوک هم نه دي ناکام شوي.

شورى د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په ژوند کې په عملي ډول: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په خپل مبارک ژوند کې مشوره کړې ده چې يو څو مثالونه يې په لاندې ډول ذکر کوو:

## ۱. د اذان شورى د هجرت په اول کال

د انس بن مالک او ابن عمر ( رضى الله عنها) څخه روايت دى چې د مدينې دور په اولو وختونو کې خلکو د لمانځه وختونه د خپل فکر په اساس ټاکل يوه ورځ د دې لپاره مشوره وشوه ځينو د يهودو د بوق وړانديز وکړ او ځينو د نصارى ناقوص پشنهاد وکړ، خو حضرت عمر (رضى الله عنه) دا پشنهاد و کړ چې يو کس دې وټاکل شي چې د لمانځه په وخت کې خلک په لوړ غږ سره راوبولي همغه وو چې په همدې پشنهاد پرېکړه وشوه او رسول الله(صلى الله عليه وسلم) د دې کار لپاره حضرت بلال (رضى الله عنه) وټاکه.

## ۲. د بدر کبرى شورى د هجرت په دويم کال

د حضرت انس بن مالک (رضى الله عنه) څخه روايت دى چې رسول الله(صلى الله عليه وسلم) د بدر د غزا په وخت کې د خپلو صحابه و سره مشوره وکړه حضرت ابو بکر (رضى الله عنه) او عمر (رضى الله عنه) خپله رايه ښکاره کړه مگر رسول الله(صلى الله عليه وسلم) د انصارو د رايې د معلومولو په خاطر چپ ناست وه نو په دې وخت کې سعد بن عباده (رضى الله عنه) د انصارو څخه پورته شو او ويې ويل که چيرته ته حکم وکړې نو مونږ په درياب کې ټوپ وهلو ته او يا د برک العماديعنى يمن پورې د اسونو ځغلولو ته تيار يو د دې وروسته د تللو حکم وشو او فوځ د بدر په مقام کې خپلې مور چې سنبال کړې.

**۳. په بدر کې د جنګ په هکله شورى د هجرت په دويم کال**

د هجرت پـه دوهـم کـال رسـول الله (صـلى الله عليـه وسـلم) تـه خـبر ورسـيد چـې ابوسـفيان پـه مشرـتابه لـه شـام څخـه مکـې تـه د قريشـو تجـارتي کـاروان د مـدينې پـه جنـوب کــې روان دی د رسـول الله (صـلى الله عليـه وسـلم) پـه حکـم دغـه کـاروان د نيولـو لپـاره درې سـوه ديـارلس اصـحابان لـه ځـان سره بوتلـل بـدر تـه په رسيدو خبر شـول چـې ابوسـفيان لار بدلـه کـړه او د سـور سـمندر پـه غـاړه تلـلي دي. ( د اسلام تاريخ نجيب آبادی ج۱ ص ۱۱۱)

پدې وخت کې بدر ته د ابوسفيان د نجات لپاره د ابوجهل په مشرتابه د زرو جنګياليو کسانو سره راغى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خپلو ملګرو سره مشوره وکړه چې کاروان خو تللى دى او د مشرکانو لښکر د جنګ لپاره راغلى دى ايا جنګ ورسره کوي او که بېرته مدينې ته ځي په دې کې ډېرو صحابه کرامو رايه ورکړه چې جنګ ورسره کوو.

**۴. د بدر د بنديانو په هکله شورى د هجرت په دويم کال**

کله چې د بدر په غزا کې مسلمانانو ته الله (جل جلاله) فتحه ورکړه او د مکې مشرکانو اويا کسه سرداران قتل او اويا کسه يې د اسلامي لښکر په لاس ژوندي ونيول شو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خپلو ملګروسره په دې باره کې مشوره وکړه چې قتل يې کړی او که فديه ترې واخلي او ازاد يې کړي حضرت ابوبکر ( رضى الله عنه) د فديه اخيستلو نظر ورکړ او حضرت عمر (رضى الله عنه) داسې نظر ورکړ چې دا ټول دي قتل شي ځکه چې دوی يې د کفر مخکښان او د اسلام دشمنان دې نورو صحابه کرامو ځينو د ابوبکر (رضى الله عنه) او ځينو د عمر ( رضى الله عنه) رايه تاييد کړه.

خو رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د ابوبکرصدیق( رضی الله عنه) د نظر سره سم فدیه واخیسته او د مکې مشرکین یې ازاد کړل مگر بیا وروسته الله (جل جلاله) د عمر( رضی الله عنه) د نظر په تایید وحې نازله کړه. (اسلامي سیاست، مخونه ۳۸۳-۳۸٦)

## ۵. د احد په ورځ شورى د هجرت درېيم کال

د هجرت په درېيم کال د مکې مشرکانو په بدر کې د خپلې ماتې د غچ اخیستلو په تکل لښکر تیار کړ او پر مدینه منوره د یرغل کولو په اراده روان شول رسول الله(صلی الله علیه وسلم) مسلمانان د دفاع لپاره چمتو کړل او بیایې له هغوی څخه مشوره و غوښته چې په مدینه کې دفاعې مورچل جوړه کړی او د یرغلگرو مقابله وکړي او که مدینې څخه بهر لاړ شي ځوانانو رایه ورکړه چې د مدینې څخه بهر لاړ شي رسول الله(صلی الله علیه وسلم) دا مشوره قبوله کړه سره ددې چې خپله د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) نظر داوو چې په مدینه کې ورسره مقابله وکړي. (داسلام تاریخ مولانا اکبر شاه نجیب ابادی ج۱ ص۱۲۳)

## ٦. د احزاب شورى د هجرت پنځم کال

د هجرت په پنځم کال د مکې مشرکانو د حجاز تول عربي قبایل را ټول کړل چې یهود هم ورسره ملگری وو او ۱۰۰۰۰ لښکر یې تیار کړ تر څو چې په مدینه منوره یرغل وکړي خو رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د غازیانو ۳۰۰۰ لښکر تیار کړو او د مدینې څخه بهر د سلع د غره په لمن کې چې د مدینې په جنوب کې پروت دی لښکرتم ځای وټاکه ځکه چې همدغه څنگ ته ډاگ وو او نور دری واړه خواوو ته باغونه وو رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د د فاعې پلان په هکله غازیانو سره مشوره وکړه پدی کې سلمان فارسی (رضی الله عنه) داسی مشوره ورکړه که گرد چاپیره خندقونه و کندل شی دښمن پر مونږ حمله نشی کولی ټولو صحابه کرامو د سلمان فارسی( رضی الله عنه) دا نظر خوښ کړو او رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د خندقو

نود ویستلو حکم وکړو او خپله هم د خندقونو په ویستلو کې برخه واخیسته د همدی کبله دی غزا ته د خندق غزا هم وایي. (صحیح بخاري المغازی غزوه خندق ۲ټوک ۵۸۹مخ)

## ۷. حدیبې شورى د هجرت شپږم کال

د هجرت په شپږم کال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د څوارلس سوه صحابه کرامو سره د مدینې څخه د مکې په لور دعمرې د ادا کولو په نیت روان شو او د مکې د قریشو د غبرګون معلومولو لپاره یې یو مخبر مکې ته لېږلی و کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نورو عمره کونکو سره د عدیر الاشطاط نومې سیمې ته ورسېده خبر ورته را ورسېد چې د مکې مشرکېن خبرشوي دي او د مقابلې لپا ره یې دخپلو پلوي قبایلو د جنګیالیو په غونډولو پیل کړی دی په همدې ځای کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شورى دا یره کړه او خپلو ملګروته یې وفرمایل څه با ید وکړو؟ ایا له همـدې ځای په جنګ پیل کړ او د قر یشو پلوي قبایلو با ندې یرغلونه و کړل چې د هغوی په کورنو کې صرف ښځې او ماشومان پاتې دي د هغوی ښځې مینځې او مالونه غنیمت کړو او په دې توګه یو درس ورکړل شي او که د عمرې خپل مصالحت آمېزه سفر ته ادامه ورکړو؟

په دې شورى کې هرچا خپل نظر ورکړ کله چې نوبت ابوبکـرصدیق (رضی الله عنه) ته را ورسېد هغه وویل چې موږ ته په کار ده، چې د عمرې خپل مصالحت امیزه سفر ته ادامه ورکړو په همدې سره ټوله شورى متفقه شوه اوکله چې دمکې څخه دولس میله لرې واټن ته ورسیده دقریشو له خواڅخه د ړاندې تللو څخه منع کړای شو چې په نتیجه کې دحدیبې صلحه را منځته شوه.

### ۸. د حنین شورى د هجرت اتم کال

د نبوي هجرت په اتم کال په رمضان کې د مکې له سولې وروسته رسول الله(صلی الله علیه وسلم) خبر کړای شو چې د طایف د ثقیف او هوازن قبایلو لښکر تیار کړی او غواړي چې پر مکه نا ببره یرغل وکړي رسول الله(صلی الله علیه وسلم) له خپل ۱۲۰۰۰ اسلامي لښکر سره د حنین بیدیا په طرف د هجرت په اتم کال د شوال په میا شت کې روان شو حنین د مکې څخه لمرخاته خواته پروت دی په دغه بیدیا کې د ثقیف، هوازن، مغر او هلال د قبایلو ۴۰۰۰۰ نفرغونډ شوي وو چې داسلا مي لښکر په وړاندې یې ماتې وخوړه او۶۰۰۰ کسان یې داسلامي لښکر په لاس کې بندیان پاتې شول ۲۴۰۰۰ اوښان ۴۰۰۰۰ مېږې او اوزې د مسلمانا نو په لاس ور غلل رسو ل الله (صلی الله علیه وسلم) دبندیانو ازادولو او د غنیمت دوېشولو په هکله شورى دایره کړه او د شورى د فیصلې سره سم یې ټول نیول شوي اموال تقسیم کړل مگر هوازن یوه جرگه رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ته راغله چې مالونه اوبندیان یې ببرته ورکړي رسول الله(صلی الله علیه وسلم) مجاهدین راغونډ کړل او ورته یې وفرمایل ستاسې ورونه توبه کوونکي راغلي دي اوزه غواړم چې ببرته یې ورکړم نوکه ستاسې خوښه وي ببرته یې ورکوئ وریې کړئ.

### ۹. یمن ته د معاذ بن جبل رضی الله عنه د ټاکلو شورى د هجرت لسم کال

د هجرت په لسم کال کله چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم) معاذ بن جبل (رضی‌الله عنه) یمن ته داسلامي حکومت دلومړي والي په توگه مقرراوه او هغه یې یمن ته لیږلو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په حضور کې یې شورى دایره کړه چې مهاجر اوانصار صحابه کرام(رضی الله عنهم) په کې وو چې هر یو په ازادانه توگه په اړونده موضوع کې خپله رایه څرگنده کړه چې له اوږده بحث څخه وروسته

درایوپه اتفاق سره معاذبن جبل (رضی الله عنه) یمن ته دوالي په توگه رسول الله(صلی الله علیه وسلم) په حکم سره ولېږل شو.
تر دې ځایه درسول الله(صلی الله علیه وسلم) فعلي سنت د شورى د مشروعیت په باره کې ذکر کړای شو، چې د الله تعالی(جل جلاله) د امر سره سم یې په مهمو موضوعاتو کې له خپلو یارانو سره مشورې کړي دي، ترڅو د اسلامي امت لپاره دخلیفه اوخلافت دقایمولو لپاره د دویم بنسټ په توگه وگرځي. (انتخابات د اسلام له نظره ، مخونه ۱۰۵-۱۱۳)

د مشورې کولو یو څو گټې په لاندې ډول دي:

۱. له ټولو نه ستره او غټه گټه یې د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلّم په سنت عمل دی، نو په کوم کور کې چې په سنتو برابر ژوند تېرول وي؛ په هغه کور به د الله جلّ و علی شانه رحمت نازلېږي.

۲. دویمه مهمه گټه یې داده، چې د مشورې له امله د خپل او خپلوانو تر منځ محبت پیدا کېږي، نو هر سړی دا سوچ کوي چې زه هم یو مقام لرم ځکه راسره مشوره کېږي.

۳. بله فایده داده چې دا پرېکړه او فیصله به د فرد واحد نه وي، بلکې اجتماعي فیصله به وي، نو له همدې امله که الله تعالی مه کړه هغه کار خراب شي؛ نو چاته به دا موقع د خبرو نه وي چې ولې دې مشوره نه کوله او ولې دې موږ ته نه ویل او داسې ورته نورې خبرې.

د مشورې کولو يوڅو آداب چې بايد په پام کې ونيول شي:
د يادولو وړ ده چې د مشورې کولو په وخت د مشورې د آدابو خيال ساتل ضروري دي او وروسته له هغې بيا نوموړی شخص کولای شي چې لاس په کار شي خو البته دومره بايد ووايم چې که چيرې د آدابو خيال ونه ساتل شي او مشوره بابېزه وګڼل شي، نو کېدای شي چې ټاکلې موخې ته ونه رسېږي او هر څه بې نتيجې همداسې په خپل ځای پاتې شي او تر ټولو نه زيات زيان او تاوان به د وخت ضايع وي.

۱. د مشورې لپاره يو مشر بايد وي چې له ټولو مشوره واخلي او په آخر کې پرېکړه او فيصله وکړي.

۲. هر شخص بايد ګټوره مشوره ورکړي او د کار کولو ښه سوچ وکړي او کله چې يې مشوره ورکړه، د نورو مشورو ته بايد غوږ شي اوعمل پرې وکړي.

۳. د بل شخص مشوره بايد رد نه کړي. کله چې هغه مشوره درکړه، بايد داسې ونه ويل شي چې دا سمه نه ده يا دا صحيح نه ده يا دا ستونزمنه ده (بلکې د بل په مشوره کې الله جلّ جلاله خير او برکت اچوي که څه هم سخته يا ستونزمنه وي).

۴. د هر شخص په مشوره باندې سړی ځان پوه کړي او له هغې نه وروسته بيا فيصله وکړي او د ځينې عالمانو په نظر بايد انسان د يو داسې شخص سره مشوره وکړي؛ چې په دې مورد کې هغه کافي او بشپړ معلومات ولري. هېره دې نه وي چې له دښمن او جاهل شخص نه بايد نيکه مشوره ونه غواړو.

**پايله**

شورى د اسلام د مبارک دين د اصولو څخه يو اصل دى. اسلام د دنيا لومړنى دين دى چې د اوسنى نړۍ د شورى (پارلمان) څخه يې څو سوه کاله مخکې د شورى په

نوم د يو ريښتيني اصل کار په خپلو اوږو واخيست او د هغې گټې يې عملاً خلکوته ثابتې کړې چې مشوره کې څومره لوې خير دی.
اسلام لا هغه وخت د عامه اختيار د اصولو بنسټ اېښی و چې اروپا د جهالت په تاريخ کې غرقه وه نړۍ د روم او فارس د امپراطوريو په خونړيو منگولو کې ايساره وه او له اسيا واخله تر افريقا او له افريقا څخه تر اروپا پورې د ځمکې په هېڅ برخه د ازادۍ او عامه افکارو د ښکاره کولو پسرلي نه وو ورغلي، په اروپا کې د پارلمان بنسټ د درېيم هنري په وخت کې کېښودل شو مگر دا يو نيمگړی شکل وو چې هنري بېرته د منځه يوړو تر ۱۹ پېړۍ پورې د پارلمان هېڅ حقيقت نه و.

د ۱۸۱٦ م کال د انتخاباتو وروسته مستېرپېټ د انگلستان صدر اعظم داسې اقرار وکړ، چې د انگلستان پارلمان د ټولې بريتانيا استازی او نماينده نه دی دا يوازې د پانگوالو او د سترو کورنيو ځای ناستی (قايم مقام) دی. حقوق پوهان په دې باوري دي چې د دنيا هېڅ پارلمان د انگلستان د پارلمان څخه بهتر نه دی، خو دا بيا هم د خپلو ترکيبي اصولو له مخې نيمگړی دی خو په اسلام کې شورى د يو مکمل اصل په توگه په شپږمه پېړۍ کې ظهور وکړ.

په اوسنۍ زمانه کې پارلمان په فريب سره د لومړيتوب شرف لاسته راوړل غواړي، د اوسنۍ نړۍ پرمختللي قومونه په پوره شان او شوکت سره د پارلمان د قانون جوړونې دعوې کوي ليکن دا يو جزوي کار دی او هيڅ اساسي ارزښت نه لري، خو د اسلام دعوې کوي چې د يوې حقيقي شورى منځته راوړونکي او ايجادونکي دي ځکه چې شورى هغه وخت د دنيا مخ ته راغله چې د ځمکې پر مخ هيڅ شورى (پارلمان) لا پيداشوی نه و.

شورى د اسلامي خلافت يو بهترينه نمونه ده، تر ټولو څخه مهمه او د يادونې وړ خبره داده چې کومې خرابۍ چې په اوسنۍ پارلمانونو کې وجود لري، هغه په اسلامي شورى کې په ذره بين سره هم نه شي ليدلى. بل د اسلامي شورى افضليت دا هم دى چې اسلامي شورى د يو داسې قانون پابنده ده چې د هغې په اصل کې تغيير ناممکن دى، خو په اوسنيو پارلمانونو کې د ګوند مطلقه خوښه ده چې څه غواړي هغه کړنې په پارلمان کې ترسره کولى شي ځکه چې په اوسني پارلمانونو کې قوانين د ملت د خواهشاتو مطابق جوړيږي. د اسلامي حکومت په شورى کې قانون جوړونې ته هغه وخت ضرورت پيښيږي، په کومه موضوع کې چې صريح نص موجود نه وي، بل دا چې په دې شورى کې نه تاج شته، نه د سلطنت تختونه، نه شاهي دربار شته او نه پخپله شهزادګان او نه فيوډالان شته بلکې اسلامي شورى ته د ځانګړو شرايطو په اساس باندې خلک لار پيدا کوي.

د قرآن کريم د لارښونو څخه دا جوتيږي چې شورى يو واجب او ضروري عمل دى، د رسول الله صلى الله عليه وسلّم د مبارکو احاديثو څخه دا څرګنديږي، چې هغه مبارک صلى الله عليه وآله وسلم به په خپله د صحابو رضي الله عنهم او صحابياتو رضي الله عنهن سره مشورې کولې، لکه؛ څرنګه چې حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په هکله داسې وايي: «ما رأيت احدا قط كان اكثر مشورة لاصحابة من رسول الله صلى الله عليه وسلم». (سنن ترمذي حديث رقم: ۱۷۱۴)

**ژباړه:** هيڅوک مې نه دي ليدلي چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په پرتله له خپلو صحابه کرامو سره زياته مشوره وکړي.

**مناقشه**

د شورى په هکله په پخوانيو کتابونو او مراجعو کې لاربښوونې او ارشادات موجود دي. علماوو، فقهاوو وخت په وخت په ياده موضوع بحثونه ترسره کړي او ليکنې هم کړي دي البته په دې ليکنې سره غواړم چې اسلامي نړۍ حاکمانوته يوځل بيا د يادونې او تذکرې په توګه د شورى اهميت او ارزښت ته د هغوى پام راوګرځوم چې دوى وکولاى شي له دې اصل څخه په کار اخيستو دروند الهي مسوليت په ښه شان سره ترسره کړي.

**ماخذونه**

١-قرآن کريم.

٢-احكام القرآن للجصاص: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي.

٣- احكام القران لقاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي.

٤- الطبرانى فى المعجم : سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني.

٥- انتخابات د اسلام له نظره،ليکوال پوهنمل زاهدى احمدزى، خپرندوى اميرکروړ کتابتون، چاپ کال ١٣٨٧)

٦- اسلامی سياست، ليکوال مولانا ګوهرالرحمن، ژباړونکې قريب‌الرحمن سعيد، چاپ ځاى شرکت پرنټنګ پريس لاهور، چاپ کال ١٩٨٣م.

۷- ابن منظور ، لسان العرب : محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: ۷۱۱هـ) الناشر: دار صادر – بيروت.

۸- بلوغ الارب بتقريب كتاب الشعب: (تهذيب لكتاب شعب الإيمان للبيهقي) المؤلف: محمد خلف سلامة المصدر: الشاملة الذهبية.

۹- داسلام تاریخ : مولانا اکبر شاه نجیب آبادی، پیغام خپرندویه ټولنه کال ۱۴۲۵.

۱۰- سيرة ابن هشام ابن اسحق : ابى محمد عبدالملک بن هشام بن ايوب الحميرى المعافرى مشهور به جمال الدين(متوفى ۲۱۳یا ۲۱۸ق) درالكتاب العلميه.

۱۱- تفسير ابن جرير :جامع البيان فى تأويل القران: ابوجعفر محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الطبرى.

۱۲- تفسير المظهري :محمدثناء الله عثمانى مجددى پانى پتى.

۱۳- تفسير قرطبي :الجامع لاحكام القران، بو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي )المتوفى: ۶۷۱هـ.

۱۴- تفسير كشاف: الكشاف عن حقايق التنزيل وعيون الاقاويل فى وجوه التاويل لابى القاسم جارالله محمودبن عمرالزمحشرى، مصر شركة مصطفى الحلبى عام ۱۹۴۸م.

۱۵- سنن ترمذى:ابى عيسى بن محمد بن عيسى بن سوره الترمذى ،دارالحديث.

۱۶- صحيح البخاري : الامام الحافظ ابو عبد الله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ابن بردزبه البخاري الجعفي.

**دوکتور شفيق الله امين**
مستقبل پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
لارښود استاد: دوکتور حمد الله کاکړ

# د فقهاوو له انده په نکاح کې کفوه

## لنډيز

دين د فقهاوو له آنده د برابرتيا بنسټيز شرط دی او ددې نه پرته په نورو صفاتو کې د اختلاف سره سره يې انساني ژوند ته د واقعيت په نظر کتلي او د هغه څه چې انسان يې په طبيعي توګه خوښ ګڼي احترام کړی دی او په اسلامي ټولنه کې يې دهغو دودونو او عرفونو مراعات کړي دی چې د اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وي، بلکې د دې نه هم وړاندې تللی چې عرف يې د اسلامي فقهې د احکامو د استنباط له مصادرو نه شمېرلی دی.

دوی چې کله هم نسب، آزادي، کسب، مال او د ناروغيو نه سلامتيا د برابرتيا لپاره اړين ګڼلي دي په دې کې يې د بشري طبيعت مراعات کړی دی چې تل ښه والی او لوړ مقام ته رسېدل غواړي.

دوی خپل نظرونه داسې برابر کړي چې د قران کريم او نبوي سنتو د روح سره اتفاق ولري، چې د واده د مقاصدو سره، چې د دواړو اړخونو مصالح په نظر کې نيسي برابر وي او د انساني ټولنې جوړول په مينه ، رحمت او ډاډ او د کورنيو ترمنځ خپلوي په رضا او قناعت سره منځ ته راشي او د کرکې، شرم او کمي احساس په کې نه وي، د وخت او ځای شرايطو ته اعتبار ورکړل شي. اسلامي شريعت د ژوند په ډېرو ډګرونو کې د مناسب شخص د غوراوي لارښونه کړې ده او د کورني ژوند اهميت

چې د انسان جوړونې سره اړیکه لري ډېر زیات دی، چې باید مناسب انسان ورته غوره شي هغه چې د کورنیو د ښو اړیکو، مینې او محبت سبب گرځي.

**کلیدي کلمات:** کورنۍ، نکاح، مېړه، میرمن، برابرتیا، فقه.

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی محمد المبعوث رحمة للعالمین و علی آله وصحبه أجمعین .

الله تعالی انساني نکاح او د مېړه او مېرمنې ترمنځ مینه، محبت او رحمت د نیکمرغه ژوند او خوشحالې کورنۍ جوړولو لامل گرځولي ده.

د نکاح کامیابه اړیکه هغه ده چې د ښه انتخاب او د شرعي تعلیماتو پربنسټ صورت ونیسي، نکاح د ټولنیز ژوند یو ضرورت دی چې د نسلونو دوام او بقاء ورپورې تړاو لري او د بلې خوا انسان ته ارامي او ډاډ وربښي.

الله تعالی فرمائي: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ) (سورت الروم (۲۱) آیت ).

د الله تعالی د قدرت د نښانو نه یو هم دا چې تاسې ته یې ستاسې د ځانونو څخه ستاسې مېرمنې پیدا کړي چې تاسې ورسره په سکون اوسېږئ او ستاسې تر منځ یې مینه او رحمت واچولو او دا د فکر کوونکو لپاره ښې نښانې دي.

د حقوقو، وجایبو او د مسولیتونو وېش چې د ټولنې د اړتیاو څخه گڼل کېږي په خپل منځي مینې، همکارۍ او تفاهم پلی کېدی شي او د دې ښه اغېز په کورنۍ او د

بچيانو په روزنه او د نسلونو په دوام کې روښانه ښکاري، چې د هېواد او امت نه د دفاع او د سوکالۍ راوستل يقيني کوي.

دې موخې ته د رسېدو لپاره د روح او بدن د غوښتنو ترمنځ انډول راوستل او د مېړه او مېرمنې ترمنځ برابرتيا اړينه ده.

په دې کې شک نشته چې ژوند يوازې د خوشحاليو او خواهشاتو پوره کول نه، بلکې ستر ديني، ټولنيز، اقتصادي او رواني مسووليت هم دی. د نکاح اړيکه الله تعالی د کلک او محکم تعهد په نوم ياده کړې ده او فرمايي: (وَأَخَذْنَ مِنْكُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا)(سورت النساء (۲۱) آيت).

**ژباړه:** ستاسو نه يې محکم تعهد اخيستی دی.

دې تعهد ته محکم ويل هغه لوی امانت ته اشاره ده چې سړی يې د کورني ژوند د ښه تنظيم او په مينه او محبت د ابادولو لپاره په غاړه اخلي. الله تعالی سړی او ښځه داسې پيدا کړي دي چې يو د بل بدني، عقلي او رواني اړتياوې په ښه ډول پوره کولای شي او يو بل سره د مينې، محبت، راحت او اطمينان په فضا کې ژوند کولای شي او د دې همغږۍ په پايله کې نوی نسل منځ ته راځي. (فی ظلال القرآن،ج/۵، ص/۲۶۳).

نېکمرغه ژوند ته د رسېدو لپاره د مېړه او مېرمنې ترمنځ د هر اړخيزو شريکو صفاتو او په ديني، اقتصادي، فرهنگي، ټولنيزو او رواني برخو کې برابرتيا اړينه ده. دا برابري بايد تر دې بريده وي چې د ژوند کښتۍ د نجات ساحل ته رسولو لپاره کفايت او بسنه وکړي.

څېړنو دا ښودلې ده چې د کامیاب ژوند لپاره د مېړه او مېرمنې ترمنځ تر یو بریده برابرتیا د اسلامي شریعت د لارښوونو پربنسټ اړینه ده.

د دوی تر منځ برابرتیا(کفائت) په دین، نسب، آزادۍ، کسب او د عیبونو او مرضونو نه په سلامتیا کې را خلاصه شوې ده، دا ځکه چې انساني فطرت یې غوښته کوي او د کورني ژوند ارامتیا او هوساینې لپاره ښه اغېز لري.

**د لیکنې اهمیت او موخه**

د دې موضوع د غوراوي اهمیت په دې کې دی چې د فقهاو کرامو نظر د مېړه او مېرمنې ترمنځ د برابرتیا په هکله راټول او پرتله شي او هغه څه چې دودونو په خلکو منلي دي په نښه شي.

او هغه څه چې په ژوند کې یې عملي کول اړین برېښي، د ښه ژوند او د کورنۍ خوندي ساتلو، د مینې او محبت په فضا کې ژوند ته د زمینې برابرولو کوښښ وشي.

په دې موضوع کې زما د لیکنې موخه د هغو ستونزو رابرسیره کول دي چې زموږ ټولنه ورسره په ځینو ځایونو او کورونو کې لاس په ګرېوان ده.

کله کله سړی یا ښځه د خپلو دیني او یا ټولنیزو ارزښتونو په نظر کې نه نیولو او د خپلو شخصي خواهشاتو پوره کولو له ا مله د داسې عذاب سره مخ شي چې ژوند تېرول ستونزمن او د کورنۍ د هر غړي لپاره کړاو او د سر درد شي او کله هم په جدایي سر ته ورسېږي.

**د لیکنې اړتیا**

د دې لیکنې اړتیا مې هغه وخت محسوسه کړه چې د ټولنې یو لړ داسې ستونزمن واقعات مې مخې ته راغلل چې د حل لپاره یې لارو چارو پیدا کولو ډېر وخت ونیو، هغه اړیکې چې باید د انسانانو او کورنیو ترمنځ نېږدېوالی او دوستي رامنځ ته کړي له بده مرغه د کفائت د نشتوالي له امله په تاوتریخوالي او دښمنۍ بدل شي او د حل لاره یې د بیلتون نه پرته بل څه نه تر سترګو کېږي.

**تېرو لیکنو ته کتنه**

د دې موضوع په اړه په عربي ژبه د فقهي کتابونو کې د نکاح په باب کې ذکر شوی دی او همدا رنګه ځینې څېړنې د کتابونو او یا د علمي رسالو په بڼه شتون لري لکه (أحکام الأسرة الخاصة بالزواج،جابرعبدالهادي الشافعي، تأثیر العرف في تحدید معني الکفاءة في الزواج،مروان بن محمد المحروس) خو په پښتو کې مې داسې څه تر سترګو نه شول چې د دې تشې ډکولو لپاره بسنه وکړي او د عامه پوهاوي لپاره ترې ګټه واخیستل شي.

**پوښتنې**

۱. په نکاح کې کفائت څه ته وایي؟
۲. په نکاح کې د کفائت نه شتون په کورنۍ کې کومې ستونزې رامنځته کوي؟
۳. د کفائت لپاره کوم معیار شتون لري ؟

**د څېړنې تګلاره (میتود)**

په معیار برابره څېړنه له ستونزو ډک کار دی، خو بیا هم میتود لیکوال ته د لارې د مشال حیثیت لري او د کار د اسانتیا سبب ګرځي، ما په دې څېړنه کې د کتابونو پر مټ له تشریحي میتود څخه کار اخیستی، لومړی مې د موضوع اړوند اثار راټول او یادښتونه مې ترې واخیستل او وروسته مې د همدې او نورو اثارو په مرسته وڅېړل.

## لومړی څپرکی

### د برابرتیا(کفائت) معیارونه او په هکله یې د فقهاوو نظرونه

د برابرتیا معنی انډوالتیا په پیاوړتیا او شرافت .(لسان العرب۳: ۱۱۷).

په فقهي اصطلاح  برابرتیا د مېړه او مېرمنې برابري په معینو صفاتو کې هغه چې نه شتون یې کورني ژوند ته  زیان رسولي شي.( عقد الزواج وآثاره، صـ/۱۸۵).

نکاح د سړي او ښځې ترمنځ داسې شرعي اړیکه جوړوي چې یو تر بله په مینه، محبت، احسان او نیکۍ باندې ولاړه وي .( قضایا الأسرة في التشریع الإسلامي،صـ/۱۵).

که چېرې د نزدیکت او برابرتیا احساس نه وي نو بیا یو بل زغمل نا شونی شي او که یو بل ته اړتیا د مساوات او برابرۍ پربنسټ نه وي، نو بیا هیڅکله هم  یو د بل د خوښۍ لپاره زیار نه وباسي او دا نزدیکت او انډولتیا په ماشومانو ژور اغېز لري.

د فقهاوو ترمنځ په دې هکله اختلاف شته خو په دې متفق دي چې دین، نیک اخلاق او استقامت په ژوند کې هغه بنسټیز صفات دي چې د مېړه او مېرمنې په برابرتیا کې اساسي اغېز لري.

که ټول صفات شتون ولري مگر دیانت، نیک اخلاق، پاکي او استقامت نه وي برابرتیا نه شي راتلای.

د دې اتفاق سره سره چې مسلمانان ټول سره برابر او ورونه دي او اسلام د مسلمان لپاره  د افتخار لامل دی په خاصه توگه د هغه چا لپاره چې د خپل اصل نه ناخبره وي، ویل کېږي یوه ډله عربانو چې په خپل قومیت یې افتخار کاوه سلمان فارسي ته

وویل؛ ته د کوم قوم یې؟ هغه ورته په خوب کې وویل؛ (زه د اسلام بچی یم). عمر رضی الله عنه چې خبرشو ویې ژړل او بیا یې وویل؛ (عمر هم د اسلام بچی دی). (عقد الزواج وآثاره،صـ/١٨٧).

ځینې نور داسې صفات هم شته چې د ښه ژوند لپاره اړین ګڼل کیږي او شتون یې ژوند ته ښکلا ، ارامي او نیکمرغي وربښي ځکه ژوند د کایناتو د قانون تابع دی. (المحلي، جـ/١١،صـ٢٠٨).

١- حنفي او حنبلي فقهاء وایي: برابرتیا په نکاح کې اړینه او د صحت شرط دی، که ښځې د داسې شخص سره واده وکړ چې سیال یې نه و نکاح یې باطله ده.(الاحوال الشخصية،صـ/ ١٣٦).

په دې کې شک نشته چې انسانان د مسولیتونو او د اخرت د اجر له مخې یو پر بل د تقوی له پلوه غوره والی لري، مګر په دنیا کې شخصي اعتبار توپیر لري. (حكام الأسرة الخاصة بالزواج،صـ/١٣٨).

ځکه الله تعالی فرمایي: (هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ) (سورت الزمر (٩) آیت).

**ژباړه:** آیا برابر دی هغه کسان چې پوهیږي او هغه چې نه پوهیږي؟

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( تخيروا لنطفكم وأنكحوا الأكفاء وأنكحوا إليهم). (سنن ابن ماجه حديث رقم/ ١٩٦٨،صـ/٣٤١).

**ژباړه :** د واده لپاره ښه انتخاب وکړئ او هم سیالو سره نکاح ګانې وکړئ.

۲- جمهور فقهاء وايي، چې برابرتيا په نکاح کې اړينه ده او د لزوم شرط دی.( الفقه الاسلامی وأدلته, وهبة الزحيلي، صـ/ ۲۳۲).

معنى يې دا ده چې د نکاح تړون د برابرتيا پرته صحيح دی، مګر ښځه او يا اولياء(سرپرستان) يې د نه رضايت په حالت کې د فسخې غوښتنه کولای شي او د رضايت په وخت کې ترې تېريدای هم شي. ( المغني، جـ/ ٦ صـ/ ۳۳۵).

د دې مذهب د تاييد لپاره د هغې ښځې واقعه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې شکايت وکړ، چې پلار يې په مېړه کې برابرتيا نه ده مراعات کړې، رسول الله صلى الله عليه وسلم يې نکاح باطله و نه ګڼله بلکې ښځې ته يې د نکاح د دوام او يا فسخې اختيار ورکړ، ښځه راضي شوه او په هماغه نکاح خپل مېړه سره پاتې شوه.(سنن ابن ماجه، رقم الحديث/ ۱۸۷۵،صـ/ ۳۲٦).

او همدا رنګه د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: ( أبو حذيفة بن عتبة تبنى سالما وأنكحه ابنة أخيه هند بنت الوليد ). (صحيح البخاري، رقم الحديث/ ۵۰۸۸ ،صـ/۱۰۰۹).

**ژباړه:** ابو حذيفه سالم آزاد او په زوی ولی يې ونيوه او هند بنت الوليد خپله وريره ورته نکاح کړه.

۳- برابرتيا په نکاح کې هيڅ اعتبار نه لري، د صحت او لزوم شرط نه دی، دا د سفيان الثوری، حسن البصري او ابو الحسن الکرخي قول دی.(بدائع الصنايع في ترتيب الشرئع ،جـ/ ۳ صـ/ ۵۱۷).

الله تعالى فرمايي: ( إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ).( سورت الحجرات(۱۰) آيت)

**ژباړه:** په باوري توګه ټول مؤمنان سره ورونه دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ( الناس كأسنان المشط لا فضل لأحد على أحد إلا بالتقوى ). (سبل السلام ،جـ/ ٦ صـ/٥٧).

**ژباړه:** خلک یو برابر دي لکه د ږمنځې غاښونه، هیڅوک یو پر بل غوره والی نه لري مګر په تقوی سره.

**د برابرتیا معیارونه**

**لومړی معیار: دینداري**

له دې موخه تقوی، استقامت او نیک اخلاق دي، دا د فسق په مقابل کې یادېږي. (أحكام الزواج فی الاسلام ،صـ/ ۴۵).

د دینداری نه مطلب اسلام نه دی ځکه د قران کریم د حکم پر اساس د مسلمانې ښځې نکاح د کافر سره هیڅکله هم جواز نه لري. (صفوةالأحكام من نيل الأوطار،صـ/٢۴٦).

**الله تعالی فرمايي:** (وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا..). (سورت البقره (٢١٢)أيت).

**ژباړه:** په نکاح مه ورکوئ مسلمانې ښځې کافرانو ته تر هغه پورې چې ایمان راوړي دوی.

د ډېری فقهاو همدا نظر دی چې دینداري په برابرتیا کې اساسي شرط دی، فاسق سړی هیڅکله د صالحې ښځې سیال نه شي کېدای، انسانان په خلقت او انساني ارزښتونو کې برابر دي، خو د تقوی پربنسټ یو پر بل بهتري لري (فتح البيان فی مقاصد القرآن،جـ/ ٢ صـ/ ٣٨٦).

الله تعالی فرمایي: (أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لاَ يَسْتَوُونَ). (سورت السجده(١٨) آیت).

**ژباړه:** ایا هغه څوک چې ور مؤمن په شان د هغه چا دی چې وو فاسق، نه دي برابر دا دواړه ډلې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( تنكح المرأة لأربع: لمالها، ولحسبها، ولجمالها ولدينها، فاظفر بذات الدين تربت يداك). ( صحیح البخاري، جـ/ ٦صـ/ ١٠٠٩ رقم الحدیث/٥٠٩٠).

**ژباړه:** ښځه د څلورو شیانو مال، نسب، ښایست او دین په وجه په نکاح کیږي، تاسو دینداره ښځه انتخاب کړئ کامیاب به شئ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (إذا أتاكم من ترضون دينه و خلقه فزوجوه إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض). (سنن ابن ماجه رقم الحديث/ ١٩٦٧ صـ/ ٣٤٦)

**ژباړه:** كه څوک تاسې ته د خپلولی لپاره راشې دین او اخلاق یې ستاسې خوښ شي خپلوي ورسره وکړئ، که داسې ونه کړئ په ځمکه کې به فساد عام شي .

د فاسق روایت او شهادت نه منل کیږي په نفس او مال د سرپرستی حق نه لري، دا د هغه په انسانیت کې کمی ګڼل کیږي او ډیر په اسانی سره د خپلې میرمنې حقوق تلف کولای شي. (المغنی، جـ/٦ ، صـ/ ٣٣٨).

**دویم معیار: نسب**

د انسان د پلار او نیکونو سلسله، چې د نسب شجره ورته هم ویل کیږي په عربانو، افغانانو او د نړۍ په ځینو قبایلو کې ورته ډیره پاملرنه کیږي.

۱ـ جمهور فقهاء په دې نظر دي، چې د نکاح لپاره په نسب کې برابرتیا اړینه ده، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( العرب بعضم أكفاء لبعض، والموالى بعضم أكفاء لبعض ). (سبل السلام ، جـ/ ٦ ،صـ/٥٧)

**ژباړه:** عرب یو د بل سیال دي او د عربو دوستان په خپل منځ کې سره سیال دي.

۲ـ ځینې فقهاء بیا نسب د نکاح لپاره په برابرتیا کې اړینه نه ګڼې، لکه امام مالک او امام ابن القیم. (سبل السلام،جـ/ ٦ صـ/٥٩)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( أربع في أمتي من أمر الجاهلية لايتركهن، الفخر في الأحساب، والطعن في الأنساب، والاستسقاء بالنجوم، والنياحة ).(صحيح مسلم،كتاب الجنائز، صـ/ ۹۳۳، رقم الحديث/ ۹۳۴)

**ژباړه:** څلور صفات زما په امت کې د جاهلیت دی، په نسب افتخار کول، د نورو په نسب کې شک کول، په ستورو باران غوښتل او په مړو چغې وهل.

همدارنګه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اسامه بن زید ته چې د ده ازاد شوي غلام وو، فاطمه بنت قیس چې قرشیه وه په نکاح کړه او نسب ته یې هیڅ اعتبار ور نه کړ. (أحکام و آثار الزوجية ،صـ/ ۱۲۵)

د پورتینو مذاهبو د اقوالو د پرتلنې پربنسټ دې نتیجي ته رسېږو، چې نسب ته په اعتبار ورکولو کې راغلي احادیث ضعیف دي استدلال پرې نه شي کېدای او عملي سنت د دې خلاف دي، نو ویلای شو چې نسب خاص اعتبار نه لري، د خلکو تر منځ بهتري په تقوا سره ده. (بلوغ المرام ،ص/ ۲۵۷)

د دې شرط په سبب ډېرې مؤمنې مېرمنې د نکاح نه محرومې شوې دي، د مشرانو د کبر او غرور له امله ورته ډېرى خلک د ځان نه کم ښکاري او خپلوۍ ته يې په سپکه سترګه ګوري. (سبل السلام، ج/٦، ص/٥٩)

**درېيم معيار: کسب**

کسب هغه کار ته ويل کېږي چې انسان د هغه وسيله ځانته رزق پيدا کوي، لکه، تجارت، زراعت، طبابت، انجنيري، صنعت او نور. (تأثير العرف في تحديد معني الكفاءة في الزواج، صـ/٩)

مطلب دا دی چې د مېړه کسب به د مېرمنې د کورنۍ د کسب سره برابر يا ښه وي.

دکسب ښه والی او بدوالی د خلکو د دود پربنسټ ټاکل کېږي او بدلون کې يې ځای او وخت اغېز لري. (الموسوعة الفقهية، الكويت،ج/٣۴ ،ص/٢٧٦)

١- حنفي او ځينې نور فقهاء دې معيار ته په اعتبار قايل دی. (الهداية شرح بداية المبتدى،جـ/٣ صـ/ ٥٥)

الله تعالی فرمايي:(وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ).(سورت النحل(٧١)آيت)
**ژباړه:** الله تعالی ځينې خلک د ځينو نورو نه په رزق کې غوره کړي دي.

چا ته رزق په اسانۍ او عزت ورکوي او چاته يې په مشقت او سختۍ ورکوي. (الموسوعة القهية ، الكويت، جـ/ ٣٦ ، صـ/ ٢٧٦)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (العرب بعضم أكفاء لبعض ، والموالى بعضم أكفاء لبعض إلا حائكا او حجاما).

عرب یو د بل سیال دي او د عربو دوستان په خپل منځ کې سره سیال دي پرته د جولا او حجام نه. ( أحکام الزواج فی الاسلام، صـ/۵۹)

په عقلي لحاظ هم د کمزوري کسب خلک کم ګڼل کیږي، لکه د نسب د کمزورۍ په څېر او مېرمنې ته د مېړه د کسب په سبب پیغور متوجه کیږي. (الأحوال الشخصیة، صـ/۱۰۲)

۲- د مالکي مذهب فقهاء کسب ته په برابرتیا کې اعتبار نه ورکوي، د کمزوري کسب سړی کولای شي چې د لوړ کسب د کورنۍ لور سره واده وکړي ځکه کسبونه ثابت او همیشي نه دي بلکې د وخت او ځای سره بدلون مومي، همدا قول د امام ابوحنیفه څخه هم رانقل شوی دی. (الهدایه ، ج ۲۰۲/۱)

د فقهاوو د اقوالونه دا معلومیږي چې د کسب په هکله د ښځې د قوم او ځای دود اعتبار لری، ځکه زیان او شرم هغې ته رسیږي. (فتح القدیر، ۱۹۳/۳ ).

امام احمد ته وویل شول چې، ولې هغه حدیث شریف ته اعتبار ورکوې چې جولا او سلماني یې په برابرتیا کې د نورو نه کم ګڼلي دي؟ هغه په ځواب کې وویل: دا د خلکو د دود سره برابر دي او همداسې معمول دی. (منارالسبیل في شرح الدلیل، ج/۲، ص/۱۶۰)

**څلورم معیار: آزادي**

فقهاء په دې متفق دي چې غلام د اصیلې ښځې سیال نه دی، غلام نه شي کولای چې د اصیلې ښځې سره واده وکړي. ښځه یا اولیاء یې کولای شي چې د نکاح فسخه وغواړي. (المبسوط،ج/۳، ص/۲۴)

عایشې رضي الله عنها چې کله خپله مینځه بریره ازاده کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته خپل مېړه سره چې غلام و، د پاتې کېدو او یا د نکاح د فسخې اختیار ورکړ او هغې جدايي انتخاب کړه. (صحیح البخاري، رقم الحدیث، ۲۵۷۹)

که نوی مسلمان شوی یا ازاد شوی انسان د تقوی، دیانت، اخلاقو او علم په لحاظ ښه مقام ته رسېدلی وي، په هر حال دا سیال ګڼل کېږي.

مالکي مذهب بیا د ازادۍ معیار ته اعتبار نه ورکوي او وايي چې، تقوی، علم او اخلاق اعتبار لري نه ازادي. (الشرح الصغیر ،ج ۱ / ۳۹۸)

الله تعالی فرمايي: (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ). (سورت الحجرات(۱۳)آیت)

ستاسو کې ډېر عزتمن هغه دی چې په تاسو کې ډېر متقي وي.

**پنځم معیار: مال**

۱- هغه سړی چې ښځې ته مهر او په ښه توګه نفقه نه شي برابرولی د هغې ښځې چې مالداره وي سیال نه دی، ځکه مال او بډایتوب د خلکو ترمنځ افتخار او فقیري ورته عار ښکاري. امام ابوحنیفه هم په همدې نظر دی او د امام ابو یوسف له آنده که د مهر ورکولو او مناسبې نفقې ورکولو توان يې لرلو سیال ګڼل کېږي، اګر که ډېرمال و نه لري. (الهدایة ، ج/۱، ص/۲۰۱)

په حدیث شریف کې حسب مال ته ویل شوی دی: (إن أحساب الناس بینهم في هذه الدنیا المال). (مسند الإمام أحمد, جـ/ ۵ صـ/۳۶۱)

**ژباړه:** په دې دنیا کې د خلکو تر منځ حسبونه مال ته ویل کېږي.

فاطمه بنت قیس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: معاویه راته د نکاح لپاره جرگه راستولې ده، هغه ورته په ځواب کې وویل: ( أما معاوية فصعلوك لا مال له). ( صحیح مسلم ، في كتاب الرضاع، صـ/ ۱۰۴)

**ژباړه:** معاویه فقیردی مال نه لري.

۲- مالکي شافعي او حنبلي مذهبونه مال د برابرتیا شرط نه گڼي، بلکې فقیری ته په دین کې د شرف په نظر کتل کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( اللهم أحيني مسكينا وأمتني مسكينا واحشرني فی زمرة المساکین ). ( سنن ابن ماجه, جـ/۲' رقم/ ۴۱۲۶)

**ژباړه:** یا الله ما ته د مسکینۍ ژوند او د مسکینۍ مرگ راکړې او د مسکینانو په ډله کې مې حشر کړې.

**شپږم معیار: د عیبونو نه سلامتیا**

۱- ځینو فقهاو د ناروغیو او عیبونو نه سلامتیا د برابرتیا شرط گڼلی دی، که په سړي کې داسې ناروغي یا عیب و چې ژوند ورسره سخت یا نا شوني و، ښځې ته او یا د هغې اولیاو ته د نکاح د فسخې اختیار ورکول کیږي، لکه: لیونتوب، جذام او سپینکی مرض او ځینې نور عیبونه چې ضرر یې زیات نه وي په برابرتیا کې اعتبار نه لري. (الشرح الصغير، ۳۹۸/۱)

۲- په حنفي فقهې کې د عیبونو نه سلامتیا ته اعتبار نه دی ورکړل شوی، حتی سخت مرضونه چې مخکې یې یادونه وشوه ښځې ته د نکاح د فسخې اختیار نه ورکوي. (حاشیه ابن عابدین، ۹۳/۳)

**د موضوع په اړه د مذهبونو پرتله**

په برابرتيا کې د فقهاؤ مذهبونه په تفصيل سره د غور او کتنې وروسته لاندې پايلو ته رسيږو:

۱- ټول فقهاء په دې اتفاق دي چې ديانت د برابرتيا لپاره شرط دی او معنی يې تقوی، عفت، نيک اخلاق، صداقت او امانت لرل او د فسق فجور او د ګناهونو د اعلان نه ځان ساتل دي، چې کله هم سړي کې دا صفات و، نو د صالحې او پاک لمنې ښځې سره سيال ګڼل کيږي.

الله تعالی فرمايي: (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ) تاسو کې ډېر عزتمن هغه دی چې په تاسو کې ډېر متقي وي. ( وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ). ( سورت النور(۲٦)آيت)

**ژباړه:** پاکې ښځې او خبرې د پاکو خلکو لپاره دي او پاک خلک او خبرې د پاکو ښځو لپاره دي.

(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ). ( سورت التوبه (۷۱) آيت)

**ژباړه:** سړي مؤمنان او ښځې مؤمنانې ځينې د دوی دوستان دي د ځينو نورو.

او دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قولي، فعلي او تقريري سنتو په رڼا او متابعت کې شونی شي. د فقهاوو کرامو اتفاق په دې باندې چې د برابرتيا بنسټيز شرط او مهم عنصر دين دی او د دې نه پرته په نورو صفاتو کې د اختلاف با وجود يې انساني ژوند ته د واقعيت په نظر کتلي او د هغه څه چې انسان يې په طبيعي توګه خوښ ګڼي احترام کړی دی او همدارنګه يې په اسلامي ټولنه کې د هغو دودونو مراعات کړی

دی چې د اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وي، بلکې د دې نه هم وړاندې تللی چې عرف یې د اسلامي فقهې د احکامو د استنباط له مصادرو نه شمېرلي دي.

فقهاوو کرامو چې کله هم نسب، ازادي، کسب، مال او د ناروغیو نه سلامتیا د برابرتیا لپاره اړین ګڼلي دي په دې کې یې د بشري طبیعت مراعات کړی دی چې تل ښه والی او لوړ مقام خوښ ګڼي.

دوی خپل نظرونه داسې عیار کړي چې د قران کریم او نبوي سنتو د روح سره اتفاق ولري، چې د واده د موخو سره چې د دواړو اړخونو ګټې په نظرکې نیسي برابر وي او د انساني ټولنې جوړول په مینه، رحمت او ډاډ او د کورنیو ترمنځ خپلوي په رضا او قناعت سره منځ ته راشي او د کرکې، شرم او کمي احساس په کې نه وي، د وخت او ځای شرایطو ته اعتبار ورکړل شي.

اسلامي شریعت د ژوند په ډېرو ډګرونو کې د مناسب شخص د غوراوي لارښونه کړې ده او د کورني ژوند اهمیت چې د انسان جوړونې سره اړیکه لري، ډېر زیات دی، چې باید مناسب انسان ورته غوره شي هغه چې د کورنیو د ښو اړیکو، مینې او محبت سبب ګرځي په دی هکله د فقهاو نظرونه د ګډ ژوند او د کورنۍ رسالت لپاره ضروري او مناسب ګڼل کېږي. که اسلامي تاریخ ته دقیق وګورو د نا برابرو ترمنځ ودونه به مو ډېر کم ترسترګو شي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم نکاح او د هغه د لورګانو نکاح ګانې په انساني ژوند کې دبرابرو سره شوې دي، اګر که هغوی په معنوي لحاظ د ټولو انسانانونه لوړ مقام لري او همدارنګه د اصحاب کرامو او سلف صالحینو نکاح ګانې ډېری د هم سیالو سره شوې دي.

په نبوي احادیثو کې د برابرتیا نه موخه دین او اخلاقو ښودل د دې ممانعت نه کوي چې نور صفات لکه: نسب، بډایتوب ، ټولنیز مقام هم برابر وي، انساني طبیعت همداسې جوړ دی چې ښه او اعلی مقام یې خوښیږي. خدیجې رضي الله عنها د رسول الله صلی الله وسلم هغه نېک صفات یاد کړي چې دا پرې مشهور و، لکه صداقت، امانت، سخاوت، د محتاجو خلکو لاسنیوی، د سختۍ په وخت کې مرسته او د حق نه دفاع کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د هغي د اخلاقو، نسب او ښو صفاتو نه خبر و او د واده نه وروسته یې د هغې ستاینه کوله او ویل به یې: خدیجې په ما ایمان راوړو په داسې حال کې چې خلک مې مخالف و، زه یې رښتینی وګڼلم او خلکو راته د رواغجن وایه، خلکو محروم کړی وم او دې راسره خپل مال شریک کړي وو.

ځینې اقوال د فقهاؤ چې د نسب، د پلرونو اسلام او ازادۍ په هکله دي، ضروري نه برېښي او ډېر اهمیت نه لري ځکه اسلام مخکیني ټول بد صفات د منځه وړي، همدا اسلام دی چې د انسان مقام لوړ وي.

## د برابرتیا حق د چا دی؟

د فقهاوو د اختلاف په نظرکې نیولو سره لاندې پایلو ته رسیږو:

۱ـ که د برابرتیا مطلب دیانت او نېک اخلاق وي، نو بیا دا د الله تعالی حق ګڼل کیږي او هیڅوک دا حق نه لري چې د دې نه تېرشي او که چېرې ښځه یا یې اولیاء ترینه تېرشي ګنهګار ګڼل کیږي.

او مسلمان حاکم د مداخلې حق لری چې د دین او اخلاقو د نه شتون په صورت کې د واده مخنیوي وکړي .

۲: که د هغو فقهاو نظر ته وگورو چې د دیانت او اخلاقو ترڅنگ یې نسب ، کسب ، مال او د مرضونو نه سلامتیا شرط کړي ده په دی صورت کې برابرتیا د ښځې او د هغې د اولیاو حق دی، که ښځه ترې تیره شوه د اولیاوو حق د منځه نه ځي ، او که اولیاء ترې تیر شي د ښځې حق محفوظ او ساتلي دي(الزواج فی االشریعة الإسلامیة، ص/۱۲۴).

که ښځه او اولیاوو ئې دواړه د برابرتیا له حق نه تیر شول ، ولی الامر ( حاکم ) ته د عمومي مشرۍ پربنسټ دا حق شته چې د نه سیال سره د ښځې د واده مخنیوي وکړي. ځکه هغه د مسلمانانو د گټو د ساتلو دنده لري.

برابرتیا د سړی په اړخ کې اعتبار لري، نه د ښځې په اړخ کې، ځکه عار او بد نامی د سړی د نه برابرتیا له امله ښځې او د هغي کورنۍ ته متوجه کیږي .

او سړي ته د ښځې د نه برابرتیا له امله هیڅ ډول عار او بدنامي نه اوړي، ځکه ښځه د میړه تابع ده او د هغه په وسیله یې مقام لوړېدای شي. بله مهمه خبره دا ده چې د سړي په لاس کې د طلاق واک دی غیر سیال سړی کیداي شي د دې واک نه ناوړه گټه واخلي، بل لورې ته ښځه دا اختیار نه لري چې د میړه په ضد یې استعمال کړي، اگر که شریعت ورته د اړتیا په وخت کې د خلعې او قضایي تفریق واک ورکړی دی.

**د برابرتیا د نشتوالي اغېز**

۱- هغه فقهاء چې برابرتیا د نکاح د صحت شرط ګڼي که دا شرط پوره نه شي نکاح باطله ګڼل کېږي.

۲ـ هغه فقهاء چې برابرتیا د نفاذ شرط ګڼي، که ښځې د بې سیال سره واده وکړ د نکاح عقد موقوف دی چې ترڅو اولیاوو اجازه نه وي کړې.

۳- ځینې فقهاء برابرتیا د لزوم شرط ګڼي، د نکاح عقد د برابرتیا د نه شتون په وخت کې صحیح دی، خو د فسخې قابلیت لري که ښځه د بې سیال سره نکاح وکړي، اولیاء یې حق لري چې د قاضي په وسیله یې فسخه کړي، په دې شرط چې اولاد یا حمل یې نه وي شوی. (الزواج فی الشریعة الإسلامیة،ص/۲۲۳)

په راجح قول سره برابرتیا د لزوم شرط دی، امام شافعي وايي: ( د غیر سیال سره نکاح حرامه نه ده چې ممانعت یې وکړ مګر دا د ښځې او د هغې د اولیاوو په شان کې کمی دی، که دوی پرې راضي شول هیڅ ممانعت یې نشته. (الأم ، جـ/۵، صـ/۱۵)

د برابرتیا اعتبار د نکاح د عقد په وخت کې دی او دوام یې شرط نه دی، که د نکاح نه وروسته برابرتیا د منځه لاړه شي هیڅ اغېز نه لري. (أحکام الشریعة في الأحوال الشخصیة, صـ/ ۲۶۷)

## دویم څپرکی

## په برابرتیا کې د دود اغېز

په دې کې شک نشته چې د برابرتیا شرط د ښه ژوند او د کورنیو ترمنځ د احترام او محبت پربنسټ اړیکو جوړولو لپار ټاکل شوی دی هیڅکله یې غلطو دودونو، افراط او تفریط ته تابع کول مناسب نه دی شرعي احکام باید د برابرتیا په شمول د منځلارۍ پر بنسټ پلی شي.

که ښځې په خپل سر د غیرسیال سره واده وکړ چې د اولیاوو او کورنیو لپاره د شرم او عار لامل کېده هغوی حق لري چې د قاضي نه د نکاح د فسخې غوښتنه وکړي. همدارنګه که اولیاو ښځه سیال سره د واده کولو نه منع کوله، هغه کولای شي چې د قاضي په وسیله د اولیاوو د ظلم نه ځان وژغوري. احنافو چې بالغې او عاقلې ښځې ته د ولي له اجازې پرته د نکاح کولو حق ورکړی دی داسې شرطونه یې پرې ایښي دي چې بې سیال سره د واده په صورت کې اولیاوو ته د نکاح د فسخې حق حاصل وي.

- آیا اوسنی واقعیتونه د دې اصولو مراعات کوي؟
- کله هم د رواجونو له امله د ښځې حقوق د پښو لاندې کېږي؟
- کله یې د سیال سره د واده مخه نیول کېږي؟
- کله په زور غیر سیال ته واده کېږي؟

کله د دود له امله د اولیاو خلاف قاضي ته مراجعه نه شي کولای او د ژوند سختیو ګاللو ته په چوپتیا ادامه ورکوي او د انکار په صورت کې د محرومیت ښکار کېږي. کله د اولیاو له خوا د زیات عمر سړی سره په واده مجبوره شي،چې بیا د طلاق او یا د

تښتیدو لامل شي او کله په خپله خوښه د کمزورۍ په حالت کې د نا سیال سره واده وکړي او د کوره ووځي، هغه انسان چې د دې د مقام پروا نه لري، بیا د سپکاوي او یا د طلاق سره مخ شي خپلې کورنۍ ته د بېرته ورتللو توان هم نه لري، ځکه کورنۍ د هغې ښځې منلو ته تیاره نه وي، په خاصه توګه پلار او ورونه.

**د برابرتیا د نه مراعاتولو لاملونه**

۱. د کورنۍ د غړو ترمنځ په واده کولو ټینګار او له پردیوسره د خپلوۍ نه ډډه کول او ښځه د همدې اصل پربنسټ په واده کولو مجبورول او د انکار په صورت کې د همیشني محرومیت سره مخامخ کېدل.

۲. د پلرونو او لورګانو تر منځ د خوږو اړیکو نشتوالی، پلرونه د بهر په کارونو کې مصروف وي خپلو اولادونو سره ناستې، چکر او د نظرونو تبادلې ته وخت نه لري. مور هم دې اړیکو ته په اهمیت قایله نه وي، له دې امله د لورګانو سره واټن زیات شي او یو د بل اړتیاوې او په خبرو د پوهېدو درک نه شي کولای.

۳. د زامنو او لورګانو تر منځ توپیري چلند کول، زموږ ډېرې کورنۍ، پلرونه او میندې دا توازن نه مراعات کوي او په هر څه کې زامن غوره ګڼي او لورګانو ته د میلمنو یا د بل کور د خلکو خطاب کوي او د دعا په وخت کې ورته وايي؛ الله تعالی دې خپل کورته په خیر یوسه، خپل کور دې ودان شه. لور د دې نه دا احساس اخلي چې د مور او پلار کور د دې نه بلکې د دې د ورونو دی، هغه چې مشوره ورسره کېږي او لور ته په ښه نظر نه کتل کېږي. حتی په ځینو جاهلو کورنیو کې ورته د بل کور ښځه ویل کېږي چې په ښوونه او روزنه یې ډېر مصرف اړین نه ښکاري.

۴. د ټولنیز چاپیریال اغېز هم د برابرتیا په نه مراعاتولو کې ښکاره رول لري، هغه دودونه چې معمول دي کورنۍ ترې ځان نه شي ژغورلی ، بلکې د خلکو د شرم او خبرو له امله لورګانې په واده مجبورېږي او یا هم هغوی د ځان لپاره په ښه انتخاب کې پاتې راشي.

۵. د لورګانو د ځوانۍ مرحلې ته د رسېدو حساسیتونه په نظر کې نه نیول، بلکې ډېرې کورنۍ اصلاً د دې نه ناخبره وي چې د ماشومتوب نه نیولې بیا تر مراهقت او بلوغ ته د اولادونو د رسېدو لپاره څه ډول روزنه او احتیاطي تدابیر نیول په کار دي؟ دا یوخاص او ستونزمن بدلون دی چې د پلرونو اومیندو ډېر پام ته اړتیا لری، چې کله هم لور په کور کې د مینې نه د محرومیت احساس وکړي، د بهر نه خوږه خبره یې په دام کې راګیرولی شي، چې پایلې یې ډېرې خرابې او نه جبرانیدونکې وي.

۶. د داسې ګټورو وسایلو او پروګرامونو نه شتون چې د نجونو وزګار وختونه ډک کړي او دوی ته د خرابو ملګرو سره د ناستې او سفر نه وژغورل شي، زموږ په ټولنه او کورنیو کې دا ظرفیت د نشت برابر دی چې د دې مرحلې لپاره د ښې روزنې فکر وکړي او ګټور پروګرامونه په کار واچوي.

۷. د ټولنیزو رسنیو منفي اغېز هغه چې څارنه یې نه کېږي کورنۍ او پېغلې په خاصه توګه په خپله محاصره کې راګیروي او د ورځې زیات ساعتونه د داسې پروګرامونو په ننداره تېروی، چې اخلاقي، دیني او ټولنیز ارزښتونه پیمالوي او انسان وحشت او سرکشۍ ته هڅوي.

۸. کورنۍ تاوتریخوالی زموږ ټولنه کې مېرمنو ته د کور د دویمه درجه انسان او خادمې په څېر کتل کېږي. په ډېرو کوچنیو کارونو او خبرو مېرمن د مېړونو له خوا

توهین، رټل اوحتی وهل کیږي او د جهالت له امله دا ناروا او ناوړه سلوک د اولادونو په مخ کې تر سره کیږي، چې دا کړنه نجونو ته د سړو سره د یو ډول حساسیت او د پلرونو نه د لرې کېدو لامل گرځي. وایي ماشوم ته ښه تحفه د هغه د مور سره ښه سلوک او مینه کول دی. کورونه د میرمنو کوچنی مملکت دی، په دې کې ډېره مداخله کول او خپل زور ازمایل کورنۍ د ناورین سره مخامخ کوي.

**پایله**

ددې علمي مقالې د بشپړېدو وروسته لاندې پایلې ترلاسه کیږي:

۱. اسلام د سالم فطرت دین دی، ټول انسانان یې په حقوقو او وجایبو کې برابر کړي دي او د الله تعالی په نزد د بهترۍ مقیاس تقوا او نېک عمل دی.

۲. نکاح هغه پاکه او مقدسه اړیکه ده چې د پایښت، قوت، د مینې او محبت پربنسټ یې دوام لپاره په اسلامي فقه کې قواعد او شرایط وضعه شوي دي.

۳. هغه شرایط چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د برابرتیا لپاره وضعه شوي دي د خلکو ترمنځ د صحیح دود تابع دي او د خلکو ترمنځ د مساوات او عدالت سره ټکر نه لري او نه په ټولنه کې طبقاتي ژوند ته لمن وهي، بلکې دا د مېړه او مېرمنې ترمنځ د ښه ژوند او انډول لپاره ښه زمینه برابروي.

۴. په دیني احکامو سم نه پوهېدل او دیني اصول په سمه توگه نه عملي کول په ټولنه کې د ډېرى ستونزو لامل دی. د دیني احکامو پوهاوی او دیني اصولو ته ژمنتیا د کورنۍ او ټولنې د ستونزو حل او د مینې او محبت او ارامۍ نه ډک ژوند ته لاره هواروي.

۵. د دیني او ټولنیزو علومو علماء، د رواني پوهانو او د رسنیو مسولیت د ټولنې پر وړاندې ډېر مهم دی، که ټول په صداقت اخلاص او امانتدارۍ سره خپل وجایب او دندې تر سره کړي، دې ډول ډېرو ستونزو ته به مو د پای ټکی ایښی وي إن شاء الله تعالی، وما ذلك على الله بعزيز.

**وړاندیزونه**

۱- د پلرونو او میندو ترمنځ خوږې اړیکې او کورونه د تفاهم، مینې او محبت پربنسټ برابرول، چې هر انسان په کې د مشورې ورکولو او د خپل نظر ښکاره کولو جرات ولري. پلرونه او میندی باید اولادونو( هلکانو او نجونو) سره یو ځای ناسته، سفر او د لوبو پروگرامونه وکړي، تر څو د دوی ترمنځ د وېرې او بې ځایه شرم لاملونه د منځه لاړشي.

۲- ماشومانو ته په کم عمر کې د موبایل ورکولو او په کور کې د سترگو نه پنا په جدا ځای کې د ناستې او ویده کېدو مخنیوي دې وشي.

۳ - د اولادونو دیني او اخلاقي روزنې ته ښه پاملرنه او د گټورو پروگرامونو د عملي کولو کوښښ دې وشي.

۴ - مور او پلار باید د اولادونو لپاره دیني او اخلاقي اصولو ته ژمنتیا کې غوره نمونه جوړ شي.

۵- اولادونه ډېر نه څیرل او په دوی د ژوند ساحه نه راتنگول، د دوی سره نېږد اړیکې لرل او یو څه ازادي هم ورکول چې د دوی د شخصیت په جوړونه کې مثبت رول ولري.

۶-اولادونو ته د هم سیالو سره د واده کولو کوښښ او زمینې برابرول.

## د لغاتو پېژندنه

ولایت: هغه واکمني ده چې شخص یې د شرعې او قانون سره سم د بل چا پر مال او ځان پیدا کوي.

خلع: د هغه مال په بدل کې چې ښځه یې مېړه ته ورکوي د واده د عقد انحلال دی.

نکاح: هغه تړون دی چې مېرمنې او خاوند ته د هر یوه لپاره په مشروع ډول له یوه او بل نه جنسي ګټه پورته کول روا کوي.

کفائت: برابرتیا او سیالتوب د دوو شخصو د مماثلت او همګونۍ ځانګړي موارد.

تفریق: د ښځې لخوا د طلاق مطالبه ده د واکمنې محکمې په وړاندې په داسې حال کې چې، د عیب، ضرر عدم انفاق او غیابت په سبب وي.

فسخ: د عقد د منعقدولو پر مهال او یا هم تر هغې وروسته د خلل د پیښیدو له امله د عقد داسې زورل چې د هغه عقد د دوام خنډ شي.

طلاق: د خاوند له خوا د داسې عبارت کارونې ته چې په سملاسي ډول یا هم په راتلونکې کې په صراحت یا هم په دلالت سره د صحیح نکاح عقد له منځه وړي، طلاق وایي.

## مأخذونه


١- القرآن الکریم.

٢- أبوزهرة ،الشیخ محمد ، عقد الزواج وآثاره، ،ط، دارالفکر العربي، مصر.

٣- ابوزهرة ، محمد ، الاحوال الشخصیة ، ط/دارالفکر١٩٥٧، مصر.

٤- أبو راس ،أحمد سعید، أحکام الزواج فی الاسلام ، ،ط، الدار الجماهیریة،١٤٢٥هـ، لیبیا

٥- ابن الهمام، محمد بن عبد الواحد بن كمال الدين ، فتح القدير ، ، ط، دار إحياء التراث العربي، بيروت.
٦- ابن حزم، على بن احمد بن سعيد ، المحلي بالآثار، ،ط، مكتبة الجمهورية العربية،١٩٦٧، مصر.
٧- ابن قدامة المقدسي ،موفق الدين أبو محمد عبد الله بن أحمد ، المغني ، ط، الجمهورية العربية، مصر.
٨- ابن حنبل ، أحمدبن أحمدبن محمد ،مسند الإمام أحمد ،ط، داالكتب العلمية،٢٠٠٩،لبنان.
٩- ابن ضويان إبراهيم بن محمد بن سالم ، منارالسبيل في شرح الدليل، ،ط، المكتب الإسلامي،١٩٨٢،لبنان. *
١٠- البخاري ،الإمام محمد بن إسماعيل ، صحيح البخاري، دار طوق النجاة، ط ١.الأردن.
١١- الدردير، الشيخ أحمد ، الشرح الصغير، ،ط، دار المعارف،لبنان.
١٢- الدسوقي، د.محمد السيد ، قضايا الأسرة في التشريع الإسلامي، ط، دار الثقافة، قطر.
١٣- الدوري، قحطان عبدالرحمن صفوة الأحكام من نيل الأوطار، ،ط، دارالفرقان للنشر،٢٠٠٨، الأردن.
١٤- الزحيلي، وهبة ،الفقه الاسلامى و أدلته، ، ط،دارالفكر للطباعة،١٩٨٥، سوريا.
١٥- حسب الله، على ، الزواج فى الشريعه الاسلاميه، ط، دار الفكر العربي ، مصر.
١٦- الكاساني، علاء الدين أبوبكربن مسعود،بدائع الصنايع في ترتيب الشرئع، ط، دار الكتب العلمية،٢٠٠٣، لبنان.
١٧- الميرغناني ، برهان الدين أبو الحسن علي بن أبي بكر ، الهداية شرح بداية الميتدى ، ،ط، دارالقرأن الكريم، ١٤٠١هـ،باكستان.
١٨- الموسوعة الفقهه ،ط، دار الصفوة،١٩٩٥، الكويت .
١٩- المعجم الوسيط،مجمع اللغة العربية بالقاهرة، الطبعة الثالثة عام ١٩٩٨.

٢٠ - المصرى جمال الدين محمد مكرم بن منظور، لسان العرب، ،ط، دار صادر،١٩٥٥، لبنان.

٢١- المحروس مروان بن محمد ، تأثير العرف في تحديد معني الكفاءة في الزواج، ،مجمع الفقه الإسلامي الهندي، الملتقى الثالث.

٢٢- النيسابوري ،الإمام مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم ،ط، الأفكار الدولية،١٩٩٨،الممكة السعودية.

٢٤- السرخسي ، الإمام شمس الدين ،المبسوط، ، دار المعرفة، ١٩٨٦، بيروت.

٢٥- سماره ، محمد، أحكام و آثار الزوجية ،.ط، دار الثقافة للنشر،٢٠٠٨، الأردن.

٢٦- العسقلانى ،الحافظ احمد بن حجر ،بلوغ اله مرام ، ، ط، دار الصديق،٢٠٠٢،المملكة السعودية. *

٢٧- عبدالحميد، محمد محي الدين ، الأحوال الشحصية، ط، المكتبة العلمية ،٢٠٠٣، لبنان.

٢٨- الصنعاني ، محمد بن اسماعيل، سبل السلام ، ط، دار الجيل، ١٩٨٠، بيروت.

٢٩- القزويني ،الإمام محمدبن يزيد بن ماجه ، سنن ابن ماجه ، ط،دار ابن كثير، دمشق، سوريا.

٣٠- قطب، سيد ، فى ظلال القرآن ، ط/٨، ١٩٧٩م، دار الشروق، لبنان.

٣١- الشافعي ،الإمام محمد بن ادريس ، الأم، ، المطبعة الأميرية. مصر.

٣٢- الشافعي ، جابرعبدالهادي ،أحكام الأسرة الخاصة بالزواج، ،ط،دار الجامعة،٢٠٠٧،مصر.

٣٣- خان ، صديق حسن، فتح البيان فى مقاصد القرآن ،ط، دارالكتب العلمية, ١٩٩٩، لبنان.

**زاهد الله سيدي**
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانگه
لارښود استاد: پوهنوال محمد ايمل حقمل

# د جرم او اداري تخلف ورته‌والی او توپيرونه

## لنډيز

ټولنيز ژوند، خپل منځي اړيکې او گډ کار يو منل شوی اصل دی، چې همېشه د پرمختگ په حال کې دی، اما په اړيکو کې اختلاف او سرغړونې هم يو طبيعي امر دی چې د ژوند د نورو برخو تر څنگ په اداري چاپېريال کې هم واقع کېږي، چې اداري چارې يې د خنډ، ځنډ او بې نظميو سره مخامخ کړي، دغه سرغړونې دوه ډوله دي چې يو ته جزايي تخلف او بل ته اداري تخلف وايي اداري تخلف د اداري قواعدو او کړي تعهد څخه په عمدي او غير عمدي ډول سرغړونې ته ويل کېږي چې، له امله يې اداري چارې د خنډ، ځنډ او بې نظمۍ سره مخامخ کېږي او د عامه ولس د ناخوښۍ لامل گرځي چې، زمونږ د بحث اصلي موضوع (د جرم او اداري تخلف توپيرونه او ورته والی) تشکيلوي چې، جرم او اداري تخلف، له قواعدو څخه د سرغړونې، د ضرر او نقصان، د ټولنيزو عکس العملونو او د ولس د عدم رضايت په برخه کې له يو بل سره ورته والی لري په همدې ډول اداري تخلف او جرم د هدف له حيثه، د مربوطه مؤيداتو، د اړونده مراجعو، د رسيدگۍ د تشريفاتو، د اساس او بنياد، د عاموالي او خاصوالي، د دعوې د اقامه کوونکي شخص، د دعوې د نوعيت له انده بيا برعکس يو له بل سره توپيرونه لري، همدارنگه اداري تخلف او اداري جرم په ځينو مواردو کې هم جرم دی او هم اداري تخلف، د پورته موضوعاتو په اړه پوهاوی خوار اهميت لري. هدف مو همدا دی چې ياد مسائل په تفصيلي ډول

تر بحث لاندې وينسو او د مسلک خاوندانو ته يې واړاندې کړو، په دې ليکنه کې له کتابتوني مېتود څخه استفاده شوي ده په. پايله کې ويلی شو چې جرم د اداري تخلف سره توپير لري او جلا بحث دی، اما په ځينو مواردو کې سره ورته والی هم لري او لنډه دا چې ځينې اداري کړنې دي چې هم جرم دی او هم اداري تخلف.

**سريزه**

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

أما بعد: فاعوذ باالله من الشيطن الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم:

انسانانو په لومړيو کې اکثره فعاليتونه په انفرادي شکل تر سره کول، اما کله چې په يوازې سر د يو عمل په اجراء نه دي توانېدلي بيا يې په ډله ايز شکل تر سره کړي دی، همدې گروپي کار رهبرۍ او تنظيم ته اړتيا درلوده د دې تنظيم**لومړ**ني اصول سماوي احکام او وروسته وضعي احکام، قواعد او قوانين دي. له بده مرغه کله ناکله يو شمېر افراد د مختلفو عواملو له کبله له دغو قواعدو څخه سرغړونه کوي، چې همدغې سرغړونې ته جرم او په لږ تفاوت سره په اداري سيستم کې تخلف ويل کيږي.

د دې ليکنې اصلي موضوع (د جرم او اداري تخلف ورته والی او توپيرونه) دي، ما پرې دغه کوچنۍ ليکنه ترتيب او تنظيم کړې. الله جل جلاله دې وکړي چې په دې برخه کې زما انتخاب شوې موضوع د اداري کارمندانو او اصلاحي ارگانونو تر څنگ محصلينو ته گټوره تمامه شي او دوی ورڅخه په پوره کچه استفاده وکړي.

**د مسئلې طرحه کول (پرابلم)**

تر اوسه پورې د جرم او اداري تخلف په ورته والي او توپېرونو مستقله علمي لیکنه نه ده شوې، پر همدې بنسټ لازمه مې وګڼله چې په دې موضوع یوه مستقله علمي مقاله ولیکم .

**د څېړنې اهداف**

لکه څرنګه چې مو پورته ذکر کړل د جرم او اداري تخلف په ورته والي او توپېرونو باندې کومه مستقله علمي مقاله نه ده لیکل شوې، او که وي هم اکثره د هر هېواد د داخلي نظام او قوانینو په چو کاټ کې څېړل شوي، موخه مې دا ده چې د خپل هېواد د قوانینو په رڼا کې د جرم او اداري تخلف په ورته والی او توپیرونو لیکنه تر سره کړم او په دې اړه خواره واره معلومات سره راټول او بېرته یې خپلې ټولنې ته د غوره پوهاوي لپاره وړاندې کړم.

**د موضوع اهمیت**

څرنګه چې پوهېږو د هرې ټولنې پرمختګ او ثبات د قانون منلو پورې تړلی دی، مګر بد بختانه یو تعداد انسانان شته چې له دې چوکاټ او اصولو څخه مخ ګرځوي، د دوی دې عمل ته جرم او په اداري برخه کې ورته اداري تخلف وايي، د موضوع اهمیت په دې کې دی چې د دې جرم او اداري تخلف دلنډې پېژنې ترڅنګ به د دواړو په ورته والی او توپیرونو پوهه شوو، چې دا په خپل ذات کې له اهمیته ډک موضوع ده، اړتیا او ضرورت د یو شي د اهمیت سره نېغ په نېغه اړیکه لري نو د جرم او اداري تخلف په ورته والی او توپیرونو پوهه خورا اړینه موضوع ده او په همدې ډول یاده موضوع د جزایي او اداري اختلافاتو د حل او فصل مسؤلینو، د اداري مسلک استادانو او زده کړیالانو لپاره خورا ګټوره ده.

## تېرو لیکنو ته منطقي کتنه

د جرم او اداري تخلف ورته والی او توپیرونه یوه نوې موضوع ده او لا تر اوسه په دې هکله کومه مستقله علمي څېړنه نه ده تر سره شوې، که څه هم په دې برخه کې د افغانستان نافذه قوانین ځینې مواد لري، په ځانګړي ډول د جزاقوانین د جرم او ملکي خدمتونو قوانین اداري تخلفاتو په اړه یو لړ قواعد وضع کړي، مګر پاشلې، غیر منظم او نیمګړي دي، چې دغه ټول قواعد راټولولو، ترتیب او شرحه کولو ته ضرورت لري، همدارنګه ځینې کوچنۍ لیکنې په دې برخه کې په خارجي ژبو تر سره شوي دي، اما په ځانګړې توګه (د جرم او اداري تخلف په توپیرونو او روته والی) کوم ځانګړی اثر او لیکنه شتون نه لري. په همدې اساس زما دغه څېړنه په خپل ذات کې یوه نوې څېړنه ده. ما هم کوښښ کړی چې دغه لیکنه د مسلکي اشخاصو تر څنګ د پښتو ژبې مینه والو لپاره په ساده الفاظو برابره او وړاندې کړم.

## د څېړنې پوښتنې

د جرم او اداري تخلف په ورته والی او توپیرونو د ښه پوهاوي او وضاحت په خاطر مې لاندې پوښتنې مطرح کړې او د الله جل جلاله په مرسته او د خپل لارښود استاد په لارښوونه هڅه کوم، تر څو صحیح او سم ځوابونه ورته پیدا کړم.

1. جرم څه شی دی؟
2. اداري تخلف څه شی دی؟
3. جرم او اداري تخلف سره څه ورته والی لري؟
4. جرم او اداري تخلف سره څه توپیرونه لري؟
5. د جرم او اداري تخلف کوم موارد مختلط دي؟

**د لیکنې تګلاره**

دا موضوع تشریحي موضوع ده چې په ترتیب او شرحه کې مې لومړی د معلوماتو د ټولونې او واضحه لیکنې په موخه دغه لیکنه په دوه مبحثونو، مبحثونه په مطالبو او مطلبونه په جزونو، ووېشل. همدارنګه د معلوماتو په راټولونه کې مې د کتابونواو په زیاته کچه له قوانینو څخه استفاده کړې چې دا اصلي منابع دي او په دویم قدم کې، مې له انټرنیټي سایټونو څخه هم استفاده کړې ده، چې دا بیا فرعي منابع ګڼل کیږي.

**لومړی مبحث: د جرم او اداري تخلف پېژندنه**

په دې مبحث کې به مونږ په ځینو هغو مهمو موضوعاتو په مختصره توګه رڼا واچوو کوم چې په مستقیم او غیر مسقیم ډول زمونږ له لیکنې سره اړیکه ولري؛ په لنډه توګه زمونږ ددې مبحث موضوعات عبارت دي: د جرم او اداري تخلف پېژندنه چې په ترتیب سره یې یو د بل پسې تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: د جرم پېژندنه**

د دې لپاره چې د جرم په معنی او مفهوم په سمه توګه پوه شو نو لومړی یې په لغوي او بیا یې په اصطلاحي ډول په جلا جلا سرلیکونو کې په مختصره توګه تعریفوو.

**لومړی جز: د جرم لغوي تعریف**

اساساً جرم عربي کلیمه ده چې د (ج) په فتحې او د (را) په سکون سره د جرم څخه اخیستل شوې چې جمع یې أجرام او جروم راځي. په لغت کې قطع کولو او پرېکولو ته وایي. لکه:(جرم النخل والتمر) یعنې ونه یې پرې کړه.(۲: ۱۱۸) همدارنګه جرم په لغت کې ګناه او خطاء ته هم ویل کیږي.(۱۷: ۴۰) یا دا چې یو منفي یا مثبت عمل چې د جزا قانون خلاف وي، عبارت له جرم څخه دی. (۲۰: ۵). د همدې لغوي معنا

ګانو پر اساس جرم د قطع کولو، پرېکولو، خطاءکول او ګناه کولو ته ویل کېږي، له زیات تفصیل څخه یې ډډه کوو، راځو اصطلاحي تعریف ته.

**دویم جز: د جرم اصطلاحي تعریف**

جرم: د هغه عمل تر سره کول دي کوم چې اسلامي شریعت او قانون منع کړی وي، یا د هغې عمل نه کول چې اسلامي شریعت او قانون یې د کولو حکم کړی وي او پر هغې یې جزاګانې ټاکلې وي. (۷: ۶۸).

یا هم په اصطلاح کې هر هغه عمل چې یو څوک یې اجرأ کوي او یا یې په اجرأ کولو کې ناکام شي او حکومت ورته په مقابل کې مجازات ټاکلي وي، عبارت له جرم څخه دي. (۲۲: ۳).

همدارنګه له حقوقي نقطه نظره هر هغه عمل چې د یو فرد لخوا تر سره کېږي او د قانون خلاف وي، جرم ګڼل کېږي؛ کېدای شي چې دا د یو عمل تر سره کول وي کوم چې د قانون له خوا منع شوي وي او یا د یو عمل نه کول وي چې د هغې په کولو باندې قانون امر کړی وي. (۲۱: ۹).

یا د فقهي له نظره ټول هغه ممنوعیتونه چې د الله تعالی لخوا مقرر شوي دي او انسان هغه اجرأ کړي او مستوجب د حد او تعزیر وي جرم ګڼل کېږي. (۶: ۱۳۶).

یا هم د جرم د مفهوم په هکله خپله د جزا قانون وایي: جرم، د هغه عمل ارتکاب، یا له هغه عمل څخه ډډه کول دي چې ددې قانون له حکمونو سره سم، جرم پېژندل شوی وي، عناصر یې مشخص او د هغه لپاره مجازات یا تأمیني تدبیرونه ټاکل شوې وي. (۸: ۲۷ماده)

**دويم مطلب: د اداري تخلف پېژندنه**

دا چې د اداري تخلف په معنی او مفهوم په سمه توګه پوه شو راځو لومړی خپله تخلف په لغوي او بيا يې په اصطلاحي ډول تعريفوو او بيا په درېم مطلب کې د اداري تخلف پيژندنه کوو.

**لومړی جز: د تخلف لغوي تعريف**

تخلف د خ په فتحې سره د خلف په معنی دی. خلف د احمق، شاته پاتې کېدو او زشت په معناګانو سره راځي. (۳: ۷۴۸). تخلف د اصولو څخه سرغړونې ته هم وايي. دا سرغړونه کله د ناپوهۍ له امله کيږي. نو ځکه دلته ورته د احمق کليمه صدق کوي، يا کله ناکله د غفلت او بې احتياطۍ له امله وي يا په عمدي ډول هم تخلف صورت نيسي.

په همدې توګه اللهجل جلاله په قرآن کريم کې فرمايلي دي: (( إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيعَادَ)) (۱: س عمران ۱۹۴).

ژباړه: په دې کې شك نشته چې ته له خپلو وعدو نه مخالفت کوونکی نه يې.( ۱۹: ۱۵۷).

تفسير: زمونږ خدايه! کومې وعدې چې تا د خپلو رسولانو په وسيله راسره کړي دي، هغه له مونږ سره تر سره کړه او د قيامت په ورځ مونږ له رسوايۍ سره مه مخامخ کوه، په دې کې شک نشته چې ته له خپلو وعدو نه مخالفت کوونکی نه يې. (۱۹: ۱۵۸)

الله تعالی په پورته ذکر شوي آيات شريف کې وفرمايل چې هغه د خپلې وعدې خلاف نه کوي، په دې توګه په اداره کې له کار کولو وړاندې اداري مامورين ما فوقو

چارواکو او په همدې توګه د نافذه قوانینو په وړاندې ځینې لیکلي او نا لیکلي ژمنې کوي، لکه: د اداري قراردادونو او نورو رسمي اسنادو امضاء کول چې اساس او بنیاد یې د اداري اصولو منل او ملت ته د صادقانه خدمت وړاندې کول دي، که چیرې کارمند او اداري مامور ترې سرغړونه وکړي، نو په خپل ذات کې تخلف ګڼل کیږي، په دې توګه ویلی شو چې له خپلې وعدې او تعهد نه مخ ګرځول او د هغې خلاف کړنې ته تخلف ویل کیږي. دغه راز د ژبو او لغت پوهانو هم د تخلف په هکله بیانونه کړي، چې لاندې کرښو کې په لنډه ترې یادونه کوو:

تخلف: تخلف عربي کلیمه ده چې په لغت کې د خلاف کولو، د وعدې نه مخ ګرځولو او شاته پاتې کېدو ته وایي. (۱۸: ۸۳). نژدې د پورته معناګانو سره ورته والی لري چې پرې ړنا واچول شو.

تخالف: تخالف عربي کلیمه ده چې د لغت په لحاظ د عامه خلاف کولو په معنی ده یا د یو بل په وړاندې خلاف کړنې ته وایي.(۱۷: ۴۱۷).

ددې لغت له پورتنۍ معنی څخه داسې معلومیږي چې تخلف کېدای شي عام وي او همدارنګه امکان لري خاص وي، لکه: د هېواد له ټولو نافذه قوانینو څخه مخ ګرځول یا دا چې د ځانګړو اداري قوانینو خلاف کول او یا دا چې د یو حکمي شخص سره د کړي تعهد خلاف کول وي او که د یو حقیقي شخص سره له شوې وعدې څخه مخ ګرځول وي.

تخلف: خلاف کول، د وعدې خلاف کول، خلاف ویل او شاته پاتې کېدل.(۱۷: ۴۱۹) وایې چې نژده ورته معناګانې دي.

د تخلف په دې کرښه کې يو بل اړخ هم روښانه شو، هغه دا چې تخلف د اصلي مقصد او هدف څخه وروسته پاتې کېدلو ته هم وايي، دلته ده چې د اداري تخلف لپاره د ارادې شتون او نه شتون ضروري نه دی، بلکې هر کله چې اداري چارې شاته پاتې شي حتی که اداري مامور په غير ارادي ډول په خپله دنده کې ناغېړي وکړي، دا عمل يې هم تخلف ګڼل کېږي.

**دويم جز: د تخلف اصطلاحي تعريف**

تخلف د اصولو او کړې تعهد نه تر سره کولو او کړنو کې ځنډ کولو ته وايي چې، د نا قانونه عمل اجراء او يا د قانوني حکم عدم اجراء په سبب په شکل د اشکالو په مختلفو اداري برخو کې د کارونو د خنډ، ځنډ، ګډوډۍ او د خلکو د نا رضايتۍ لامل وګرځي تخلف ګڼل کېږي. (۱۷: ۴۱۹)

د پورته کرښو څخه معلومېږي چې، تخلف په ټوله کې د اداري قوانينو او کړې وعدې مخالفت ته وايي، په هره ټولنه کې اداري سيستم د ملا د تير حيثيت لري او د همدې سيستم د چلښت لپاره يو لړ اصول او قواعد وار له مخې ترسيم شوي وي، چې په اسلامي ټولنو کې دا اصول او قواعد د اسلامي شريعت په رڼا کې ترتيبېږي او په ديموکراتيکو ټولنو کې اصول او قوانين د ملت د رأيې په اساس جوړېږي، په همدې اساس په ټولو ادارو کې اداري افراد او اشخاص د اصولو او قوانينو په عملي کولو مکلف دي او که ترې مخ وګرځوي نو دېته د تخلف اصطلاح استعمالولای شو.

همدارنګه تخلف په يادو لغتونو کې په خاصه معنی هم کارول شوې، لکه: تخلف د فرد په مقابل کې او يا د يوې ادارې سره د کړې وعدې په مقابل کې چې دلته هدف

همدغه دوهم حالت دی. کوم چې افراد (کارکوونکي) د ځانګړو قوانينو په چوکاټ کې د خاصې ادارې سره د ټاکلو اصولو له مخې وعده کوي او په دې سره د ځينو معلومو حقوقو برخمن او د وجايبو په اجراء مکلف ګرځي، که چيرې اداري مامورين له دې مسؤليتونو او وجايبو څخه مخ وګرځوي، نو دې حالت ته اداري تخلف ويل کيږي، که دا د امر په برخه کې وي او که د نهي؛ د مثال په ډول که قانون د يو عمل د اجراء امر کړی وي او مامور هغه په خپل وخت اجراء نه کړي نو دا هم تخلف ګڼل کيږي، په همدې توګه که قانون د يو عمل د نه کولو حکم کوي، خو مامور هغه اجراء کوي نو دا هم تخلف دی؛ همدارنګه تخلف امکان لري عمدي او ارادي وي او کېدای شي عمدي نه وي، بلکې د بې احتياطۍ، غفلت او سهلنګارۍ په مقابل کې تخلف واقع شي، البته په دې حالت کې هم شخص د تأديبي مؤيداتو وړ ګرځي. په هر صورت که څه هم قوانينو د اداري تخلفاتو لپاره ځانګړی تعريف نه دی وړاندې کړی، خو د تخلف له لغوي او اصطلاحي معناګانو څخه په ګټې اخيستنې کولای شو په لاندې کرښوکې په مختصره توګه تعريف کړو.

**دريیم جز: د اداري تخلف تعريف**

[اداري تخلفات د کارکوونکو د اداري قواعدو او کړې تعهد څخه په قصدي او غير قصدي ډول سرغړونې ته ويل کيږي چې له لامل يې اداري چارې د خنډ، ځنډ او بې نظمۍ سره مخامخ کيږي او د عامه ولس د ناخوښۍ لامل ګرځي].

اداري تخلف له اداري قواعدو او اصولوو څخه د مامورينو سرغړونه ده، چې له لامل يې اداري چارې ځنډنۍ او بې نظمه شي او د خلکو د نا رضايتۍ لامل وګرځي.

له دې لنډ بحث څخه دې نتیجې ته رسېږو چې د جرم او اداري تخلف تر منځ ورته والی او توپیرونه شتون لري، چې په لاندې کرښو کې تري بحث لاندې نیسو.

## دویم مبحث: د جرم او اداري تخلف ورته والی او تو پیرونه

په دې مبحث کې به مونږ د جرم او اداري تخلف په ورته والی او توپیرونو او همدارنگه د اختلاط په موارد په ترتیب سره بحث وکړو.

### لومړی مطلب: د جرم او اداري تخلف ورته والی او توپیرونه

په دې مطلب کې لومړی د جرم او اداري تخلف ترمنځ ورته والی او دویم مطلب کې د جرم او اداري تخلف توپیرونه؛ په مختصره توگه تر بحث لاندې نیسو.

### لومړی جز: د جرم او اداري تخلف ورته والی

پرته له شکه څرنگه چې جرم او اداري تخلف په خپلو منځونو کې سره توپیرونه لري؛په همدې توگه یوه اندازه سره ورته والی هم لري چې په لاندې څو عناوینو کې ورته په مختصره توگه اشاره کوو.

### لومړی پراگراف: له قواعدو څخه د سرغړونې له حیثه

[د جرم او اداري تخلف تر منځ لومړی ورته والی دادی: چې دواړه له یو ډول قواعدو څخه سرغړونه ده چې وار له مخه په ټولنه کې د ثبات، پرمختگ، نظم، امنیت او یا د چارو د ترتیب او تنظیم لپاره وضع شوې وي، مثلاً اداري تخلف له اداري قواعدو څخه سرغړونه ده (۸: ۲ماده) همدارنگه جرم له جزایي قواعدو څخه سرغړونه ده.(۸: ۳ماده ۳بند) یعنې دواړه د قانوني عنصر درلودونکي دي او دواړه حقوقي قواعدو څخه د سرغړونې په ترڅ کې مطرح کیږي].

**دویم پراګراف:د ضرر او نقصان له حیثه**

[د اداري تخلف او جرم تر منځ بل ورته والی دادی: چې د دواړو په ترڅ کې د ټولنې افرادو ته زیان او نقصان رسېږي. لکه: د جرم په مقابل کې که یو بُعدي وي، نو یوازې دولت ته ضرر او تاوان رسېږي او که جرم دوه بعدي وي، نو زیان یې هم دولت او هم خصوصي افرادو ته رسېږي (۱۰ : ۱۰ماده). همدارنګه د اداري تخلف په صورت کې هم زیان او نقصان رامنځته کېږي چې؛ دا زیان هم کېدای شي تنها یو فرد ته وي لکه له مراجعینو سره ناوړه چلنداو همدارنګه کېدای شي دوه بُعدې وي، لکه: د کارونو ځنډول چې هم یې خصوصي فرد ته تاوان رسېږي او هم یې دولت ته، ځکه ددې عمل په نتیجه کې اداري کارونه له ځنډ او خنډ سره مخ کېږي ].(۹: ۱۰۱/۹۵مادې)

**درېیم پراګراف:د ټولنیزو عکس العملونو له حیثه**

[دا چې د جرم او اداري تخلف په نتیجه کې زیان او نقصان رامنځته کېږي، نو ټولنه یې په مقابل کې خاموشه نه ده، بلکې د مخنیوي لپاره یې قوانین او احکام وضع کړي، چې د هېواد په سطحه د جرم د مهارولو په برخه کې ګڼ شمېر جزایي متني او جزایي شکلي قوانین وضع کړي دي (۱۴:۱۵) او همدارنګه د هېواد په کچه اداري قوانین هم شتون لري، چې د اداري چارو د تنظیم تر څنګ یې د اداري تخلفاتو په برخه کې هم احکام وضع کړي. (۹: ۱۳/۱۰). چې دا په خپل ذات کې مثبت ټولنیز عکس العملونه دي چې ددې ناوړو پدیدو په مقابل کې ښودل شوي او د هغې د مخنیوي لپاره دا لړۍ روانه ده او دا یې هم له ورته والی څخه ګڼل کېږي ].

**څلورم پراګراف: د ولس د عدم رضایت له حیثه**

[معلومه خبره ده که چېرې جرم او جرمي عمل واقع شي، نو د ټولنې د تکلیف او زجر لامل ګرځي، په تېره بیا د واقع کېدونکي محل اوسېدونکي ترې زیات اغېزمن کېږي، همدارنګه د اداري تخلفاتو له امله د خلکو کارونه د خنډ او ځنډ سره مخامخ کېږي او که چیرې په یوه ټولنه کې اداري تخلفات او جرایم زیات شي، نو په نتیجه کې ولس ناراضه کېږي او د حکومت او ملت تر منځ د واټن او جلا کېدو لامل هم ګرځي، حتی کله کله د ملت عدم رضایت د حکومتونو د نسکورېدو لامل هم ګرځي. په همدې خاطر ویلی شو. چې د اداري تخلف او جرم دواړو تر منځ بل ورته والی دادی: چې ددې بدو پدیدو د واقع کېدو په صورت کې د ټولنې افراد ناراضه کېږي ].

همدارنګه اداري تخلف او جرم په خپلو منځونو کې یوه اندازه توپیرونه هم لري، چې په لاندې کرښو کې ترې په مختصره توګه یادونه کوو.

**دویم جز: د جرم او اداري تخلف توپیرونه**

جرم او اداري تخلف سره ځینې توپیرونه هم لري، چې څو مهم یې په لاندې کرښو کې تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی پراګراف: د اداري تخلف او جرم توپیر د هدف له حیثه**

اداري تخلف له اداري قواعدو څخه سرغړونه ده. ددې قواعدو هدف د اداري چارو تنظیمول او په اداره کې د نظم تأمینول دي.(۱۰: ۲ماده) حال دا چې جرم له جزائي قواعدو څخه سرغړونه ده، چې هدف یې په ټولنه کې عدالت، عامه نظم او امن ټینګول دي.(۱۵: ۳ماده ۳بند).

[ددې توپیر له مخې ویلی شو چې د جزايي قواعدو ساحه او لمن د چارو د تنظیم په برخه کې پراخه ده، لکه: هر څوک چې په هر موقف کې قرار ولري او له جزايي احکامو څخه سرغړونه وکړي نو جزايي تخلف ګڼل کیږي، چې په مقابل کې پرې جزايي مؤیده تطبیق کیږي، اما برعکس د اداري قواعدو لمن بیا یوازې د هماغه اداري پورې اړه لري، په دې معنی چې ددې قواعدو هدف یوازې د اداري فعالیتونو په ښه ډول تنظیم دی او مخاطبین یې هم یوازې اداري مامورین دي، که چیرې همدا کارکوونکي ترې مخ وګرځوي نو اداري تخلف ګڼل کیږي، چې په مقابل کې ورته اداري مؤیده پیش بیني شوې].

**دویم پراګراف: د مربوطه مؤیداتو له حیثه**

[د اداري تخلف په مقابل کې تأدیبي مؤیدات پلي کیږي، لکه توصیه، اخطار، کسر معاش.(۹: ۹۵ماده). په داسې حال کې چې د جرم په مقابل کې جزائي مؤیدات تطبیق کیږي، لکه اعدام، حبس].(۱۵: ۲ ماده. ددې عنوان متن واضح او روښانه دی، نو د اضافي تشریح څخه تېریږو].

**دریم پراګرف: د مربوطه مراجع له حیثه**

د اداري تخلفاتو په مرتکبینو تأدیبي مؤیدات، د ځینو عمومي مستقلو ادارو، او اداري چارواکو او یا هم د محاکمو له خوا تطبیق کیږي.(۹: ۹۵ماده)

مګر د جزایي قواعدو په متخلفینو بیا جزایي مؤیدات په ځانګړې قوې چې د دولت قضائیه قوه یې بولي تطبیق کیږي، په تېره بیا په جزایي محاکمو کې چې په دې هکله جزایي قوانین هم صراحت لري او وایي: د جرمونو کشف د پولیس په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې پر متهم باندې د دعوی اقامه د څارنوالی له خوا، د

قانون له احکامو سره سم اقامه کېږي.(۱۲: ۳ماده). د قانون د مادې له حکم څخه داسې استنباط کېږي، چې د جرم په نتیجه کې په مرتکبینو چې کومه دعوی اقامه کېږي هغه په جزایي محکمو کې اقامه کېږي.(۵: ۴۸) نو ویلی شو چې تخلف له اداري قواعدو څخه سرغړونه ده، نو دعوی یې هم په اداري اړوندو ارګانونو کې اقامه کېږي، ځکه د اداري مؤیداتو د تطبیق لپاره په نوره نړۍ کې جلا محاکم شتون لري، اما جرم بیا له جزایي قواعدو څخه سرغړونه ده، چې دعوی یې د جزایي محاکمو د اصولو په چوکاټ کې په جزایي محکمه کې اقامه کېږي.(۱٦: ۳۴ماده).

**څلورم پراګراف: د رسیدګۍ د تشریفاتو له حیثه**

[که چېرې اداري مامورین له اداري قواعدو او قوانینو څخه سرغړونه وکړي، نو په متخلف مامور تأدیبي مؤیده په ساده ډول عملي کېږي او ډېرو تشریفاتو ته اړتیا نه لري، د مثال په توګه مؤیدې پرې د اړوندو ادارو او یا د ځانګړې اداري هیئت له خوا په اسانۍ سره تطبیق کېږي.(۱۱: ۱۳/۱۰ماده) اما له جزایي قوانینو او احکامو څخه داسې معلومېږي که چیرې څوک له جزایي قواعدو څخه سرغړونه وکړي، نو په هغې جزایي مؤیده پلي کېږي، دا چې کله ناکله د جزا عملي کېدل شدید وي هرو مرو عواقب او نتایج یې هم وخیم او خطرناکه وي، لکه: اعدام، دایمي حبس او داسې نور... نو باید په تطبیق کې یې له احتیاط څخه کار واخیستل شي، په همدې خاطر ورته اوږده ځانګړي تشریفات په نظر کې نیول شوي.(۱۲: ۳،۴،۵مادې). د مثال په توګه، د جرم له واقع کېدو وروسته د رسیده ګۍ لپاره ځینې مراحل دي، چې باید یو د بل پسې تر سره شي. لکه: د پولیسو مرحله، د څارنوالۍ مرحله، د محاکمو مراحل. چې د ښه عدالت د تأمین په موخه ورته مراجعه کېږي، تر څو د چا حقوق تر پښو لاندې نه شي او عدالت په ښه ډول پلي شي؛ په همدې ډول په دې برخه کې

ځانګړي قوانين شتون لري، چې ددې پروسيجرونو سربېره د مظنون او متهم ټول حقوق هم پکې ذکر شوي، نو لازمه ده چې دغه ټول په نظر کې ونيول شي، چې په خپل ذات کې اوږد طرزالعمل ته اړتيا لري او په خورا دقت سره عملي کېږي، په هر صورت معلومه شوه، چې اداري تخلف او جرم د طرزالعمل او تشريفاتو له مخې هم سره زيات توپير لري](۱۴: ۲،۳،۶، ۱۱مادې).

## پنځم پراګراف: د اساس او بنياد له حيثه

[د همدې بحث له محتوا او د قوانينو د پورتنيو متونو څخه داسې معلومېږي، چې د اداري تخلفاتو اساس او بنسټ د مامور مخکينی توافق دی، کوم چې د استخدام په وخت کې ورته غاړه ايښی، نو بايد د خپل پخواني توافق پر بنياد ټول اداري قواعد رعايت کړي، که نه غير له هغې پرې اداري مؤيده پلي کېږي. اما د جزايي قواعدو اساس او بنياد مخکينی توافق نه دی، بلکې بنسټ يې د قانون د حاکميت اصل دی، چې د هېواد په ټولو برخو کې به په ټولو وګړو په مساويانه توګه حاکم وي او ملت به ورته غاړه ږدي].

## شپږم پراګراف: د عاموالي او خاصوالي له حيثه

[همدارنګه بيا هم پورتني مطالعات د اداري تخلفاتو او جرم ترمنځ له يو بل توپيرنه هم پرده پورته کوي او هغه دا چې اداري تخلفات خاص دي او يواځې د يوې ادارې او سازمان د قواعدو د سرغړونې په مقابل کې په اداري کارمند او مامور تطبيق کېږي، اما د جزا قانون بيا حکم کوي او وايي: ددې قانون حکمونه پر ټولو جزايي قضيو باندې تطبيق کېږي، خو دا چې په ځانګړي قانون کې بل ډول تصريح شوې وي، د قانون له متن څخه داسې معلومېږي چې جزايي سرغړونې بيا عامې دي او کومو ځانګړو ډلو، ادارو يا اشخاصو پورې اړه نه لري، بلکې هر څوک چې په هر

موقف کې قرار ولري او قضيه يې جزايي اړخ ولري، نو جزايي مؤيده پرې تطبيق کيږي، البته يوازينی استثناء چې په دې برخه کې شته، هغه مربوطه جرم ته د رسيده ګۍ د تشريفاتو په برخه کې ده، د مثال په توګه د هېواد جمهور رئيس او صدراعظم... په هکله چې د هېواد د ټولو اتباعو په سر کې قرار لري د جرم د ارتکاب په صورت کې د رسيده ګۍ ځانګړی پروسيجر بيان شوی. (۱۶:۲۹ ماده) نور کوم فرق نشته او په ټولو قضاياو باندې چې جرمي اړخ ولري، يو شانته پر ټولو اتباعو باندې تطبيق کيږي].

**اووم پراګراف:د دعوې د اقامه کوونکي شخص له حيثه**

[د جرم په مقابل کې چې کومه دعوی اقامه کيږي، هغه د دولت د نماينده څارنوال لخوا اقامه کيږي، حال دا چې د اداري تخلف په مقابل کې چې کومه دعوه اقامه کيږي هغه د اړونده ادارې د چارواکو او يا د ځانګړي نظارتي هيئت لخوا اقامه کيږي.(۱۰: ۳۰ماده۲بند). او که چيرې شاکي د اداري مقاماتو يا هيئت مؤيده ناسمه وګڼي، بيا کولای شي خپله خپلې دعوې ته ادامه ورکړي او محکمې ته شکايت وکړي او هلته خپله دعوی اقامه کړي.(۹: ۹۷،۹۸مادې). نو ويلی شو چې اداري تخلفات له دې اړخه هم توپير لري].

**اتم پراګراف: د دعوې د نوعيت له حيثه**

د جرم په مقابل کې چې کومه دعوه اقامه کيږي، هغې ته جزايي دعوه وايي، يا حق الله يا هم عامه دعوه ورته وايي او د جزا قانون احکام پرې تطبيق کيږي.( ۱۴: ۳ماده) په داسې حال کې چې د اداري تخلف په مقابل کې چې کومه دعوه اقامه کيږي هغې ته اداري دعوه يا تأديبي او دسپليني دعوه ويل کيږي.(۱۰: ۱۰ماده).

د بحث په پای کې دې پایلي ته رسېږو چې، ځینې اداري تخلفات شته چې هم جرم دی او هم اداري تخلف د ښه پوهېدو په موخه یې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو.

**درېیم جز: اداري تخلف او اداري جرم د اختلاط له حیثه**

مونږ وویل چې اداري تخلفات په ګڼوبرخو ته تقسیم شوي چې مشهورېې په دوه ډوله دي. یو یې سنګین اداري تخلفات دي چې اداري جرایم ورته هم ویل کېږي؛ لکه: رشوت چې په مقابل کې اداري جزاګانې پېشبیني شوي او بل اداري تأدیبې تخلفات دي چې په مقابل کې اداري مؤیدات پېشبیني شوي، اما د یادونې وړ ده چې ځینې داسې اداري تخلفات هم شتون لري، چې هم اداري جرایم او هم اداري تخلف دواړه ګڼل کېږي، مثلاً رشوت چې په خپل ذات کې د اداري فساد یو ډول دی او د جرایمو په کټګورۍ کې راځي، اما که همدا مورد مونږ اداري تخلفاتو کې وګورو، نو د ناوړه چلند یا د قانون د عدم ژمنتیا (عدم حاکمیت) له موضوع سره اړخ لګوي، په هر صورت قوانینو د دې تفکیک نه دی کړی، نو دلته ضروري برېښي چې قوانینو کې دا حالات په پام کې ونیول شي ترڅو یو له بل څخه جلا شي، څکه داسې حالاتو کې د قوانینو تعرض هم رامنځته کېږي، د مثال په توګه: په دې وخت کې به کوم قواعد په متخلف تطبیق کېږي تأدیبې او که جزایي او په کوم نهاد کې به دعوه اقامه کېږي اداري که جزایي؟

[په ځواب کې موږ د قوانینو او اداري اصولو په استناد ویلی شو، څرنګه چې رشوت سنګینه اداري سرغړونه ده، نو باید جزایي قواعدو ته لومړیتوب ورکړل شي او په محاکمو کې پرې باید دعوه اقامه شي].

**پایله**

پوهېږو چې د انسانانو تر منځ اړیکې او روابط په ځینو وختونو کې د اختلافاتو او سرغړونو له امله له مشکلاتو سره مخامخ کېږي، دا اختلافات او سرغړونې په تاریخې لحاظ د بشر همزولي ګڼل کېږي او نژدې د ټولني په هره (مدني، جزايي، اداري) برخه کې امکان لري چې واقع شي، د افغانستان د جزایي او اداري قوانینو په پاڼو کې جرمي او اداري تخلفات ذکر شوي چې د ورته والی تر څنګ ګڼ توپيرونه هم لري، (د اداري تخلف او جرم ورته والی عبارت دي: له قواعدو څخه د سرغړونې له مخې، د زیان او نقصان له حیثه، د ټولنیزو عکس العملونو له حیثه او د ولس د عدم رضایت له حیثه

په همدې ډول جرم او د اداري تخلف تر منځ توپيرونه عبارت دي: د هدف له حیثه، د مربوطه مؤیداتو له حیثه، د مربوطه مراجع له حیثه، د رسیدګی د تشریفاتو له حیثه، د اساس او بنیاد له حیثه، د عاموالي او خاصوالي له حیثه، د دعوې د اقامه کوونکي شخص له حیثه، د دعوې د نوعیت له حیثه. په همدې ډول ځینې سرغړونې شته چې هم جرم او هم اداري تخلف ګڼل کېږي، د ساري په توګه: رشوت یا اختلاس چې د اداري فساد یو ډول دی او جرم ګڼل کېږي، او په ورته وخت کې له اداري تخلفاتو څخه د ناوړه چلند یا د قانون د عدم ژمنتیا په موضوع کې دخیل دی) په هر صورت قوانینو ددې تفکیک نه دي کړی.

**مناقشه**

پورتنۍ پایله په لاندې کرښو کې تر مناقشې لاندې نیول کیږي:

۱). اداري قوانینو له اداري تخلفات څخه یادونه کړي، خو د هغې لپاره یې تعریف نه دي ارائیه کړی، چې مونږ ورته په لاندې ډول یو مختصر تعریف وړاندې کړی دی:

اداري تخلف د مامور له اداري قواعدو څخه په عمدي او غیر عمدي ډول سرغړونې ته ویل کیږي، چې له لامل یې اداري چارې د خنډ، ځنډ او بې نظمۍ سره مخ کیږي او د عامه ولس د عدم رضایت موجب ګرځي.

۲). اداري قوانینو د اداري تخلفاتو د ویش په هکله بشپړ تقسیم نه دې ذکر کړی لیکن ځینې داسې تخلفات شته چې هم جرم او هم اداري تخلف دواړه ګڼل کیږي، مثلاً: رشوت یا اختلاس چې په خپل ذات کې د اداري فساد یو ډول دی، چې جرم ګڼل کیږي، په همدې ډول له اداري تخلفاتو څخه د ناوړه چلند یا د قانون د عدم ژمنتیا په موضوع کې دخیل دی، په هر صورت قوانینو ددې تفکیک نه دی کړی، چې باید دا موارد یو له بله سره جلا او توضیح شوي واې، ځکه داسې حالاتو کې د قوانینو ټکر هم رامنځ ته کیږي، د مثال په توګه په دې وخت کې به کوم قواعد په متخلف تطبیق کیږي، تأدیبي او که جزایي؟

په دې وخت کې به کوم قواعد په متخلف تطبیق کیږي تأدیبې او که جزایي او په کوم نهاد کې به دعوه اقامه کیږي اداري که جزایي؟

په ځواب کې موږ د قوانینو او اداري اصولو په استناد ویلی شو، څرنګه چې رشوت سنګینه اداري سرغړونه ده، نو باید جزایي قواعدو ته لومړیتوب ورکړل شي او په

جزايي محاکمو کې پرې جزايي دعوه اقامه شي او په همدې ډول د اداري تخلفاتو لپاره دې بشپړ تقسيمات ذکر شي.

## نتيجه گيري

پورتنۍ مناقشه په لاندې کرښو کې نتيجه گيري کوو:

اداري تخلفاتو لپاره معنوي عنصر ضرور نه دی يعنې د مامور قصد او ارادې ته نه کتل کيږي؛ هر وخت چې اداري فعاليتونه د خنډ، ځنډ او گډوډۍ سره مخا مخ شي تخلف گڼل کيږي او مامور پکې د اداري مؤيداتو وړ دی.

اداري تخلفات له جرايمو سره د ورته والی تر څنگ توپيرونه هم لري؛ له همدې امله اداري تخلفات په دوه ډوله دي، چې يو سنگين تخلفات دي لکه جرم او بل تأديبي تخلفات دي لکه د رسمي کاري وختونو عدم پابندي، همدارنگه ځينې داسې تخلفات هم شته چې جرم او تخلف دواړه گڼل کيږي، لکه جعل او تزوير يا اختلاس.

## وړانديزونه

۱). که څه هم په تير کې ځيني اداري قوانين نوي شوي، اما له بده مرغه په ترتيب او تنظيم کې يې ستونزې د پخوا په شان لا پاتې دي، مثلاً: د اداري تخلفاتو اړوند مسايل د ملکي خدمتونوقانون، د کار قانون، د ملکي خدمتونو د ډول مقررې... او نورو اړوند مقررو کې په پاشلي حالت کې ذکر شوي، همدارنگه يو قانون په بل او بل قانون په بل حوالې ورکړي، چې له بده مرغه تشريح او توضيح يې هم گونگه ده، نو غوښتنه مو داده چې په دې هکله دې په منظم ډول د هرې برخې لپاره نوی ځانگړی قوانين ايجاد شي.

۲). افغانستان کې د اداري حقوقو لپاره لازم اداري قوانین باید وضع شي. مثلاً په موضوعي برخه کې قوانین شته اما شکلي قوانین یا نیمګړي دي او یا له سره نشته.

۳). همدارنګه په افغانستان کې اداري تخلفاتو ته د رسیده ګۍ ځانګړي مراجع نشته، څرنګه چې په نوره نړۍ کې شتون لري یا لکه په افغانستان کې چې د نورو تخلفاتو د رسیده ګۍ لپاره موجود دي، مثلاً: مدني محاکم او جزایي محاکم، نو زمونږ غوښتنه داده: چې د قوانینو د بشپړېدا سره جوخت دې اداري محاکم ایجاد شي، تر څو اداري تخلفاتو ته د عدالت په چوکاټ کې په سمه توګه رسیده ګي وشي.

## د اخځلیکونو فهرست


1. قرانکریم.
2. ابراهیم، مصطفی. (۱۴۱۷هـ ق). المعجم الوسیط. درالادعوة، جلد اول
3. امام راغب اصفهاني، ترجمه مفردات قرآن. جلد اول،
4. دانش، حفیظ الله. (۱۳۸۸هـ ش). عمومي حقوق جزا. ټوک دویم. چاپ دویم. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
5. دانش، حفیظ الله. (۱۳۸۸هـ ش). عمومي حقوق جزا. ټوک لومړی. چاپ دویم. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
6. رضا، نور بها. (۱۳۹۱هـ ش). زمینه حقوق جزایي عمومي، تهران: گنج دانش.
7. ستانکزی، نصرالله. واصل، عبدالاقرار. رامز پور، ابو الاحرار. نجیب، ظل الرحمن. قادري، فریده. حکیمي، بریالی. (۱۳۸۷هـ ش). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل: عدلي او قضایي پروژه. د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره.

8. صادقی، احمد رضا. (۱۳۹۴هـ ش). سیاست جنایی تقنینی افغانستان در قبال جرایم فساد اداری. کابل. نشرواژه.
9. عدلي وزارت. (۱۳۸۷هـ ش). د کار قانون، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۹٦٦).
10. عدلي وزارت. (۱۳۸۷هـ ش). د ملکي خدمتونو د کارکونکو قانون، رسمې جریده، پرله پسې گڼه: (۹۵۱).
11. عدلیې وزارت. (۱۳۸۳هـ ش). د ملکي خدمتونو قانون، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۸٦۱).
12. عدلیې وزارت. (۱۳۸۴هـ ش). د قضائیه قوې د محاکمو د تشکیل او واک قانون، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۸۵۱).
13. عدلیې وزارت. (۱۳۸۵هـ ش). د ملکي خدمتونو د مامورنیو د سلوک د ډول مقرره، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۱۹).
14. عدلیې وزارت. (۱۳۹۳هـ ش). د جزایي اجزاآتو قانون، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۱۱۳۲ ).
15. عدلیې وزارت. (۱۳۹٦هـ ش). د جزا کود، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۱۲٦۰).
16. عدلیې وزارت.(۱۳۸۲هـ ش). د افغانستان اساسي قانون، رسمي جریده، پرله پسې گڼه: (۸۱۸ ).
17. عمید، حسن. (۱۳٦۹هـ ش). فرهنگ فارسی عمید. چاپ سوم. تهران. مؤسسه اتشارات امیر کبیر.
18. معین، محمد.(۱۳۸۱ هـ ش). فرهنگ معین. چاپ چهارم. جلد دوهم. تهران: انتشارات آدنا.

19. مودودي، سید ابوالاعلی، تفهیم القرآن تفسیر، ژباړه: قیام الدین، کشاف.

20. وګوره: Henry Campbell Black, The black's Law Dictionary, America, West Publishing, 1968, p 444 وخت سهار ۲۲/۳/۱۳۹۷

۲۱. وګوره: Jhon Lewis Gillian, Criminology and Penology, USA, Century Co, 1929, p 11

22. وګوره: lee.p. Abetment and Edwards L O Brien, Street law, Ohio, /Mc Grew Hill Companies,p 74

**عبدالحمید سیرت**
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښود استاد: پوهنوال منګل شېرزاد

# د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي آهمیت

**لنډیز**

د سیاسي رقابتونو له امله پرې تګ راتګ نه کېده او افغانستان یې د زیاتو چلنجونو سره مخامخ کړی وو، خو د تېر حکومت په هلو ځلو سره د هېواد د اقتصادي کلابندۍ طلسم ماتولو په موخه عملاً ګټې اخیستنې لپاره پرانیستل شوه، دا په داسې حال کې ده، چې له دې مخکې د مشخصو ګاونډیو هېوادونو څخه غزېدلي لارې وخت ناوخته د خپل سیاسي او نورو موخو ترلاسه کولو لپاره تړل کېده، د لاجوردو بین المللي لاره زموږ ګران هېواد د سیمې، نړۍ او په ځانګړي ډول د شرقي او غربي اروپا سره د وصلولو ترڅنګ د ګاوندیو هېوادونو له سیاسي او اقتصادي فشارونو څخه هم خلاصوي، باید یادونه وکړم چې یاده لاره زموږ لپاره په اقتصادي او سیاسي برخو کې ډېر ګټور فرصتونه ایجاد کړي دي او دا د افغانستان د وخت حکومتونو پورې تړاو لري چې د هېواد د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره ترې پوره پوره ګټه پورته کړي، ځکه چې دا لاره له یوې خوا کم مصرف او له بلې خوا مطمئنه ده، ترڅو خپل ګران هېواد په اقتصادي لحاظ د سیمې او نړۍ هېوادنو د بې ځایه فشارونو څخه و ساتو.

دا څېړنه په فرهنګي، اقتصادي او سیاسي لحاظ پوره آهمیت څخه برخمنه ده او موخه داده چې د لارجوردو لارې په پرانیستلو سره ټول هغه شته فرصتونه په ګوته او

په عملي ډول ترې افغان حکومت ګټه پورته کړای شي، د دې مقالې د څېړنې او ترتیب په برخه کې له کتابتونې میتود څخه کار اخیستل شوی دی، متوقع پایله یې دا ده چې ددې څېړنې په اساس د لاجوردو د لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي آهمیت په اساس کولای شوو، چې له دې لارې څخه د خپل هېواد ګټې خوندي کړو.

**کلیدي کلمې:** لاجورد لاره، اقتصاد، سیاست، فرهنګ، فرصتونه، خنډونه.

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین والعاقبه للمتقین والصلوت والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین و علی اله واصحابه واتباعه وزریته واهل البیته اجمعین اما بعد فااعوذ بالله من شیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم ( سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ) ( القران الکریم سوره البقره، آیت ۳۲ )

ژباړه: پاکي ده الله (جل جلا له) لره، نشته هیڅ علم موږ لره مګر هغه څه چې تا ښودلی موږ ته، بېشکه همدا ته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند یې.(۹- کابلی تفسیراو ترجمه ،ص ۲۴)

که د انسانانو ترمنځ اړیکو ته په تاریخي لحاظ سره وکتل شي نو د رامنځ ته کېدو لومړنی سبب یې د انساني ژوند اړتیاوې دي په دې معنی چې له لومړیو وختونو څخه یو انسان د بل انسان سره په دې موخه اړیکه ټینګه وله، ترڅو د خپل ژوند اړونده اړتیا ترې پوره کړي، نو هغه چاته به یې مراجعه کوله چې یا به یې پېژنده او یا یې هم ورسره نږدې ژوند درلود. رو رو د دغو اړیکو ساحې ورځ تربلې پراختیا پیدا کړه، حتی تر دې پورې چې د یو هېواد خلکو به بل هېواد سره د خپلې سیمې د خلکو د ضروتونو د پوره کولو په موخه اړیکې ټینکولې او تګ راتګ به یې کاوه، له دې جملې څخه پخوانی روم یادولی شوو، پخواني روم کې به هغو اشخاصو

تجارتي توکي اخیستلای شول، چې روم کې به یې دخپلوۍ کومه اړیکه درلوده، یا هم چا به یې ضمانت کاوه. له دې پرته د نوموړي سوداګر مال او ځان خوندي نه وو، خو د وخت په تېریدو سره د انسانانو د اړیکو په برخه کې پرمختګونه رامنځ ته شول او تردې اوسنې عصره پورې بیا اړیکې په بېلابېلو برخو وېشل شوې دي. همدارنګه اوس یادې اړیکې یوازې د یو هېواد د افرادو پورې منحصرې نه، بلکې دولتونه هم خپلو اتباعو ته د سهولتونو د رامنځته کولو په موخه په بېلابېلو برخو کې د بېلابېلو هېوادونو سره اړیکې ټینګوي چې له دې جملې څخه د فرهنګي، اجتماعې، اقتصادې، سیاسي او نظامې اړیکو یادونه کولای شوو، زموږ ګران هېواد افغانستان هم د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د نړۍ بېلابېلو هېوادونو سره په بېلابېلو برخو کې د اړیکو د رامنځ ته کېدو کوښښ کړی دی. چې کله یې په زیان او کله یې په ګټې تمامه شوې ده. تر دې دمه موږ د ډېرو هېوادونو سره په یادو برخو کې اړیکې لرو، د نړۍ د نورو هېوادونو سره هغه وخت زموږ د اړیکو نیول ستونزمن شول، چې د افغانستان د وخت مشر امیر عبدالرحمن خان د انګلستان له استازي هنري موتیمر ډېورنډ (Henry Mortimer Durand) سره د ډیورنډ کرښې تر عنوان لاندې یو کرغېړن تړون په( ۱۸۹۳ )م کال کې لاسلیک کړ. (٦ـ عطایي . ۱۳۸۳. ۱۳٦) چې له مخې یې زموږ هېواد له نورې نړۍ سره د اړیکو د نیولو یوه مهمه او اساسي لاره د لاسه ورکړه. د هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پاللو لپاره هر هېواد د لارو د موندلو بندو بست هم کوي، افغانستان د خپلو نښتو کاونډیانو سره د اړیکو لپاره لارې لري؛ خو د سیمې او نړۍ د هېوادونو لپاره بیا په وچه کې یو راګیر هېواد دی، چې ډېرې وخت د نړۍ د نورو هېوادونو سره د اړیکو د ټینګولو لپاره ګاوندي هېوادونه ورته ستونزې جوړوي. د همدې ستونزې د حل لپاره یې تل هڅه کړې ده، چې بهر ته د لار موندولو لپاره بېلابېلې لارې پیدا کړي، سره له دې چې امیر عبدالرحمن خان د

ډيورنډ کرښې د معاهدې د رامنځ ته کېدو سبب شوی وو، خو نوموړي داسې هم ويلي وو:( دا چې ما ونه شو کړای افغانستان له بحر سره وصل کړم؛ نو راتلونکي نسلونه او مشران دې بحر ته د يوې دايمې لارې د موندلو لپاره هڅه وکړي) که چېرې د امير عبدالرحمن يادې غوښتنې ته دقيق فکر وکړو، نو دا ترې څرګندېږي چې د افغانستان په څېر هېواد چې د ټولو خواوو څخه په وچه کې راګير دی، د ګاونديانو له اغېزو څخه په امان کې نه شي پاتې کېدای، د (۲۰۰۱) څخه تر (۲۰۱۵)م کلونو پورې افغانستان بحر ته يوازې د پاکستان هېواد له طريقه لاره درلوده، خو نوموړي هېواد هم د خپل د سياسي څرخ د جريان ساتلو لپاره به تل زموږ هېواد باندې د يادې لارې په واسطه اقتصادي فشارونه را ورادول، خو د ملي وحدت د حکومت ايجاد سره سم هغوي د بديلو لارو د موندلو په هڅه کې شول، چې له نيکه مرغه د هند او ايران سره يې په يو دري اړخيز تړون کې د چابهار لاره رامنځ ته کړه او د ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې سره په پنځه اړخيزه تړون کې د لاجوردو دوه زره کلن ګنګل شوې لاره بياځلي فعاله کړه، ترڅو نړيوالو اوبو ته د رسېدو لپاره د کوم هېواد محتاج نه شوو؛ دا چې دغه لاره څومره زموږ د هېواد لپاره د کومو نقطو له نظره د اهميت څخه وړ ده، له دغې لارې څخه د ښې استفادې پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي او څنګه کولی شوو، چې ستونزي حل او له شته فرصتونو څخه په دوامداره ډول د هېواد په ګټه استفاده وکړو، نو په دې اړه دغه علمي څېړنيزه مقاله ليکل شوې ده، مخکې تر دې چې اصلي موضوع ته داخل شوو، د مقدمې اړونده سرليکونو څخه يادونه کوو:

## د څېړنې آهميت

څرنگه چې د يو هېواد اقتصاد د هغه هېواد په پرمختگ کې مهم دی همداسې بيا ترانزيتي او سوداگريزې لارې په اقتصادي ودې کې هم رول لري. نو دغه څېړنه د لاجوردو لارې د آهميت په هکله ليکل شوې ده، چې دا په خپل ذات کې د دې څېړنې په فرهنگي، اقتصادي او سياسي آهميت باندې دلالت کوي.

## د څېړنې موخې

دغه څېړنه د لاندې موخو لپاره ليکل شوې ده:

۱. د لاجوردو د لارې په اړه د دقيقو معلوماتو وړاندې کول.

۲. د لاجوردو د لارې د ايجاد سره د نويو او گټورو فرصتونو پېژندل.

۳. د لاجوردو د لارې د بياځلي احيا له امله د رامنځته شويو فرصتونو څخه د اغېزناکو گټو لاس ته راوړل.

## پوښتنې

۱. د لاجوردو لاره د کومو مواردو له اړخه د اهميت وړ ده؟

۲. د لاجوردو لارې پر وړاندې کوم خنډونه شته او حل لارې يې کومې دي؟

۳. د لاجوردو له لارې څخه د گټې اخيستنې په صورت کې کوم فرصتونه شتون لري؟

۴. دغه څېړنه په ټولنه کې کومه ستونزه هواروي؟

څرنگه چې زموږ په هېواد کې له تېرو څو کلونو څخه را په دېخوا په هرځاي، بيلابيلو مجلسونو او ټولنيزو رسنيو کې د افغانستان د اقتصادي کلا بندۍ (Economic Surround) په اړه بحث او خبرې کيږي، خو که چېرې له ټولو څخه

پوښتنه وشي چې څرنګه د موجوده سوداګریزو لارو څخه د هېواد په ګټه استفاده وکړو؟ نو هغه قسم چې لازمه ده معلومات نه لري، نو د دې څېړنې په ترڅ کې به لوستونکو ته په یاده برخه کې نوي او ضروري معلومات ترلاسه شي.

## د څېړنې تګلاره

څرنګه چې د موضوع له عنوان: ( د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي اهمیت) څخه له ورایه ښکاري چې د څېړلو لپاره یې مختلطې تګلارې( میداني او هم کتابتوني) ته ضرورت درلود نو موږ هم د موضوع د غوښتنې په اساس یادې موضوع په څېړلو کې د مختلطې (میداني او هم کتابتوني) څخه استفاده کړې، ترڅو لوستونکو ته موضوع په حقیقي معنی سره روښانه شوې اوسي، همدرانګه د نمونې په ډول اهل مسلک اړونده برخې مجربو شخصیتونو څخه مو (۲۰) تنه ټاکلي وو.

د دې څېړنیزې مقالې د څېړنې په برخه کې له مختلطې تګلارې( میداني او هم کتابتوني) څخه کار اخیستل شوی دی، په دې هکله د یو شمېر اهل مسلک او تجربه لرونکي شخصیتونو څخه د استبیان پاڼې په اساس معلومات راټول شوي او هم له اړونده مسلکې او علمي کتابونو، علمي لیکنو او ویب سایټونو څخه د څېړنې د تګلارې د اصولو سره سم استفاده کړې ده. همدارنګه د لاجوردو لارې له دقیقې څېړنې وروسته د خپل ذهن او تفکر د استنتاج له مخې په یاده لاره کې چې په اقتصادي او سیاسي لحاظ آهمیت او هم کوم فرصتونه، خنډونه او د حل لارې چارې دي په دې څېړنیزه مقاله کې څېړل شوي دي.

**پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه**

په دې (د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سياسي آهميت) اړوند لا تر اوسه پورې کوم څېړونکي څېړنه نه ده کړې، ترڅو د يوې څېړنيزې مقالې حيثيت ځانته اختيار کړي، خو يو شمېر ليکوالانو په خپلو اثارو کې د يو مبحث په ډول چې تر ډېره د هغوي خپل نظريات دي ورته اشاره کړې ده، دا چې د يوې څېړنيزي مقالي په توګه يا د يو کتاب په بڼه تر اوسه پورې پرې کومه څېړنه نه ده شوې، نو ويلای شوو، چې دا څېړنه په حقيقت کې نوې، تازه او ګټوره څېړنه ګڼل کېدای شي.

**دغه څېړنه په ټولنه کې کومه ستونزه هواروي**

څرنګه چې د يو هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره نړيواله سوداګري اساس دی او نړيوالې سوداګرۍ لپاره بيا د هېواد نړيوالو لارو ته ضرورت دی، ترڅو يې پرمټ خپلې سوداکريزې اړيکې پراخې کړي، خو له بده مرغه افغانستان د اوبو له لارې او هم د وچې له لارې نړيوالو سره د اړيکو لپاره کومه ګټوره، اسانه او کم مصرفه لار نه لري، چې دا د افغانستان د سيمې او نړۍ سره د سوداګرۍ پر وړاندې ډېره لويه ستونزه ده، نو ځکه د دې څېړنيزې مقالې په اساس د لاجوردو لارې اقتصادي او سياسي اهميت په اړه پوره بحث شوی دی، په دې برخه کې پراته خنډونه، حل لارې او فرصتونه روښانه شوي دي، چې په اساس به يې د افغانستان د اقتصادي کلابندۍ د طلسم ستونزه په اساسي ډول حل شي.

اوس اصلي موضوع ته راځو دغه (د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سياسي آهميت) څېړنه په پنځو مبحثونو او بيا مبحثونه په مطلبونو ويشل شوې دي، ترڅو موضوعات لوستونکو ته روښانه شي.

## لومړی مبحث: تمهيدي مطالب

په دې مبحث کې د دې څېړنې ټول تمهيدي مطالب چې عبارت دي له: د لاجوردو لاره، افغانستان، ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيه دي، دلته په جلا جلا سرليکونو کې تر پېژندنې لاندې نيسو:

### لومړی مطلب: د لاجوردو د لارې لنډه پېژندنه

دا سرليک له دوو برخو څخه جوړ شوی دی، چې يو يې لاجورد او بل يې لاره ده، نو د ښه پوهېدو لپاره هر يو يې په جلا جلا جزونو کې تر څېړنې لاندې نيسو:

### لومړی جز: د لاجوردو ماهيت

د دې لپاره چې د لاجوردو په ماهيت ښه پوه شوو، نو پر لغوي معنی، ترکيب، خصوصيات او تاريخي سير يې رڼا اچوو:

لومړی شکل( د لاجوردو کانی)

### لومړی پراګراف: د لاجورد مفهوم، معنی او ترکيب يې

لاجوردو ته په لاتين کې ( Lapis lazuli) او هم ورته لازورد او لاژود وايي رنګ يې آبي دی چې کيمياوي ترکيب يې د طبعي اوبو لرونکې فاسفيټونو (Phosphates) المونيم، اوسپنه، مګنيزم او کلسيم څخه دی له همدې امله د پوډر کېدو ، سيقل او کندن کارۍ قابليت لري او په دريو رنګونو کې طبقه بندي شوي: نيلي، کمرنګه آبي يا اسماني او شين چې په وروستي رنګ يې اکثره وخت د زمرودو اشتبا کېږي. .(۷ــ انواع سنگ های قيمتي. ۱۳۹۵ )

### دويم پراګراف: د لاجوردو کانې ځانګړنې

د کيمياوي څېړنو په اساس د لاجوردو کانۍ انسانانو ته د يو شمېر ګټورو ځانګړنو درلودونکی دی چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

**لومړی:** د ډېرې هوساينې او سکون بخښونکی دی.
**دويم:** الهام بخش او پر ځان د اعتماد د زياتوالي سبب ګرځي.
**دريم:** د بدن د فاعي سيستم غښتلی کوي.
**څلورم:** د يو سپر په توګه د رواني حملو پر وړاندې مقاومت کوي.
**پنځم:** د رڼايي او درک کولو د فيصدي لوړولو کې هم مهم رول لري.
**شپږم:** د ارادې د سالم والي او زياتوالي سبب ګرځي.
**اوم:** د بد بويي او د بکترياوو د له منځه وړلو سبب ګرځي.
**اتم:** د تنفسي سيستم د پياوړتيا سبب ګرځي.
**نهم:** د سرګيچی، خفګان او تشويش د لمنځهړولو سبب ګرځي.
**لسم:** نورو سره د مرستې او کمک کولو د درک او احساس سبب ګرځي.(۷ــ انواع سنگ های قیمیتې. ۱۳۹۵ )

څرنګه چې د لاجورد په کاني کې د انسانانو لپاره پورتنۍ ځانګړنې وجود لري، همداسې که د لاجورد لاره د افغانستان وجود لپاره ورسره مقايسه کړو، د لاجوردو کاني سره مشابه ځانګړني لري په دې معنی چې ياده لاره به هم افغانستان ته نورې نړۍ څخه د اقتصادي اکيسجن د اخيستلو زمينه سازي کوي، د اقتصادي رڼايي، د حکومتونو او خلکو د خفګان او تشويش رفع کولو، ترانزيتي سکون، د پرمختګ لپاره الهام ورکوونکی، د ګاونډيانو د زهري اقتصادي حملو پر وړاندې سپر او پرځان او داخلي عوايدو د اعتماد د زياتوالي او په نهايت کې د نورو هېوادونو په ځانګړي ډول د ګاونديانو سره د مرستي او وصل کېدو سبب به شي، ان شاالله.

**دريیم پراګراف: د لاجوردو تاريخي سير**

د ټولې نړۍ په کچه د لاجوردو کان د افغانستان د بدخشان ولايت له مرکز څخه جنوب طرف ته په( ۷۰ ) کيلومترۍ کې د بحر له سطحې څخه د( ۱۸۳۰ ــــ ۵۱۸۰) مترو په ارتفاع د کوکچې د رود خانې په شا او خوا کې د چيلمک، شق دره، استورمبې او سرسنګ چې د جغرافيوي جوړښت په لحاظ له خطره ډکې سيمې دي موقعيت لري. چې په تاريخي لحاظ( ٦۵۰۰ ) کاله مخکې ترې ګټه اخيستنه پيل شوې ده همدارنکه ( ۴۴۰۰) کاله مخکې د مصر په اهرامونو کې د لاجوردو د کاڼو استعمال د افغانستان او مصر ترمنځ د لاجوردو د سوداګرۍ پر تاريخي مخينه دلالت کوي، دا په داسې حال کې ده، چې د مصر او افغانستان ترمنځ( ۳۲۲۰ ) کيلومتره په اوږدوالي سره لوی واټن موجود دی علت يې دا وو، چې په هغه وخت کې لاجورد ترټولو ګران بها کاڼی په مصر کې شمېرل کېده.



(10- www.hamshahrionlin.ir.com)

**دویم جز: د لاجوردو لاره**

څرنګه چې په تاریخي لحاظ سره( ۶۵۰۰ ) کاله مخکې د افغانستان د لاجوردو څخه استفاده پیل شوې وه، نو له هماغه راهیسې د بدخشان لاجورد د هغه مهال سوداګرو په بېلابېلو لارو د نړۍ ډېرو هېوادونو ته د سوداګرۍ لپاره وړل، خو (۲۵۰۰) کاله مخکې اسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو ته اسانه، نژدې او مطمئنه لاره وموندل شوه، د دې لارې په مسیر کې مرکزي اسیا هېوادونه، اذربایجان، کسپین سمندرګی، اوسنی ګرجستان پراته دي او د ترکیې له قلمره تېرېږي او ازادو اوبو له لارې د ټولو براعظمونو هېوادونو ته د رسېدو امکانات برابر وي. خو د ډېر وخت لپاره د نړیوالې پېښې او د افغانستان ناوړه وضعیت او حالت د دې سبب شوی، چې ترې استفاده ونشي، ولې د ملي وحدت حکومت په رامنځ ته کېدو سره له یادې لارې څخه د بیا ځلې ګټې اخستنې موافقتنامه د جولاي په ۱۵ ( ۲۰۱۷) م کال د ریکا( RECCA) د کنفرانس د اومې ناستې په څنډه کې د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، ګرجستان او ترکیې د مقاماتو لخوا د ترکمنستان پایتخت عشق آباد کې لاسلیک شوه. ریکا( RECCA) ( Regional Economic Coopration Conference For Afghanistan) د افغانستان لپاره د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس، چې د افغانستان په رهبرۍ په (۲۰۰۵) م کال کې رامنځ ته شو، چې په ترتیب سره یې تر اوسه اته ناستې په کابل، نوي ډهلي، اسلام آباد، استانبول، دوشنبې او عشق اباد کې ترسره شوي دي(.12- www :fa.m.wikipedia.org) او د ۱۳۹۷ هـ ش کال د قوس د میاشتې په (۲۲) نېټه د افغانستان د وخت ولسمشر محمد اشرف غني لخوا عملاً ګټې اخیستنه پیل شوه، دغه لاره په افغانستان کې د هرات د تور غندۍ او د فاریاب د آقینې له بندرونو څخه پیل او د ترکمنستان د ترکمن باشي له بندر څخه له تېرېدو وروسته د خزر د سمندرګي، د آذربایجان د باکو او د

ګرجستان د قلمرو طی کولو سره د ترکیې د قارص بندر ته له رسېدو وروسته بیا د اروپا ازادو اوبو او نړۍ سره وصل کېږي.( ۵ـ پرویز. ۱۳۹۰. ص ۸۹)




دوهم شکل(لاجوردو لارې نقشه)

**دویم مطلب: د افغانستان لنډه پېژندنه**

د افغانستان لنډ نوم AF (Afghanistan) پخوانی نوم یې اریانا، رسمي او نړیوال نوم یې افغانستان دی، د آسیا په زړه کې د وچې پورې تړلی غرنی هېواد دی، چې د عرض البلد د( ۲۲ ـ ۲۹ ) درجو او د ختیځ طول البلد د (۳۰ ـ ۶۰ ) درجو ترمنځ موقعیت لري. شمال ته یې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان؛ جنوب ته یې پښتونستان؛ ختیځ ته پاکستان او لویدیځ ته یې ایران پراته دي، ټول مساحت یې( ۶۴۷۵۰۰ )کیلومتره مربع دی؛ پایتخت یې د کابل ښار او اقلیم غرنی دی اکثره خلک یې په ترتیب سره په پښتو، دري او ترکمني ژبو خبرې کوي، تقریباً ( ۵۰۰۰ ) کلن تاریخ لري. د خلکو دین یې اسلام دی، په ( ۱۹۱۹ ) م کال د اګست په ( ۱۹ ) مه نېټه یې له انګلستان څخه خپلواکي ترلاسه کړې ده. پولي واحد یې افغانۍ ده، په

اوس وخت کې يې اقتصاد په بهرنيو مرستو، کرهڼه، مالداری او مالي او ګمرکي ټکسونو ولاړ دی. (۲ـ ارین زی. ۱۳۷۹. ص ۱۲۷)

**درېيم مطلب: د ترکمنستان لنډه پېژندنه**

د ترکمنستان لنډ نوم (Turkmenistan) TX، پخوانی نوم يې د شوروي ترکمنستان سوسياليستي جمهوريت؛ سيمه ايیز نوم يې ترکمنستان ريسپوبيلکسي؛ رسمې نوم يې د ترکمنستان جمهوريت او نړيوال نوم يې ترکمنستان دی. د منځنۍ آسيا په جنوب لويديځه برخه د کسپين د سمندرګي په ختيځ کې د شمالي عرض البلد د( ۳۷،۵ ــ ۴۱ ) درجو او د ختيځ طول البلد د ( ۵۱،۵ ــ ٦۸،۵ ) درجو ترمنځ موقعيت لري. شمال ته يې قزاقستان، جنوب ته يې ايران، ختيځ ته يې افغانستان او لويديځ ته يې کسپين سمندرګی (خزر) پراته دي، ټول مساحت يې( ۴۸۸۱۰۰ ) کيلومتره مربع دی. پايتخت يې د عشق آباد ښار دی، د دې هېواد اقليم غرنی وچ دی، اکثره خلک يې ترکمن نژاده دي خلک يې په ترکمنۍ، روسي او ازبکې ژبو خبرې کوي، د خلکو دين يې اسلام دي، په( ۱۹۹۱ ) م کال د اکتوبر په (۲۱) مه نېټه يې له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکې ترلاسه کړې ده، پولې واحد يې نوي منات دی؛ اقتصاد يې په طبعي زيرمو متکې دي. ( ۳ـ امين ګلي.۱۳٦٦. ص ۸۵-۸۸)

**څلورم مطلب: د آذربايجان لنډه پېژندنه**

د آذربايجان لنډ نوم(Azerbaijan)AJ، پخوانی نوم د شوروي آذربايجان سوسياليستي جمهوريت، سيمه ايیز نوم يې آذربايجان ريسپوبيلکسي، رسمي نوم يې د آذر بايجان جمهوريت او نړيوال نوم يې آذربايجان دی. د آسيا په جنوب لويديځ کې د جنوبې قفقاز د سيمې په ختيځ او د کسپين د سمندرګي په څنډه د شمالي عرض البلد د( ۳۹ ـــــ ۴۱ ) درجو او د ختيځ طول البلد د ( ۴۵ ــ ۵۰ ) درجو ترمنځ

موقعیت لري. شمال ته يې د روسي فدراتیف؛ جنوب ته يې ایران؛ ختیځ ته د کسپین سمندرګي او لویدیځ ته يې ترکیه پراته دي، ټول مساحت يې( ۸۶۶۰۰ ) کیلومتره مربع دی. پایتخت يې د باکو ښار دی د دې هېواد اقلیم غرنی اکثره خلک يې آذري نژاده دي خلک يې په آذري، روسي او ترکيې ژبو خبرې کوي. د خلکو دین يې اسلام دي، په( ۱۹۹۱ ) م کال د اګست په( ۳۰ ) مه نېټه يې له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي ترلاسه کړې ده، پولي واحد يې نوي منات دی، اقتصاد يې په کرهنه، مالدارۍ، صنعت او طبعي زیرمو متکي دی. (۸- متیني . ۱۳۶۸. ص ۴۴۳ـ۴۶۲ )

**پنځم مطلب: ګرجستان لنډه پېژندنه**

د ګرجستان لنډ نوم GA (Georgia)، رسمي نوم يې د جورجیا دیموکراتیک جمهوریت او نړیوال نوم يې جو رجیا دی، د آسیا په قفقاز سیمه او د اروپا په ختیځه برخه کې پروت دی، د شمالي عرض البلد د( ۴۱ ــ ۴۳ ) درجو او د ختیځ طول البلد د ( ۴۰ــ ۴۶ ) درجو ترمنځ موقعیت لري. شمال ته يې د روسي فدراتیف، جنوب ته يې ترکیه او ارمنستان، ختیځ ته اذر بایجان او لویدیځ ته يې تور سمندرګی پروت دی ، ټول مساحت يې( ۶۹۷۰۰ ) کیلومتره مربع دی. پایتخت يې د تبلیس ښار دی، د دې هېواد اقلیم غرنی، یخ او بهاري دی. اکثره خلک يې ګرجي نژاده دي په آذري، روسي او ترکيې ژبو خبرې کوي د اکثره خلکو دین يې مسیحي او مسلمانان په کې لوي اقلیت دي. په( ۱۹۱۸ ) م کال د می په( ۲۶ ) مه نېټه يې له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي ترلاسه کړې ده. پولي واحد يې لارې دی؛ اقتصاد يې په کرهنه، صنعت او طبعي زیرمو متکی دی.( ۴ــ بهرام. ۱۳۷۷. ص ۱۳۴)

**شپږم مطلب: د ترکيې لنډه پېژندنه**

د ترکيې لنډ نوم TU (Turkey)، سيمه ايېز نوم يې تورکيه جمهوريت، رسمي نوم يې د ترکيې جمهوريت او نړيوال نوم يې ترکيه دی. د آسيا د لويې وچې په لويديځ کې او د اروپا په جنوب ختيځه برخه کې د تور سمندرګي په منځ کې د شمالي عرض البلد د( ۳۶،۵ ــ۴۲ ) درجو او د ختيځ طول البلد د ( ۲۶ــ ۴۵ ) درجو ترمنځ موقعيت لري. شمال ته يې تور سمندرګی، جنوب ته يې عراق، ختيځ ته ارمنستان او لويديځ ته يې يونان پراته دي، ټول مساحت يې ( ۷۸۰۵۸۰ ) کيلومتره مربع دی. پايتخت يې د انقرې ښار دی. د دې هېواد اقليم د ځانګړي جغرافيوي موقعيت له امله په دريو ( يخ، مديترانه يي او معتدل) سيمو وېشل شوی دی، اکثره خلک يې ترک دي په ترکيې، کردې او عربې ژبو خبرې کوي. د خلکو دين يې اسلام دی، په( ۱۹۲۳ )م کال د اکتوبر( ۲۹ ) مه نېټه د عثماني ترکيې ځای ناستې په توګه رامنځ ته شوی دی، په نړيوال سټيج کې د ځانګړي مقام درلودنکې ده، پولي واحد يې ترکيې ليره ده، اقتصاد يې په عصري صنعت، سوداګرۍ، تکنالوژۍ او عنعنوي کرهڼې متکي دی. ( ۱ــ ارين زی. ۱۳۷۹. ص۷۷۴)

**دويم مبحث: د لاجوردولارې اهميت**

د دې لپاره چې د لاجوردو د لارې په فرهنګي ، اقتصادي او سياسي آهميت باندې ښه پوه شوو، نو په جلا جلا مطالبو کې پرې رڼا اچوو.

**لومړی مطلب: د لاجودو د لارې فرهنګي آهميت**

د لاجوردو د لارې د پيل، مسير او پای هېوادونه له نيکه مرغه ټول په اسلامې فرهنګ کې داخل دي او ترځنګ يې د ژوند فرهنګي مسايل سره ډېر نژدې دي، علت دا دي چې د لاجورد تاريخي لاره چې تقريباً (۲۵۰۰) کاله پخوا پيل شوې وه،

له هماغه لومړنيو وختونو په ياده لاره کې هغه خلک ميشت شوي وو، چې دوی د يوې پېشې( سوداگرۍ) يو ډول عرف او عاداتو درلودونکي وو، دا چې د ملي وحدت د حکومت په رهبرۍ دا لاره يو ځل بيا پرانيستل شوه ښايي د دې له برکته د پنځو واړو هېوادونو فرهنگي تعاملات او اړيکې يو ځل بيا ټينگې او يو بل سره د ښې او گټورې ملگرتيا سبب شي. (١٠: ١٣٩٧. ٧)

## دويم مطلب: د لاجوردو لارې اقتصادي آهميت

د يو هېواد اقتصادي پرمختگ لپاره يوازې بهرنۍ مرستې بسنه نه کوي، ځکه کله چې مرستې بندې شي نوموړی هېواد به له لويو ستونزو او بحرانونو سره مخ شي، که چېرې د ورسته پاتې هېوادونه غواړي‌ي چې په خپلو پښو ودرېږي، نو بهرنۍ مرستې دې د يوې وسيلې په توگه استعمال کړي نه د هدف او منبع په توگه؛ کله چې موږ غواړو د هېواد اقتصاد ته پرمختگ ورکړو، بايد خپلو زيربناوو ښخه گټه پړرته ، سوداگرو ته د پانگې اچونې بستر برابر، د معدنونو معياري او گټور استخراج پيل، داخلي توليدات او هغې ته په نړيوالو بازارونو کې د خرڅلاو کم مصرفه او مطمئنه لارې پيدا کول مهم دي، چې له نيکه مرغه د لاجوردو لاره زموږ د صادارتو او وارداتو لپاره د پاکستان د لاري په نسبت ۵۰ سلنه ارزانه او لنډه ده، په دې معنی چې افغانستان د دولت د ذيصلاح ارگانونو د ارزيابۍ له مخې د توکو انتقالات د کراچې له بندر څخه چې (۱۴) ورځې وخت نيسي يه يوې لارې (۵۰۰۰) امريکايي ډالرو مصرف، ترځنگ يې د قزاقستان له لارې (۴۰۰۰) امرکايي ډالره خو د لاجوردو د لارې بيا (۳۲۰۰) امريکايي ډالره لگښت پرې راځي، چې دا په خپل ذات کې د لاجوردو د لارې په اقتصادي آهميت دلالت کوي. (١٠: ١٣٩٧. ٩)

## درېیم مطلب: د لاجودو د لارې سیاسي آهمیت

افغانستان د جیو پولیټیک قطې له نظره د تاریخ په اوږدو کې د سیاسي رقابتونو په مرکز بدل شوی دی، چې وخت ناوخت ګاوندي هېوادونه یې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو د ټینګولو پر وړاندې خنډونه جوړوي او نه یې پرېږدي، چې په سمیه اییز او نړیوال اقتصادي او سیاسي میدانونو کې د ځان لپاره ځاي پیدا کړي. دا په سیاسي او اقتصادي لحاظ د افغانستان د پرمختګ مخه نیسي، خو که چېرې افغانستان سمیه اییزو او نړیوالو اقتصادي ډګرونو ته ډېرې لارې ولري، نو د سیاسي نقطې نظره به د ګاوندیانو له زیات فشار څخه ژغورل شوی اوسي، همدې لوېې ستونزې ته په کتلو سره د افغانستان دولت د لاجوردو د تاریخي لارې په پرانیستو کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او په دې سره یې کولای شول چې د یوې خوا د یو شمېر کاونډیاونو له سیاسي فشار څخه ځان خلاص کړي او له بلې خوا د څلورو هېوادونو ( ترکمنستان، آذربایجان، ګرجستان او ترکي) سره په سیاسي لحاظ یو قدم نور هم نژدې شي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۳)

## درېیم مبحث: د لاجوردو په لاره کې شته فرصتونه

پرته له شکه سواګریزې لارې د هېوادونو لپاره په بېلابېلو برخو کې فرصتونه ایجادوي، چې د لاجوردو لاره هم زموږ هېواد لپاره په بېلابېلو برخو کې فرصتونه ایجاد کړیدي چې د ښه پوهیدو لپاره یې په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو:

## لومړی مطلب: د سوداګرۍ په برخه کې

د نړۍ اکثره هېوادونه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له سوداګرۍ څخه په ګټه اخیستنې هغه څه چې هغوي سره نشته را واردوي، ترڅو خلک یې له وخت سره سم ترې استفاده وکړي. زموږ هېواد افغانستان د( ۴۰ ) کلونو جګړو له امله په بېلابېلو

برخو کې زیانمن شوی او تر ډېره اقتصاد یې له سوداګرۍ څخه په لاسته راغلو عوایدو ولاړ دی؛ دا چې د لاجوردو لاره د نړۍ له هېوادونو سره د مادي اړیکې ټینګولو کې یوه بهترینه لار شمېرل کېږي نو موږ باید خپله سوداګري، سوداګر او سوداګریز توکو د لاپرمختګ او ځلېدو په برخه کې د دې لوی فرصت څخه استفاده وکړو.(۱۰: ۱۳۹۷. ۱)

**دویم مطلب: د ټولنیز ژوند په برخه کې**

د لاجوردو د لارې په مسیر او پای کې چې کوم هېوادونه پراته دي، د خلکو ټولنیز ژوند یې د اروپا او د سیمې د پرمختللیو هېوادونو د خلکو سره برابر دی. زموږ ملت او دولت کولی شي له خپلو قونسلي استازو څخه په ګټه اخیستنې د هغوي د ګټورو تجاربو څخه د خپل سړي سر عاید، کورنی تنظیم، ټولنیز نزاکتونه،ړعلمي پرمختکونه، ټولنیز اتحاد او هېواد سره د مینې روحیه لا پیاوړې کړي او د افغانانو د ټولنیز ژوند د پرمختګ لپاره ترې استفاده وکړي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۲)

**دریيم مطلب: د سیاحت په برخه کې**

که موږ د لاجوردو د لارې همغږو هېوادونو تاریخي او فرهنګي برخې ته توجه وکړو، نو دا به څرګنده شي، چې نوموړي هېوادونه په تاریخي لحاظ ډېر پخواني او په فرهنګي لحاظ بیا د یو بل سره نژدې دي، نو د پنځو واړو هېوادو د نوښتګرو استازو په موجودیت کولي شو، چې د نړۍ نورو هېوادونو په ځانګړي ډول د اروپایي سیاحینو لپاره د سیاحت یوه بکسه د یو واحد ټکټ په موجودیت سره رامنځ ته کړو او زه په یقین سره ویلی شم په دې سره به د نورو هېوادونو اکثره سیلانیان به دې پنځه واړه هېوادونو ته را مات شي، ځکه یاد هېوادونه په تاریخي، فرهنګي او مذهبي برخو کې د لیدو وړ ډېر فرهنګي، مذهبي او تاریخي ځایونه او آثار لري. (۱۰: ۱۳۹۷. ٦)

## څلورم مطلب: د تعليم او تحصيل په برخه کې

د ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې هېوادونه د تعليم او تحصيل په برخه کې د پوره تجربې لرونکي دي، له بلې خوا افغانستان په ياده برخه کې ډېر وروسته پاتې دی، موږ په ياده برخه کې د دې هېوادونو له نوښتونو او تجربو څخه د خپل هېواد په ګټه استفاده کولی شو او هم يې د سوداګرۍ، اقتصاد او تخنيک په برخه کې مسلکي اشخاص روزلی شو او په راتلونکي کې به د سيمې او نړۍ د هېوادونو سره سيال شو. (۱۰: ۱۳۹۷. ۵)

## پنځم مطلب: نظامي اړيکو د ټينګولو په برخه کې

ترکيه هغه هېواد دی، چې زموږ د نظاميانو د روزنې په برخه کې يې د تاريخ په اوږدو کې تل مرسته او همکاري کړې ده، همدارنګه ترکمنستان، آذر بايجان او ګرجستان هغه هېوادونه دي چې يو وخت د پخوانۍ شوروي اتحاد يوه برخه ګڼل کېده او په نظامي برخو کې د کافي تجربې لرونکي دي، چې موږ ورسره د ښو او نيکو اړيکو په درلودلو سره کولی شو، چې د دوی سره د خپلو نظاميانو د روزنې او د سيمې د امنيت په برخه کې د همکاريو تړونونه لاسليک کړو. (۱۰: ۱۳۹۷. ۴)

## شپږم مطلب: په مذهبي برخه کې

دا چې د سيمې په کچه ډېری هېوادونه زموږ هېواد ته د مذهبي افراطيت ګوته نيسي نو په دې برخه کې د پوره نظم د رامنځ ته کېدو لپاره د آذربايجان او ترکيې د هېوادونو د تجاربو او طريقو څخه استفاده کولی شو، په پايله کې به له يوې خوا د اسلامي شريعت اصول په احسنه بڼه تطبيق او له بلې خوا به د نړيوالو له دې نيوکې (مذهبي افراطيت) څخه به مو ځان ساتلی وي، دا ځکه چې دغه درې واړه

هېوادونه ( ترکیه، آذربایجان او افغانستان) د یو مذهب زیاتو پیروانو درلودونکي دي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۵)

## څلورم مبحث: د لاجوردو په لار کې شته خنډونه

د دې ترڅنګ چې دغه لار پورته فرصتونه لري، خو په اوس وخت کې د دې لارې د پوره استفادې په برخه کې ځینې خنډونه موجود دي، چې د ښه پوهېدو لپاره یې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

### لومړی مطلب: په یادو هېوادونو کې زموږ د استازو په برخه کې

که موږ خپل بهرنیو چارو وزارت اوولس کلنو کارې کړنو ته وګورو، هغه ډول چې لازمه ده، خپل فعالیتونه یې نه دي تنظیم کړي، چې لوي لامل یې د بهرنیو چارو په وزارت کې د کافي ظرفیت او کادرونو نه شتون دی، همداسې په بهرنیو هېوادونو کې تر ډېره کچه زموږ د هېواد په استازې توب هغه اشخاص فعالیتونه کوي، چې د روابطو په اساس مقرر شوي دي، د پوهې او خلاقیت قوه یې ډېره کمزورې ده، چې له امله یې نشي کولی چې د هېواد د ګټو په ساتنه کې ښه استازولي وکړي، نو همدې ته په قیاس سره ویلي شوو، چې د ترکمنستان، آذربایجان، ګرجستان او ترکیې په هېواد دونو کې زموږ د استازو د پوهې کموالی یو لوي خنډ دی، چې په ټوله کې زموږ سوداګریز توکي چلنچ کولای شي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۴)

### دویم مطلب: د لارې د امنیت په برخه کې

د لاجوردو لارې پر وړاندې بل لوی خنډ د دې لارې د امنیت د نه تأمین ستونزه ده، ځکه د دې لارې د مسیر په پیل کې افغانستان قرار لري، په تېر نظام کې امنیت په پوره ډول تامین نه وو، خو په اوسني حاکم نظام کې په امنتي لحاظ بیا اطمنان شته،

ولې د دوامداره امنیت په هکله اوس هم اړونده هېوادونو سره شکونه شته، خو دا باید نړیوال په ځانګړې ډول ددې لارې په مسیر کې پراته هېوادونو ته په عملي ډول هم ثابت شي؛ ځکه دا د ریل ګاډو د لویو پیښو د رامنځ ته کېدو سبب ګرځي او دا لاره د ناکامۍ سره مخامخ کوي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۳)

**درېیم مطلب: د بېلابېلو ریل پټلیو د موجودیت په برخه کې**

د لاجوردو لارې پر وړاندې درېیم خنډ په دې لاره کې د ریل ګاډو مختلف ګیجونه دي په دې معنی چې یوازې یوه واحده ریل پټلۍ نه شته، بلکې په دې لاره کې درې ډوله ګیجونه موجود دي د ایران څخه وارد شوي ریل پټلي( ۱۴۳ ) سانتي متر په عرض سره، د روسي د فدراتیف او کاوندیو هېوادونو ریل پټلي د( ۱۵۲ ) سانتي متر په اندازي سره او انګلیسي ریل پټلۍ چې د هند او پاکستان څخه راغلي دي د(۱۶۷) سانتي متر په اندازې سره دي، چې دا کار څو ځلې د بار ګیرۍ سبب ګرځي چې له امله د سوداګرۍ په سرعت کې کموالی رامنځ ته کوي او په ټوله کې دې لارې ته لوی خنډ جوړېږي.(۱۰: ۱۳۹۷. ۱۲)



درېیم شکل( د ریل ګاډو د څو پټلیو ښکاروندوي کوي).

### څلورم مطلب: د سوداګیزو توکیو د پروسس او بسته بندي په برخه کې

بل خنډ چې افغانستان نژدې اوولس کلونه کېږي ورسره مخ دی؛ هغه د سوداګریزو توکو په پروسس او بسته بندۍ کې دی، ځکه زموږ هېواد د اجناسو او توکو کیفیت له پلوه پورته، خو په پروسس، بسته بندۍ او شکلیاتو کې ټیټه درجه کې قرار لري او دا په نړیوالو بازارونو کې زموږ د توکیو د خرڅلاو مخنیوی کوي، څرنګه چې د لاجوردو لاره اروپايي هېوادونو ته د اجنـاسـو د لېږد لپاره یوه مهمه لاره ده، دا په خپل ذات کې د عالي کیفت، عصري بسـته بنـدۍ او پـروسـس غوښـتنه کـوي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۱)

### پنځم مطلب: د ګمرکاتو د تعدد په برخه کې

د لاجـوردو لارې پـر وړانـدې بلـه سـتونزه هغـه د ګمرکونـو د تعـدد پـه اړه ده، کـه چېرې مـوږ یـادې موافقتنـامې پـه اسـاس ارزانـه او کـم قیمتـه تعرفـه ټـاکلي وي دا سـتونزه بـه حـل وي او کـه نـه وي ټاکـل شـوي نـو بیـا پـه دې صـورت کـې لویـه سـتونزه ده؛ ځکـه د یـوې خـوا د توکیـو پـه قمیـت کـې زیـاتوالی راځـي او بلـې خــوا د توکیــو پــه انتقــال کــې ډېــر وخــت لګېــږي، چــې دا دواړه د ګټــورې سوداګرۍ پر وړاندې لوی خنډونه دي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۰)

### شپږم مطلب: د سیاسي رقابتونو په برخه کې

د دې لارې پر وړاندې بل لوي خنډ هغه په سیمه کې د سیاسي رقابتونو موجود دیت دی، لکه روسیه، چین، پاکستان، ایران او هند چې دوی ټول له یو بل سره او بیا روسیه د اورپا سره، چین له هند سره او ایران له امریکا سره لري. وخت ناوخت به د دې لارې پر وړاندې په مستقیم او غیر مستقیم ډول خنډونه جوړوي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۲۰)

**اووم مطلب: په افغانستان کې بهرنيو سوداګرو ته د سهولتونو د ايجاد په برخه کې**

که په افغانستان کې داخلي سوداګريز تنظيم ته وګورو؛ په هغه ډول چې د سيمې په هېوادونو کې د سوداګرۍ لپاره تنظيم شوی دی سره برابر نه دي، لکه د توکيو د ګودامونو، باربندۍ، سوداګريزو سيمو نه شتون او داسې نور هغه خنډونه دي چې بهرني او داخلي سوداګر به د دې لارې په سوداګرۍ کې د دل سردۍ سره مخامخ شي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۹)

**پنځم مبحث: د لاجوردو لارې د خنډونو د حل لارې چارې**

د لاجوردو له لارې څخه د ښې او پوره ګټې اخيستنې لپاره په منطق ولاړې د حل لارې شتون لري؛ چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

**لومړی مطلب: په يادو هېوادونو کې د استازو په برخه کې**

که موږ غواړو، چې د لاجوردو له لارې څخه مؤثره او دوامداره ډول استفاده وکړو؛ نو د لاجوردو د لارې پرسر پرتو هېوادونو کې د خپل استازو په اړه بشپړه توجه ولرو؛ په دې معنی چې سفير، قونسل او تجارتي آتشه مو بايد داسې اشخاص وي چې نوموړو هېوادونو سره د قوي ملګرتيا د رامنځ ته کېدو ترڅنګ د يادې لارې په مسير کې چې له ټولو سهولتونو څخه پوره او کامل ډول ګټه پورته کړي او له بلې خوا ټول هغه خنډونه له منځه يوسي چې د ستونزو د ايجاد سبب ګرځي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۸)

**دويم مطلب: هېواد ته د راغلو ريل پټليو ترمنځ اتفاق رامنځ ته کول**

په دې اړه بايد ووايم چې زموږ هېواد ته په راغلو ريل پټليو کې د اتفاق نشتون د ستونزي حل ګران کړی دی، خو ګټور تنظيم يې ناممکن نه دی؛ ځکه موږ کولی شوو، چې د ريل پټليو څو وچ بندرونه د څو ګيجونو په لرلو سره جوړ کړو او هغه

ريل ګادي، چې بېلابېلو پټليو لرونکي دي، د بار د تغير او تبديل په اساس تنظيم کړو، که څه هم دا به د سوداګرۍ په سرعت کې کموالی راولي خو دا یوازنۍ لاره ده. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۷)

**درېيم مطلب: د سيمه ايیزو او نړيوالو معيارونو سره دبرابرو توليداتو رامنځ کول**

که موږ غواړو، چې له يادې لارې څخه د خپل توليداتو لپاره پوره او ګټوره استفاده وکړو، نو په دې صورت کې بايد خپل توليدات د سيمي او نړۍ په ځانګړي ډول د اروپايي هېوادونو له معيارونو سره برابر کړو او ترڅنګ يې د هغو توکيو په توليد کې زياتوالی راولو، چې د دې لارې په سر پراته هېوادونو او هم اروپايي هېوادونه ورته ضرورت لري؛ لکه زعفران او قيمتي کاڼي. (۱۰: استبيان پاڼه. ۱۳۹۷. ۱٦)

**څلورم مطلب: د لارې په مسير کې د موجوده ګمرکونوکې يوه تعرفه رامنځ‌ته کول**

که د لاجوردو لارې د موافقتنامې په اساس يوه تعرفه ټاکل شوې نه وي په دې صورت کې بايد يوه ګمرکي تعرفه وټاکل شي خو که يوه ټاکل شوي وي په دې صورت کې بايد هڅه وشي چې يو نازل قميت ګمرکي تعرفه جوړه شي، ترڅو په دې لاره سوداګري ډېره او دامدار اوسي. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۸)

**پنځم مطلب: د سياسي رقابتونو بدلول په سياسي توازن**

د سيمې او نړيوال سياسي رقابتونو د کنټرول او تنظيم لپاره يې د لارې د مبداء مسير او پاي په ځانګړي ډول افغانستان بايد په خپل بهرنۍ سياست کې د روسې، چين، هند، ايران، ترکيې، اروپا او امريکا ترمنځ توازن رامنځ ته کړي، دا هغه وخت امکان لري چې موږ د بهرنيو چارو وزارت کې مسلکي، متخصص او تجربه کار اشخاص په دندو وګمارو. (۱۰: ۱۳۹۷. ۱۹)

## شپږم مطلب: د لارې د آمنیت تأمین او ټولو سوداګرو ته د پوره سهولتونو ایجادول

بله مهمه موضوع دا ده، چې د افغانستان دولت باید د لاجوردو د لارې هغه ساحې کومه چې افغانستان کې موقعیت لري؛ آمنیت پوره تأمین کړي، همدارنګه ټولو هغو سوداګرو ته چې په دې لاره کې سوداګري کوي باید پوره سهولتونه رامنځ ته کړي. ترڅنګ یې د لاجوردو د لارې دمبداء، مسیر او پای هېوادونه د یوې بلې سوداګریزې موافقتنامې په اساس باید سوداګرو ته د سهولتونو او امتیازاتو یوه ګټوره بکسه رامنځ ته کړي، څو سوداګرو د تشویق سره دا لاره دوامداره پاتې شي. (۱۰: ۱۳۹۷.۱۶)

### پایله

په پایله کې ویلی شو، چې د لاجوردو لار ډېره پخوانۍ ده. د افغانستان دولت د دې لارې د طرحه کوونکي په توګه یو مهم رول اداء کړی دی، چې ډېره کم مصرفه او مطمئنه ده، همدارنګه زموږ د ترانزیت پر وړاندې هغه خنډونه، چې ګاونډیو هېوادونه به خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره د افغانستان په نورو ترانزیتي لارو کې ایجادول، تر ډېره حده به کم شي او نور به هغوی د لارو د قطع کولو پرځای د افغانستات سره د وصل کېدو هڅه کوي او په نهایت کې به د افغانستاد اقتصادي رفاه سبب شي.

### مناقشه

دا چې د افغانستان دولت د دې لارې د طرحه کوونکي په توګه ګڼل کیږي، د مرکزي اسیا له هېوادونو پیل او په مسیر کې اذربایجان، کسپین سمندرګی، اوسنی ګرجستان او د ترکیې قلمرو له تېرېدو وروسته ازادو اوبو له لارې د ټولو براعظمونو هېوادونو ته د رسېدو امکانات برابروي، که په عملي او دوامداره ډول ترې ګټه پورته

شي نو ډېره کم مصرفه او مطمينه به وي، په عين حال کې به ځينو ګاونډيو هېوادونو له اقتصادي کلابندۍ څخه خلاص شوو، خو د بحث او مناقشې موضوع داده، څومره چې افغانستان د دې لارې د عملي تطبيق لپاره علاقه لري، هومره نو هغه هېوادونه ( ترکمنستان، اذربايجان، ګرجستان او ترکيه) چې د لاجوردو لارې په مسير کې پراته دي ورته پوره او کامله علاقه نه لري، چې دا کار د دې لارې څخه د عملي او دوامدارې ګټې اخيستنې مخه نيسي، خو د دې ستونزې منطقي او اساسي حل لپاره بيا افغان دولت کولای شي چې د څېړونکو د ترسره شويو څېړنو او هم په دې مسير کې پرتو هېوادونو ترمنځ ګډو ناستو او د علمي ـ څېړنيز، سياسي، تاريخي او فرهنګي کنفرانسونو په تدوير د هغوی علاقه ډېره او د عملي ګټې اخيستنې لپاره يې اماده کړو.

**پايله اخيستنه**

له دې علمي ــ څېړنيزې مقالې څخه لاندې موارد د نتيجه ګيرۍ په توګه يادولای شوو:

١- د لاجوردو لاره يوه ډېره پخوانۍ لاره ده، چې د افغانستان او دې لارې پرسر پرتو هېوادونو لپاره په سياسي، اقتصادي او فرهنګي لحاظ د پوره اهميت درلودونکې ده.

٢- د لاجورد لارې پر وړاندې يو شمېر خنډونه (په يادو هېوادونو کې د استازو په برخه کې، د لارې د امنيت په برخه کې، د بېلابېلو ريل پټليو د موجوديت په برخه کې، د سوداګريزو توکيو د پروسس او بسته بندۍ په برخه کې، د ګمرکاتو د تعدد په برخه کې، د سياسي رقابتونو په برخه کې، په خپل هېواد کې بهرنيو سوداګرو ته د سهولتونو د ايجاد په برخه کې) پراته دي، خو حل لارې ( په يادو هېوادونو کې د استازو په برخه کې، هېواد ته د راغلو ريل پټليو ترمنځ اتفاق رامنځ ته کول، د سيمه

ایيزو او نړیوالو معیارونو سره د برابرو تولیداتو رامنځ کول، د لارې په مسیر کې موجودو گمرکونو لخوا یوه واحده تعرفه رامنځ ته کول، سیاسي رقابتونه په سیاسي توازن او جوړښت بدلول، د لارې د آمنیت تأمین او ټولو سوداگرو ته د پوره سهولتونه ایجادول ) هم شته باید چې د لارې د عملي کتې اخیستنې لپاره زمینه سازي وشي.

۳- دا لاره د ټولې نړۍ سره زموږ گران هېواد افغانستان نښلوي او ترټولو کم مصرفه، لنډه او اسانه لاره ده.

۴- که له دې لارې څخه په عملي ډول استفاده وشي، نو دا به افغانستان د یو شمېر کاونډویانو له اقتصادي کلابندۍ څخه تر ډېره ژغوري.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنیزې مقالي له لیکلو وروسته لاندې وړاندیزونه ضروري بولم:

۱. که په راتلونکي کې کوم څېړونکی د دې لارې په اړه څېړنه کوي دا چې ما د دې لارې په سیاسي، اقتصادي او فرهنگي اهمیت باندې څېړنه وکړه، هغوی دې د دې لاري په نورو برخو څېړنې ترسره کړي، ترڅو په هر لحاظ د دې لارې ټولې ستونزې او حل لارې رڼې شي او پرته د هر راز نیمگړتیاوو، ترې گټه پورته شي.

۲. افغان دولت ته مې وړاندیز دا دی چې د لاجوردو لارې په مسیر کې پرتو هېوادونو سره گډې ناستې ترسره او هغوی دې ته وهڅوي چې د دې لارې څخه عملي استفاده وشي.

۳. افغان دولت ته پکار ده، چې په دې لاره کې شته فرصتونو ( د سوداگرۍ په برخه کې، د ټولنیز ژوند په برخه کې، د سیاحت په برخه کې، د تعلیم او تحصیل په برخه کې ، نظامي اړیکو د قایمولو په برخه کې او په مذهبي برخه کې) د فرصتونو څخه عملي گټې اخیستنې لپاره طرحې جوړې او له یادو هېودونو سره یې شریکې کړي.

**ماخذونه**

القران الکریم.

۱. ارین زی، احسان الله. ( ۱۳۷۹ هـ ش). دنړی هنداره د اروپا برخه. ناشر: د ساپی د پشتوڅېړنو او پراختیامرکز. پېښور.
۲. ارین زی، احسان الله. ( ۱۳۷۹ هـ ش). دنړي هنداره د اسیا برخه. ناشر: د ساپی د پشتوڅیړنو او پراختیامرکز. پېښور.
۳. امین ګلي. ( ۱۳٦٦ هـ ش). تاریخ سیاسي و اجتماعي ترکمن ها. ناشر: علم . ترکمنستان .
٤. بهرام، امیر احمد یان. ( ۱۳۷۷ هـ ش). جغرافیای کامل قفقاز. ناشر: انتشارات بین الملی الهدی. تهران.
۵. عباس، پرویز.(۱۳۹۰ هـ ش). تاریخ سر زمین ایران. ناشر: نګاه ایران، تهران.
٦. عطایې، محمد ابراهیم.( ۱۳۸۳ هـ ش). د افغانستان معاصر تاریخ ته یوه لنډه کتنه، ناشر: میوند خپروندیه ټولنه، پېښور.
۷. لکچر نوټ پوهنتون کابل.(۱۳۹۵ هـ ش). پوهنځی سیانس، رشته زمین شناسي و انوع سنګ های افغانستان. صنف اول سمستر اول.
۸. متینی، جلال. ( ۱۳٦۸ هـ ش). آذربایجان کجاست؟. ناشر: ایران شناسي. پېښور.
۹. محمود حسن دیوبندی اوعلامه شبیر احمدعثمانی کابلی تفسیراو ترجمه، اول جلد، ژباړه دافغانستان ستروعلماو، ناشر: مجمع خادم الحرمین الشریفین.
۱۰. لومړی لاس ډیټا، استیان پانيي. ( ۱۳۹۷ ) د هېواد اهل خبره اشخاص. تعداد (۲۰)
11. www.hamshahrionlin.ir.com. 2019/01/13. Time: 6:20:15pm.
12. www.stoneeshop.com. 2019/01/14. Time: 6:20:12am.
13. www.famwikipedia.org 2019/01/14. Time 4:30:34 Pm.

**بختيار حليمي**
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښود استاد: دوکتور هلمند بختاني

# په سودا ګریزو چارو کې نامشروع رقابت

**لنډیز**

رقابت په لغت کې محافظت کول، انتظار ویستل او حسادت کولو ته ویل کیږي، په اصطلاح کې هم د رقابت معنی همدا محافظت کول، انتظار ویستل او حسادت کول دي، ځکه چې سوداکريز رقيبان يو بل په دقيق ډول تر نظر لاندې ساتي ترڅو چې له هغو څخه يو مغلوب شي او په سوداګريزو چارو کې نامشروع رقابت بيا هغه فعاليت دی چې د سوداګر له خوا په سوء نيت سره ترسره کيږي.

دغه موضوع ځکه مهمه ده، چې د ملي او نړيوالو حقوقي اسنادو په رڼا کې د نامشروع رقابت مفهوم، اشکال او د مخنيوي لارې چارې څېړل شوي دي، څو سودا ګران او سوداګريزې اداري يادې مسلې ته متوجه شي او په سوداګريزو چارو کې دهغې څخه ډډه وکړي.

د دې څېړنې هدف دا دی چې په سوداګريزو چارو کې د نامشروع رقابت مفهوم او د مخنيوي لارې چارې روښانه کړو ترڅو په دې برخه کې د ستونزو او اختلافاتو مخه ونيول شي.

د دې موضوع په هکله مو د کتابتوني ميتود څخه په استفادې سره له معتبرو کتابونو او حقوقي اسنادو څخه ګټه اخيستې ده.

په ملي او بین المللي حقوقي اسنادو کې نامشروع رقابت منع دی، په ملي قوانینو کې نامشروع رقابت جرم گڼل کېږي او د مرتکب لپاره یې جزاگانې پیشبیني کړي دي. بین المللي اسناد بیا یوازې د حمایت خبره کوي او هېوادونه یې مکلف کړي دي چې د مخنیوي لپاره یې لازم تدابیر ونیسي.

**کلیدي کلیمې:** رقابت، نامشروع رقابت، د زیان د جبران وسایل، ملي او بین المللي حقوقي اسناد.

**سریزه**

الحمدُ لله والصلوة والسلام على رسول الله صلّى الله عليه وسلم وعلى آله واصحابه ومن تبعهُم باحسان الى يوم الدين وبعد: فأعوذ باالله من الشيطن الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٢٩﴾ ( سُوۡرَةُ النِّسَآء، آیت نمبر ۲۹ )

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی مه خورئ تاسی ! مالونه د یو بل په منځونو خپلو کښې په ناروا سره ! مگر( خورئ یې ) که وي دا مالونه ( چې خورئ یې ) اموال د سوداگرت ( چې صادر وي ) په خوښي سره له تاسونه او مه وژنئ تاسې ځانونه خپل (یعنې یو بل یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې دهلاکت سبب وي ) بېشکه چې الله دی پرتاسې باندې ډېرمهربان ( د اجر او ثواب په انعام سره ).

دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی او پرته د ټولنې څخه ژوند نه شي کولی نو په همدې لحاظ په ټولنه کې ژوند کول یو لازمي امر ګڼل کیږي، هغه هم له دې کبله څرنګه چې پوهېږو انسانان په ټولنه کې بېلابېل ضرورتونه او احتیاجات لري او هیڅوک نه شي کولی چې خپل د ژوند ټول ضروتونه په یوازې توګه پوره کړي نو مجبور دي چې د نورو سره اړیکې وساتي او خپل ضرورتونه د همدې اړیکو په اساس پوره کړي، نو په همدی اساس ویلی شو چې د یوې خوانه انسانان خپل ضرورتونه او اړتیاوې یو تر بله پوره کوي او بلې خوانه په ټولنه کې د دوی ضرورتونه هم ډېر وسیع او زیات دي چې له دې جملې څخه یوه یې هم د راکړې ورکړې او سوداګرۍ اړتیا ده چې په دې هکله انسانان یو تربله اړیکې جوړوي او دغه اړیکه د انسان د پیدایښت سره سمه موجوده وه.

باید یادونه وکړو چې په اسلامي شریعت کې د سوداګرت لپاره تر ټولو ښه احکام او اصول موجود دي او په دې اړیکه هیڅ ډول ستونزه نشته، له بلې خوا د نورو غیر اسلامي هېوادونو څخه پرته ګڼ شمېر اسلامي هېوادونو هم په یاده برخه کې د اسلامي شریعت د احکامو ترڅنګ د حقوقي قواعدو څخه استفاده کړې ده. زموږ په ګران هېواد کې د لومړي ځل لپاره سوداګریز مسایلو ته د رسېدنې په موخه په ۱۳۳۴ هـ لمریز کال کې د سوداګرت قانون چې د سوداګریز اصولنامې په نوم یادېږي رامنځته شوی چې اوس هم نافذ دی.

د دې موضوع (نامشروع رقابت) په اړوند افغانستان دولت یو ځانګړی قانون هم لري چې د رقابت څخه دملاتړ قانون په نوم یادېږي، د دې ترڅنګ په نوي جزا کود او نورو نړیوالو حقوقي اسنادو کې هم په دې هکله احکام موجود دي.

دا چې یاده موضوع ښه څېړل شوې وي، نو په همدې اساس یې په ملي او بین المللي حقوقي اسنادو کې تر بحث او څېړنې لاندې نیسو خو مخکې تر دې باید د مقدمې اړونده سرلیکونو ته په لاندې ډول اشاره وکړو.

## د څېړنې اهمیت

په سوداګریزه برخه کې د افرادو د ګټو زیاتوالی د دوی د پیرودونکیو شمېر پورې تړاو لري، نوهر سوداګر د دې هڅه کوي چې په بازار کې د مناسب سهم په وړاندې کولو سره زیات پیرودونکې ځان ته راجلب کړي، که چېرې هر سوداګر وکولی شي چې د غوره خدماتو په وړاندې کولو سره ډېری پیرودونکې ځان ته راجلب کړي، په دې برخه کې هیڅ ستونزه نه رامنځته کیږي یعنې که په دې طریقې سره دوی خپل سوداګریز رقیب له ماتې سره هم مخامخ کړي کومه ستونزه نشته، مګر په ځینو وختونو کې بیا یو سوداګر د قوانینو، عرف او سوداګریزو اخلاقو پر خلاف کړنې ترسره کوي او په دې سره خپل رقیبان له ماتې سره مخامخ کوي، چې دا بیا په واقعیت کې نامشروع رقابت ګڼل کیږي او له همدې امله د سوداګرانو ترمنځ اختلافات رامنځته کیږي، د دې لپاره چې د دغو کړنو او اختلافاتو مخنیوی شوی وي، په ملي او بین المللي کچه یو شمېر حقوقي اسناد وضع شوي دي، د دې لپاره چې د دې اسنادو احکام مو په ښه توګه روښانه کړی وي، له همدې امله دغه موضوع ډېر اهمیت لري.

## د څېړنې ستونزه

څرنګه چې پوهېږو نن ورځ په ملي او نړیواله کچه سوداګري د پرمختګ او انکشاف په حالت کې ده نو همدا لامل دی چې د هېوادونو او ملتونو ترمنځ اړیکې ډېر ې زیاتې شوې دي او ترڅنګ یې په یاده برخه کې زیات پرمختګونه هم

رامنځته شوي دي چې د دې اړیکو او پرمختګونو زیاتوالي ترڅنګ ځیني ستونزې هم په دې برخه کې ایجاد شوې دي.

د دې ستونزو له جملې څخه یوه لویه ستونزه چې اوس هم وجود لري هغه په ملي او نړیواله کچه د سوداګرو ترمنځ نامشروع رقابت دی او هغه په دې ډول چې کله کله داسې هم واقع کیږي چې یو سوداګر یا سوداګریزه اداره د خپل/ خپلې سوداګرۍ د پراختیا لپاره له داسې وسایلو او لارو چارو څخه استفاده کوي چې هغه د قوانینو، عرف او سوداګریزو اخلاقو خلاف ګڼل کیږي او دېته بیا د حقوقي نګاه نه په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت ویل کیږي، چې نوموړې موضوع په ملي او نړیواله کچه ډیرې ستونزې رامنځته کړې دي.

د دې ستونزو د رامنځته کېدو اصلي علت دا دی چې سوداګرو او نورو عامو خلکو ته د نامشروع رقابت په هکله مکمل او دقیق معلومات نشته او په دې هم نه پوهیږي چې سرغړونکې ته کوم ډول مجازات تاکل شوي دي، نو د دې لیکنې په ترسره کولو سره او د لیکلو څخه وروسته که بیا د کتابونو په شکل چاپ شي نو په راتلونکې کې به دغه ستونزه تر یوه حده پورې حل شي او په اړه به یې ټولنې ته پوره ګټه رسېدلې وي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې عمده اهداف په لاندې څو نقطو کې په لنډ ډول بیانوو:

١. په سوداګریزو چارو کې د نامشروع رقابت مفهوم او د مخنیوي لارې چارې روښانه کول.
٢. زموږ د هېواد د سوداګرۍ د ستونزو حل او په راتلونکې کې د هغې د ښه وده او پرمختګ.

۳. د ملي سوداګرو د لا لاربنوونو او پوهاوي لپاره ترڅو په عمل کې د هغې رعایت وکړي.
۴. د سوداګرۍ د حقوقو د لا زیاتو پرمختګونو اولاسته راوړنو په خاطر.
۵. په دې هکله د قوانینو او ځینو نړیوالو حقوقي اسنادو دریځ روښانه کول.

## د څېړنې حدود

دغه څېړنه (په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت) موضوع باندې څرخیږي، هغه په دې معنی چې په دې هکله مو په سوداګریزو چارو کې د نامشروع رقابت مفهوم، اشکال، د مخنیوي لارې چارې او نور اړونده موضوعاتو په هکله د افغانستان له قوانینوڅخه د رقابت د ملاتړ قانون، کود جزا او د نړیوالو اسنادو څخه د پاریس او وایپو کنوانسیونونو دریځونه روښانه کړي دي او د دې څخه پرته نورو موضوعاتو ته مو په کې ځای نه دې ورکړی او که چېرې په ځینو مواردو کې د اړتیا له مخې په یادو برخوکې نورو ملي او بین المللی اسنادو ته لاس رسي پیدا کړی، نو دا زما لپاره اختیاري عمل بلل کیږي او یوازې د پورته ذکرشوو اسنادو په رڼا کې الزاماً موضوع څېړل شوې ده.

## د څېړنې کړنلاره

۱- د دې څېړنې طبعیت د دې غوښتنه کوي چې په هکله یې د کتابتوني میتود څخه استفاده وشي، نو بنا موږ هم له همدې میتود څخه په استفادي سره یاده موضوع څېړلی ده.

۲- د موضوعاتو په راټولولو کې مې تر ممکنه حده کوښښ کړی چې له اصلي او اساسي منابعو څخه استفاده وکړو خو که په ځینو مواردو کې د موضوعاتو د پیدا

کولو لپاره په اصلي او اساسي سرچینو کې څه پیدا شوي نه دي نو بیا د فرعي او غیر اساسي منابعو (مجلو، اخبارونو اوانټرنیټ ) څخه هم استفاده کړې ده.

۳- د موضوعاتو په شرحه او توضیح کې مو هڅه کړې ترڅو د خپل توان په اندازه عدالت او انصاف وکړو او د هر راز تعصب څخه ځان وساتو.

**د موضوع داختیار لاملونه**

دا چې نوموړې موضوع ولې غوره شوې، نو د اختیار لاملونه یې په لاندې ډول دي:

**۱. د یوې نوې لیکنې د رامنځته کېدو له حیثه:** څرنگه چې یاده موضوع په سوداگریزو مسائلو کې ډېره مهمه موضوع ده او هغه هم له دې کبله چې هره سوداگریزه اداره غواړي چې د هرې ممکنې لارې څخه په استفادې سره خپل پیرودونکي ډېر کړي او خپل سوداگریز رقیبان له ماتې سره مخامخ کړي، مگر په ځینو حلاتو کې بیا دوی د داسې لارو چارو څخه استفادې کوي چې هغه د قوانینو، عرف او سوداگریزو اخلاقو خلاف وي، چې دې حالت ته بیا په سوداگریزو چارو کې نامشروع رقابت ویل کېږي، نو د دې ډول رقابت د مخنیوي لپاره په ملي او بین المللي کچه قواعد وضع شوي دي، خو داسې یو مشخص کتاب تر اوسه په لاس کې نه لرو چې یاده موضوع یې په تفصیل سره څېړلې وي، نو په همدې لحاظ سره د دې لپاره چې په څېړنه کې ابتکار او نویوالی ډېر ضروري وي، همدا علت وه چې یاده موضوع مې د خپل شوق او خاصې علاقې په اساس د څېړنې لپاره غوره کړي.

**۲. په دې هکله د خپلو قوانینو د وضاحت له حیثه:** دا چې موږ د رقابت څخه د ملاتړ قانون لرو، نو د دې لپاره چې په دې پوه شو چې یاد قانون د دې موضوع (په سوداگریزو چارو کې نامشروع رقابت) په هکله کوم موارد په ځان کې رانغاړلي او د

حقوقو محصلین او څېړونکي باید د قوانینو د پرمختګ لپاره څېړنې او علمي هڅې ترسره کړي ترڅوحقوق په انجماد کې پاتې نه شي نو ماهم دلته د خپل ملي او اخلاقي مکلفیت په اساس یاده موضوع د خپل مسلک دغوښتنې سره سم اختیار کړېږې، څو په اړه یې د قانون د وضاحت لپاره یو څه کار وکړم.

**۳. په یاده موضوع کې د ملي او بین المللي قوانینو د دریځ د روښانه کولو له حیثه** لکه څرنګه چې پوهیږو یاده موضوع هم ملي او هم بین المللي اړخونه لري او د بلې خوا دا چې نن ورځ نړۍ د یو کلي حیثت غوره کړی او دولتونه کوشش کوي چې سره نور هم نږدې شي او فاصلې له منځه یوسي نو په همدې لحاظ یاده موضوع هم د ملي او هم د بین المللي قوانینو د توجو وړده نو د دې لپاره چې موږ په دې هکله د ملي او بین المللي قوانینو دریځونه معلوم کړو، او د دوی په قواعدو باندې موځان پوه کړي وي نو دا موضوع مې اختیارکړه چې دا په خپل ذات کې د اختیار یولامل بلل کیږي.

**پخوانیو لیکنوته کتنه**

ما چې تر کومه حده پلټنه او څېړنه کړې، نو په اساس یې ویلی شم چې تر اوسه پورې د دې موضوع (په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت) ترعنوان لاندې زموږ په هېواد کې کومه مشخصه او ځانګړې لیکنه نه ده شوې او نه هم کوم چا په دې هکله کوم مشخص کتاب لیکلی چې د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو له نګاه نه یې دا موضوع څېړلې وي، خو د نامشروع رقابت موضوع په ډېرو کتابونو کې څېړل شوې ده چې له یو څو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

۱. **مفهوم نامشروع رقابت و مقایسه آن با نهاد های مرتبط:** دغه اثر د ایراني لیکوالانو لخوا په (۱۳۹۴) هـ ش کې لیکل شوی، چې په دې کې د نامشروع رقابت پر مفهوم باندې بحث شوی دی، بیا د هغې مقایسه د صنعتي مالکیت، د مصرف کوونکو حقوق، د تبلیغاتو او اشتهاراتو د حقوقو سره شوې ده.

۲. **الاعمال السوداګریه و السوداګر و المؤسسه:** چې د ادوارد عید لخوا په کال(۱۹۷۱) م کې لیکل شوی، چې په دې اثر کې د نامشروع رقابت مفهوم او روشونه څېړل شوي دي.

**3.** Shilling, Dana, *Essentials of Trademarks and Unfair Competition*, New York: John Wiley & Sons, Inc., 2002.

4. WIPO, Geneva, *Protection Against unfair competition: analysis of the present world situation,* World Intellectual property Organization,1999.

په پورته انګلیسي کتابونو کې نامشروع رقابت په هکله د پاریس د کنوانسیون او وایپو احکام تحلیل او څېړل شوي دي.

**۵. د رقابت څخه د ملاتړ قانون:** دغه قانون چې په (۱۳۸۸) هـ ش کې نافذ شوی او دعدلیې وزارت د رسمي جریدې په ۱۰۱۰ ګڼه کې نشر شوی چې په دې قانون کې هم دنامشروع رقابت تګلارې ذکرشوي او دمخنیوي په موخه یې دزیان جبران پیشبیني کړې ده.

**٦. د جزا کود:** دغه قانون چې په (۱۳۹٦) هـ ش کال کې نافذ شوی او د عدلیې وزارت د رسمي جریدې په ۱۲٦۰ ګڼه کې نشر شوی دی، په دې کې هم د نامشروع رقابت تګلارې او د مخنیوي په موخه جزا ګانې پیشبیني شوي دي.

**پوښتنې**

۱- په سوداگریزو چارو کې نامشروع رقابت په څه مفهوم دی؟

۲- په سودا گریزو چارو کې د نامشروع رقابت د مخنیوې لپاره کوم ډول تدابیر په لاره اچول شوي دي؟

۳- په سوداگریزو چارو کې نامشروع رقابت په کوم شکل رامنځ ته کیږي.؟

**په سوداگریزو چارو کې نامشروع رقابت**

د دې لپاره چې په سوداگریزو چارو کې د نامشروع رقابت په معنی، مفهوم او ډولونو باندې وپوهیږو او په دې هکله د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو دریځونه مو روښانه کړي وي نو په ترتیب سره په لومړی مبحث کې د نامشروع رقابت معنی او مفهوم دویم مبحث کې اشکال او دریم مبحث کې د مخنیوي لارې چارې په لاندې ډول تربحث لاندې نیسو:

**لومړی مبحث: د نامشروع رقابت معنی او مفهوم**

په نامشروع رقابت باندې د ښه پوهېدو لپاره لومړی رقابت او بیا نامشروع رقابت مطالعه کوو:

**لومړی مطلب : د رقابت پیژندنه**

دا چې رقابت څه ته ویل کیږي، نو اړینه بریښي چې رقابت په لغوي او اصطلاحي ډول تعریف شي:

**لومړی جز: د رقابت لغوي پیژندنه**

رقابت په لغت کې محافظت کول، انتظار ویستل او حسادت کولو ته ویل کیږي. ( ۵: ۱٦٦٦)

**دویم جز: د رقابت اصطلاحي پېژندنه**

په اصطلاح کې هم د رقابت معنی همدا ( محافظت کول، انتظار ویستل او حسادت کول) دي، ځکه چې سوداګریز رقیبان یو بل په دقیق ډول تر نظر لاندې ساتي ترڅو چې له هغو څخه یو مغلوب شي، خو غربي علماء رقابت په دې ډول تعریفوي: هڅه کول د هغه څه دلاسته راوړلو په خاطر چې همزمان بل څوک هم د هغې دلاسته راوړلو لپاره هڅې کوي. ( ۸: ۳۷)

دافغانستان د قوانینو څخه ( د رقابت څخه د ملاتړ قانون) په اساس رقابت په دې ډول تعریف شوی دی: رقابت هغه حالت دی چې په بازار کې یو شمېر خپلواک تولیدوونکي، پیروودونکي او پلورونکي، د مالونو د تولید، پیرودنې یا پلورنې یا ورته خدمتونو لپاره داسې فعالیت کوي چې له هغوی څخه یو په جلا توګه په بازار کې د مقدار او بیې د ټاکلو توان ونه لري. (۳: ۳ ماده)

**دویم مطلب: د نامشروع رقابت پیژندنه**

د نامشروع رقابت لپاره په بین المللي مقرراتو او د هېوادونو په قوانینو کې کوم تعریف نه دی شوی او قانون جوړونکي د هغې د تعریف واک قضاء او حقوقو ته پرېښی دی، چې دا یو منل شوی تدبیر ګڼل کېږي، ځکه چې نامشروع رقابت ډېره پراخه او وسیع موضوع ده چې د هغې د حدودو تعینول ډېر مشکل کار دی، نو د نامشروع رقابت لپاره بېلابېل تعریفات شوي دي: د ځینو په اند نامشروع رقابت د فعالیتونو هغه مجموعه ده چې عام ضمیر یې نه قبلوي او د هغې څخه بیزاره دی او عامه مصلحت د هغې د وجود څخه سترګې نه پټوي بلکې د مرتکب لپاره یې مجازات ټاکلي دي. (۲: ۴۰)

همدارنګه د فرانسې د سوداګرۍ د تنظیم کمېټې نامشروع رقابت په دې ډول تعریف کړی:

نامشروع رقابت هغه فعالیت دی چې د سوداګر لخوا په سوء نیت سره رامنځ ته کیږي، په دې صورت سوداګر د هغه وسایلو نه چې قانون، عرف او سوداګریز اخلاق نه مني، د سوداګریز رقیب د پیرودونکیو په جذب کولو اقدام کوي او له دې طریقه د هغې منافعو ته ضرر رسوي او عربي حقوق دانان یې بیا په دې ډول تعریفوي: د غیر قانوني وسایلو څخه دسوداګر استفاده کول دي د سوداګریز رقیب د پیرودونکیو د جذب کولو په خاطر. (٦: ١٢٨)

د پورته نظریاتو او تعریفونو د وړاندې کولو څخه وروسته دې نتیجې ته رسېږو، که هر فعالیت د سوداګریز رقیب منافعو ته ضرر ورسوي یا هم د رقیب په لګښت ګټه لاسته راشي، یا هم د سوداګر مصلحت تهدید کړي او دغه عمل د غیر قانوني وسایلو له لارې صورت ومومي نامشروع رقابت ګڼل کیږي، لکه څرنګه چې معلومیږي د نامشروع رقابت تهدیدول په دقیق ډول ډېر مشکل کار دی، یعنې د هغې لپاره د حدودو تعینول او د هغې پېژندل ډېر پیچلی کار دی، نو قاضي باید د خپلې هوښیار تیا له مخې پرېکړه وکړي چې آیا د سوداګرۍ فعالیت د سوداګریز فعالیت د ډول او شرایطو په لحاظ قانوني او که غیر قانوني دی، نو په دې اساس که چېرې سوداګریز رقابت د سوداګریز فعالیت د ودې او پراختیا سبب شي او دا د سوداګریز رقیب د پیرودونکیو په جذب منجر شي نو بیا هم بده نه ګڼل کیږي یا په بل عبارت کله چې سوداګر وکولی شي د بهتره خدماتو په وړاندې کولو سره د رقیب سوداګر پیرودونکي خپل ځان ته راجذب کړي، نو د هغې دغه عمل مشروع او جایز ګڼل کیږي، خوپه دې شرط چې د فریب کارانه او نورو نامشروع وسایلو څخه استفاده نه

وي کړی، نو په واقعیت کې هره سوداګریزه اداره د دې حق لري چې درقیب سوداګر دپیرودونکیو په جذب کولوسره خپل د پیرودونکیو شمېر ډېر کړي او د خپل رقیب په وړاندې خپل پیرودونکي حفظ کړي، خوپه دې شرط چې دغه کار د مشروع او جایزو وسایلو په استفادې سره صورت نیولی وي. (۲: ۴۱)

همدارنګه نامشروع رقابت د پاریس په کنوانسیون کې په دې ډول تعریف شوی:

هر ډول رقابت چې د روښانه او صادقانه کړنلارو پر خلاف په سوداګریزو او صنعتي چارو کې ترسره شي نامشروع رقابت ګڼل کېږي. (۹: ۱۰مکرره ماده)

دا چې په دې تعریف کې روښانه او صادقانه کړنلاره واضحه نه دي، نو د همدې مادې په درېیم بند کې هغه کړنې مشخص شوي چې په خاص ډول باید منع وګرځول شي، چې موږ به دغه کړنې په یو بل عنوان (د نامشروع رقابت اشکال) کې تربحث لاندې ونیسو:

## دویم مبحث: د نامشروع رقابت بېلابېل شکلونه

په ملي او نړیوالو حقوقي اسنادو کې یو شمېر روشونه یا تګلارې په ګوته شوي چې په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت ګڼل کېږي، دغه روشونه یا تګلارې په لاندې ډول تربحث لاندې نیسو:

### لومړی مطلب: د شبهې ایجاد

د پاریس د کنوانسیون د(۱۰) لسمې مکررې مادې درېیم بند مطابق دولتونه مکلف دي، هر هغه عمل چې مصرف کوونکي خصوصاً مؤسسې، یا هم د سوداګریز رقیب صنعتي او سوداګریز فعالیتونه په شبهه کې واچوي ممنوع اعلان کړي. نو د دې مادې دشمولیت ساحه ډېره پراخه ده او ممکن چې علامې، نښې، د بسته بندۍ

طریقې، د توکو رنګ او ډول او نورو هغه نښو ته شامل شي چې د سوداګر د خدماتو د توپیر او بېلېدو سبب شي.

## دویم مطلب: د ټولوګمراه کول

د واېپو د (۴) څلورمې مادې او د پاریس د (۱۰) لسمې مکررې مادې درېیم بند مطابق د واقعیت خلاف اظهارات یا هر هغه څوک چې په سوداګریزو چارو کې خلک دصنعت او جوړنې د طرز په مورد کې، د استعمال په مورد کې یا هم د توکو د کمیت په مورد کې مغشوش کړي، نو په حقیقت کې یو نامشروع رقابت رامنځ ته کوي، نو د واقعیت خلاف عمل چې د ناسمو اطلاعاتو د انتقال سبب وګرځي، خوصوصاً د کیفیت، قیمت، اصلیت او نور هر هغه عنصر چې د معاملې لپاره ضروري دی مصرف کوونکي مغشوشوي او دوی د خپلو خدماتو په ټاکنه کې غلتوي، نو کوم څوک چې د دغسې عمل مرتکب شي ګمراه کوونکی ګڼل کېږي. د مثال په ډول که چېرې په یو هېواد کې خلک کورني توکو ته په بهرني توکو ترجیح ورکوي او شرکت د واقعیت خلاف ادعا کوي چې وارداتي توکي په واقعیت کې داخلي تولید دی، نو په دې صورت کې ګمراه کوونکی شمېرل کېږي، خو باید وویل شي چې دا په دې معنی نه دی چې دغه توکي تقلبي دي بلکې صرف عمل ګمراه کونکی ګڼل کېږي. نو د دروغو ادعا نه یوازې مصرف کوونکو ته بلکې سوداکریز رقیب ته هم ضرر رسوي. (۲: ۴۵)

همدارنګه د افغانستان د جزا کود په اساس که چېرې کوم سوداګر په سوداګریز چارو کې د حیلې یا د سیسې څخه کار اخلي یا هم د حقیقت خلاف مطالب خپروي چې د هغې ضرر سوداګر یا سوداګرۍ ته رسي او یا هم د خپل د توکو او

سوداګرۍ د اوصافو په هکله د حقیقت خلاف شایعات خپروي نامشروع رقابت ګڼل کیږي. (۴: ۷۵۳ ماده)

**درېيم مطلب: د سوداګریز رقیب بې اعتباره کول**

د وایپو د (۵) پنځمې مادې او د پاریس د کنوانسیون د (۱۰) لسمې مکررې مادې درېيم بند مطابق د واقعیت خلاف اظهارات که مؤسسه، محصولات یا هم د سوداکریز رقیب صنعتي او سوداکریز فعالیتونه بې اعتباره کړي د نامشروع رقابت له مصادیقو څخه ګڼل کیږي، د مثال په ډول په یوه کارخانه کې مستې د تاریخ تېرو شیدو څخه جوړیږي، نو دا د بې اعتباره کولو یوه نمونه ده چې په دې توګه دوی مصرف کوونکو ته غلط معلومات لیږدوي، دغه روش دګمراه کولو د روش پر خلاف د یو شرکت د محصولاتو او خدماتو په باره کې نه ترسره کیږي بلکې ناسم معلومات یا مواد انتقالوي. (۱۱: ۲۳)

ولې د افغانستان د جزا کود د (۷۶۷) مادې په اساس هغه شخص چې د قرارداد کوونکي سره د سوداګریزو توکو په ترکیبي موادو کې تقلب وکړي نو دغه کړنه سوداګریز جرم ګڼل کیږي. (۴: ۷۶۷ماده)

**څلورم مطلب: د سوداکریز اسرارو افشاء کول**

د سوداکریزو مؤسساتو او د ستګاوو له اقتصادي او سوداکریزو اطلاعاتو څخه د غیر مجازو اطلاعاتو کسبول، سوء استفاده او یا هم د هغې افشاء کول نورو اشخاصو ته د دې سبب کیږي چې د مؤسساتو او اشخاصو د ډېرو هڅو نتیجه له منځه لاړه شي، نو دا د رقابت په حقوقو کې د نامشروع چلند په حیث ګڼل شوې ده او بیا په هغه صورت کې چې په رقابت کې د اخلال سبب وګرځي ممنوع ګڼل شوې ده، د پاریس د کنوانسیون (۱۰) لسمه ماده د نامشروع او غیر عادلانه رقابت په مقابل کې د

سوداکریزو اسرارو څخه خپل حمایت اعلان کړی او د وایپو د قانون د (٦) شپږمې مادې په اساس هر هغه عمل یا فعالیت چې د سوداکریزو او صنعتي فعالیتونو په عرصه کې د سوداکریزو اسرارو د افشاء، اکتساب او یا هم د استفادې سبب شي، یا هم د نورو په وسیله او د هغه شخص د رضایت پرته چې په مشروع طریقې سره خپل اطلاعات کنترولوي پداسې حال کې چې دغه عمل د صادقانه سوداکریزو اعمالو خلاف وي نو په حقیقت کې نامشروع رقابت ګڼل کیږي. ( ٢: ۴٦)

لیکن د افغانستان د (۱۳۹٦) کال جزا کود د (۷۵۸) مادې په اساس که چیرې یو شخص سوداګریز او صنعتي اسرار له معیاري سوداګریزو تګلارو سره په مغایرت کې یا د هغو د مالک له رضایت پرته، ترلاسه، استعمال یا افشاء کړي سوداګریز جرم ګڼل کیږي. (۴: ۷۵۸ماده)

## پنځم مطلب: په بازار او د سوداکریز رقیب په شرکت کې بینظمي او خلل ایجادول

ځینې وخت یو سوداګر د سوداکریز رقیب په شرکت کې اختلال ایجادوي او د غه کار شخص یا هم سوداکریز محل ته متوجه وي او د سوداکریز رقیب د شرکت یا هم د هغې د فعالیتونو ګډوډولو په خاطر ترسره کوي، چې بېلابېلې طریقې لري، یو له مهمترینو څخه یې د سوداکریز رقیب دکارمندانو هڅول او جذبول دي دکار د ترک یا هم په شرکت کې د اخلال د رامنځته کولو په خاطر او یا هم سوداګر د دې هڅه کوي چې د سوداکریز رقیب د کارمندانو په واسطه د هغه سوداکریز اسرارو او اطلاعاتو ته لاس رسی پیداکړي. (۱۲: ۲۸)

چې د غه چاره د افغانستان د(۱۳۹٦) کال جزا کود د (۷۵۳) مادې په اساس نامشروع (ناقانونه) رقابت ګڼل کیږي. (۴: ۷۵۳ماده )

مگرځینې وخت نوموړی سوداگر په ټول بازار کې اختلال ایجادوي او یو شخص د ځان لپاره هدف نه ټاکې، بلکې ټول هغه سوداگران چې په یوه مشابه ساحه کې سوداکریز فعالیتونه ترسره کوي د ځان لپاره هدف ټاکي، نو د غه اقدامات د نامشروع سوداکریز رقابت په حیث گڼل کیږي. (۷: ۱۸)

**درېیم مبحث: د نامشروع رقابت د مخنیوي لارې چارې**

د نامشروع رقابت د مخنیوی په موخه یو شمېر لارې چارې وجود لري چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

**لومړی مطلب: د زیان جبران**

د رقابت څخه د ملاتړ قانون د (۲۴) مادې په اساس که چېرې حقیقي اشخاص د رقابتي ضد تگلارو په نتیجه کې زیانمن شي، نو کولی شي د زیان د جبران د غوښتنې په منظور، واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي. که چېرې د زیان د جبران اندازه د سندونو او مدارکو له مخې تثبیت نشي، اندازه یې د تېر کال د بیلانس له مخې تثبیت او سنجول کیږي، که وارد شوی زیان د اړخونو له موافقې څخه په عمدي توگه رامنځ ته شوی وي نو سرغړونکی د اووښتي زیان د جبران په دوه چنده ورکولو مکلف دی. (۳: ۲۴ماده)

**دویم مطلب: مجازات**

که چېرې متشبثین، سوداگران، مؤسسې او شرکتونه د رقابتي ضد تگلارو مرتکب شي نو د رقابت څخه د ملاتړ قانون د (۲۶) مادې په اساس په نقدي جریمه محکومیږي، چې د نقدې جریمې اندازه د یاد قانون (رقابت څخه دملاتړقانون) پر بنیاد ټاکل کیږي. (۳: ۲۶ماده)

همدارنګه د ۱۳۹۶کال جزا کود د (۷۵۳) مادې په اساس که څېړې سوداګر په سؤنیت سره له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، له پنځو سو زرو څخه تر یو میلیون افغانیو پورې په نغدې جزا محکومیږي:

۱. په سوداګریزو چارو کې حیله یا دسیسه.

۲. د حقیقت د مخالفو مطالبو خپرول چې د بل سوداګر منفعت یا سوداګرت ته ضرر ورسوي.

۳. د بل سوداګر چې هم جنس کالي پلوري د پیرودونکېو د جلب په مقصد د امتعې دمنشاء یا او صافو یا د خپل سوداګرۍ د اهمیت په هکله د حقیقت مغایره شایعه او همدارنګه د هغه تصدیق لیک او مکافاتو اعلان چې حایز یې نه وي له حیلې څخه په ګټې اخیستنې سره د بل سوداګر یا فابریکې د مستخدمینو تطمیع له پیرودونکیو څخه داطلاع او د هغوی د جلب په مقصد.

۴. د بل سوداګر د اغفال په منظور د حقیقت خلاف د حسن خدمت د شهادت لیک تصدیق ورکول.

۵. د بل سوداګر د اخلاقي یا مالي اقتدار په اړه د حقیقت خلاف معلوماتو وړاندې کول.

د سوداګریزو اسرارو افشاء کول چې په نړیوالو حقوقي اسنادو کې په سوداګریزو چارو کې د نامشروع رقابت یو ډول ګڼل کېږي، ولې د افغانستان د(۱۳۹۶) کال جزا کود کې سوداګریز جرم ګڼل کېږي نو هر هغه شخص چې د دې عمل مرتکب شي دجزا کود د(۷۵۸) مادې په اساس په قصیر حبس محکومېږي. د سوداکریز توکو په ترکیبي موادو کې تقلب چې د سوداکریز رقیب د بې اعتباره کېدو سبب ګرځي په

نړيوالو حقوقي اسنادو کې د نامشروع رقابت يو ډول ګڼل کېږي، ولې د افغانستان په جزا کود کې سوداګريز جرم شمېرل کېږې چې د(۷۶۷) مادې په اساس هر هغه څوک چې د سوداکریزو توکو په ترکیب کې له تقلب څخه کار واخلي په قصير حبس او د حبس معادل په نغدي جزا محکومېږي. (۴: ۷۶۷-۷۵۳ مادې)

**پایله**

دا چې د ملي او نړيوالو حقوقي اسنادو په رڼا کې مو په سوداګريزو چارو کې نامشروع رقابت وڅېړه، نو د څېړنې په پای کې لاندې نتيجې ته ورسيدم:

د نامشروع رقابت لپاره د افغانستان په قوانينو کې کوم ځانګړی تعریف نه دی شوی، بلکې يوازې د نامشروع رقابت روشونه يا تګلارې ذکر شوي دي. مګر د پاريس د کنوانسيون په اساس نامشروع رقابت داسې تعريف شوی دی، هر ډول رقابت چې د روښانه او صادقانه کړنلارو پرخلاف په سوداکريزو او صنعتي امورو کې ترسره شي نامشروع رقابت ګڼل کېږي.

په ملي او نړيوالو حقوقي اسنادو کې د نامشروع رقابت يو شمېر روشونه په ګوته شوي لکه: د شبهې ايجاد، د سوداکريز رقيب بې اعتباره کول، د سوداګريزو اسرارو افشاء کول، د ټولو ګمراه کول، په بازار او د سوداکريز رقيب په شرکت کې بينظمي او خلل ايجادول.

د سوداګريزو اسرارو افشاء کول او د سوداګريز رقيب بې اعتباره کول د ملي قوانينو په اساس د سوداګريزو جرايمو له جملې څخه ګڼل کېږي.

په سوداګريزو چارو کې د نامشروع رقابت د مخنيوی په موخه په ملي حقوقي اسنادو کې لازم تدابير پيشبيني شوي دي چې د هغې له جملې څخه يو هم د زيان جبران او بل هم مجازات دي، ليکن په بين المللي حقوقي اسنادو کې بيا يوازې د حمايت

خبره شوې ده او غړي هېوادونه يې ملزم کړي چې په سوداګریزو چارو کې د نامشروع رقابت مخه ونیسي.
د ملي حقوقي اسنادو په اساس هر هغه څوک چې د رقابتي ضد تګلارو مرتکب شي حالاتو ته په کتو سره په نغدي جزا او یا هم په قصیر حبس محکومیږي؛ مګر په بین المللي حقوقي اسنادو کې بیا دغه ډول وړاندوینه شتون نه لري. په اخر کې ویلی شو چې د نامشروع رقابت د مخنیوي په هکله ملي حقوقي اسناد غني او کافي مواد لري، نسبت بین المللي حقوقي اسنادو ته.

**مناقشه**

ما چې تر کومه حده پلټنه او څېړنه کړې، نو په اساس يې ویلی شم چې تر اوسه پورې د دې موضوع (په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت) ترعنوان لاندې زموږ په هېواد کې کومه مشخصه او ځانګړې لیکنه نه ده شوې او نه هم کوم چا په دې هکله کوم مشخص کتاب لیکلی چې د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو له نګاه نه يې دا موضوع څېړلې وي، خو د نامشروع رقابت موضوع د افغانستان په قوانینو کې(د رقابت څخه د ملاتړ قانون او جزاکود) چې داخلي جنبه لري موجوده ده، چې په دې قوانینو کې د نامشروع رقابت روشونه او د مخنیوي لارې پیشبیني شوي دي، همدارنګه په بین المللي حقوقي اسنادو(پاریس او وایپو کنوانسیونونو) کې هم نامشروع رقابت ذکر دی چې په یادو اسنادو کې د نامشروع رقابت مفهوم، اشکال او د حمایت موضوعات یې تصریح شوي دي، هغه کتابونه چې د فارسي، عربي او غربي لیکوالانو لخوا لیکل شوي، په یادو کتابونو کې نامشروع رقابت د بین المللي حقوقي اسنادو له نظره څېړل شوي دي، په داسې حال کې چې په دغه لیکنه کې نامشروع رقابت د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو له نظره څېړل شوی، نو په خلص

ډول ویلی شم چې زما لیکنه د دې نورو لیکنو سره کاملا توپیر لري او دا په خپل ذات کې یوه نوې څېړنه بلل کېږي.

**وړاندیزونه**

۱. سوداګر او سوداګریزې ادارې  باید ټول سوداګریز قوانین او په ځانګړي ډول د رقابت څخه د ملاتړ قانون او د جزا کود احکام مطالعه کړي، ترڅو په یادو قوانینو کې د ذکر شوو کړنو او روشونو مرتکب په عمل کې ونه ګرځي.

۲. سوداګر او سوداګریزو ادارو ته باید په عمومي ډول د سوداګریزو قوانینو او په ځانګړي ډول د نامشروع رقابت په هکله سیمینارونه او ورکشاپونه دایر شي، تر څو د خپل مسلک مطابق د اړونده قوانینو څخه پوره فهم او پوهه ترلاسه کړي.

۳. د دې لپاره چې په سوداګریزو چارو کې نامشروع رقابت رامنځته نه شي، نو د سوداګرو او سوداګریزو ادارو کړنې او فعالیتونه تر نظارت او څارنې لاندې ونیول شي.

۴. هر هغه سوداګر او یا هم سوداګریزه اداره چې د نامشروع رقابت مرتکب ګرځي باید د رقابت څخه د ملاتړ قانون او جزا کود د احکامو مطابق مجازات شي، ترڅو عدالت په ټولنه کې تامین او د نورو لپاره د عبرت سبب وګرځي.

**ماخذونه**


۱- القران الکریم

۲- سیمایی حسین ، صراف ــ عاصف، حمد الهی. (۱۳۹۴ل)،.مفهوم رقابت نامشروع سوداگری ومقایسه آن با نهادهای مرتبط.

۳- عدلیې وزارت، رسمي جریده.(۱۳۸۸). د رقابت څخه د ملاتړ قانون، ګڼه: ۱۰۱۰.

۴-عدليې وزارت، رسمي جريده.(۱۳۹۶). جزا کود، پرلپسې ګڼه ۱۲۶۰.

۵- معين،محمد .(۱۳۷۶). فرهنگ معين، ج ۲، تهران: مؤسسه انتشارات اميرکبيرفرهنگ معين.

٦- يونس، علي حسن. (۱۹۷۴). المحل السوداگری ، دارالفكرالعربی.

7- Antoine PIROVANO, Repertoire de droit commercial, tome 2, 2emeed, Paris: Editions Dalloz, 1998.

8 - Knight. F, The Economic Organization, Quarterly Journal of Economics, Oxford University Press, vol. 37, 1923.

9 - Paris Convention for the Protection of Industrial Property, Available at: https://www.unido.org/sites/default/files/2014-04/Paris_Convention_0.pdf

10 - Shilling, Dana, *Essentials of Trademarks and Unfair Competition*, New York: John Wiley & Sons, Inc., 2002.

11 - Wipo, Geneva, Protection Against unfair competition: analysis of the present world situation, World Intellectual Property Organization, 1999.

12 - Yves SERRA, Repertoire de droit commercial, concurrence deloyal, Paris: Dalloz, 1996.

**اسلام الدين منيب**
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانگه
لارښود استاد: پوهنوال منگل شېرزاد

# په اسلام کې د چکچکو حکم

**لنډيز**

لومړی چکچکې يو لاس په بل لاس په داسې طريقه وهل چې اواز يې واورېدل شي او چکجکې ځينې مباحې دا هغه چکچکې دي چې د خبرتيا پر اساس باندې رامنځته کيږي لکه يو کس چې د کور څخه بهر ولاړ وي او د چکچکو په وهلو سره کوروالا ته خپل موجوديت ښايي، ځينې مشروع دا هغه چکچکې دي چې ښځې يې په لمانځه کې د امام د سهوې په خاطر وهي چې امام خپلې غلطۍ ته متوجه کړي.

او ځينې حرامې دي چې دا د فحاشۍ خورولو او يا د خير کار د منع کولو لپاره وهل کيږي؛ لکه په ودونو کې د موسيقۍ سره چکچکې او يا لکه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم)او د مؤمنانو د عبادت په وخت کې د مشرکانو چکچکې، چې مسلمانان به يې په لمانځه کې گډوډول او ځينې هغه چکچکې دي چې علماء د هغې په حکم کې اختلاف نظر لري، لکه په مجالسو کې د تشويق او هڅونې په خاطر،چې تفصيلي بحث به يې وروسته انشاء الله په مقاله کې وشي.

د دې ليکنې څخه مې هدف او موخه داده جې د افغنستان دخلکو هغه تشويشونه جې چکچکو د مشروعت او عدم مشروعت په اړه يې لري رفعه شي او د دې لپاره مې په دغه مو ضوع کې ليکنه وکړه، چې خلک مشروع او غيری مشروع چکچکي

وپيژني او غير مشروع او ناروا چکچکو څخه چې داخروی عذاب سبب ګرځی ځان.

**سريزه**

إن الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، و أشهد أن محمداً عبدُه و رسولُه قال تعالى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ).(سورت ال عمران،ايات١٠٢). وقال تعالى: (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَتَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً). (سورت النساء، ايات١). وقال تعالى:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا). (يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيمًا). (سورت الاحزاب، ايات ٧٠- ٧١).

**أما بعد:** د الله (جل جلاله) حمد او ثنا ده چې په انساني بڼه يې زموږ خلقت کړی دی او د دې پيرزوينې سره سره يې په اسلامي دين د مشرف کېدو پيرزوينه يې هم پر موږ باندې کړې ده.

د اسلام په مبارک دين کې ډېرې زياتې ځانګړتياوې موجودې دي او هيڅ شی يې هم پټ نه دی پرېښی هر څه يې روښانه او څرګند کړي دي، حتی د سر وينښتانو څخه شروع بيا د پښو د کوچنۍ ګوتې تر نوک پورې. دين د انساني ژوندانه چارو کې شامل او سمبالونکی دی.

الحمدالله زموږ ټولنه اسلامي ده او نور هم باید د اسلامي اصولو د غښتلي کېدو لپاره په کې کار وشي او د اسلام د دین اصول او لوړمفاهیم ورته ښه څرګند شي، چې یو د هغو څخه د تصفیق یا د چکچکو حکم دی، چې زموږ په ټولنه کې یو څه زور اخستی دی، نو اړینه ګڼل کېږي تر څو د دې موضوع شرعي حکم را برسېره شي او د خپلې ټولنې سره یې شریک کړی او د دې لیکنې په وسیله زموږ د ټولنې مشکل چې د چکچکو د شرعي حکم په اړه یې لري حل شي، ځکه چې د ډېرې زمانې نه را په دېخوا علماء د دې په حکم کې اختلاف لري چې ایا دا چکچکې جایز دي که حرامې او که مکروه.

لازمه مې وګڼله څو په دې موضوع کې یوه مقاله ولیکم ، نو د الله (جل جلاله) شکر ادا کوم چې ماته یې د دې لیکنې د بشپړولو توفیق راکړ او د لوستونکو څخه مې دا هیله ده چې په ما باندې د انتقاد کولو نه مخکې د علماؤ پر اختلاف چې په شرعي دلایلو ولاړ دی نظر واچوي او په دې خبره پوهه شي چې یوازې الله (جل جلاله) د خطاء څخه پاک او ټول انسانان د خطاء څخه خالي نه دي.

**دغه مقاله په ټولنه کې کومه ستونزه هواره وي؟**

څرنګه چې په ملي او بین المللي سطحه باندې د ډېرو کلونو را په دیخوا په مجلسونو او غونډو کې د تشویق او هڅونې لپاره چکچکې وهل کېږي او د دې شرعي حکم په مکمل ډول معلوم نه وو ، نو د دې لیکني په ترڅ کې به لوستونکو ته د دې شرعي حکم او نور نوي او ضروري معلومات تر لاسه شي.

**د لیکنې ارزښت**

دا چې چکچکې په ملي او نړیواله کچه په مجلسونو کې د تشویق او هڅونې لپاره وهل کېږي او ځینې علماء په دې کې سخت دریزي کوي، حتی که څوک په

مجلس کې دا عمل تر سره کړي، نو گناه کبیره خو لا څه کوي چې د کفر نسبت ورته کوي، نو ما مهمه وگڼله، تر څو په دې اړه لیکنه وکړم او شرعي حکم یې رابرسیره کړم، چې په دې مورد کې د خلکو ستونزې حل شي، نو په دې اساس سره د چکچکو د حکم لیکنه د لوي ارزښت څخه برخمنه ده.

## د لیکنې د اختیار لاملونه

زما د لیکنې (په اسلام کې د چکچکو حکم) د اختیار لاملونه په لاندې ډول دي:

۱- څرنگه چې د اسلامي ټولنې ټول کړه وړه باید د شریعت سره برابر وي او هریو عمل چې کوي باید شرعي حکم ولري، نو د دې حکم دپوهېدلو لپاره مې دا مقاله غوره کړه.

۲- څرنگه چې چکچکې زموږ په ټولنه کې زیاتې رواج شوې دي او په حکم کې یې علماء د نظراختلاف لري، ما هم په دي مو ضوع کې یوه مقاله ولیکله ترڅو حکم یې د شرعیت په رڼاکې وڅېړم .

۳- څرنگه چې چکچکې بېلابېل ډولونه لري او هر یو یې جلا حکم لري، نو د دې د توپیر لپاره ما دغه لیکنه غوره کړه .

## د لیکنې موخې

د دې لیکنې څخه لاندې اهداف ترلاسه کولای شو.

۱. په دې څېړنه کې خلکو ته په اسلام کې د چکچکو حکم ورپېژندل کېږي، څرنگه چې د دې موضوع په اړه په قرآن کریم او احادیثو کې بحث شوی نو ما د پورتنیو مصادرو څخه په گټنې په نوموړې موضوع کې ټول احکام وڅېړل.

۲. دا چې چکچکې په اسلامي او غير اسلامي هېوادونو کې په بېلابېلو شکلونو د خپل دستور مطابق ترسره کېږي نو ځکه مې اړينه وګڼله چې د هغې حکم هم بيان کړم.

**پخوانيو ليکنو ته کتنه**

زما د معلوماتو پر اساس تر اوسه پورې د دې موضوع تر عنوان لاندې کومه ځانګړې ليکنه نه ده شوې ، خو د شريعت په کتابونو کې د چکچکو د حکم يادونه په پراګنده ډول ذکر شوې او په دې مقاله کې ما د يوې ځانګړې موضوع په شکل د په اسلام کې چکچکو حکم تر عنوان لاندې تشريح کړې ده او په مخکنيو ليکنو کې زموږ د هېوادوالو لپاره لويه ستونزه داوه، چې مخکنۍ ليکنې او د علماؤ فتواګانې په عربي ژبه کې ليکل شوي دي او زما دا مقاله په پښتو ژبه کې چمتو شوې

**د ليکنې تګلاره**

هره څېړنه د يوې ځانګړې تګلارې(ميتود) له مخې ترسره کېږي، له دې پرته څېړنه له ستونزو سره مخ کېږي، ځکه ميتود څېړونکې ته د لارې د مشال حيثيت لري، ما په دې ليکته کې د کتابونو پر مټ له استقرايي ميتود څخه کار اخيستی، د موضوع په راغونډولو کې تر ډېره کوښښ کړی، چې د اصلي او اساسي سرچېتو څخه ګټه واخلم.

که چېرې په موضوع کې کوم قرآني ايات کريمه راغلی، نو ايات شريف په رسم عثماني، د ژباړې سره ليکل شوی او هم يې په خوا کې د سورة نوم او ايت شمېره هم ذکر شوې؟

**پوښتنې**

په دې لیکنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي

۱- چکچکې څه ته وايي؟

۲- چکچکې په څو ډوله دي؟

۳- په اسلام کې چکچکو حکم څه دی؟

**د چکچکو پېژندنه**

چکچکو ته په عربي ژب دود کې تصفيق وايي تصفيق په لغت کې (اَلضَّــرْبُ الَّـذِيْ يُسْمَعُ لَهُ صَوْتٌ).(۸: ۳۷۵)

**ژباړه:** هغه وهل چې د هغې اواز واربدل شي.

او په اصطلاح کې (ضَرْبُ الْيَدَيْنِ إِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرى) د دواړو لاسونو يو د بل سره وهلو ته چکچکې وايي.(٦ :١٥)

**د چکچکو د استعمال ډولونه**

د چکچکو د استعمال لپاره علماؤ ډېر ډولونه ذکر کړي دي، چې موږ يې په لاندې ډول سره تشريح کوو:

**لومړی:** د خوشحالۍ لپاره چکچکې وهل لکه په ودونوکې، په منظم ډول د موسيقۍ سره چکچکی وهل.

**دويم:** د عبادت په خاطر چکچکې وهل دا هغه چکچکې دي چې دجاهليت په زمانه کې مشرکانو او نورو کفارو به د عبادت په شکل د بيت الله په خوا کې وهلې، دا کار به يې عبادت ګڼلو او د دې په ترڅ کې به يې مسلمانانو ته تکليفونه هم رسول.

**درېيم**: د خبر داري لپاره چکچکې وهل لکه يو شخص د بل چا کور ته داخلېږي او اراده يې داوي چې کور والا خبر کړي، چې زه راغلی يم د دې په خاطر چکچکې ووهې.

**څلورم**: د تشويق او هڅونې لپاره چکچکې وهل لکه عام خلک چې د يوچا په خاطر په يو مجلس کې کله چې يو ښايسته شعر او خطبه وړاندې کړي چکچکې وهي. (٦ : ١٩) چې حکم يې په بشپړ توګه په لاندې ډول روښانه کېږي.

**د چکچکو حکم**

چکچکې دحکم په اعتبار سره په درې ډوله دي.

**لومړی ډول حرامې چکچکې**: دا هغه چکچکې دي چې شر خپروي لکه په ودونو کې چکچکې وهل د موسيقۍ سره، چې دا کار د فاحشۍ د خوړولو يوه وسيله ده او يا هغه چکچکې چې د ښه کارونو مانع ګرځي، چې دا کار به مشرکانو کاوه کله، چې به مسلمانان لمانځه ته ودرېدل نو دوی به شپېلۍ او چکچکې وهلې او مسلمانان به يې لمانځه ته نه پرېښودل او د هغوی ذهن به يې په لمانځه کې ګډوډ کړ، چې قرآن کريم کې الله (جل جلاله) پرهمدې رد کړي:(وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً). (سورت الانفال ايت،٣٥)

**ژباړه:** بيت الله ته د دې خلکو لمونځ څه وي، خو شپېلۍ غږ وي او چکچکې وهي.(١١: ٢٣٧).

امام قرطبي (رحمه الله) د ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه نقل قول کوي، چې قريشو مشرکانو به د کعبې شريفې طواف په بربنډه توګه کاوه، چکچکې او شپېلي به يې

وهل او دا د دوی په گمان عبادت و او په ضمن کې به يې مسلمانانو ته تکليف هم رساوه، چې دا عمل د مشرکانو ناروا او دخير کارونو نه منعه او حرام دی. (۴: ۴۰۰)

**دويم. روا چکچکې**

دا هغه چکچکې دي، چې زنانه يې په لمانځه کې وهي يعنې کله چې امام پسې نارينه او زنانه ولاړ وي او نارينه د امام په سهوې پوهه نه شي، نو په ښځينه لازم دي چې په چکچکو سره امام ته فتحه ورکړي ځکه نبي (صلى الله عليه وسلم) وايي :

(عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَا لَكُمْ حِينَ نَابَكُمْ شَيْءٌ فِي الصَّلَاةِ أَخَذْتُمْ فِي التَّصْفِيقِ إِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ اللَّهِ ).(۷:۷/ ۴۰۰)

**ژباړه:** سهل بن سعد (رضی الله عنه) د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) څخه روايت کوي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي : ای خلکو کله چې تا سو په لمانځه کې سهوه شي، تاسو چکچکې وهئ، يقينا چکچکې دښځو لپاره دي، نو نارينه دی سبحان الله ووايي.

**دريیم ډول: هغه چکچکې چې د هغې په حکم کې د علماؤ اختلاف دی**

په مجلسونو کې د تشويق او هڅونې چکچکې دي چې ځينې علماء ورته ناجايز او ځينې ورته مباح وايي:

**اول قول:** د جمهورو علماؤ دي، دوی چکچکې په مجلسونو او غونډو کې د تشويق او هڅونې په خاطر حرامې بولې او دلايل په لاندې ډول وړاندې کوي.

لومړی دليل: چکچکې د نبوي دور او همدغه راز د صحابه وو د کړنو سره هيڅ سمون نه خوري، ځکه هيڅ وخت په دوی کې داسې پېښه نده شوې، چې دوی

پرې خوشحاله شوي وي او لاسونه يې پړکولي وي، دوی ته به چې د خوشحالۍ خبره راغله نو خپله خوشحالي به يې په حمد، ذکر او تکبير ويلو سره څرګندوله؛ د دې موضوع د اثبات لپاره ډېر زيات مثالونه شته چې د هغې څخه يو هم د عبدالله بن زبير (رض الله عنهما) د زېږېدني واقعه ده، کله چې مسلمانان مديني منورې ته مهاجر شول، يهودو به ويل چې صحابه زموږ د سحر تر اثر لاندې راغلل او نارينه اولاد نه شي زېږولای، کله چې عبدالله بن زبير (رضی الله عنهما) وزېږېد، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) صحابه (رضی الله عنهم) خوشحاله شول او د خوشحالۍ نه يې تکبيرونه وويل).(۲: ۸۰/۴)

دويم دليل: تصفيق يا چکچکې د مېرمنې خلاف عمل دی ( د ښځو سره مشابهت دی.

په حديث شريف کې د ښځو لپاره د لمانځه په دوران کې چکچکې کول د اشارې په ډول صرف يو جايز عمل دی، نو د نارينه و چکچکې د ښځو سره مشابهت دی چې په حديث کې ورڅخه منع راغلې ده رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي:

(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "، قَالَ حَجَّاجٌ فَقَالَ: لَعَنَ اللهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ).(۹: ۴۰۴/۴)

**ژباړه:** عبدالله بن عباس (رضی الله عنهما) فرمايلي دي چې د الله رسول (صلی الله عليه وسلم) **لعنت** ويلی دی، حجاج چې د حديث راوي دی د ده په روايت کې دي چې الله (جل جلاله) لعنت کړی په هغه نارينه و چې د ښځو سره مشابهت کوي او هغه ښځې چې د نارينه و سره مشابهت کوي.

دريېم دليل: په دې کې د غيرو مسلمو سره ورته والی راځي او د غيرو مسلمو سره ورته والی حرام دی، ځکه چې عيسويان په خپلو مذهبي مراسمو کې ساز، سرود او

سندرو کې چکچکې وهي، حديث کې راغلي (عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله وعليه وسلم- « مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ »).(۳: ۷۸/۴)

ژباړه: د عبدالله ابن عمر (رضى الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي چا چې ديو قوم سره مشابهت وکړو دا به د دوی نه وي.

**دويم قول:** د ستر فقيه شيخ محمد بن صالح العثيمن (رحمه الله) وايي، چکچکې په مجلسونو کې د تشويق او هڅونې په موخه مباح دي.

له نوموړي څخه چا پوښتنه وکړه ! چې د خوشالۍ، کاميابۍ، د سم ځواب ورکولو او د شاگرد د تشجيع او هڅونې لپاره چکچکې وهل څه حکم لري؟

ستر فقيه شيخ محمد بن صالح العثيمن (رحمه الله) ورته په ځواب کې وويل چې په دې کار کې هيڅ حرج نه شته دامباح عمل دی يعنې دا کار حرام يا مکروه نه دی.

شيخ (رحمه الله) وايي کومه منعه چې حديث د سهل بن سعد (رضى الله عنه) کې راغلې چې (إِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ). يقيناً چکچکې د ښځو لپاره دي دا حکم په لمانځه کې دی او په مجلسونو کې د چکچکو وهلو پورې هيڅ تړاو نه لري.

او دا قول د الله تعالی چې فرمايي: (وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً). (سورة الانفال ايت : ۳۵.)

**ژباړه:** بيت الله ته د دې خلکو لمونځ څه وي خو شپېلی غږه وي او چکچکې وهي. (۱۱: ۲۳۷)

شيخ (رحمه الله) وايي چې په دې آيت کې په مجلسونو کې د چکچکو وهلو په حرمت باندې هيڅ دليل نشته، هغوی دا کار د عبادت په شکل کاوه، خو که څوک د يو

انسان په ښه کار کردګۍ او ترقۍ په خاطر هغه ته د تشویق او هڅونې په اساس چکچکې ووهي، نو زه په دې کار کې هیڅ حرج نه وینم.(۱۰: ۱)

راجح قول د شیخ (رحمه الله) دی ځکه په دې کې صریح قطعي دلیل نه شته او د حرمت کوم دلایل چې جمهور علماوو پورته ذکر کړي د هغوی مورد جلا او د دې جلا دی، ځکه هغه د عبادت په نیت کېده او په دې کې د عبادت نیت نه شته، بلکې د یو مباح کار لپاره تر سره کېږي چې یوازې تشویق او هڅونه ده.

خو زما په کمزوري نظر سره غوره دا ده، چې په داسې ځاینو کې چې هلته تشویق او هڅونه مقصد وي، سبحان الله، الله اکبر او ماشاءالله دې وویل شي، ځکه همدغه کلمات په نبوي سنت کې راغلي دي.
نبي کریم(صلی الله علیه وسلم) به چې کوم شي نه متاثره شو او یا به یې هغه کړنه او عمل خوښ شو نو تسبیح، تکبیر او ماشاءالله به یې ویل، مګر دا خبره چې چکچکې حرامې دي په دې کې هیڅ نوعه قطعي دلیل نه شته او اصل په اشیاؤ کی اباحت دی، والله اعلم.

**پایله**

د لوی الله (جل جلاله) ښخه خوښ او خوشحاله یم چې ماته یې توفیق او توان راکړ، څو د زیاتو مشکلاتو او ستونزو سره سره دا بحث چې (په اسلام کې د چکچکو حکم) ترعنوان لاندې ترتیب او مکمل کړم ، انسان یو عاجز او کمزوری مخلوق دی، کیدای شي چې دغه بحث څه نا څه نیمګړتیا ولري، څنګه چې د دې موضوع حق دی هماغسې مې ونه شو کولای چې ویې لیکم، خو بیا هم ما د خپل وس او طاقت مطابق کوښښ وکړ او د ډیرو سرچینو څخه مې ګټه اخیستې او په ساده پښتو ژبه مې دا مقاله لیکلې ده او په دې مسئله کې مې د علماؤ کرامو قولونه او دلیلونه ذکر کړل

خو بیا هم که چېرته زما څخه کومه اشتباه ، غلطي او نیمګړتیاوي شوي وي نو د الله (جل جلاله) نه ښښنه غواړم او درنو لوستونکو څخه د غلطۍ د اصلاح غوښتونکې یم ، د لیکنې څخه وروسته د موضوع په هکله لاندې نتایجو ته ورسیدم.

۱- چکچکې و پیژندل شوې چې یو لاس په بل لاس سره وهل په داسې ډول چې اواز یې واورېدل شي.

۲- د چکچکې ډولونه ذکر شول چې عبارت دی له:

الف: مباح چکچکې دا هغه چکچکې دي چې د خبرتیا پر اساس رامنځته کېږي لکه یو کس چې د کور څخه بهر ولاړ وي او د چکچکو په وهلو سره کوروالا ته خپل خبر ورکوی.

ب: مشروع چکچکی دا هغه چکچکې دي چې ښځې یې په لمانځه کې د امام د سهوې په موخه وهي چې امام خپلې غلطۍ ته متوجه کړي.

ج: حرامې چکچکې دا هغه چکچکې دي چې د فحاشی خوړولو او یا د خير کار د منع کولو لپاره وهل کېږي؛ لکه په ودونو کې د موسیقۍ سره چکچکې او یا لکه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د مؤمنانو د عبادت په وخت کې د مشرکانو چکچکې، چې مسلمانان به یې په لمانځه کې د سهوې سره مخامخ کول .

د- هغه چکچکې چې علماء د هغې په حکم کې اختلاف نظر لري، لکه په مجلسونو کې د تشویق او هڅونې په خاطر چې دې کې غوره قول دا دی چې دا ډول چکچکې یو مباح عمل دی او د حراموالي لپاره په کې هيڅ صریح دلیل نشته .

په اخرکې مې غوره قول  او د غوراوالي دلیل او حکم ذکر کړی. وصلی الله تعالی علی نبینا محمد واله وصحبه اجمعین.

**مناقشه**

کله چې مناقشې ته داخلیږو نو ویلای شوو، چې چکچکې  مختلف ډولونه لري چې ځینې په مطلق ډول سره مباحې او ځینې حرامې او ځیني مستحبې او ځینو کې دعلماؤ اختلاف دی چې هغه په مجالسو او محافلو کې د هڅوني او تشویق لپاره وهل کیږي چې دې کې د علماؤ دوه نظرونو شتون درلوده چې یو د جمهورعلماء نظر وو چې په داسې مواضعو کې چکچکې وهل حرام دی او دوی په عامو نصوصو استدلال کوي او وایي چې په داسې مواردو کې به ماشاء الله او سبحان الله ویل کیږي او بل قول د شیخ عثیمن (رحمه الله) دی د ده په نظر په داسې مواردو کې چکچکې وهل مباحې دي دا وایي چې حرمت دیو شي دلیل قطعي غواړي او په دې مورد کې هیڅ نوعه دلیل قطعي نه شته او اصل په اشیاؤ کې اباحت دی او هر چې دجمهور علماء دلایل دي دهغې مورد جلا دی او د دې جلا دی.

**پایله اخستنه**

د معلوماتو د تحلیل په اساس ویلای شوو چې کومې چکچکې حرامې او یا مباحې او یا مستحبې دي او د دې حکم په دلیل قطعي سره ثابت دی په هغه کې خو هیڅ خبره نشته اما هغه چکچکې چې د هغی په حکم دلیل قطعي نشته چې هغه په مجالسو او محافلو کې دهڅونې او تشویق لپاره دی په دې کې ښه خبره داده چې په دې کې ماشاء الله او سبحان الله وویل شي، خو بیا هم که څوک چکچکې ووهي نو دا یو مباح عمل دی او مرتکب ته یې بد نسبت په کار نه دی.

## د قرآني آياتونو ليکلړ

| ګڼه | ايات | د ايات ګڼه | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | **سورة آل عمران** | | |
| | يَا أَيها الذين آ مَنُوا اتقُوا اللهَ حَق تُقَاته | ۱۰۲ | ۱ |
| ۲ | **سورة النساء** | | |
| | يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ | ۱ | ۱ |
| ۳ | **سورة الاحزاب** | | |
| | يَا أَيها الذين آمنوا اتقوا الله وقولوا قَولاً سَديداً. | ۷۱ | ۱ |
| ۴ | **سورة الانفال** | | |
| | وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً | ۳۵ | ۶ / ۸ |

## د نبوي احاديثو ليکلړ

| ګڼه | احاديث | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | لَعَنَ اللهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ | ۷ |
| ۲ | مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ | ۸ |
| ۳ | يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَا لَكُمْ حِينَ نَابَكُمْ شَيْءٌ فِي الصَّلَاةِ أَخَذْتُمْ فِي التَّصْفِيقِ إِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ اللَّهِ | ۶ |

**وړانديزونه**

په مجلسونو کې د چکچکو د شرعي حکم ترعنوان لاندې د دې څېړنيزې ليکنې په پای کې مناسبه ګڼم چې د ټولنې د اصلاح او ښه والي په خاطر لاندې وړانديزونه وکړم.

۱. د علماؤ څخه مې داغوښتنه ده چې تحقيق نه مخکې په يوه مسئله د روا او ناروا حکم ونه کړي.

۲. د ټولنې وګړو نه مې دا غوښتنه ده چې له بې ځايه چکچکو څخه ځان وژغوري ترڅو په ګناه کې اخته نه شي.

۳. د محصلينو او نورو باسواده خلکو نه مې دا غوښتنه ده، چې د تشويق او هڅونې په مجلسونو کې د چکچکو پر ځای د تسبيح او تکبير نه کار واخلي.

**ماخذونه**


۱. القران الكريم

۲. ابن حجر، أحمد بن علي, عسقلان.( 1415 هـ) . الإصابة في تمييز الصحابة . بيروت : دار الكتب العلمية .

۳. أبو داود، سليمان بن الأشعث السجستاني. سنن أبي داود بيروت: دار الكتاب العربي.

۴. أبو عبد الله، محمد بن أحمد قرطبي .( 1964 م) الجامع لأحكام القرآن. قاهرة: دار الكتب المصرية .

۵. الألباني،محمد ناصر الدين .( 1420هـ)، صحيح وضعيف سنن ابن ماجة . الإسكندرية: مركز نور الإسلام لأبحاث القرآن والسنة .

٦. العبدل،محمدبن فنخور , القول العريق في حكم التصفير والتصفيق الرياض: المعهد العلمي.

٧. بخاري، محمد بن إسماعيل . صحيح البخار.هند: ملتقى اهل الحديث.

٨. رازي ، محمد بن ابى بكر . (١٩٩٥م). مختار الصحاح. بيروت : لبنان.

٩. شيباني ، أحمد بن محمد بن حنبل.(241هـ). مسند الإمام أحمد بن حنبل . ناشر: مؤسسة الرسالة. لومړی چاپ، 1421 هـ - 2001 م .

١٠. عكاظ جريده، شميره.( ١١٠١٢). تاريخ ١۴١٧/۵/٢۴هـق: سعودی.

١١. كشاف، قيام الدين. تفهيم القران. پښتو ژباړه pdf .

**خوشحال جواد**
حقوقو سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالی څانګه
لارښود استاد: پوهنوال منګل شېرزاد

# نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه

**لنډیز**
کله چې د دوه یا څو دولتونو تر منځ د یو حق د اجرا، تطبیق یا تفسیر پر سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړیوالې حقوقي شخړې ویل کیږي. د عدالت د نړیوالې محکمې د اساسامې د ۳۶مې مادې د دویم بند پر بنسټ نړیوالې حقوقي شخړې عبارت دي له: (د معاهداتو د تفسیر څخه راپیدا شوې شخړې؛ د بین المللي حقوقو له موضوعاتو څخه د یوې مسالې څخه راپیدا شوې شخړې (لکه دیپلوماتیک مصونیت)؛ د هر هغې مسالې څخه راپیدا شوې شخړې چې د ثبوت په صورت کې د یوې بین المللي ژمنې نقض وګڼل شي (مثلاً تېری)؛ د بین المللي خسارې د جبران د نوعیت او اندازې ( چې د یوې بین المللي ژمنې د نقض له امله صورت نیسي ) څخه راپیدا شوې شخړې.

نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه د حقوقو یو مهمه موضوع ده ځکه په نړیواله کچه د دولتونو تر منځ حقوقي شخړې ډېرې زیاتې رامنځ ته کیږي چې ان په ځینو وختونو کې د دولتونو تر منځ د لویو جنګونو باعث هم ګرځي او د نړۍ سوله او ثبات په خطر کې غورځوي پر همدې مبناء د دولتونو سیاسي استازو او دیپلوماتانو ته پکار دي چې د نړیوالو حقوقي شخړو ماهیت

وپېژنئ او په دې باندې پوه شئ چې یادې شخړې څنګه نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمې ته وړاندې او حل او فصل کېږي.

د دې علمي مقالې د لیکلو اساسي موخې د نړیوالو حقوقي شخړو د ماهیت پېژندل او په حقوقي طریقه د هغوی د حل او فصل په پروسیجر او اصولو باندې پوهېدل دی. د دې موضوع د لیکلو لپاره د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د معتبرو اثارو او کتابونو څخه مو معلومات راټول کړي دي.

نړیوالې حقوقي شخړې په دوه طریقو حل او فصل کېږي: غېر حقوقي یا دیپلوماتیکې طریقې او حقوقي طریقې (ارګانونه)؛ غېر حقوقي یا دیپلوماتیکې طریقې مذاکراتو، نیکو هڅو، منځګړیتوب، څېړنې او جوړ جاړي ته شاملې دي او حقوقي طریقې (ارګانونه) نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمه په بر کې نیسي.

**سریزه**

وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾

**ژباړه**: ای پیغمبره که کفار د صلحې لپاره میلان وکړي نو ته هم میل وکړه دې صلحې ته، او په الله ( جل جلاله ) تـوکـل وکړه او د دوي له مکره مه ویریږه، بیشکه الله (جل جلاله) اوریدونکی دی.

د پورته ایت په مصداق د اسلام مبارک دین اصل په اړیکو کې سوله ګڼي، جنګ ته په کرکه ګوري او د شیطان لار یې بولي اسلام تاکید کوي چې څوک د جنګ پر لاره قدم ږدي؛ نو په حقیقت کې یې د شیطان پر لاره قدم ایښی، اسلام دا هم

تصریح کوي چې هر چا مسلمانانو ته د سولې وړاندیز وکړ، مسلمانان باید د هغوی پر وړاندې له جنګ څخه لاس واخلي او مسلمانانو ته په کار نه دي چې پر هغوی له دې امله جنګ تحمیل کړي، چې هغوی مسلمانان نه دي.

په همدې اساس مسلمانان تل د غیرې مسلمانانو سره د ښو او نیکو اړیکو غوښتوونکي دی تر څو دوی یو د بل د امکاناتو، وسایلو او تجاربو څخه ګټه واخلي، خودغه اړیکې باید د مسلمانانو د سپکاوي او د عقیدې د خرابوالي سبب ونه ګرځي.

کله چې لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېده دولتونو په نړۍ کې د سولې او ثبات د ټینګښت او د بلې دغه ډول یوې جګړې د مخنیوي لپاره د ملتونو ټولنې (جامعه ملل) میثاق تدوین او د نورو اصولو او پرنسیپونو تر څنګ یې په خپله ۱۲ او ۱۳ ماده کې دولتونه مکلف کړل چې خپلې شخړې د سولییزو لارو له طریقه حل او فصل کړي (البته له دې وړاندې د لاهې د ۱۸۹۹ م کال او ۱۹۰۷ م کال کنوانسیونونو کې هم په نړۍ کې د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره یو شمېر اصول وضع شوي وول)، له دې علاوه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته دولتونو په نړۍ کې د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره د ملګرو ملتونو منشور تدوین او د دې منشور په ۲مې او ۳۳مې مادو کې یې د نړیوالو شخړو په سولییز حل تاکید وکړ (د دې اصل له مخې که چېرته د دولتونو تر منځ شخړې رامنځ ته کیږي دوی مکلف دي چې خپلې شخړې په لومړي قدم د سولییزو لارو له طریقه حل او فصل کړي ).

زمونږ د مقالې موضوع نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه دي، پر همدې بنسټ په دې ځای کې یوازې د نړیوالو حقوقي شخړو په

ماهیت او د هغوی د حل او فصل په حقوقي ارګانونو ( نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمې ) باندې بحث کیږي.

نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه د حقوقو یو مهمه موضوع ده ځکه په نړیواله کچه د دولتونو تر منځ حقوقي شخړې ډیرې زیاتې رامنځ ته کیږي چې ان په ځینو وختونو کې د دولتونو تر منځ د لویو جنګونو باعث هم ګرځي او د نړۍ سوله او ثبات په خطر کې غورځوي پر همدې مبناء د دولتونو سیاسي استازو او دیپلوماتانو ته پکار دي چې د نړیوالو حقوقي شخړو ماهیت وپیژنئ او په دې باندې پوه شئ چې یادې شخړې څنګه نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمې ته وړاندې او حل او فصل کیږي.

دغه علمي مقاله په دوه برخو کې (په لومړۍ برخه کې د نړیوالو حقوقي شخړو معنی او مفهوم او په دویمه برخه کې نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمه) د بحث لاندې نیول شوي.

**د موضوع مساله**

(نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) موضوع د عمومي بین المللي حقوقو په ټولو کتابونو کې په عمومي، محدود او تیت وپرک شکل د بحث لاندې نیول شوې، چې د دې مقالې له طریقه ذکر شوي معلوماتو تفصیلي، منظم او وسیع شول.

**د موضوع اهمیت**

د ملګرو ملتونو د منشور او سازمان د تدوین او رامنځ ته کېدو بنسټ په دې باندې بناء دی، چې په نړۍ کې سوله او ثبات ټینګ شي او د دولتونو تر منځ بین المللي

همکاري وده او پراختیا وکړي چې د ذکر شوو موخو د تحقق لپاره د ملګرو ملتونو منشور په خپلې دویمې ۲ماده کې یو شمېر اصول وضع کړي څو د دولتونو تر منځ په اړیکو کې د زور او تهدید د کارونې مخه ونیول شي او که احیاناً د دولتونو تر منځ شخړې رامنځ ته کېږي نو په لومړي قدم کې اړ دي چې خپلې شخړې او اختلافات د سولییزو لارو له طریقه حل او فصل کړي (چې ذکر شوې سولییزې حل لارې د ملګرو ملتونو منشور په ۳۳ مې مادې کې د مذاکراتو، نیکو هڅو، منځګړیتوب، څېړنې، جوړ جاړي، نړیوال حکمیت او عدالت بین المللي محکمې په عنوان تصریح شوي دي). نو له دې څخه معلومېږي چې د نړیوالو حقوقي شخړو سولییز حل او فصل په خپل ذات کې یوه مهمه موضوع ده.

دغه علمي مقاله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو، محصلانو، د دولتونو سیاسي استازو، دیپلوماتانو او حقوقپوهانو لپاره هم مهمه ګڼل کېږي ځکه د مسلکي، تخنیکي او وظیفوي حېثه دوی د یادې موضوع سره په مستقیم او غېرې مستقیم شکل تړاو لري او اړ دي چې په دقیق او هر اړخېز شکل وربانديې پوه اوسئ.

دا چې نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه د بین المللي حقوقو د بحث یوه مهمه او اساسي موضوع تشکیلوي نو د دې مقالې په لیکلو سره د حقوقو یاده څانګه لا زیاته غني شوه، او د بین المللي حقوقو او مسلک استادانو او محصلانو چې په دې اړه کومې ستونزې او پوښتنې درلودې هغه په ښه شکل روښانه شوې.

همدارنګه د دې مقالې د لیکلو په پایله کې نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمې ته د شخړو د ارجاع کولو طریقې، د نړیوال حکمیت او د عدالت د بین

المللي محکمې د حُکم او پریکړو ماهیت او د نړیوال حکمیت او د عدالت د بین المللي محکمې د اشتراک او افتراک نقاط په دقیق شکل روښانه شول.

## د موضوع د اختیار سببونه

(نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) موضوع نظر لاندې دلایلو ته ما د خپلې علمي مقالې لپاره غوره کړه.

۱. (نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) موضوع باندې تر اوسه کوم مستقله علمي مقاله نه ده لیکل شوې نو ځکه ما د خپل بحث لپاره غوره کړه.

۲. د دې مقالې لیکل د مسلکي اشخاصو استادانو، محصلانو، حقوقپوهانو، د دولتونو سیاسي استازو او دیپلوماتانو د علمي سویې د لوړولو لپاره هم ممد واقع کېږي نو ځکه ما د خپلې مقالې لپاره غوره کړه.

۳. له بلې خوا زه د عمومي بین المللي حقوقو د مسایلو سره ځانګړې علاقه لرم چې د حقوقو د یادې څانګې یو مهم بحث (نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) تشکیلوي چې د نهو کلونو راپدیخوا په پوهنتون کې دا موضوع تدریسوم نو د دې موضوع د غوره کولو یو سبب دا هم کېدای شي چې زه په اړونده موضوع کې کافي معلوماتو او موادو ته لاس رسی لرم.

## د موضوع د لیکلو موخې

دغه علمي مقاله چې (نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) سرلیک لاندې لیکل شوې، اساسي موخې په لاندې ډول دي.

۱. د نړيوالو حقوقي شخړو د ماهيت پېژندل.
۲. د حکميت له طريقه د نړيوالو حقوقي شخړو حل او فصل پروسيجر باندې پوهېدل.
۳. د عدالت د بين المللي محکمې له طريقه د نړيوالو حقوقي شخړو حل او فصل پروسيجر باندې پوهېدل.
۴. نړيوال حکميت او د عدالت بين المللي محکمې ته د شخړو د ارجاع کولو طريقو باندې پوهېدل.
۵. د نړيوال حکميت او د عدالت بين المللي محکمې تر منځ د اشتراک او افتراک نقاطو باندې پوهېدل.

**پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه**

(نړيوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) موضوع باندې کومه مستقله علمي مقاله نه ده ليکل شوې، که څه هم د بين المللي حقوقو په اکثريت کتابونو کې د دې موضوع په هکله بحث شوی ولې ډېره محدوده بڼه لري لکه د محمد رضا ضيايي بيګدلي له خوا د (حقوق بين الملل عمومي) په نوم کتاب کې نړيوالې شخړې په عمومي شکل د بحث لاندې نيول شوي؛ همدارنګه ملکم شاو په نوم ليکوال هم د (حقوق بين الملل) په نوم کتاب کې د محمد رضا ضيايي بيګدلي په څېر په نړيوالو شخړو باندې عمومي بحث کړی؛ د دې تر څنګ د رابرت بلدسو او بوسچک له خوا ( فرهنګ حقوق بين الملل ) په نوم د انګليسي ژبې په کتاب کې چې د بهمين اقايي له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د نړيوالو حقوقي شخړو او د هغوی د حل حقوقي ارګانونو ځيني موارد توضيح کړي؛ همدارنګه د انتونيو کاسسه له خوا د ( حقوق بين الملل ) په نوم کتاب کې د ذکر شوې موضوع په

مورد کې د ځینو مسایلو یادونه کړې؛ د دې علاوه د نګوین کلکه دین، پاتریک دینه او والن پله له خوا د ( حقوق بین الملل عمومي ) په نوم کتاب کې چې د حسن حبیبي له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د نړیوالو حقوقي شخړو او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونو په اړه عمومي حکمونه ذکر کړي.

د پورته اثارو څخه دا مقاله له دوه اړخونو توپیر لري لومړی دا چې په پورته کتابونو کې د نړیوالو حقوقي شخړو او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونو په مورد کې عمومي، اجمالي او محدود بحث شوی دی ولې په دې مقاله کې ذکر شوې موضوع په هر اړخیز، تفصیلي او وسیع شکل توضیح شوې ده؛ دویم دا چې په پورته اثارو کې په نړیوالو شخړو باندې په کلي بڼه بحث شوی ولې په دې مقاله کې مشخصاً نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه د بحث لاندې نیول شوي.

### د موضوع د لیکلو کړنلاره

د دې مقالې د لیکلو لپاره د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده، د دې سره په خوا کې د دې مقالې په ترتیب او تنظیم کې لاندې اصول په پام کې نیول شوي دي:

۱. وروسته له دې چې معلومات مو راټول کړل بیا مو په دوه برخو وویشل چې هره برخه مو په کوچنیو جزونو باندې وویشله.

۲. د معلوماتو په راټولونه کې د معتبرو کتابونو او اخځلیکونو څخه استفاده شوې ده.

۳. هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې او مثبت او منفي اړخونه یې روښانه شوي د دې لپاره چې په راتلوونکي کې د لوستوونکو د ذهنیت د ګډوډۍ باعث ونه ګرځي.

۴. د موضوعاتو په تحلیل کې مې خپله پوره بې طرفي ساتلې او د هر راز تعصب څخه مې ډډه کړې تر څو په پوره عدل او انصاف سره د موضوع ټول اړخونه روښانه شي.

۵. د موضوعاتو د ترتیب پر مهال د مراتبو سلسله په پام کې نیول شوې هغه موضوعات چې لومړی راتلل په لومړی سر کې ځای په ځای شوي او کوم موضوعات چې وروسته راتلل وروسته ځای په ځای شوي چې دا کار له یوې خوا د موضوعاتو په تنظیم کې رول لري او له بلې خوا د موضوع په زده کړه او پوهاوي کې مرسته کوي.

### ۱. د نړیوالو شخړو معنی او مفهوم

د عدالت بین المللي دایمي محکمې (Permanent International Court of Justice) په ۱۹۲۴ م کال کې د ماوروماتیس په قضیه کې نړیوالې حقوقي شخړې داسې تعریف کړي دي: (د دوه یا څو دولتونو تر منځ د یو حق یا د یو واقعیت پر سر د توافق نشتون او یا د لوریو تر منځ د یوې حقوقي مسالې او ګټو پر سر ټکر ته نړیوالې حقوقي شخړې ویل کیږي). د نړیوالو شخړو لپاره همدغه تعریف د عدالت بین المللي محکمې (International Court of Justice) د ۱۹۸۸ م کال د اپریل د ۲۶ نیټې په مشورتي نظریه کې تائید کړ.

د پورته توضیحاتو له مخې که چېرته د دوه یا څو دولتونو تر منځ د یو حق د اجرا، تطبیق او تفسیر پر سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړیوالې حقوقي شخړې ویل کیږي؛ او که چېرته د دوه یا څو دولتونو تر منځ د ګټو پر سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړیوالې سیاسي شخړې ویل کیږي.

پر همدې بنسټ نړيوالې شخړې دوه ډولونو ته شامل دي:

نړيوالې سياسي شخړې.

نړيوالې حقوقي شخړې.

چې د نړيوالو شخړو پورتنی هر ډول په جلا جلا توګه د بحث لاندې نيسو.

## ۱. ۱. نړيوالې سياسي شخړې

لکه څرنګه چې مو پورته ذکر کړل کله چې د دوه يا څو دولتونو تر منځ د ګټو په سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړيوالې سياسي شخړې ويل کيږي؛ يا په بل عبارت کله چې يوه شخړه د ماهيت له حيثه د حقوقي قواعدو پر بنسټ حل او فصل نشي د سياسي شخړې په نوم تلقي کيږي.

پروفيسور کاواره په دې عقيده وو: (هر څومره چې ظاهراً د حقوقي او سياسي شخړو توپير ساده تر سترګو کيږي ولې په عمل کې سره اختلاط لري او ډيرې کمې شخړې داسې دي چې يوازې حقوقي يا يوازې سياسي جنبې ولري پر همدې بناء په مطلق شکل د نړيوالو سياسي شخړو د اصطلاح کارونه درسته نه ده).

د عدالت د نړيوالې محکمې پخوانی رئيس مانفردلاکس باور درلوده: ( نشو کولای چې د دولتونو تر منځ شخړې په سياسي او حقوقي شخړو باندې وويشو ځکه هره شخړه په خپل ذات کې سياسي او حقوقي اړخونه لري چې له دې جملې څخه په ځينو کې سياسي جنبې غالبې وي او په ځينو کې حقوقي).

## ۱. ۲. نړيوالې حقوقي شخړې

کله چې د دوه يا څو دولتونو تر منځ د يو حق د اجرا، تطبيق يا تفسير پر سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړيوالې حقوقي شخړې ويل کيږي.

نړیوالې حقوقي شخړې د عدالت د نړیوالې محکمې د اساسنامې د ۳۶مې مادې په دويم بند کې تصریح شوې دي چې عبارت دې له:

۱. د معاهداتو د تفسير څخه راپيدا شوې شخړې
۲. د بين المللي حقوقو له موضوعاتو څخه د يوې موضوع څخه راپيدا شوې شخړې (لکه ديپلوماتيک مصونيت)
۳. د هر هغې مسالې څخه راپيدا شوې شخړې چې د ثبوت په صورت کې د يوې بين المللي ژمنې نقض وګڼل شي
(مثلاً تېرى)
۴. د بين المللي خسارې د جبران د نوعيت او اندازې ( چې د يوې بين المللي ژمنې د نقض له امله صورت نيسي ) څخه راپيدا شوې شخړې.

## ۲. د نړیوالو حقوقي شخړو د حل او فصل حقوقي ارګانونه

نړیوالې شخړې په دوه طريقو حل او فصل کېږي:

۱. غېر حقوقي يا ديپلوماتيکې طريقې
۲. حقوقي طريقې (ارګانونه )

د نړیوالو شخړو غېر حقوقي يا ديپلوماتيکې طريقي عبارت دي له: مذاکراتو، نيکې هڅې (Good Offices)، منځګړيتوب (Mediation)، څېړنې (Inquiry) او جوړ جاړي (Conciliation) څخه. او د نړیوالو شخړو حقوقي طريقې (ارګانونه) عبارت دې له: نړیوال حکميت او د عدالت د بين المللي څخه.

دا چې زمونږ د بحث موضوع د نړیوالو حقوقي شخړو د حل او فصل حقوقي طريقې(ارګانونه) تشکيلوي پر بناء يوازې همدغه عنوان د بحث لاندې نيسو.

## ۲. ۱. نړیوال حکمیت

حکمیت د نړیوالو حقوقي شخړو د حل یوه سولېزه لاره ده، چې د نړیوال حقوقي نظام په انکشاف کې یې اغېزمن رول اداء کړی دی. د ډېرې پخوا زمانې راپدېخوا انسانانو د دغه روش څخه په استفادې خپلې شخړې حل او فصل کولې، لکه په پخواني یونان کې د ښاري دولتونو تر منځ د مذهبي شخړو د حل لپاره د حکمیت څخه گټه اخیستل کیده، ولې په اوسني شکل حکمیت د انگلستان او امریکا تر منځ د ۱۷۹۴ م کال د جې معاهدې Jay Treaty پر اساس رامنځ ته شو، د دې معاهدې په موجب دواړو هیوادونو پریکړه وکړه چې د خپلو حقوقي شخړو د حل او فصل لپاره به د حکمیت درې مختلط کمیسونونه جوړه وي او دواړه هیوادونه به ذکر شویو کمیسونونو ته په مساوي شمیر غړي انتصاب کوي او د یو سر حَکم Umpire له خوا به اداره کیږي، د ۱۹ پیړۍ په جریان کې څو ځلې د یادو کمیسونونو څخه د حکمیت لپاره گټه واخیستل شوه، ولې د دغو کمیسونونو د غړیو عدم بې طرفۍ انگلستان او امریکا دې ته اړ کړل چې د واشنگټن د ۱۸۷۱ م کال د مې د ۸ نېټې د معاهدې د پیش بینۍ له مخې د حکمیت یو پنځه کسېزه کمیسون د ( سوئیس، برازیل، ایټالیا، انگلستان او امریکا ) له داورانو ( حکمانو ) څخه تاسیس کړ، دا دیوان وروسته له هغې منځ ته راغی چې امریکا ادعا درلوده چې د الاباما Alabama کښتۍ د انگلستان له خوا تجهیز او د جنوبي امریکا د شورشیانو په اختیار کې ورکول شوې، د انگلستان دولت په اوایلو کې د دغې ادعا څخه انکار کاوه، په همدې اساس په نهایت کې دواړو دولتونو پریکړه وکړه چې دغه قضیه د حکمیت د ذکر شوي پنځه کسیز کمیسون له طریقه حل او فصل کړي، د څېړنو او تحقیقاتو په پای کې نوموړی کمیسون انگلستان محکوم اعلام کړ او په همدې بناء امریکا وتوانیده چې د انگلستان څخه ۱۵،۵ میلون ډالر تاوان واخلي.

همدارنګه د ۱۹۰۴ م کال داګر بانک The Dogger Bank په قضیه کې هم د حکمیت څخه استفاده وشوه: ( کله چې روسيي قواوو د کسپین په بحیره کې په انګلیسي ماهي نیوونکو کښتیو باندې حمله وکړه،که څه هم روسيي قواوو په اوایلو ادعا درلوده چې دوی په دې ګمان حمله کړې چې ګوندې یادې کښتۍ به د جاپان سره تعلق ولري ولې انګلستان د روسیې دغه ادعا قبوله نه کړه او په نهایت کې دواړو دولتونو پریکړه وکړه چې یاده شخړه د حکمیت له طریقه حل او فصل کړي، د حکمیت یاد دیوان په پاریس کې د یو فرانسوي داور (حَکم) د ریاست لاندې تشکیل شو، چې دغه دیوان د خپلو څېړنو او پلټنو په پای کې د انګلستان په نفع پریکړه وکړه او روسیه د ٦۵ زره پونده تاوان په ورکولو انګلستان ته اړ شوه.

### ۲. ۱. ۱. د حکمیت دایمي دیوان Permanent Court of Arbitration

د لاهې د ۱۸۹۹ م کال او ۱۹۰۷ م کال کنفراسونو د حکمیت د روشونو لپاره یو لړ اصول وضع او د حکمیت دایمي دیوان یې رامنځ ته کړ،د حکمیت دایمي دیوان د هالیند د هاګ (لاهې) په ښار کې موقعیت لري، د حکمیت دایمي دیوان په خپل تشکیل دوه ارګانونه لري:

نړیوال دفتر: دا دفتر د لاهې د صلحې په ماڼۍ کې قرار لري چې د حکمیت د دایمي دیوان د اسنادو او مدارکو د ساتنې او ثبت په عنوان دنده اجراء کوي.

دایمي اداري شوری: د لاهې د ۱۹۰۷ م کال د کنوانسیون د ۴۹ مادې د حکم په موجب د حکمیت دایمي دیوان یوه اداري شوری لري چې د غړیو هیوادونو د دیپلوماتیکو نماینده ګانو څخه متشکله ده، ذکر شوي نمایندګان د هالینډ د هیواد پر

وړاندې رسمي استازي گڼل کېږي او د هالیند د بهرنیو چارو وزیر همیشه د دغې شوری رئیس وي.

د حکمیت د دایمي دیوان د اساسنامې له مخې هر غړی هیواد حق لري چې څلور تنه داوران د شپږو کلونو لپاره ذکر شوي دیوان ته ور وپېژني.د ۲۰۱۲ م کال پورې د یاد دیوان د غړیو هیوادونو شمیر ۱۲۱ وو، هر کله چې متعاهد هیوادونه د حکمیت له طریقه د شخړو حل او فصل وغواړي حق لري چې د دغه دیوان څخه داوران انتخاب کړي، د حکمیت دایمي دیوان په حقیقت کې یوه دستگاه ده چې د حکمیت د محاکمو تشکیل اسانه کوي.

## ۲. ۱. ۱. ۱. د حکمیت دیوانونو د تشکیل طریقې

د حکمیت دیوانونه بالعموم په دریو طریقو تشکیل او تنظیمېږي:

واحد حکمیت: یعنې د حکمیت په دې طریقه کې د یو هیواد رئیس، پاپ، قاضي، حقوقدان یا دیپلمات د حَکم ( داور ) په حیث ټاکل کېږي لکه په ۱۹٦٦ م کال د دسمبر په ۹نېټه د ارجنتاین او چیلي هیوادونو د سرحدي شخړې د حل او فصل لپاره د انگلستان ملکه الیزابت د حَکمې ( داورې ) په حیث غوره شوه. که چېرته د یو هیواد رئیس د حَکم په توگه وټاکل شي نو په دې حالت کې نوموړی په خپل ځای د نړیوالو حقوقو یو متخصص انتصابوي چې دغه انتصاب شوی شخص د مربوطه هیواد د رئیس د کفیل په توگه عمل کوي.

د حکمیت مختلط کمیسون: په ځینو مواردو کې د دعوی طرفین د خپلو حقوقي شخړو د حل او فصل لپاره د حکمیت یو مختلط کمیسون جوړوي، د دغه حکمیت منشاء د انگلستان او امریکا تر منځ د سرحدي شخړو حل او فصل ته رسېږي یعنې

دغو دوو هیوادونو د خپلو سرحدي شخړو د هوارولو لپاره د حکمیت یو دوه کسیزه کمیسون تشکیل کړ.

د حکمیت محکمه: په دې طریقه کې د مستقلو، بې طرفو، مسلکي او فني اشخاصو څخه په ترکیب د حکمیت محکمه تشکیلیږي، دغه محکمه قضایاوې د حقوقي اصولو له مخې څیړي او د منظمو شکلي اصولو په نظر کې نیولو سره اړونده قضایاو ته رسیده گي کوي او په پای کې مستند احکام صادروي، لکه په ۱۸۷۱م کال کې انگلستان او امریکا د خپلو حقوقي شخړو د حل او فصل لپاره د ( سوئیس، ایټالیا، برازیل، امریکا او انگلستان ) له داورانو څخه یو مختلط کمیسون تشکیل کړ، چې یاد کمیسون په خپل ذات کې د یوې محکمې بڼه درلوده.

**۲. ۱. ۱. ۲. د حکمیت بنسټ او منشاء**

د حکمیت بنسټ او منشاء ارادي والی دی، یعنې د حکمیت له طریقه د شخړو حل او فصل د لوریو په توافق او رضایت پورې اړه لري چې دغه موضوع د لاهې د ۱۹۰۷ م کال د نړیوالو شخړو د سولېز حل کنوانسیون په ۳۸ ماده کې هم تصریح شوې.

**۲. ۱. ۱. ۳. حکمیت ته د شخړو د ارجاع کولو طریقې**

نړیوالې حقوقي شخړې په لاندې طریقو حکمیت ته وړاندې کیږي چې هر یوه په ترتیب سره د بحث لاندې نیسو.

د صلح لیک (مصالحه لیک) – Compromise له طریقه: یعنې د دې روش له مخې کله چې د دوو یا څو لوریو ترمنځ شخړه رامنځ ته شي نو مربوطه لوري د شخړې د حل او فصل او یوې ثالثې مرجع ته د هغې د احاله کولو لپاره یو تړون

کوي چې دغه تړون ته مصالحه لیک ویل کیږي، مصالحه لیک د معاهداتو په ردیف کې راځي نو د انعقاد په وخت کې باید د معاهداتو د حقوقو مقررات په نظر کې ونیول شي.

مصالحه لیک د حکمیت قانون دی چې د حکمیت په اړونده ارگان باندې لازم الاجرا او منل یې پرې واجب دي، په مصالحه لیک کې د لوریو د رضایت علاوه د اختلاف مربوطه موضوع هم درج کیږي، د مصالحه لیک Compromise په موجب داور/داوران ټاکل کیږي واکونه یې مشخص کیږي، همدارنگه په حکمیت کې اړونده موضوع ته د رسیده گۍ اصول ( شکلي قواعد ) تدوین کیږي او په موضوع باندې د حُکم یا پریکړې قانون هم پکې تعریفیږي. د حکمیت دغه شکل ته اختیاري حکمیت هم ویل کیږي.

د حکمیت شرط: حکمیت ته مراجعه امکان لري د یو شرط په شکل وي چې دې ته د (حکمیت شرط) ویل کیږي، په معاهده کې د دغه شرط قید کول د معاهدې متفرقه حکم تشکیلوي او د معاهدې اصلي موضوع بل څه وي.

د حکمیت شرط په ځینو مواردو کې عام شکل لري او په ځینو مواردو کې خاص؛ د عام شرط له مخې که چېرته د معاهدې د لوریو تر منځ د اصلي معاهدې په مورد کې د معاهداتو د تفسیر په شمول هر ډول شخړه منځ ته راځي نو دوی مکلف دي چې خپله شخړه د حکمیت له طریقه حل او فصل کړي، اما د حکمیت د خاص شرط په موجب طرفین یوازې د معاهدې د اجرا او تفسیر مربوط اختلافات د حکمیت له طریقه حل او فصل کوي په اکثره قراردادي ( خاصو ) معاهداتو او تقریباً په ټولو قانون جوړونکو( عامو ) معاهداتو کې دغه شرط ایښودل کیږي.

د حکمیت دایمي معاهدات: د حکمیت دایمي معاهدات په مستقل او منحصر شکل د د معاهداتو د اجر او تفسیر په شمول د نورو حقوقي شخړو د حل او فصل لپاره منعقد کېږي، د ۱۹۱۴ م کال پورې دغو معاهداتو اصولاً دوه جانبه شکل درلوده چې تر دې وخته د دغو معاهداتو شمیر ۱۳۹ ته رسیده چې ۴۷ هیوادونو یو له بل سره منعقد کړي وو، د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته د ملتونو د ټولنې په تشویق ددغه معاهداتو شمیر ډېر زیات شو، په دغه وخت کې د حکمیت د معاهداتو معروف ترین یې د لوکارنو د ۱۹۲۵ م کال د معاهداتو الحاقي د حکمیت معاهدات ګڼل کیږي.

په ۱۹۲۸م کال د سپتمبر په ۲۶ نېټه د حکمیت یو عامه معاهده د (حکمیت د عمومي تړون) تر عنوان لاندې د ملتونو ټولنې د عمومي اسمبلې له خوا په تصویب ورسیده، دغه معاهده په ۱۹۴۹ م کال کې د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبله کې تجدید نظر شوه او په ۱۹۵۰ م کال دوباره د اجراء او تنفیذ وړ وګرځیده؛ همدارنګه د هیوادونو او د نورو هیوادونو د اتباعو تر منځ د نړیوالو شخړو د حل او فصل لپاره په ۱۹۶۵ م کال کې د حکمیت یوه بله دایمي او عامه معاهده منعقد شوه چې په ۱۹۶۶م کال کې د اجرا او تنفیذ وړ وګرځیده، د دې معاهدې په موجب به د (( پانګې اچوونې اړوند شخړو د حل او فصل لپاره یو بین المللي مرکز )) تاسیس شو چې د دغه مرکز د ایجاد هدف به د پانګه اچوونې اړوند شخړو د هوارولو او حکمیت لپاره د لازمو تسهیلاتو برابرول وو، د دغې معاهدې له مخې خصوصي اشخاص هم د خاصو حقوقو څخه برخورداره شو.

د حکمیت شرط او د حکمیت دایمي معاهدې د حکمیت اجباري شکلونه ګڼل کیږي.

### ۲. ۱. ۱. ۴. د حکمیت متني او شکلي اصول

د حکمیت ارګانونه د حُکم کولو په وخت کې معمولاً په هغو قواعدو او اصولو استناد کوي کوم چې د حکمیت د اړونده ارګان په تاسیسي سند( مصالحه لیک، د حکمیت شرط، او د حکمیت دایمي معاهده ) کې تصریح شوي وي، که چېرته په ذکر شویو سندونو کې د اړونده قواعدو او اصولو یادونه، نه وي شوي نو په دې صورت کې نړیوال حقوق د تطبیق او اجرا وړ دي.

همدارنګه د حکمیت په ارګانونو کې د هغو شکلي قواعدو او اصولو له مخې یوې قضیې ته رسیدګي کېږي کوم چې د شخړې د طرفینو له خوا وضع شوي وي، که چېرته د دعوې طرفینو دغه اصول نه وي وضع کړي نو په دې صورت کې د حکمیت مربوطه ارګان دغه اصول وضع او تنظیموي.

### ۲. ۱. ۱. ۵. د حکمیت حُکم

د شکل له حیثه د حکمیت حُکم دوه برخې لري: ( د دعوی د لوریو د دلایلو شرح، او د حکمیت د ارګان د مستند، مستدلل او موجه تصمیم ذکر کول ).

د حکمیت د ارګان حُکم دوه اصلي او اساسي حقوقي اثار منځ ته راوړي: یو الزامي والی او بل قطعي والي،چې دغه موضوع د لاهې د ۱۹۰۷ م کال کنوانسیون په ۸۱ او ۸۴ مادو کې هم ذکر شوې، یعنې د دعوی لوري مکلف دي چې د حکمیت حُکم ومني او د هغې د اجرا لپاره باید ټول لازم اقدامات تر سره کړي؛ همدارنګه د حکمیت د ارګان حُکم قطعي دي، مګر دا چې د دعوی لوریو په بل شکل توافق کړی وي، معمولاً د لاندې دلایلو له امله د حکمیت د ارګان حُکم خپل اعتبار له لاسه ورکوي ( په هغه صورت کې چې مصالحه لیک اعتبار ونه لري؛ په هغه صورت

کې چې د حکمیت محکمې د خپل واک څخه پورته اقدام تر سره کړی وي مثلاً د داسې موضوع په اړه یې حُکم صادر کړی وي چې د حکمیت ارګان ته نه وي ارجاع شوی او یا یې په داسې قوانینو استناد کړی وي چې د حکمیت د توافق له مخې مجاز نه وي؛ په هغه صورت کې چې د حُکم د علت اړوند دلایل نه وي ذکر شوي او یا د اساسي شکلي قواعدو څخه جدي تخلف شوی وي؛ په هغه صورت کې چې د حکمیت د یو غړي له خوا فساد یا فریب صورت نیولی وي).

دولتونه، نړیوال سازمانونه او خصوصي اشخاص حق لري چې حکمیت ته خپلې دعواوې ارجاع کړي.

**۲. ۱. ۱. ۶. د حکمیت او قضایي رسیده ګۍ تر منځ توپیرونه**

که څه هم د حکمیت او قضایي رسیده ګۍ تر منځ زیات مشابهتونه وجود لري ولې د دوی تر منځ په ځینو مواردو کې یو شمیر توپیرونه هم وجود لري، چې دغه توپیرونه عبارت دي له:

**د قضاتو یا داورانو ټاکنه:** معمولاً په قضایي رسیده ګۍ کې قضات د دعوی د اړخونو څخه نه انتخابیږي او د شخړې لوري د قضاتو په انتخاب کې کوم نقش نه لري په قضایي رسیده ګۍ کې دعوی محکمې ته محول کیږي او هلته قانوني مراحل طي کوي، اما په حکمیت کې داوران د شخړې د لوریو له خوا انتخابیږي، چې دغه انتخاب شوي داوران له خپل منځ څخه یو سر داور ټاکي، همدا دلیل دی چې هیوادونو حکمیت ته زیاته علاقه مندي ښکاره کوي.

د دعوی لوري: د عدالت بین المللي محکمې ته یوازې دولتونه خپلې دعواوی ارجاع کولای شي، ولې د حکمیت له طریقه ټول حقوقي او حقیقي اشخاص کولای شي خپلې دعواوی حل او فصل کړي.

د رسیده گۍ مربوطه اصول: د عدالت په بین المللي محکمه کې قضات د مشخصو او له مخکې څخه د تعین شویو اصولو له مخې پریکړې کوي، ولې په حکمیت کې دغه اصول د دعوی د اړخونو له خوا ټاکل کېږي.

**۲. ۲. د عدالت بین المللي محکمه**

د یوې بین المللي محکمې د رامنځ ته کیدو فکر د لومړی ځل لپاره د لاهې د ۱۸۹۹م کال او ۱۹۰۷ م کال د سولې په کنفراسونو کې رامنځ ته شو، که څه هم دا فکر عمل ته ونه رسید ولې دولتونو ته یې د یوې بین المللي محکمې د ایجاد احساس ورکړ، چې د لومړۍ نړیوالې جگړې د پای ته رسیدو سره سم دولتونه او حقوقپوهان همدغه فکر او احساس دې ته متوجه کړل چې د یوې بین المللي محکمې موجودیت کولای شي د نړیوالو شخړو په محدودولو کې مرسته وکړي، په همدې اساس د ملتونو ټولنې غړي هیوادونه، د ملتونو ټولنې د میثاق د ۱۴ مادې مطابق د یوې بین المللي محکمې د تاسیس لپاره عملاً کار پیل کړ چې بالاخره یې په ۱۹۲۲ م کال د فبروري په ۱۵ نېټه د عدالت بین المللي دایمي محکمه(Permanent International Court of Justice) رامنځ ته کړه، هیوادونو حق درلود چې په خپله خوښه په دې محکمه کې غړیتوب واخلي او د دې محکمې غړیتوب د ملتونو په ټولنه کې د غړیتوب معنی نه درلوده، دغې محکمې د ۱۹۴۶ م کال د اپریل تر میاشتې پورې ۸۰ حکمونه، مشورتي رایې او دستورونه صادر کړل چې د بین المللي حقوقو په انکشاف کې یې اغیزمن رول اداء کړ. ولې د ملتونو د

ټولنې په څېر د دې محکمې عمر هم زیات نه وو، او د دویمې نړیوالې جګړې د پای ته رسیدو سره سم د عدالت بین المللي دایمې محکمه هم په ۱۹۴۶ م کال د اپریل په میاشت کې رسماً منحل اعلان شوه او پر ځای یې د عدالت بین المللي محکمه International Court of Justice د ملګرو ملتونو د اصلي ارګان په عنوان منځ ته راغله.

## ۲. ۲. ۱. د عدالت بین المللي محکمې پرتله د عدالت بین المللي دایمي محکمې سره

د عدالت بین المللي محکمه International Court of Justice، د عدالت بین المللي دایمي محکمې (Permanent International Court of Justice) سره د دوو جهتونو عمده توپیرونه درلود، لومړی دا چې د عدالت بین المللي محکمه د ملګرو ملتونو یو اصلي ارګان ګڼل کېږي په داسې حال کې چې د عدالت بین المللي دایمې محکمه مستقل ارګان وو او د ملتونو د ټولنې جز نه ګڼل کیده؛ دویم دا چې د ملګرو ملتونو ټول غړي هیوادونه خود بخوده د عدالت د بین المللي محکمې غړي هم ګڼل کېږي، ولې د عدالت بین المللي دایمې محکمې غړي خود بخوده د ملتونو ټولنې غړي نه ګڼل کیده.

## ۲. ۲. ۲. د عدالت بین المللي محکمې تشکیلات

د عدالت بین المللي محکمې اساسنامه په ۱۹۴۵ م کال د جون په ۲۶ نېټه د سانفرانسیسکو په کنفراس کې د ۵۱ هیوادونو له خوا د ملګرو ملتونو د منشور د نه بیلیدونکي جز په عنوان لاسلیک شوه، دغه محکمې په ۱۹۴۶ م کال د اپریل په ۱۸ نېټه د لاهې د سولې په ماڼۍ کې عملاً په کار پیل وکړ، د عدالت بین المللي محکمه په خپل تشکیل کې ۱۵ قاضیان لري چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې او امنیت

شوری له خوا په ګډه ټاکل کیږي د دغې محکمې لپاره هغه کسان د قضاتو په حیث غوره کیږي چې سیاسي تقوی ولري او د لوړو حقوقي تحصیلاتو او قضایي تجاربو څخه برخمن وي، ذکر شوي قاضیان د نهو ۹ کلونو لپاره ټاکل کیږي، چې د دې دورې د پای ته رسیدو وروسته د دویم ځل لپاره هم انتخابیدای شي، د عدالت د بین المللي محکمې قاضیان د حکمیت د دایمي دیوان له غړو څخه غوره کیږي، یاد قاضیان د مختلفو ملتونو څخه وي او هیڅ دوه قاضیان باید د یو هیواد تابعیت ونه لري، د عدالت نړیواله محکمه یو رئیس او یو معاون لري چې د محکمې د قضاتو له خوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي، د محکمې د جلساتو د دایرو لپاره نصاب نهه ۹ تنه دي.

**۲. ۲. ۳. اختصاصي (ځانګړی) قاضي**

د قضایاوو په حل او فصل کې د عدالت بین المللي محکمه په ځینو مواردو کې د اختصاصي قاضي څخه هم ګټه اخلي چې دغه موارد عبارت دي له:

لومړی په هغه حالت کې چې د عدالت د بین المللي محکمې قاضي د دعوی د لوریو څخه د یو لوري تابعیت ولري نو په دې صورت کې د دعوی بل لوري ته حق ورکول کیږي چې د خپل هیواد د اتباعو یا یو خارجي فرد چې د لازمو شرایطو لرونکی وي د اختصاصي قاضي په توګه محکمې ته ور وپیژني مثلاً د انګلستان او البانیا تر منځ په دعوی کې البانیا د پخوانۍ چکسلواکیا د اتباعو څخه یو تن یادې محکمې ته د اختصاصي قاضي په توګه معرفي کړ.

دویم په هغه حالت کې چې د عدالت د بین المللي محکمې د ۱۵ قضاتو له ډلې هیڅ یو یې د دعوی د لوریو هیوادونو تابعیت ونه لري  په دې صورت کې هر لوری

کولای شي په پورته شکل یو، یو اختصاصي قاضي د عدالت بین المللي محکمې ته ور وپېژني.

اختصاصي قاضي په موقت شکل یوې ځانگړې دعوی ته د رسیده گۍ لپاره انتخابیږي او کله چې دعوه ختمه شي نو د ده ماموریت هم ور سره پای ته رسیږي، د عدالت په بین المللي محکمه کې د دعوی د لوریو له خوا د اختصاصي قضاتو د انتصاب څخه ضمناً دا نتیجه هم اخیستل کیږي چې په دغه محکمه کې د دعوی لوریو ته په یو شکل د دفاع او مدافع وکیل حق هم حاصل دی.

**۲. ۲. ۴. د عدالت د بین المللي محکمې واکونه**

د عدالت د بین المللي محکمې د اساسنامې د ۳۶ مادې د دویم بند له مخې لاندې موضوعات د دغې محکمې د واکوونو په حدوداتو کې شامل دي:

۱. د معاهداتو د تفسیر څخه راپیدا شوې شخړې

۲. د بین المللي حقوقو له موضوعاتو څخه د یوې موضوع څخه راپیدا شوې شخړې (لکه دیپلوماتیک مصونیت)

۳. د هر هغې مسالې څخه راپیدا شوې شخړې چې د ثبوت په صورت کې د یوې بین المللي ژمنې نقض وگڼل شي (مثلاً تېری)

۴. د بین المللي خسارې د جبران د نوعیت او اندازې ( چې د یوې بین المللي ژمنې د نقض له امله صورت نیسي ) څخه راپیدا شوې شخړې.

د عدالت بین المللي محکمه دوه ډوله واکونه لري:

- قضايي واکوونه؛
- مشورتي واکوونه.

**قضايي واکونه** (Contentious Jurisdiction): یعنې د عدالت بین المللي محکمه د هیوادونو تر منځ حقوقي شخړې حلوي او پریکړې اعلانوي، د عدالت بین المللي محکمه هغه وخت یوې قضیې ته د رسیده ګۍ واک لري کله چې د دعوی دواړه اړخونه محکمې ته مراجعه وکړي ځکه د نړیوالو شخړو په اړه قضاوت او پریکړې د دولتونو له رضایت پرته نشي تر سره کیدای، او د دولتونو تر منځ د شخړو په حل او فصل کې د هغوی رضایت او توافق اصلي شرط ګڼل کیږي.

**مشورتي واکونه** (Advisory Jurisdiction): یعنې کله چې ملګري ملتونه یا نور نړیوال سازمانونه د یوې موضوع په تړاو حقوقي او قانوني مشورې ته اړتیا ولري، د ملګرو ملتونو له طریقه محکمې ته مراجعه کوي او محکمه بیا د مشورې په توګه خپل نظر په ډاګه کوي.

د عدالت نړیواله محکمه د لاندې اشخاصو دعواوو ته د رسیده ګۍ واک لري:

**دولتونه**: د عدالت نړیوالې محکمې د اساسنامې د ۳۴ مادې د لومړي بند له مخې یوازې دولتونه کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي. خو اساسي پوښتنه دا ده چې کوم دولتونه د عدالت په بین المللي محکمه کې دعوی اقامه کولای شئ؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره هیوادونه په دریو برخو ویشو: ( ۱-د ملګرو ملتونو غړي هیوادونه چې خود بخوده د عدالت بین المللي محکمې غړي ګڼل کیږي؛ ۲- هغه هیوادونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري ولې د خاصو شرایطو په نظر کې نیولو

سره يې د عدالت د بين المللي محکمې اساسنامه قبوله کړې وي، د دې جملې څخه د سوئيس هيواد يادونه کولای شو چې د عدالت د بين المللي محکمې اساسنامه يې قبوله کړې وه ولې د ملگرو ملتونو غړيتوب يې نه درلود؛ ۳- هغه هيوادونه چې نه د ملگرو ملتونو غړيتوب لري او نه يې د عدالت د بين المللي محکمې اساسنامه لاسليک کړې وي په هغه صورت کې د عدالت بين المللي محکمې ته مراجعه کولای چې د امنيت شورى له خوا وضع شوي اصول قبول کړي دغه اصول بايد په هيڅ وجه د دعوى د لوريو د تساوې د اصل په ټکر کې نه وي ).

**افراد:** د عدالت د نړيوالې محکمې د اساسنامې د ۳۴ مادې د لومړي بند مندرج اصل دغه محکمې ته د افرادو د مراجعې مخه په مطلق شکل نه نيسي بلکې افراد د ديپلوماتيک حمايت د اصل څخه په استفادې د خپل متبوع دولت څخه غوښتلای شي چې د دوى قضيې ته په ياده محکمه کې رسيده گي وشي.

**نړيوال سازمانونه:** که څه هم د عدالت د بين المللي محکمې د اساسنامې د ۳۴ مادې د لومړي بند په موجب نړيوال سازمانونه په هيڅ وجه نشي کولای دغه محکمې ته خپلې شخړې د رسيده گی لپاره ارجاع کړي، ولې د همدغې مادې ۲ او ۳ بند د محکمې او نړيوالو سازمانونو تر منځ د همکارى پيش بيني کړې ده، يعنې د عدالت بين المللي محکمه د يوې موضوع اړوند نړيوالو سازمانونو ته مشورتي نظريې ورکوي.

### ۲. ۲. ۵. د عدالت بين المللي محکمې ته د شخړو د ارجاع کولو طريقې

دولتونه په لاندې څلورو طريقو د عدالت بين المللي محکمې ته حقوقي شخړې ارجاع کولای شي.

د مصالحه لیک ( Compromise ) له طریقه: یعنې کله چې د دولتونو تر منځ کومه حقوقي شخړه رامنځ ته شي نو مربوطه دولتونه د یو ځانګړي توافق پر بناء ذکر شوې شخړه د عدالت بین المللي محکمې ته وړاندې کوي، چې دې ته ( د محکمې د اختیاري واک پرنسیپ ) هم ویل کیږي.

د عامو معاهداتو له طریقه: یعنې د دې طریقې له مخې دولتونه د حقوقي شخړو د رامنځ ته کیدو مخکې په خپل منځ کې معاهدات کوي او د دغو معاهداتو پر اساس تعهد کوي چې د حقوقي شخړو د رامنځ ته کیدو په صورت کې به د عدالت بین المللي محکمې ته رجوع کوي لکه د بوګوتا د ۱۹۴۸ م کال معاهده، یا د شخړو د سولییز حل او فصل په مورد کې د اروپا د ۱۹۵۷ م کال معاهده.

په معاهداتو کې د عدالت نړیوالې محکمې ته د قضایاوو د ارجاع د شرط قید کول: په ځینو مواردو کې په معاهداتو کې دا شرط ایښودل کیږي که چیرته د معاهدې د اجرا یا تفسیر له امله کوم شخړه منځ ته راځي، نو هر یو له طرفینو کولای شي چې د عدالت د بین المللي محکمې څخه د رسیده ګۍ غوښتنه وکړي مثلاً د ویانا د ۱۹۶۱ م کال د دیپلوماتیکو اړیکو کنوانسیون او د ویانا د ۱۹۶۳ م کال د کونسلي اړیکو په کنوانسیون کې همدغه قید ذکر شوی دی.

پورته ذکر شوي ۲ او ۳ حالت ته ( د محکمې د اجباري واک پرنسیپ ) هم ویل کیږي.

د یو اړخیزه اعلامیو د صدور له طریقه: د عدالت د بین المللي محکمې د اساسنامې د ۳۶ مادې د دویم بند په موجب هغه هیوادونه چې نوموړې اساسنامه یې قبوله کړې ده کولای شي چې یو اړخیزه اعلامیې صادرې کړي او په دې شکل د حقوقي

شخړو د حل او فصل لپاره د عدالت د بین المللي محکمې واکونه د بل هر هغه هیواد په مقابل کې چې دغه تعهدات یې منلي دي په رسمیت وپېژني، د دغو اعلامیو اثر او اغیز یوازې د هماغو هیوادونو په مقابل او حدودو کې د منلو وړ دي کومو چې همدا تعهد کړی وي، نن ورځ تقریباً د ٦٠ څخه زیاتو هیوادونو په دغه شکل د عدالت د بین المللي محکمې واکونه منلي دي.

### ۲. ۲. ٦. د عدالت د بین المللي محکمې د پرېکړو ماهیت

د عدالت د بین المللي محکمې پرېکړې الزامي، قطعي، نهایي او د استیناف غوښتنې وړ نه دي. یعنې د دعوی لوري د دغې محکمې د پرېکړو په منلو باندې مکلف گڼل کېږي او که چېرته کوم لوری د عدالت د بین المللي محکمې پرېکړې ونه مني نو د دعوی بل لوری کولای شي امنیت شوری ته شکایت وکړي او امنیت شوری که چېرته لازمه وگڼي نو مربوطه هیواد ته توصیه کوي او یا کیدای شي د دغه هیواد په مقابل کې نور لازم اقدامات تر سره کړي، همدارنگه د عدالت د بین المللي محکمې پرېکړې قطعي او نهایي گڼل کېږي او د دعوی لوري نشي کولای چې په دې مورد کې استیناف طلبي وکړي مگر د فاحشې اشتباه په صورت کې د عدالت د بین المللي محکمې په پرېکړو تجدیدنظر کیدای شي مثلاً د دعوی یو لوری داسې اسناد او شواهد وړاندې کوي چې د هغې په موجب په حُکم کې اساسي تغیر واقع کېږي نو په دې صورت کې د دعوی اړوند لوری کولای شي د محکمې څخه وغواړي چې دغه نوي اسناد او شواهدچې د حُکم کولو په وخت کې په نظر کې نه دي نیول شوی، په نظر کې ونیسي، ولې دا ډول حالت ډېر کم واقع کېږي.

### ۲. ۲. ۷. د عدالت د بین المللي محکمې شکلي اصول او رسمي ژبې

د عدالت په بین المللي محکمه کې یوې موضوع ته د رسیده ګۍ لپاره شکلي قواعد دوو برخو ته شامل دي:( د عدالت د بین المللي محکمې اساسنامه، د محکمې داخلي اصول ). د عدالت د بین المللي محکمې رسمي ژبې انګلیسي او فرانسوي دي.

**پایله**

دغه علمي مقاله چې (د نړیوالو حقوقي شخړو او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونو) تر سرلیک لاندې لیکل شوې، لاندې پایلې ترې ترلاسه کېږي.

۱. نړیوالې حقوقي شخړې په دوه طریقو حل او فصل کېږي: غېر حقوقي یا دیپلوماتیکې طریقې او حقوقي طریقې (ارګانونه)؛ غېر حقوقي یا دیپلوماتیکې طریقې مذاکراتو، نیکو هڅو، منځګړیتوب، څېړنې او جوړ جاړي ته شاملې دي او حقوقي طریقې (ارګانونه) نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمه په بر کې نیسي.

۲. نړیوالې حقوقي شخړې نړیوال حکمیت ته په دریو طریقو (مصالحه لیک، د حکمیت شرط او عامو معاهداتو) او د عدالت بین المللي محکمې ته په څلورو طریقو ( مصالحه لیک، په معاهداتو کې د شرط قید کول، د عامو معاهداتو او د یو اړخیزه اعلامیو د صدور له طریقه) ارجاع کېږي.

۳. د حکمیت متني قواعد بالعموم د حکمیت په تاسیسي سند کې تصریح کېږي که چېرته په ذکر شویو سندونو کې د اړونده قواعدو او اصولو یادونه، نه وي شوي نو په دې صورت کې نړیوال حقوق د تطبیق او اجرا وړ دي. همدارنګه د حکمیت شکلي

قواعد د شخړې د لوریو یا د حکمیت د اړونده ارګان له خوا وضع کیږي؛ او د عدالت په بین المللي محکمه کې یوې موضوع ته د رسیده ګۍ لپاره شکلي قواعد دوو برخو ته شامل دي:( د عدالت د بین المللي محکمې اساسنامه، د محکمې داخلي اصول ).

۴. د حکمیت حُکم الزامي او قطعي دی، او د عدالت د بین المللي محکمې پریکړې الزامي، قطعي، نهایي او د استیناف غوښتنې وړ نه دي.

**مناقشه**

(نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) د عمومي بین المللي حقوقو یوه مهمه او دلچسپه موضوع ده چې د الله تعالی جل جلاله په مرسته مې په دقیق او هر اړخیز شکل تنظیم کړې او تر ممکنه بریده مو هڅه کړې چې د موضوع اړوند تقریباً ټول معلومات په دې مقاله کې ځای پر ځای کړم.

په نړیواله کچه دوه حقوقي ارګانونه د دې واک لري چې نړیوالې حقوقي شخړې حل او فصل کړي: نړیوال حکمیت او د عدالت بین المللي محکمه.

د حکمیت د ارګان حُکم دوه اصلي او اساسي حقوقي اثار منځ ته راوړي: یو الزامي والی او بل قطعي والي،چې دغه موضوع د لاهې د ۱۹۰۷ م کال کنوانسیون په ۸۱ او ۸۴ مادو کې هم ذکر شوې، یعنې د دعوی لوري مکلف دي چې د حکمیت حُکم ومني او د هغې د اجرا لپاره باید ټول لازم اقدامات تر سره کړي؛ همدارنګه د حکمیت د ارګان حُکم قطعي دي، مګر دا چې د دعوی لوریو په بل شکل توافق کړی وي، معمولاً د لاندې دلایلو له امله د حکمیت د ارګان حُکم خپل اعتبار له لاسه ورکوي ( په هغه

صورت کې چې مصالحه لیک اعتبار ونه لري؛ په هغه صورت کې چې د حکمیت محکمې د خپل واک څخه پورته اقدام تر سره کړی وي مثلاً د داسې موضوع په اړه یې حُکم صادر کړی وي چې د حکمیت ارګان ته نه وي ارجاع شوی او یا یې په داسې قوانینو استناد کړی وي چې د حکمیت د توافق له مخې مجاز نه وي؛ په هغه صورت کې چې د حُکم د علت اړوند دلایل نه وي ذکر شوي او یا د اساسي شکلي قواعدو څخه جدي تخلف شوی وي؛ په هغه صورت کې چې د حکمیت د یو غړي له خوا فساد یا فریب صورت نیولی وي ).

د عدالت د بین المللي محکمې پریکړې الزامي، قطعي، نهایي او د استیناف غوښتنې وړ نه دي. یعنې د دعوی لوري د دغې محکمې د پریکړو په منلو باندې مکلف ګڼل کېږي او که چېرته کوم لوری د عدالت د بین المللي محکمې پریکړې ونه مني نو د دعوی بل لوری کولای شي امنیت شورى ته شکایت وکړي او امنیت شوری که چېرته لازمه وګڼي نو مربوطه هیواد ته توصیه کوي او یا کیدای شي د دغه هیواد په مقابل کې نور لازم اقدامات تر سره کړي، همدارنګه د عدالت د بین المللي محکمې پریکړې قطعي او نهایي ګڼل کېږي او د دعوی لوري نشي کولای چې په دې مورد کې استیناف طلبي وکړي مګر د فاحشې اشتباه په صورت کې د عدالت د بین المللي محکمې په پریکړو تجدیدنظر کیدای شي مثلاً د دعوی یو لوری داسې اسناد او شواهد وړاندې کوي چې د هغې په موجب په حُکم کې اساسي تغیر واقع کېږي نو په دې صورت کې د دعوی اړوند لوری کولای شي د محکمې څخه وغواړي چې دغه نوي اسناد او شواهدچې د حُکم

کولو په وخت کې په نظر کې نه دي نيول شوی، په نظر کې ونيسي. ولې دا ډول حالت ډېر کم واقع کېږي.

**پايله اخېستنه**

کله چې د دوه يا څو دولتونو تر منځ د يو حق د اجرا، تطبيق يا تفسير پر سر ټکر موجود وي دې ډول ټکر ته نړيوالې حقوقي شخړې ويل کېږي. نړيوالې حقوقي شخړې د عدالت د نړيوالې محکمې د اساسنامې د ۳۶مې مادې په دويم بند کې تصريح شوې دي چې عبارت دې له: (۱۱ د معاهداتو د تفسير څخه راپيدا شوې شخړې؛ ۲. د بين المللي حقوقو له موضوعاتو څخه د يوې موضوع څخه راپيدا شوې شخړې (لکه ديپلوماتيک مصونيت)؛ ۳. د هر هغې مسالې څخه راپيدا شوې شخړې چې د ثبوت په صورت کې د يوې بين المللي ژمنې نقض وګڼل شي (مثلاً تېری)؛ ۴. د بين المللي خسارې د جبران د نوعيت او اندازې ( چې د يوې بين المللي ژمنې د نقض له امله صورت نيسي ) څخه راپيدا شوې شخړې.

نړيوالې حقوقي شخړې د نړيوال حکميت او د عدالت د بين المللي محکمې له لورې په حقوقي طريقه حل او فصل کېږي؛ نړيوال حکميت ته ټول حقيقي او حقوقي اشخاص کولای شي خپلې دعواوې وړاندې کړي ولې د عدالت بين المللي محکمې ته يوازې دولتونه د دعواوو د ارجاع کولو حق لري.

## وړانديزونه

د دې علمي مقالې په پای کې لاندې وړانديزونه کوم او هیله لرم چې مسلکي اشخاص او د دولتونو سياسي استازي او ديپلوماتان ترې په خپله مسلکي او کاري ساحه کې گټه پورته کړئ.

۱ـ په نړۍ کې د سولې او ثبات د ټینگښت او د دولتونو تر منځ د بين المللي همکارۍ د ودې او پراختيا لپاره اړينه ده چې دولتونه خپلې حقوقي شخړې او منازعات د سوليېزو لارو له طريقه حل او فصل کړئ.

۲ـ دا چې (نړيوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارگانونه) يو مهمه او تخنيکي موضوع ده پر همدې بنسټ لازمه بريښي چې د دې موضوع د ښه توضيح لپاره د دې مسلک د ليکوالانو له لوري نورې ليکنې او څېړنې هم تر سره شئ.

## اخځليکونه


۱ـ بلدسو ، رابرت او بوسچک ( ۱۳۷۵ش ). فرهنگ حقوق بين الملل، چاپ اول، ترجمه: بهمين اقايي تهران: کتابخانه گنج دانش.

۲ـ خاتم، احمد خالد ( ۲۰۱۴م ). عمومي نړيوال قانون، لومړی چاپ، کابل: د افغانستان د پراختيا او بشر دوستانه مرستو ټولنه.

۳ـ د کابل پوهنتون استادان ( ۱۳۸۹ش ). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، دويم چاپ، ناشر: پوهنتون کابل، پوهنځي حقوق و علوم سياسي.

۴ـ ذوالعین، پرویز ( ۱۳۸۸ش ). مباني حقوق بین الملل عمومي، چاپ هفتم، تهران: وزارت امور خارجه، مرکز چاپ و انتشارات.

۵ـ روسو، شارل ( ۱۳۴۷ ش ). حقوق بین الملل عمومي، جلد(۲)، ترجمه: محمد علي حکمت، تهران، دانشگاه تهران.

۶ـ سیدي، حسین ( ۱۳۸۳ش ). حقوق بین الملل عمومي، تهران: نشر قومس.

۷ـ شاو، ملکم ( ۱۳۸۹ش ). حقوق بین الملل، چاپ سوم، ترجمه: محمد حسین وقار، تهران، اطلاعات.

۸ـ صافي، ودیر ( ۱۳۸۷ش). نړیوال عمومي حقوق، ژباړن: امان الله ایمان وردګ، کابل، میوند خپرندویه ټولنه.

۹ـ ضیایي بیګدلي، محمد رضاء ( ۱۳۸۷ش ). حقوق بین الملل عمومي، چاپ سي و سوم، تهران: ګنج دانش.

۱۰ـ کاسسه، انتونیو ( ۱۳۸۸ش ). حقوق بین الملل، ترجمه: حسین شریفي طراز کوهي، تهران، میزان.

۱۱ـ کلکه دین، نګوین ، پاتریک دینه، والن پله ( ۱۳۸۲ش). حقوق بین الملل عمومي، چاپ اول، ترجمه: مقدمه و پیوست ها از حسن حبیبي، تهران، انتشارات ګنج دانش.

۱۲ـ مقتدر، هوشنګ ( ۱۳۷۲ش ). حقوق بین الملل عمومي، تهران: مطالعات سیاسي و بین المللي وزارت امور خارجه.

۱۹ـ موسي زاده، رضا ( ۱۳۸۲ش). بایسته هاي حقوق بین الملل عمومي، چاپ دوم، تهران: نشر میزان.

۲۰ -NK Jayakumar. International Law and Human Rights. New Delhi: Lexis Nexis.

**عزیزالدین نجات**
حقوقو سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالی څانگه.
لارښود استاد: دوکتور حمدالله کاکړ

# د اسلامي فقهې او افغانستان د مدني قانون له نظره د خیار تعین

**لنډیز**

د ټاکلو خیار هغه حق دی چې له مخې یې د عقد یو لوری کولی شي، چې د هغو دوه یا درې شیانو له منځه یو شی وټاکي، چې د وصف او ثمن له حیثه توپیر ولري.

د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره د ټاکلو خیار یوازې په مالي معوضو عقدونو کې، چې د شیانو د ملکیت د انتقال سبب کیږي ثابتیږي، لکه بیعه، د عوض په مقابل کې هبه او نور. د افغانستان د مدني قانون له نظره د ټاکلو خیار لپاره اړینه ده، چې درې شیان شتون ولري، چې د قانون دغه حکم له حنفي فقهې سره مطابقت لري؛ ځکه ټول شیان د ارزښت له پلوه په ښه، متوسط او ټیټ ارزښت لرونکي وېشل کیږي، نو په دې درې گونو شیانو کې مشتري د خپل مصلحت لپاره مناسب شی ټاکي. د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو د خیار لپاره درې ورځې وخت ټاکل شوی دی، مگر په اسلامي فقه کې د ټاکلو خیار د مودې په اړه د حنفي فقهاوو ترمنځ اختلاف دی. د امام ابوحنیفه (رحمه الله) له نظره د ټاکلو د خیار موده درې ورځې ده، نو که چېرته د ټاکلو د خیار موده له درې ورځو زیاته شي، عقد باطل گڼل کیږي. مگر د امام ابو یوسف (رحمه الله) او امام محمد (رحمه الله) له آنده د مودې ټاکل مهم دي، مگر د هغه په قول له درې ورځو زیاتېدای هم شي، نو ویلی شو، چې د افغانستان د مدني قانون دریځ د امام ابوحنیفه (رحمه الله) له نظر سره مطابقت لري.

د افغانستان د مدني قانون له نظره د ټاکلو خيار په فعلي او قولي منلو او ټاکلو سره او يا د مشتري په لاس کې د مبيعې د يوه ډول په له منځه تللو سره له منځه ځي، مګر اسلامي فقهاء په دې آند دي، چې په کومو شيانو چې د شرط خيار ساقطيږي، نو په هماغه شيانو د ټاکلو خيار هم ساقطيږي.

د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو خيار د خيار د خاوند په مړينې سره له منځه نه ځي او د هغه وارثانو ته ليږدول کيږي، مګر په اسلامي فقه کې شوافع، حنابله او د احنافو څخه امام زفر (رحمه الله) د ټاکلو خيار نه مني، مګر د احنافو فقهاء په دې نظر دي، که چيرې د خيار خاوند په ټاکلې موده کې د شيانو له منځه کوم شی ټاکلی نه وو، او د شي له ټاکلو وړاندې مړ شو، نو وارثان به يې د شي په ټاکلو اړ کيږي.

**کليدي کلمې:** ټاکلو خيار پيژندنه، ټاکلو خيار محل، ټاکلو خيار خاوند، ټاکلو خيار انتقال،ټاکلو خيار شرطونه،ټاکلو خيار سقوط.

**سريزه**

الحمد لله رب العالمين والصلاةُ والسلامُ علي محمداٍ و آله و اصحابه و من تبعهم باحسان الي يوم الدين، امابعد.فاعوذ باالله من الشيطن الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم : (ياأَيهَاالَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلواْ أمْوَالَكُم بَينَكُم بِالْبَاطِلِ إلاَّ أنْ تَكُونَ تِجَارةً عَنْ تَراضٍ مِّنْكُم.)

دا چې انسان ټولنيز موجود دی او له ټولنې پرته يې ژوند ستونزمن دی؛ ځکه نو انسان خپلې اړتياوې په يوازيتوب سره نه شي پوره کولای، نو اړ دی، چې په ټولنه کې له نورو انسانانو سره اړيکې ولري، تر څو خپلې اړتياوې پوره کړي. دوی د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره کله د هېواد دننه او کله له هېواده بهر له نورو انسانانو سره عقدونه کوي او خپلې اړتياوې پوره کوي. د عقدونو د انعقاد لپاره اسلامي شريعت او

د نړۍ مدني قوانین په خپله غېږه کې یو لړ قواعد لري او د همدې قواعدو له مخې د عقدونو اړوند چارې تنظیموي. د دې لپاره چې تړون کوونکي په خپل پوره رضایت عقدونه وتړي، نو په مدني قانون او اسلامي فقه کې مشتري ته دا واک ورکول شوی دی، چې د څو شیانو له منځه یو شی وټاکي او د خپلې لیوالتیا سره سم جنس وپیري، همدغه واک ته چې، مشتري یې د جنس د ټاکنې په برخه کې لري، په قانون او فقه کې د ټاکلو واک وایي. په دې موضوع د ښه پوهېدو لپاره لاندې څو موضوعات په سریزه کې روښانه کوم.

## د څېړنې ستونزه

کله کله پېرونکي د توکو د ټاکنې وړتیا نه لري، نو اړ دي، چې د توکو د ټاکلو لپاره له مسلکي خلکو سره سلا مشورې وکړي، ترڅو په آینده کې د پښېمانتیا سره مخامخ نه شي، مگر له بده مرغه، چې زموږ په ټولنه کې ډېری خلک د حقوقي او فقهي پوهې د کمښت له امله په دې نه پوهېږي، چې دوی د تړون پر مهال د توکو د ټاکنې حق څخه برخمن دي او کولی شي، چې د څو شیانو له منځه یو شی وټاکي او یا د توکو د ټاکنې په برخه کې د پوره ډاډمن کېدو وروسته عقد نافذ کړي، د دې لیکنې په واسطه به خلک وپوهېږي، چې دوی د توکو د پیرنې پر مهال د ټاکنې له حق څخه برخمن دي او کولی شي، چې د مسلکي خلکو سره تر مشورو وروسته، د معلومو توکو په برخه کې عقد نافذ کړي. که چېرته یې توکي خوښ نه وي، نو عقد له منځه وړلی شي، همدارنگه پېرونکی به وپوهېږي، چې کله د دوی دغه حق له منځه ځي.

## د څېړنې اهمیت

۱. کله نا کله پیرونکی د توکو په ټاکنه کې د بې تجربه گۍ له امله زړه نا زړه وي، نو د ټاکلو خیار له مخې دوی کولی شي، چې د مسلکي خلکو سره تر مشورې

وروسته عقد نافذ کړي، نو د دې لیکنې د لوستو له برکته به پیرونکی د دغه حق له کارونې خبر شي او نوموړی به د عقد وروسته د پښیمانتیا احساس ونه کړي.

۲. د دې لیکنې له لارې به پیرونکي وپوهیږي، چې دوی څه وخت له دې حق څخه ګټه اخیستلی شي او څه وخت ترې استفاده نشي کولی؛ ځکه د ټاکلو خیار په ځینو حالاتو کې له منځه ځي، چې پیرونکی بیا ناچاره دی، چې د عقد انفاذ ومني.

## د څېړنې موخې

د ټاکلو خیار د موضوع د څېړلو څخه غواړم، لاندې موخې ترلاسه کړم:

۱. د ټاکلو خیار په اړه د افغانستان مدني قانون او اسلامي فقهې دریځ روښانه کول.

۲. د ټاکلو خیار په تړاو د مدني قانون د خلاو په ګوته کول او د خلاو د رفعې لپاره د وړاندیزونو کول.

## د موضوع د انتخاب لاملونه

۱. څرنګه، چې موږ د خپلو ورځینو اړتیا د رفعې لپاره مختلف عقدونه تړو او له بل لوري زموږ په ټولنه کې د معاملاتو او په ځانګړي ډول د عقدونو د خیارونو په برخه کې د خلکو د پوهاوي کچه ټیټه ده، نو د دې لپاره چې د خیارونو په اړه او په ځانګړې توګه د ټاکلو خیار په اړه زموږ د ټولنې د وګړیو د پوهاوي کچه لوړه شوې وي، د خپلې مقالې د لیکلو لپاره مې د لاندې لاملونو له مخې د ټاکلو خیار موضوع انتخاب کړه.

۲. زمونږ په ټولنه کې په حقوقي برخه کې د جزايي موضوعاتو برخه تر يوه حده غښتلې ده. ډېرو ليکوالانو يې په اړه ليکنې کړې دي، مګر د مدني موضوعاتو په اړه ليکنې ډېرې کمې شوي او مدني برخه د جزايي برخې په پرتله فقيره ده، نو ځکه مې په مدني برخه کې د ټاکلو خيار موضوع غوره کړه.

۳. د دې لپاره چې پيرونکی د خپلې ليوالتيا له مخې توکي وټاکي او وروسته پښېمانه نه شي، نو په همدې موخه د اسلامي شريعت او قوانينو د ټاکنې واک ورکړی دی، تر څو د عقد په تړلو کې د هغه بشپړ رضايت تأمين شي، نو د همدغه حق د ښې پېژندنې او تشريح لپاره مې دغه مهمه موضوع غوره کړې ده.

**پخوانيو ليکنو ته کتنه**

په عقدونو کې د خيارونو او په ځانګړې توګه د ټاکلو خيار په تړاو په پښتو ژبه کې ډېر کم مواد پيدا کېږي، ولې په نورو ژبو کې د ټاکلو خيار په تړاو ډېر زيات مواد موندل کېږي، چې موږ يې څو کتابونو ته په لنډه توګه اشاره کړې او د خپلې ليکنې سره مو د هغوی توپير ښکاره کړی دی.

۱. په اردو ژبه کې د محمد طاهر منصوري کتاب (احکام بيع)، چې په (۲۰۰۵م) کال په اسلام آباد کې د اداره تحقيقات اسلامي له خوا خپور شوی دی.

۲. پــه اردو ژبــه کــې د منهــاج الــدين مينــايي کتــاب (اســلامی فقــه)، چــې پــه (۲۰۰۸م) کـال پـه لاهـور کـې د اسـلامک پـبلي کشـنز (پرائيوټ) لميټيـډ لـه خـوا خپور شوی دی

۳. پـه اردو ژبــه کــې د محمــد تقــي عــثماني کتــاب (اســلامی قــانون خريــد و فروخت) چې اصلاً په عـربي ژبه کې ليکـل شـوی وو او بيا لـه عـربي ژبې څخه فريـد احمـد بـن رشـيد کـاوي پـه اردو ژبـې ژبـاړلی دی. او پـه (۲۰۱٦م) کـال د انډيا په جمبوسر ـ گجرات کې د جامعه علوم القرآن له خوا خپور شوی دی.

۴. پــه اردو ژبــه د جميــل احمــد ســکروډهوي کتــاب (اشرف الهدايــه شــپږم ټوک)، چې پـه (۲۰۰٦م) کـال پـه لاهـور کـې دار الاشـاعت لـه خـوا خپـور شـوی دی.

۵. د ابـن رشـد کتـاب (بدايـة المجتهـد و نهايـة المقتصـد)، چـې پـه عـربي ژبـه ليکـل شـوی وو او اردو ژبـې تـه د عبيـدالله فهـد فلاحـي لـه خـوا ژباړل شـوی دی. او په (۲۰۰۹م) کال، په لاهور کې د دار التذکير له خوا خپور شوی دی.

٦. پـه اردو ژبـه کـې د وهبـة الـزحيلي کتـاب (الفقـه الاسـلامي و ادلتـه)، چـې پـه عربي ژبـه ليکـل شـوی وو او اردو ژبـې تـه د محمـد يوسـف تنـولي لـه خـوا ژباړل شـوی دی. او پـه (۲۰۱۲م) کـال پـه کراچـۍ کـې د دار الاشـاعت لـه خـوا خپـور شوی دی.

۷. په اردو ژبه کې د سید محمد سابق د کتاب (فقه السنة) ژباړه، چې د عبدالکبیر محسن له لوري شوې ده. او په (۲۰۱۵م) کال په لاهور کې مکتبه الاسلامیه له لوري خپور شوی دی..

۸. په اردو ژبه کې د احسان الله شایق کتاب (فقه معاملات)، چې په (۲۰۰۷م) کال په کراچۍ کې د دارالاشاعت له لوري خپور شوی دی.

۹. په اردو ژبه کې د خالد محمود، عبدالعظیم ترمذي او محمد انس کتاب (فقه حنفی قرآن و سنت کی روشنی مین)، چې په (۲۰۰۸م) کال په لاهور کې د اداره اسلامیات له لوري خپور شوی دی.

۱۰. په اردو ژبه کې د مجمع الفقه الاسلامي الهندکتاب، چې د الموسوعة الفقهیه الکویتة د کتاب ژباړه ده.

۱۱. په دري ژبه کې د داد محمد نذیر د اساسات حقوق اسلام تر سرلیک لاندې کتاب لیکلی دی. په (۱۳۸۹ش) کال په کابل کې د نعماني خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی.

۱۲. په دري ژبه د نظام الدین عبدالله کتاب، چې حقوق وجایب(شرح قانون مدنی افغانستان) تر سرلیک لاندې یې لیکلی دی او په (۱۳۹۳ش) کال په کابل کې سعید خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی.

۱۳. په دري ژبه کې د عبدالحسین رسولي کتاب، چې (د قواعد عمومي قراردادها) تر سرلیک لاندې لیکلی. او په (۱۳۹۶ش) کال په کابل کې د انتشارات فرهنگ له خوا خپور شوی دی.

۱۴. په دري ژبه پروفيسور ماري نوئل بشله، محمد عثمان ژوبل او نورو د دوره حقوق وجايب تر سرليک لاندې کتاب ليکلی. او په (۱۳۹۲ش) کال د انتشارات سعيد له خوا خپور شوی دی.

۱۵. په دري ژبه کې د سعدي بهبودي کتاب، چې د عبدالحميد محمود طهماز د کتاب (الفقه الحنفي في ثوبه الجديد) ژباړه ده. او په (۱۳۹۴ش) کال په مشهد کې د شيخ الاسلام احمد جان له لوري خپور شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې مې لاندې پوښتنې ځواب کړي دي:

۱. که چېرته د راکړې ورکړې پر مهال، پېرونکی د توکو د تاکلو خيار ونه لري، نو کومې ستونزې به رامنځته شي؟

۲. پېرونکی تر څه وخت د توکو د ټاکلو واک لري او په کومو حالاتو کې بې واکه کېږي؟

## د څېړنې تګلاره

دا يوه کتابتوني څېړنه ده، چې د افغانستان مدني قانون او مختلفو فقهي کتابونو څخه د دې مقالې په چمتو کولو کې ګټه اخيستل شوې او په هره موضوع کې د افغانستان مدني قانون او اسلامي فقهي دريځ روښانه شوی دی.

## لومړی مبحث: د خيار پېژندنه

د دې مبحث لاندې مې د خيار لغوي او اصطلاحي تعريف کړی دی، چې په لومړي مطلب کې خيار په لغوي لحاظ او په دويم مطلب کې خيار په اصطلاحي لحاظ تعريف شوی دی.

**لومړی مطلب: د خيار لغوي پېژندنه**

خيـار د عـربي ژبـې لغـت دی، چـې د اختيـار اسـم مصـدر يـا مصـدر دی او پـه لغت کې غوره، واک، ټاکلو او خوښې په معنی دی. (۷: ۲٦۱)

همدارنگـه خوښـولو تـه هـم ويـل کېـږي، لکـه ويـل کېـږي چـې (انـت باالخيـار) هر هغه شی چې غواړې، نو خوښ يې کړه. (۸: ۲۲٦)

**دويم مطلب: د خيار اصطلاحي پېژندنه**

مـدني قـانون د خيـار تعريـف وړانـدې کـړی نـه دی، مگـر پـه اسـلامي فقـه کـې خيـار پـه دې ډول تعريـف شـوی دی، چـې خيـار د هغـه واک څخـه عبـارت دی، چې عاقد يې د عقد د انفاذ او يا فسخې لپاره لري. (۳: ۱٦۵)

يا خيار هغـه حـق دی، چـې د لـورو د توافـق او يـا د شرعـي دليـل لـه مخـې د عقـد دواړو لورو ته او يـا يـوه لـوري تـه د عقـد د فسـخې او يـا امضـاء پـه موخـه ورکـول کېږي. په دې معنی چې خيار هغـه حـق دی، چـې د عقـد لـورو تـه د شريعـت لـه مخـې او يـا د دوه اړخيـز توافـق پـر اسـاس ورکـړل شـوی، چـې پـر بنسـټ يـې کولی شي عقد فسخه کړي او يا يې تاييد کړي. (۵: ۱۵۸)

د فقهـې لـه مخـې د خيـار سرچينې(منـابع) شريعـت او د عقـد د لـورو توافـق دی. ځينې خيـار ونـه خپلـه شريعـت ټـاکلي دي، لکـه د عيـب خيـار او د ليـدلو خيـار او ځينـې خيارونـه بيـا د لـورو د ارادې څخـه رامنځتـه کيـږي، لکـه د شرط خيـار او د ټاکلو خيار. (۵: ۱۵۸)

## دویم مبحث: د خیار د مشروعیت حکمت

دا چې په اسلامي شریعت کې د عقد اساس د عاقدانو بشپړ رضایت تشکیلوي، نو ځکه په حنفي فقه کې د دې هدف د لاسته راوړلو او د عقد د لورو څخه د ضرر د دفع کولو لپاره خیارات په پام کې نیول شوي ، تر څو له یوه لوري د انسان اساسي اړتیاوې پوره شي او له بل لوري د عقد د لورو حقیقي رضایت تأمین شي. (۹: ۴۲۷).

## درېیم مبحث: د ټاکلو خیار

د ټاکلو د خیار په اړه د ځینو موضوعاتو ذکر کول اړین دي، چې مونږ یې په لاندې سرلیکونو کې تر څېړنې لاندې نیسو او په اړه یې د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې دریځ روښانه کوو.

### لومړی مطلب: د ټاکلو د خیار تعریف

د افغانستان مدني قانون د ټاکلو د خیار تعریف نه دی کړی؛ مگر په اسلامي فقه کې د ټاکلو خیار په دې ډول تعریف شوی، چې د ټاکلو خیار هغه حق دی، چې له مخې یې د عقد یو لوری کولی شي، د هغو دوه یا درې شیانو له منځه یو شی وټاکي، چې د وصف او ثمن له حیثه توپیر ولري. (۴: ۲۸۴).

### دویم مطلب: د ټاکلو د خیار محل

د ټاکلو خیار یوازې په مالي معوضو عقدونو کې، چې د شیانو د ملکیت د انتقال سبب کېږي ثابتېږي، لکه بیعه، د عوض په مقابل کې، هبه او نور. (۵: ۱۹۲).

**دریيم مطلب: د ټاکلو د خيار خاوند**

د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو خيار يوازې مشتري ته ثابتېږي، چې په اړه يې داسې صراحت لري: (که د ټاکلو خيار مشتري ته ورکول شوی وي، نو حکم يې په يوه شي کې د ملکيت ثابتېدل دي او پاتې نور شيان که يې په تصرف کې وي، امانت ګڼل کېږي). (۲: ٦٦٧ ماده)

همدارنګه په اسلامي فقه کې د احنافو له نظره د ټاکلو خيار يوازې مشتري ته ثابتيږي او بل چاته نه ثابتېږي.

د يادولو وړ ده، چې د ټاکلو د خيار د خاوند په اړه د افغانستان د مدني قانون او حنفي فقهې دريځ يو دی او کوم اختلاف نه لري.

**څلورم مطلب: د ټاکلو د خيار انتقال**

د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو خيار د خيار د خاوند په مړينې سره له منځه نه ځي او د هغه وارثانو ته لېږدول کېږي، چې په دې اړه د افغانستان مدني قانون (٦٧٥) ماده داسې صراحت لري:(د ټاکلو خيار وارثانو ته انتقالېږي.) (۲: ٦٧٥ ماده).

مګر په اسلامي فقه کې شوافع، حنابله او د احنافو څخه امام زفر (رحمه الله) د ټاکلو خيار نه مني، مګر د احنافو فقهاء په دې نظر دي، که چېرې د خيار خاوند په ټاکلې موده کې د شيانو له منځه کوم شی ټاکلی نه وو او د شي له ټاکلو وړاندې مړ شو، نو وارثان به يې د شي په ټاکلو اړ کېږي. (۳: ۱۷۰)

د يــادونې وړ ده، چــې وارثــانو تــه د ټــاکلو خيــار د انتقــال پــه اړه د افغانســتان د مدني قانون(٦٧٥) ماده د حنفي فقهې سره مطابقت لري.

**پنځم مطلب: د ټاکلو د خيار شرطونه**

د ټاکلو د خيـار لپـاره ځينې شرطونـه پـه پـام کـې نيـول کېـږي، چـې مـونږ تـرې پـه لنډه توګه يادونه کوو:

**لومړی جز: د ټاکلو خيار بايد د درې شيانو په منځ کې وي**

د ټـاکلو د خيـار لپـاره اړينـه ده، چـې درې شيان شـتون ولـري، چـې پـه دې اړه د افغانســتان د مــدني قــانون (٦٦٣) مــاده کــې داســې صراحــت لــري: (کــوم شــيان چـې د خيـار د موضـوع پـه حيـث ټاکـل کېـږي بايـد چـې د درې شـيانو څخـه زيات نه وي) (٢: ٦٦٣ ماده)

پـه اسلامي فقـه کـې هـم د حنفـي فقهـاوو لـه نظـره د ټـاکلو خيـار لـه پـاره د درې شيانو شتون اړيـن دی؛ ځکـه چـې ټـول شيان د ارزښـت لـه پلـوه پـه ښـه، متوسط او ټيــټ ارزښــت لرونکــي وېشــل کېــږي، نــو پــه دې درې ګوونــو شــيانو کــې مشتري د خپل مصلحت لپاره مناسب شی ټاکي. (۴: ۲۵۸)

د يـادولو وړ ده چـې د ټـاکلو خيـار د شـيانو د شـمېر پـه اړه د افغانسـتان د مـدني قانون (٦٦٣) ماده د حنفي فقهې سره مطابقت لري.

**دويم جز: د ټاکلو د خيار موده بايد معلومه وي**

د افغانسـتان د مـدني قـانون لـه مخـې د ټـاکلو د خيـار لپـاره درې ورځـې وخـت ټاکــل شــوی دی، چــې پــه اړه يــې د افغانســتان مــدني قــانون پــه دې ډول

صراحت لري: (د ټاکلو د خيار موده د درې ورځو څخه نه شي زياتېدلی، د مودې پيل د وخته اعتبار لري). (۲: ٦٦۴ ماده)

په اسلامي فقه کې د ټاکلو خيار د مودې په اړه د حنفي فقهاوو ترمنځ اختلاف دی. د امام ابوحنيفه (رحمه الله) له نظره د ټاکلو د خيار موده درې ورځې ده، نو که چېرته د ټاکلو د خيار موده له درې ورځو زياته شي، عقد باطل ګڼل کېږي؛ مګر د امام ابو يوسف (رحمه الله) او امام محمد (رحمه الله) له آنده د مودې ټاکل مهم دي، مګر موده يې له درې ورځو زياتېدای هم شي. (۱۰: ۸۴)

بايد يادونه وکړو، چې د ټاکلو خيار د مودې په اړه د افغانستان د مدني قانون (٦٦۴) ماده د امام ابو حنيفه (رحمه الله) له نظر سره مطابقت لري.

**درېيم جز: درې ګوني شيان به د وصف او قيمت له حيثه جلا وي**

د شيانو د وصف او قيمت په اړه د افغانستان په مدني قانون کې وضاحت نشته؛ مګر په اسلامي فقه کې اړينه ده، چې شيان به قيمي وي، نه مثلي. (٦: ۲۷۸)

د قيمي شيانو نه موخه هغه شيان دي، چې په بازار کې يې مثل نه پيدا کېږي. يا هغه شيان دي، چې د قيمت په توپير سره پيدا کېږي. (۱۰: ۸۴)

**شپږم مطلب: د ټاکلو د خيار سقوط**

د ټاکلو خيار په فعلي او قولي منلو سره او يا د مشتري په لاس کې د مبيعې د يوه ډول په له منځه تللو سره له منځه ځي، چې په دې اړه د افغانستان مدني قانون داسې صراحت لري:

۱. که خيار خرڅوونکي ته ورکړل شوی وي، د خيار د موضوع شيان د ټاکلو تر و خته د هغه په ملکيت کې پاتې کيږي او د ټاکلو وروسته يو ټاکل شوی شی د عقد موضوع ګڼل کيږي.

۲. که متصرف په يوه شي کې تصرف کړی وي، نو تصرف يې جايز ګڼل کيږي. (۲: ۶۷۱ ماده)

۳. کوم خرڅوونکي ته، چې د ټاکلو خيار ورکول شوی وي، کولی شي چې عقد فسخه او يا تړون وکړي، د هغه تصرف د ټاکلو خيار د موضوع په شيانو کې جايز دی، د هغه دا تصرف د عقد فسخه کېدل ګڼل کېږي. ۲- که بايع د پورتنيو شيانو څخه په يوه شي، مشتري مکلف کړي، نو مشتري وربانديې ملزم کيږي . (۲: ۶۷۲ ماده)

مګر اسلامي فقهاء په دې آند دي، چې په کومو شيانو چې د شرط خيار ساقطيږي، نو په هماغه شيانو د ټاکلو خيار هم ساقطيږي. (۱۰: ۸۷). په عمومي ډول ويلی شو، چې د ټاکلو د خيار د سقوط اسباب په لاندې ډول دي:

۱- صراحتاً او يا دلالتاً د دوه يا درې شيانو له منځه د يوه شي ټاکل.

۲- د قبض وروسته د مشتري له لوري د یوه شي له منځه تلل.

۳- د یوه شي په داسې ډول معیوبېدل، چې مالک ته یې بېرته سپارل ممکن نه وي. (۹: ۴۳۸)

**پایله**

۱- د افغانستان مدني قانون د ټاکلو د خیار تعریف نه دی کړی، مګر په اسلامي فقه کې د ټاکلو خیار هغه حق دی، چې د هغې له مخې یې د عقد یو لوری کولی شي، د هغو دوه یا درې شیانو له منځه یو شی وټاکي، چې د وصف او ثمن له حیثه توپیر ولري.

۲- د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره د ټاکلو خیار یوازې په مالي معوضو عقدونو کې، چې د شیانو د ملکیت د انتقال سبب کېږي ثابتېږي، لکه بیعه، د عوض په مقابل کې هبه او نور. د یادولو وړ ده چې په دې برخه کې د افغانستان مدني قانون او اسلامي فقهې حکمونه یو له بل سره مطابقت لري.

۳- د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو خیار یوازې مشتري ته ثابتیږي، چې د قانون دریځ د حنفي فقهې سره مطابقت لري.

۴- د افغانستان د مدني قانون له نظره د ټاکلو خیار لپاره اړینه ده، چې درې شیان شتون ولري، چې د قانون دغه حکم له حنفي فقهې سره مطابقت لري؛ ځکه ټول شیان د ارزښت له پلوه په ښه، متوسط او ټیټ ارزښت لرونکي وېشل کېږي، نو په دې درې ګونو شیانو کې مشتري د خپل مصلحت لپاره مناسب شی ټاکي.

۵- د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو د خيار لپاره درې ورځې وخت ټاکل شوی دی، مګر په اسلامي فقه کې د ټاکلو خيار د مودې په اړه د حنفي فقهاوو ترمنځ اختلاف دی. د امام ابوحنيفه (رحمه الله) له نظره د ټاکلو د خيار موده درې ورځې ده، نو که چېرته د ټاکلو د خيار موده له درې ورځو زياته شي، عقد باطل ګڼل کېږي. مګر د امام ابو يوسف (رحمه الله) او امام محمد (رحمه الله) له آنده د مودې ټاکل مهم دي، د دوی په نظر له درې ورځو زياتېدای هم شي، نو ځکه ويلی شو چې د افغانستان د مدني قانون دريځ د امام ابوحنيفه (رحمه الله) له نظر سره مطابقت لري.

٦- د افغانستان د مدني قانون له نظره د ټاکلو خيار په فعلي او قولي منلو سره او يا د مشتري په لاس کې د مبيعې د يوه ډول په له منځه تللو سره له منځه ځي، مګر اسلامي فقهاء په دې آند دي چې په کومو شيانو کې، چې د شرط خيار ساقطيږي، نو په هماغه شيانو د ټاکلو خيار هم ساقطيږي.

۷- د افغانستان د مدني قانون له مخې د ټاکلو خيار د خيار د خاوند په مړينې سره له منځه نه ځي او د هغه وارثانو ته لېږدول کېږي، مګر په اسلامي فقه کې شوافع، حنابله او د احنافو څخه امام زفر (رحمه الله) د ټاکلو خيار له منلو څخه ډډه کوي، مګر د احنافو فقهاء په دې نظر دي، که چېرې د خيار خاوند په ټاکلې موده کې د شيانو له منځه کوم شی ټاکلی نه وو او د شي له ټاکلو وړاندې مړ شو، نو وارثان به يې د شي په ټاکلو اړ کېږي.

بايد يادونه وشي، چې وارثانو ته د ټاکلو خيار د انتقال په اړه د افغانستان د مدني قانون د حنفي فقهې سره مطابقت لري.

**مناقشه**

ډېرى مهال د پيرونكي د رضايت خلاف، پرې هغه توكي تپل كېږي؛ ځكه د معاملې د تړلو پر مهال يې توكي ليدلي نه وي، نو د معاملې د تړل كېدو وروسته د پښيمانتيا څرگندونه كوي. نو د دې څېړنې په پايله كې به خلک د خيار تعين په فقهي او حقوقي ماهيت وپوهېږي او هڅه به كوي، تر څو په معاملاتو كې د ضرر د دفعې لپاره د خيار تعين څخه كار واخلي، ځكه د خيار تعين د مشروعيت حكمت په معاملاتو كې د طرفينو د بشپړ رضايت تأمين او د ضرر دفع ده. د يادولو وړ ده، چې د خيار تعين په اړه په اسلامي فقه كې ډېر وضاحت موجود دى او د مختلفو فقهي مذاهبو له اړخه موضوع روښانه شوې ده، مگر ما د ټاكلو خيار په اړه نه يوازې دا چې د فقهې دريځ روښانه كړى دى، د افغانستان مدني قانون دريځ مې هم څرگند كړى دى. زما ليكنه د يادو كتابونو سره له دوه زاويو متفاوته ده، چې په لاندې توگه ورته اشاره كوم.

**الف- د مستقل والي له حيثه:** په پورته فقهي كتابونو كې د ټاكلو خيار د يوه عنوان پتوگه په اجمالي ډول ذكر شوى دى، مگر ما د ټاكلو خيار د مستقل عنوان پتوگه څېړلى دى او ټوله موضوع په همدې عنوان راڅرخي.

**ب ـ د اړخونو له حيثه:** په پورته فقهي كتابونو كې د ټاكلو خيار يوازې د فقهې له اړخه ذكر شوى دى، مگر ما د اسلامي فقهې سربېره د افغانستان په مدني قانون كې هم څېړلى ده.

**پايله اخيستنه**

د افغانستان مدني قانون د اسلامي فقهې سره مطابقت لري، د تاکلو خيار په اړه ټول موضوعات يې د اسلامي فقهې سره مطابقت لري. په اکثرو مواردو کې د حنفي فقهې نه استفاده شوې ده او په ځينو محدودو مواردو کې د نورو فقهي مذاهبو دريځ باندې هم تکيه شوې ده.

خلکو ته پکار ده، چې د ټاکلو خيار په معنی پوه شي او په خپلو ورځنيو معاملاتو کې ورڅخه ګټه واخلي، تر څو له ضرر څخه خوندي شي.

**وړانديزونه**

د دې موضوع د څېړنې وروسته لاندې دوه وړانديزونه کوم، په دې هيله چې ښکيلې خواوې او مسلکي اشخاص ورته پام وکړي.

- په معاملاتو کې د لورو رضايت د تأمين او ضرر د دفعې لپاره اړينه ده، چې د معاملې لوري د ټاکلو خيار په ماهيت وپوهيږي او له خپل دغه واک څخه د معاملاتو د اجراء پر مهال ګټه واخلي.
- نورو څېړونکو ته مې وړانديز دا دی، چې د آنلاين سوداګرۍ پر مهال د توکو د ټاکلو څرنګوالی مشخص کړي او هم دې په برخه کې د ټاکلو خيار ماهيت واضح کړي؛ ځکه په دې برخه کې د افغانستان مدني قانون کې کوم وضاحت نه دی شوی.

**ماخذونه**


۱. بشله، ماري نوئل.(۱۳۹۲ش). دوره حقوق وجايب. چاپ سوم.کابل: انتشارات سعيد.

۲. زحيلي، وهبة الزحيلی.(۲۰۱۲م). الفقة الاسلامي و ادلته. اردو ژباړن: مفتي ابرار حسين او محمد يوسف تنولی. پنځمه او شپږمه برخه. جلد(۳).

۳. طهماز، عبدالحميد محمود. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد.[بازنگری جديد فقه حنفي(بر مبنای مذهب امام ابو حنيفه با ذکر دلايل از قرآن و سنت)]. مترجم: بهبودی، سعدي.(۱۳۹۴ش). مشهد: شيخ الاسلام احمد جان. جلد چهارم.

۴. عبدالله، نظام الدين.(۱۳۹۳ش). شرح قانون مدني افغانستان(حقوق وجايب).کابل: انتشارات سعيد.

۵. عدليې وزارت.(۱۳۵۵ش). مدني قانون. رسمي جريده. پرلپسې گڼه (۳۵۳).

۶. علي، سيد امير علي. فتاوای عالمگيري(جديد اردو). جلد چهارم. کتاب البيوع. لاهور: مکتبه رحمانيه.

۷. کويټ اوقافو او سلامي چارو وزارت، موسوعه فقهيه. اردو ترجمه. مجمع الفقه الاسلامی الهند.جامعه نگر. نئی دهلی.جلد(۲۰).

۸. کیرانـــوي، وحیـــدالزمان قاســـمی.(۱۹۹۰م). القـــاموس الجدیـــد(عربی –اردو لغت). لاهور: اداره اسلامیات.

۹. لـــــوئیس معلـــــوف (۲۰۰۹م). المنجـــــد(عربي –اردو). اردو مـــــترجم: عبدالحفیظ بلیاوي. لاهور: قدوسیه اسلامک پریس

۱۰. نـــذیر، دادمحمـــد.(۱۳۸۹ش).اساســـات حقـــوق اســـلام. چـــاپ ســـوم.کابل: انتشارات نعمانی.

**محصل غازي زاده**

مستقبل پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی

لارښود استاد: دوکتور عبدالوهاب حسام

# د شريعت له نظره د نشه يي او مخدره توکو حکمونه

## ملخص الموضوع

### تحريم الخمر

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٩٠ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١﴾ (المائدة ٩٠- ٩١).

**الخمر:** المسكر من عصير العنب وغيره، وهي مأخوذة من خَمَر الشيء إذا ستره وغطاه، سميت خمراً لأنها تستر العقل وتغطيه، ومنه قولهم: خمّرتُ الإناء أي غطيته.. الخمر في اللغة: ما ستر على العقل، يقال: دخل فلان في خمار الناس أي في الكثير الذي يستتر فيهم، وخمار المرأة قناعها، سمي خماراً لأنه يغطي رأسها.

ورد تحريم الخمر في القرآن والسنة والإجماع، و ثبت تحريم كل مسكر با الأحاديث النبوية و إجماع الأمة كما ثبت بهما تحريم كل مفتر أو ما يضر بالصحة.

سمي في عدد من الأحاديث النبوية كل مسكر خمر،على سبيل المثال: (( كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.وفي رواية: كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ )).صحيح مسلم.

## تحريم المُخَدِّرَات

والشريعة الإسلامية كما حرمت الخمرحرمت المخدر، وهو مأخوذ من الخَدْرِ، وهو الضعف والكسل والفتور والاسترخاء، يقال: خَدَرَ العُضْوُ إذا استرخى فلا يطيق الحركة.. بناءا على التحقيق اللغوي لكلمة المخدرة بآنها تعنى الفتور والكسل- مع معاني أخرى- فالذي يتناول المخدرات يصيب بالفتور والكسل..

والمخدرات والمسكرات أنواع متعددة، يتفنن الناس في تناولها بأسماء مختلفة، ويلجأ بعضهم إلى تعاطي أشياء تحقق الهدف المقصود من تغطية العقل، وكلها تشترك في حكم واحد، وهو التحريم بسبب ما فيها من الضرر المؤكد المحصول. أخرج أبوداود في سننه: عَنْ أُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَ مُفْترٍ)). ففي هذا الحديث ذكرت مع كلمة مُسْكِرٍ كلمة مُفْترٍ. يقول ابن الأثير رحمه الله في معناه: المُفْتِر الَّذِي إِذَا شُرِب أَحْمَى الْجَسَدَ وَصَارَ فِيهِ فُتُور، وَهُوَ ضَعْف وانكِسار.(النهاية فى غريب الحديث والأثر ٣/ ٤٠٨).

إن جميع المخدرات الحادثة بعد القرون الستة الأولى حرام كالخمر، لمخامرتها العقل وتغطيتها إياه. وفيها مفاسد الخمر ومضاره، وتزيد عليها، فهي أكثر ضررا وأكبر فسادا من الخمر؛ لأنها تضر الأمة ضررا بليغا، أفرادا وجماعات، ماديا، وصحيا، وأدبيا. ولا شك بأن الشريعة الإسلامية تحرم المفاسد والمضار، وتجيز ما فيه مصالح حقيقية، خالصة أو راجحة. وأما ما يزعمه بعض الناس فيها من مصالح ومنافع فهي وهمية خادعة.

ذكرالإمام الحصفكي الحنفي رحمه الله (في در المختار): ((ويحرم أكل البنج والحشيشة.. والأفيون لأنه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة.. ومن قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع.. وإنه يكفر ويباح قتله)).

## عقوبة متناول المخدرات

يرى شيخ الإسلام ابن تيمية إقامة حد الخمرعلى من سكر من الحشيشة؛ لأنها تشتهى وتطرب، فالحكم عنده منوط باشتهاء النفس. ويقول الدكتور وهبة الزحيلي:((لا حد في البنج والحشيشة والأفيون؛ لأنها ليست فيها لذة ولاطرب، ولا يدعو قليلها إلى كثيرها، وإنما فيها التعزير لضررها، ولما رواه أبو داود عن أم سلمة رضي الله عنها قالت: «نهى رسول الله صلّى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفترٍّ».(الفقه الإسلامي و أدلته, وهبة الزحيلي ٧/ ٤٣٧).

واتفق الفقهاء على تعزير متناول المخدرات بدون عذر كما في حال التداوي، والتعزير يكون بالتوبيخ والضرب والحبس والتشهير والتغريم بالمال وغير ذلك مما يراه القاضي أو الحاكم زاجراً ورادعاً الناس عن اقتراف الجرائم والمنكرات.

وأجاز فقهاء الحنفية والمالكية أن تكون عقوبة التعزير هي القتل، ويسمونه القتل سياسة، أي إذا رأى الحاكم المصلحة في ذلك، وكان جنس الجريمة يوجب القتل، كما في حال التكرار أو إدمان المسكرات والمخدرات، واعتياد الإجرام أو اللواط أو القتل بالحجر أو العصا أو الخشب. وهذا يصلح دليلاً أو مستنداً لما أفتى به بعض المفتين المعاصرين من اقتراح مشروع قانون يقضي بعقوبة متعاطي المخدرات بالإعدام شنقاً. وفي ذلك توفير مؤيد أو رادع من قبل السلطة الحاكمة لكل من يتاجربالمخدرات أو يتعاطاها، أو يقوم بتهريبها.

وقد أصبحت عصابات التهريب وتجار المخدرات خطراً على الدول المختلفة، فلا يجوز التهاون بشأن إنزال أقسى العقوبات في حقهم، لحماية المجتمع من أضرار المخدرات ومفاسدها الجسيمة.

## زراعة البنج والأفيون

ذكر العلماء أن زراعة البنج حرام، كذلك تحرم زراعة الأفيون -إذا لم يكن لغرض طبي- روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: ((مَنْ حَبَسَ الْعِنَبَ أَيَّامَ الْقِطَافِ حَتَّى يَبِيعَهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ، أَوْ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا، فَقَدْ تَقَحَّمَ النَّارَ عَلَى بَصِيرَةٍ)). المعجم الأوسط للطبراني. و روى أبو داود في سننه عن ابن عباس أن رسول الله صلّى الله عليه وسلم قال: « إن من حَبَس العنب أيام القطاف حتى يبيعه ممن يتخذه خمراً، فقد تقحم النار». وهذا دليل صريح على حرمة زراعة الحشيش والقات وكل ما يؤدي لاستخراج عصارة الأفيون والهروين والكوكايين وغير ذلك.

## الإتجار بالمخدرات

إن الإتجار بالمخدرات بيعاً وشراء وتهريباً وتسويقاً أمر حرام كحرمة تناول المخدرات؛ لأن الوسائل في الشريعة تأخذ حكم المقاصد، ويجب سد الذرائع إلى المحرمات بمختلف الإمكانات والطاقات؛ لأن التاجر يسهِّل رواج المخدرات وتعاطيها، فيكون الثمن حراماً، والمال سُحْتاً، والعمل ضلالاً، والإتجار بها إعانة على المعصية،والبيع باطل، قال الله تعالى: {وتعاونوا على البر والتقوى،ولا تعاونوا على الإثم والعدوان} [المائدة:5/2].

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((لَعَنَ اللهُ اليَهُودَ، حُرِّمَتْ عليهم الشحومُ فباعوها وأكلوا أثمانَها، وإن الله عز وجل إذا حَّرم أكلَ شيءٍ حَرَّم ثمنَه)).مسند أحمد. وقال صلى الله عليه وسلم: ((إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ)). سنن الدار القطني.

## کلیدي کلیمې

الخَمْر: شراب.التَّخْمِير: خومارول او بې سده کول، الْمُخَامَرَة: بې سده او ګډوډول.

التَّغْطِيه: پټول،سر پوښ کول، يعنې عقل له خپله حالت بل حالت ته وړل.
.المُسْكِر: نشه ورکوونکی څيز. المُخَدِّر او المُفْتِرِ: سستوونکی اوکمزوری کوونکی څيز.
البَنْج: بنگ. الحَشِيشَة: چرس. الأفِيُون: اپين.تَعْزِير: په شريعت کې نا ټاکلې سزا.
اجماع، قياس، ضرر اوتاوان.

**سريزه**

اسلامي شريعت چې ټول احکام يې د انسان پر گټې باندې بنا دي، هر هغه څه په کې روا دي چې انسان ته په کې گټه ده او کوم څيز چې يې حرام گرځولی، هغه انسان ته سراسر تاوان لري. د دې سپيځلي شريعت عمده مقصد او بنسټيزه موخه د پنځو شيانو ساتنه ده:

۱. **دين:** چې له هغې څخه د گرځېدو (مرتد کېدو) په صورت کې شريعت د مرتد وژنه فرض کړې ده او د ديني شعايرو د اقامې او خوندي پاتې کېدو لپاره يې جهاد فرض کړی دی.

۲. **نفس:** چې د هغې خوندي پاتې کېدو لپاره يې قصاص او نور اړونده احکام فرض کړي.

۳. **عقل:** چې د هغې حفاظت لپاره يې شراب او  د ټولو نشه يي او مخدره توکو استعمال بې له طبي لازمې اړتيا  حرام کړی او که څوک شراب وڅښي، نو د هغې لپاره په شريعت کې په درو وهل دي  او که يو څوک شرابو ته ورته نشه يي او يا کوم مخدر مواد استعمال کړي، نو د تعزير سزا ورته مقرر ده، يعنې هغه سزا چې ټاکلې حد نه لري بلکې د جرم او حالاتو برابر يې قاضي او يا حاکم ټاکي.

**۴. مال:** چې د هغې د ساتنې لپاره یې د غله لاس قطع کول او نورې اړونده لارې چارې فرض کړي.

**۵. نسب او ناموس:** چې دهغې خوندي پاتې کېدو لپاره یې د نامحرمو (پردیو سړو او ښځو) ترمنځ اختلاط حرام کړی، د زنا ټولې لارې یې تړلي او د زنا کوونکو لپاره یې رجم او یا په درو وهلو حد فرض کړی دی.

نو داچې د نشه یي او مخدره توکو کارونه د اسلامي شریعت له بنسټیزو موخو سره په ټکر کې دي، د انسان نفس، عقل، مال او آن تر دې چې دین په خطر او تاوان کې اچوي؛ نو له دې امله حرام گرځول شوي دي او د دې ناوړه کارونو تاوانونه له هیچا پټ نه دي. که لیرې ولاړ نه شو او خپلې ټولنې ته راشو، نو دا به راته جوته شي چې د هغې له امله مو په هېواد کې یو ستر ناورین رامنځ ته شو.

د نورو گواښونو ترڅنگ نشه یان او د اړونده مخدره او نشه یي توکو تولید، صادرېدل او یا له نورو هېوادو څخه بېلابېل نشه یي توکي وارېدېدل، زموږ هېواد او ټولنې ته یو ستر گواښ دی، باید چې د ټولنې مسولین او با احساسه مومن وگړي یې درک او مخه یې ډب کړي.

په هېواد او ټولنه کې د نشه یي او مخدره توکو د مخنیوي په عملیه کې لومړی باید چې عام او خاص وگړي د شریعت په رڼا کې د هغې د کرهنې، تولید، سوداگرۍ او کارونې حکم ته، چې حرام والی دی، پوره پاملرنه وکړي او بیا یې د مخنیوي لپاره عملي هلې ځلې پیل کړي.

د څلورنیمو لسیزو انقلابي شرایطو په موده کې د هېواد ځینې ولایتونو په اطرافي سیمو کې د چرسو او کوکنارو پر کښت باندې د یو شمېر دهقانانو بوختیا او له هغې

وروسته د مخدره توکو تولید، زموږ د هېواد په تباهۍ او خرابۍ کې خپله اغېزه درلوده او تر اوسه يې بدې پایلې لیدل کېږي. خو په تېر کې د دې منکر او شریعت خلاف کار په مقابل کې د علماوو او مسولو وګړو هلې ځلې له نشست سره برابرې وې.

له انقلاب نه مخکې به عامو خلکو او ورسره ځینې علماوو د کوکنارو د کرهنې جواز لپاره دا دلیل وایه چې دا یو حکیمې بوټی دی، خو د کمونستي انقلاب له رامنځ ته کېدو او بیا د هجرتونو لړۍ له پیلېدو وروسته خاصو او عامو وګړو ټولو ته دا معلومه شوه چې د کوکنارو د تولید ماده (افیون) په سلو کې له ۹۷٪ څخه د انسانانو په تباهۍ کې استعمالیږي. نو ایا اوس به د کوکنارو کښت، تولید او سوداګرۍ په حرمت کې کوم د علم او پوهې خاوند څه ادنی شک هم وکړي؟ دا په داسې حال کې چې په خپله زموږ د مسلمان ولس یو زیات شمېر بچیان د نشه کېدو او پوډري کېدو په ګرداب کې ور داخل شوي او د اسلامي امارت له راتللو مخکې دغه وضعیت پر یو ستر ناورین باندې بدل شوی وو.

الحمد لله چې د تېر کال (۱۴۰۱المریز) په وروستیو کې د اسلامي امارت اړونده ادارې د دې ناورین د مخنیوي او د مصیبت ځپلو (معتادینو) د ژغورنې لپاره په پوره اخلاص سره متې رابډ وهلې او په دې اړه يې لازمې کړنې ترسره کړې. له الله تعالی څخه غواړو چې دا هلې ځلې لا زیاتې پیاوړې او د نشه کوونکو او مخدره موادو، د تولید، قاچاق او کارونې ټولې لارې چارې بندې او د نورو بدبختیو څخه د ژغورنې ترڅنګ له دې بدبختۍ او مصیبت څخه هم ټول ملت خوندي او وژغول شي.

زموږ دا لیکنه او څېړنه چې د نشه کوونکو او مخدره توکو شرعي حکم څرګندوي، د موضوعاتو ترتیب يې په دې توګه دی:

د شرابو او نشه کوونکو څیزونو حراموالی، د مخدره توکو حراموالی، دمخدره توکو استعمالوونکو سزا، د بنګو او کوکنارو کرهڼه، د نشه يي او مخدره توکو سوداګري.

په دې څېړنه کې د قرآني او نبوي نصوصو سربېره د موضوع اړونده ځینې فقهي اقوال هم ذکر شوي، له اړونده مراجعو څخه په استفاده د ځینو کلماتو او اصطلاحاتو تعریف او وضاحت ته په کې پاملرنه شوې ده.

باید ووایم چې دا موضوع (د نشه يي او مخدره توکو شرعي حکمونه) یو پراخه موضوع ده، د دې وتیا لري، څو د یوې رسالې او یاکتاب موضوع شي، نو داچې په مجله کې د خپرېدو لپاره مو چمتو کړې ده، نو ځکه مو د هغې د مطالبو پر اختصار او لنډیز باندې اکتفاء وکړه او د دې له امله چې لیکنې ته دا شکل ورکول او د هغې ترتیب یو انساني هڅه او کوښښ دی، له نیمګړتیاوو به خالي نه وي، نو له الله تعالی څخه د هغې معافي او بښنه غواړم.

## د څېړنې اړتیا

د نشه يي او مخدره توکو شرعي حکمونه موضوع څېړنې ته خورا زیاته اړتیا ده، د دې لپاره چې عملا مو په هېواد او ټولنه کې د هغې بدې اغیزې لیدل کېږي او د هغې له بېلابېلو تاوانو سره مو هېواد او ولس لاس په ګریوان دی. په(۱۳۹۲ ل) کال کې چې د مخدره موادو پر ضد اداري (INL) لخوا په هېواد کې د روږدو کسانو په هکله کوم معلومات راټول شوي وو، دا یې وښوده چې ۱۱٪ سلنه هېوادوال مو د تریاک او هیروینو د استعمال پر مصیبت اخته او د دې نیمایي اندازه ۵.۵٪ سلنه د چرسو د فتنې ښکار ګرځېدلي وو. پر تریاکو، هیروینو او د هغې ورته توکو باندې د روږدو خلکو شمېره د ښارونو پر نسبت په اطرافي سیمو کې درې چنده زیاته وه. (روغتیا مجله،۲۵ګڼه).

د معتادینو دا شمېر چې لس کاله مخکې په گوته شوی وو، له هغې راهسې په کې زیاتوالی راغی، آن تر دې چې دغه وضعیت پر یو ستر ناورین بدل شو، هغه ناورین او مصیبت چې له امله یې په زرونو وگړو په ځانگړې توگه ځوانانو خپل استعدادونه، ځواکونه او اخلاقي ارزښتونه له لاسه ورکړل.

د تیر کال په وروستیو کې چې د اسلامي امارت اړونده ادارو او ارگانونو د نشه یانو او مخدره توکو د معتادینو په راټولولو او صحي مرکزونه ته یي د تداوۍ او درملنې په موخه لیږدولو کې، کوم کردار ترسره کړ، د نشه يي او مخدره توکو د مخنیوي په میدان د خورا زیات تقدیر او ستاینې وړ کردار دی، باید چې په کې لاز یات پرمختگ وکړای شي.

د نشه يي او مخدره توکو ستونزې بنسټیز حل په دې کې نغښتی دی چې لومړی د هغې شرعي حکم وپېژندل شي او بیا یې د مخنیوي لارې چارې عملي کړای شي، چې د بنسټیز حل په لړۍ کې زموږ دې لیکنې او دې ته ورته د موضوع نور اړخونه څېړل دا په خپل ځای کې یو لوی کار دی، باید چې پاملرنه ورته وشي.

د دې څېړنې او لیکنې په خپرېدو به ان شاء الله د ځینې هغو خلکو شبهات هم حل شي چې وایي؛ تریاک کرل په خپل ذات کې حلال کار دی، یا د مخدره توکو سوداگري کوم بد او ناوړه عمل نه دی، یا دا چې موږ افیون د دې لپاره تولیدوو چې خپل دښمنان (کافران) ورباندې ووژنو.

هیله ده چې د دې او دې ته ورته لیکنو په خپرېدو او د خلکو ترمنځ د دغسې مفاهیمو نشرولو په وسیله به د هر راز نشه يي او مخدره تووکو د تولید، استعمال او سوداگرۍ پر وړاندې به په ولس کې د هغې د مخنیوي شعور او احساس را پیداشي.

## موخې

د دې ليکنې او څېړنې موخې او اهداف په لاندې نقاطو کې خلاصه کېږي:

۱. د قرآن  کريم، نبوي حديث او فقهې په رڼا کې د نشه يي او مخدره توکو توليد، سوداګرۍ او کارونې حکم څرګندول.

۲. د هغه رايې او ګومان رد او نقد چې ګويا د مخدره توکو کرهڼه او سوداګري جايز کار دی.

۳. د نشه يي او مخدره توکو بېلابېلو تاوانونو په ګوته کول.

۴. ولس او حکومت د نشه يي او مخدره توکو بدو پايلو ته متوجه کول او د هغې پر مخنيوي کې يې ګډې مبارزې ته هڅول.

۵- د ټولنې او هېواد عام او خاص وګړي دې ته هڅول، چې بايد د شرعي مسوليت له مخې هر يو د نشه يي او مخدره توکو د توليد، سوداګرۍ او کارونې شرعي حکم وپېژني او په اړونده مبارزه کې خپل مسوليت او دنده ترسره کړي.

## مواد او کړنلاره

په دې څېړنه کې له وصفي، تحليلي، وضعي او استنباطي کړنلارو څخه کار اخستل شوی دی. لومړی حقايق او معلومات راجمع شوي، بيا د هغې تفسير (وضاحت) شوی دی. همداراز د معلوماتو د تحليل او د فقهي حکم په ذکر کولو کې د علماوو اړونده استنباطاتو يادونه او ځای په ځای کول، د دې څېړنې او ليکنې د استنباطي تګلارې نه هېرېدل هم جوتوي.

هغه مواد چې په دې ليکنه کې ورڅخه استفاده شوې لومړني مواد دي، په دې معنی چې په موضوع کې اصل دی، د مثال په توګه که د کوم حديث يادونه شوې ده، نو

اصلي مصدر ته يي رجوع شوې، همدارنګه د فقهې په باب کې کومې سرچينې چې حواله پرې ورکړل شوې، هغه ټول معتبرې سرچينې دي او د کومې کلمې وضاحت چې شوی دی، نو د دې فن اصل مصدر ته په کې مراجعه شوې ده.

**تیرو لیکنو ته کتنه**

د پلټنې او څېړنې پر مهال مو په پښتو ژبه کې د نشه يي او مخدره توکو د شرعي حکم په هکله کومه ليکنه ونه مونده، په ګوګل کې د سرچ (پلټنې) په بهیر کې د نوموړې موضوع د ځينو برخو اړوند خپرونې ليدل کېږي لکه؛ د مخدره مواد د مخنيوي په لار کې خنډونه، د نشه يي توکو زيانونه، که نشه يي توکي وکاروئ، د ځان دښمن به وګرځئ! په اسلام او ټولنه کې د نشه يي توکو زيانونه او داسې نور.

**پوښتنې**

په دې ليکنه کې لاندې پوښتنو ته ځواب ويل شوی دی:

۱. د الخَمْر کلمه څه معنی لري او د هغې اړونده کليدې کلمات کوم دي!

۲. د شرابو حراموالی په کومو شرعي نصوصو سره ثابت دی؟

۳. شرابو ته ورته د نشه يي څيزونو حراموالی په کومو شرعي دلايلو کې ذکر شوی دی؟

۴. د هغو احاديثو يوه بيلګه دې ذکر شي، چې هر نشه کوونکي څيز ته په کې شراب ويل شوی دي؟

۵. د شرابو داصل مادې پر بنسټ د هغې په حکم کې د علماوو څو نظرونه شتون لري؟

۶. د عربي ژبې د (المُخَدِّر) کلمې معنی او مفهوم څه افاده کوي؟

۷. د مخدره توکو استعمال په کوم دليل سره حرام دی؟

۸. ايا د بنګو او کوکنارو کرهڼه جايز او روا ده؟

## لومړی: د شرابو او نشه کوونکو څیزونو حراموالی

الله تعالی فرمايي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ() إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ (). (المائدة ۹۰- ۹۱).

**ژباړه:** ای مومنانو بېشکه چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال) دا ټول د شيطان پليت کارونه دي، نو ځان ورڅخه وساتئ، ښايي چې کامياب شئ. خامخا شيطان غواړي ستاسې ترمنځ په شرابو او قمار سره دښمني او کینه واچوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه نه مو واړوي، نو ايا تاسو به له دې کار څخه لاس په سر شئ!

**الخَمْر:** نشه ورکوونکي څيز ته ويل کېږي، چې د انګورو او نورو شيانو له شېرې جوړېږي، دا کلمه له (خَمَر) څخه اخستل شوې ده، د يو شي پټولو او سرپوښ کولو لپاره استعمالېږي، په عربي کې ويل کېږي چې (خَمَر الشيء) يو څيز يې پټ او سر پوښ کړ. شرابو ته ځکه خَمْر وايي چې عقل پټوي، ويل کېږي چې (خمّرتُ الإناء) لوښی مې پټ کړ(پر لوښې مې د هغې سر يا څه کيښود چې پټ شي). همدارنګه عربان وايي: ((دخل فلان في خمار الناس)). (فلانکی په ډېرو خلکو کې ورننوت څو په کې ځان پټ کړي). او د ښځې ټکري ته ځکه (خِمار) وايي چې سر(او نور بدن) يې پټوي او د عربي ژبې په لغت کې (الخَمر) هغه څيز ته وايي چې عقل پټوي. ( روائع البيان تفسير آيات الأحكام، الصابوني،ج۱،ص ۲۶۷-۲۶۸).

د عربي ژبې لغت کتابونو د (الخَمْر) په معنی کې دا لاندې کلمات ذکر کړي دي:

۱. **التَّخْمِير:** خومارول او بې سده کول.

**۲. التَّغْطِیه:** پټول، یا یو شی سر پوښ کول.

**۳. الْمُخَامَرَة:** ګډوډول دا ځکه چې د شرابو څښونکي د هغې په څښلو سره بې سده کېږي، عقل یې پټیږي او د عقل د ګډوډ کېدو او غاییدو له حالت سره مخ کېږي.
(لسان العرب ابن المنظور ۴/ ۲۵۴، مادة خمر ).او النهایة في غریب الحدیث والاثر ابن الاثیر ۲/ ۸۷).

په ذکر شوو آیتونو کې د شرابو قطعي حرمت راغلی او په یو شمېر احادیثو او د امت په اجماع سره هم شراب حرام دي او هغه څه چې د شرابو په حکم کې دي حراموالی یې په نبوي احادیثو او د امت په اجماع ثابت شوی دی.

په دې ځای کې د هغو احادیثو یوه بېلګه ذکر کوو چې هر نشه کوونکي څیز ته په کې شراب ویل شوي او د دې څرګندونه کوي چې هره نشه حرامه ده :

۱. له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ)). ((صحیح مسلم،۱۵۸۷/۳، رقم: ۲۰۰۳)).
**ژباړه:** هر نشه کوونکی څیز شراب دي او هر نشه کوونکی څیز حرام دی.

په بل روایت کې له همدغه صحابي نه نقل شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ((كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ)). (صحیح مسلم،۱۵۸۷/۳، رقم: ۲۰۰۳).
**ژباړه:** هر نشه کوونکی څیز شراب دي او ټول شراب حرام دي.

۲. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:((مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيْلُهُ حَرَامٌ)).(سنن ابن ماجه رقم::۳۳۹٤).
**ژباړه:** هغه څه چې ډېر یې نشه ورکوي، نو لږ یې هم حرام دي).

۳. عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - قَالَ: خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه

وسلم فَقَالَ: ((أَمَّا بعدُ أَيُّها النَّاسُ إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهْىَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ: الْعِنَبِ (وفي روايةٍ: الزَّبيب)، وَالتَّمْرِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ)). (صحيح البخاري ٢١٢٠/٥، رقم:٥٢٥٩).

**ژباړه:** له ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، هغه وايي چې عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مبنرباندې خطبه وفرمایله او ويې ويل: ای خلکو د شرابو د تحریم حکم نازل شوی او هغه له پنځو شیانو څخه دي: انګور (او په بل روایت کې مميز) خرما، غنم، اوربشې او ګبین. او شراب هغه دي چې عقل ګډوډوي او خوماروي.

او داچې شراب څه شی دی او له څه شي جوړیږي، په دې هلکه علماء بیلابیل نظرونه لري:

**لومړی.** د مديني منورې او ټول حجاز علماء، اهل حدیث، حنبلیان او ځینې شافعیان وايي؛ د الخَمْر اطلاق په هر هغه شي کیږي چې لږ او یا ډیر يې نشه ورکوي، برابره خبره ده چې له انګورو یا خرما، غنم، اوربشو او یانورو څخه جوړ شوي وي.

**دویم.** زیاتره شافعیان، امام ابویوسف او امام محمد (له احنافو څخه) او ځینې مالکیان وايي؛ چې الخَمْر د انګورو شربت دی کله چې جوش کړی شي، برابره خبره ده چې ځګ راپوته کړي او یا نه.

**دریيم-** امام ابوحنيفه رحمه الله رایه دا ده چې الخَمْر د انګورو له شربت څخه وي، کله جوش کړی شي او له هغې وروسته يې ځګ راپورته شي.(دائع الصنائع في ترتيب الشرائع ،الكاساني الحنفي122/5 او (الموسوعة الفقهية الكويتية 12/5).

له دې بیان څخه څرګندیږي چې د لومړی ډلې علماوو په اند الخَمْر په حقیقي توګه د نشه کوونکو شیانو پر ټولو ډولونو باندې اطلاق کیږي، نو د دوی په اند ټول مُسکر

(نشه ورکوونکي) شیان شراب دي. د دویمې ډلې په اند الخَمر د انګورو شربت دی، کله چې ښه وجوشول شي او درېیمه رایه داده چې خمر د انګورو شربت دی کله چې له جوش سربېره ځګ راوباسي.

که څه هم د حنفي مذهب د دوو امامانو (امام ابوحنیفه او ابویوسف رحمهما الله) په اند د څښلو هغه شیان چې له انګورو پرته له بلې کومې میوې یا غلې څخه جوړ شي کله چې نشه ونه لري نو حرام نه دي؛ ځکه چې د دوی له نظره شراب یوازې له انګورو څخه وي، لیکن د امام محمد رحمه الله په اند له انګورو پرته له نورو شیانو هم شراب وي چې د حرمت حکم یې د انګورو د شرابو غوندې دی. مشهور حنفي عالم الزیلعي رحمه الله ویلي دي: ((وَالْفَتْوَى فِي زَمَانِنَا بِقَوْلِ مُحَمَّدٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ - حَتَّى يُحَدَّ مَنْ سَكِرَ مِنْ الْأَشْرِبَةِ الْمُتَّخَذَةِ مِنْ الْحُبُوبِ وَالْعَسَلِ وَاللَّبَنِ وَالتِّينِ؛ لِأَنَّ الْفُسَّاقَ يَجْتَمِعُونَ عَلَى هَذِهِ الْأَشْرِبَةِ فِي زَمَانِنَا وَيَقْصِدُونَ السُّكْرَ وَاللَّهْوَ بِشُرْبِهَا)). (تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق، الزیلعي٦ / ٤٤ -47).

**ژباړه:** زموږ په زمانه کې فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول باندې ده، تر دې چې د دې شیانو! غلې دانو، ګبین، شیدو او اینځرو څخه په جوړ شوي شرابو باندې نشه شوي کس باندې حد جاري کېږي؛ دا ځکه چې زموږ په زمانه کې فاسقان په دې شرابو راجمعه کېږي او د هغې د څښلو موخه نشه او ساعت تېري وي.

معاصر حنفي اصل عالم محمد علي الصابوني رحمه الله ویلي دي: ((کله چې موږ د دې دواړو ډلو (جمهورو فقهاوو او نورو) په دلایلو کې فکر او غور وکړ او یو له بله مو سره پرتله کړل، نو د جمهورو او د حجاز علماوو مذهب راته راجح ښکاره شو. نو شراب او هر نشه کوونکی څیز حرام دی، لکه څرنګه چې عمر رضي الله عنه فرمایلي: ((وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ)). (او شراب هغه دي چې عقل ګډوډ او بې سده

کړي) او کله چې صحابه وو رضي الله عنهم د شرابو د حراموالي حکم واورېد په دې پوه شول چې ټول شراب که له انګورو څخه وي او یا له نورو میوو او غلو دانو څخه جوړ شوي وي حرام  دي، پداسې حال کې چې  هغوی له ټولو خلکو زیات پر عربي ژبه او د شریعت پر مراد باندې پوهېدل..کله چې د شرابو د حراموالي حکم راغی، نو هغه مهال په مدینه منوره کې د خرماو شراب موجود وو او کله چې  صحابه کرامو د شرابو د حراموالي حکم واورېد شته شراب يې چپه او د هغې لوښي يې مات کړل. د هغه مهال شراب له غُوره (لړو خامو) خرماو څخه جوړ شوي وو، له دې امله کومې رایې ته چې جمهور فقهاء تللي دي هغه صحیح او د اعتبار وړ ده او  په همدې بنسټ وروستنیو (متاخرینو) احنافو د ټولو شرابو په هکله د محمد بن حسن الشیباني رحمه الله پر رایې باندې فتوا ورکړې او همدا منل شوی حق دی. علامه الوسي رحمه الله ویلي؛ زما په اند هغه حق چې ګرځېدل ورڅخه نه دي مناسب دا دی چې له انګورو څخه پرته هر ډول شراب په هر نوم او په هره زمانه کې چې وي کله چې په کې نشه وي، نو حرام دي، د هغې لږ د ډېرو په شان دي، پر څښونکي يې حد جاري کېږي،طلاق يې واقع کېږي او نجاست يې غلیظه دی)). (روائع البیان تفسیر الاحکام1/ 279).

نو شراب همغه دي چې عقل پټوي، ګډ وډ او بې سده کوي يې، په دې باب کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات او مشهور احادیث نقل شوي او د هغه په دې جامعو ویناوو کې د دې څرګندونه شوې چې هر هغه شی چې عقل خوماروي او نشه کوي هغه حرام دی. په احادیثو کې د دغو شیانو د استعمال په څرنګوالي کې توپیر نه دی ذکر شوی، نو دې ته اعتبار نشته چې یو شی د اوبو په څیر وڅښل شي هغه حرام دی، بلکې هر هغه څه چې نشه ورکوي که هغه خوړل کېږي لکه اپین او یا يې دود

تيريږی لکه چرس، هيروپين، دا او دې ته ورته څومره نشه يي توکې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نه وو، بلکې په وروسته زمانو کې رامنځ ته شوي، د دين علماوو د شرابو د حراموالي په حکم کې داخل کړي دي.

(الفقه الاسلامي و أدلته،د. وهبة الزحيلي ۴۴۶/۷, زاد المعاد ابن القيم ۶۶۲/۵، نيل الأوطار الشوكاني ۱۶۷/۷، سبل السلام الصنعاني ۲/ ۴۴۷، فقه السنة، سيد سابق ۸۸/۲، الفقه على المذاهب الاربعة عبدالرحمن الجزيري ۲۲/۵).

**دويم: د مخدره توکو حراموالی**

د عربي ژبې د (المُخَدِّر) کلمه له (الخَدْر)څخه اخستل شوې چې معنی يې کمزوري، تنبلي او سستي ده، په عربي ژبه کې ويل کيږي: خَدَرت الرِّجْلُ-پښه کمزورې اوسسته شوه) او خَدَرَ العُضوُ: غړی کمزوری شو، يعني کله چې د بدن کوم غړی سست شي او حرکت نه شي کولی. (لسان العرب ابن المنظور 230/2، مادة: خَدَرَ). او مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية, 23 / 18).

نو د لغوي تحقيق او څيړنې له مخې د نوموړې کلمې معنی د نورو ځينې معناو ترڅنګ پر کمزورۍ (ضَعْف) سستۍ (الفُتُور) تنبلۍ (الکَسل) باندې څرخي، نو هغه څوک چې کوم مخدر مواد استعمال کړي له دغسې حالت سره مخ کيږي او د هغې په نتيجه کې د بې زړه توب بې غيرتۍ، حماقت، حيرانتيا او د شک پر خويونو باندې اخته کيږي.

لکه مخکې چې يې يادونه وشوه هغه دلايل چې د شرابو او نشه کوونکو شيانو پر حراموالي باندې دلالت کوي، د مخدره شيانو پر حراموالي هم دلالت کوي؛ ځکه چې د هغې له امله هم په بدن کې بې سدي، عقل بې کاره کول، پټول، ګډوډ کول او

نور اړونده حالات رامنځ ته کيږي. علماء وايي مخدره او نشه کوونکي توکي بيلابيل ډولونه لري اړونده ماهره خلک يې په بيلابيلو نومونو سره ايجادوي او په دې ټولو کې مشترک خاصيت د عقل بې سده کول او ګډوډ کول دي او د دې ټولو مشترک حکم حراموالی دی؛ ځکه چې د هغې تاوان باوري دی.

د حديثو په يو روايت کې ذکر شوي: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ)).(سنن أبي داود، ۳۲۹/۳، رقم الحديث۳٦۸٦ ).

**ژباړه:** له ام سلمه رضي الله عنها څخه نقل شوي هغې ويلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هر نشه کوونکي او کمزوري کوونکي څيز له کارونې څخه منع کړې ده).

په دې حديث شريف کې چې له (مُسْكِر- نشه کوونکي) ترڅنګ د (مُفْتِر) کلمه هم ذکر شوې، ابن الاثير رحمه الله د هغې په معنا کې ويلي: ((المُفْتِر:الَّذِي إِذَا شُرِب أحْمَى الْجَسَدَ وَصَارَ فِيهِ فُتُور، وَهُوَ ضَعْف وانكِسار)). (النهاية فى غريب الحديث والأثر, ابن الأثير ۳/ ٤۰۸).

**ژباړه:** المُفْتِر هغه شی دی چې کله وڅښل شي، نو بدن ګرم کړي او په کې (**فُتُور**) پيداشي چې هغه کمزوري او تنبلي ده.

د عربي لغت کتابونو کې ذکر شوي؛ په عربي کې ويل کيږی: فَترَ جِسْمُهُ فُتُوراً، لانَتْ مَفاصِلُهُ، وضَعُفَ، بدن يې کمزوری شو په کمزورۍ سره يعنې بندونه يې نرم شو او کمزوری شو او **اِفتار** هغه څه ته وايي چې په بدن کې وروسته له قوته کمزوري پيداکوي، همدارنګه وروسته له حرکته سکون او وروسته له کلکوالي سستوالی،

وروسته له تکړه والي تنبلي او کسالت رامنځ ته کوي او دا صفات په هغه چا کې پیداکېږي چې کوم مخدر مواد استعمال کړي.

(القاموس المحيط , فيروز آبادي 4/ 454 ۱. او مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية, جزء 23، ص 18).

د ننۍ پیړۍ د فقهې نامتو متخصص دکتور وهبة الزحيلي رحمه الله وايي: ((له شپږو لومړنیو (هجري قمري) پیړیو وروسته ټول نوي راپیداشوي مخدره شیان داسې حرام دي لکه شراب چې حرام دي؛ د دې لپاره چې عقل بې سده کوي او هغه خرابتیاوې او تاوانونه په کې دي کوم چې په شرابو کې دي، بلکې له هغې يې تاوانونه زیات او فساد يې لوی دی؛ ځکه چې د اسلامي امت وګړو او ټولنو ته يې په مادي، روغتیایي او علمي ډګرونو کې خطر او ننګونه خورا زیاته ده. په دې کې هیڅ شک نشته چې اسلامي شریعت تاوان او زیان لرونکي شیان حرام ګرځولي او هغه څه يې روا کړي چې واقعي، خالص او راجح مصلحت او ګټه په کې وي. نو څوک چې د داسې مضرو شیانو په باره کې د کوم مصلحت او یا ګټې ګومان کوي، هغه خوشې وهم او دوکه ده. همدا لامل دی چې نړیوال سازمانونه د مخدره توکو پر منعَ او بندیز باندې اجماع او اتفاق لري. د هېوادونو هغه اجماع چې د دې کار پر بندیز باندې قایمه ده په دې کچه پر بل کوم کار باندې نه ده قایمه، چې له هرې ممکنې لارې د مخدره موادو د قاچاق مخنیوي کېږي، نیول شوي توکې تلف کېږي او قاچاقکبران يې پر بند او داسې نورو سزاګانو سره محاکمه کېږي)). (الفقه الاسلامی و ادلته، وهبة الزحيلي،447/7).

د الفقه على المذاهب الاربعة مؤلف عبدالرحمن الجزيري رحمه الله ذکر کړي : ((د دې ټولو نشه کوونکو څیزونو استعمال په یقیني توګه حرام دی، نو باید کوم شک کوونکی

په دې حکم کې شک ونه کړي؛ دا ځکه چې ډېر بدني تاوانونه او اړونده زیاتې خرابۍ او مفاسد رامنځ ته کوي: عقل خرابوي، بدن کمزوری او تباه کوي، نو دا هیڅ امکان نه لري چې شریعت دې داسې یو څه حرام کړي چې د هغې تاوان د دې موجوده ځینې مخدره موادو پر نسبت کم وي. په همدې بنسټ د حنفي مذهب ځینې علماوو ویلي: بیشکه څوک چې وايي چرس حلال دي، هغه په دین کې نوي کارونه راپیداکونکی زندیق دی). (الفقه على المذاهب الأربعة, الجزيري 5/ 36 ).

د حنفي فقهې مشهور کتاب (الدر المختار) مؤلف الحصفکي رحمه الله ذکر کړي: ((ويحرم أكل البنج والحشيشة..والأفيون لأنه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة.. من قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع، بل قال نجم الدين الزاهدي:إنه يكفر ويباح قتله)). (الدر المختار،الحصفكي ١/ ٦٧٨).

**ژباړه:** د بنګو، چرسو او تریاکو خوړل حرام دي؛ ځکه چې دا شیان د سړي عقل فاسدوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه ګرځوونکي دي. او څوک چې بنګ او چرس حلال بولي هغه زندیق او مبتدع دی. بلکې نجم الدین زاهدي ویلي چې په حلال ګڼلو یې کافر ګرځي او مرګ یې روا کیږي).

امام ابن القیم رحمه الله ویلي: (( د شرابو په جمله کې هر نشه کوونکی څیز داخل دی، که هغه مایع وي او یا جامد، که د خام شربت په شکل کې وي او یا په اور پوخ شوی وي او په دې کې د فاسق او فاجر مړی هم داخل ده یعنې چرس؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحیح او صریح نص له مخې حرام دي. هغه نص (حدیث) چې په په سند کې یې کوم خلل او په متن کې یې څه اجمال نشته او هغه داچې ((**كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ**)). هر نشه کوونکی شی حرام دی.

صحابه رضي الله عنهم چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر خطاب او مراد باندې تر ټولو زيات پوه وو، له هغوی دا وینا ثابته ده چې شراب هغه دي چې عقل بې سده او خومار کړي... اوکه څه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې لفظ (**كُلُّ مُسْكِرٍ**) لاندې ځينې مخدره مواد (لکه چرس) رانه شي، لیکن هغه صحیح او صریح قیاس چې په کې اصل او فرع له هرې وجهې مساوي وي، د بېلابېلو نشه کوونکو پر برابری باندې حکم کوي)). (زاد المعاد6/ 662- 664)

فقهاوو ويلي چې لږ نشه کوونکی څيز،که څه هم نه څښل کېږي حرام دی، لکه چرس. او که څوک وايي چې هغه مخدر (کمزوري کوونکي دي) نه نشه کوونکي، نودا عناد کول او حقايق نه منل دي. مصنف ( د بلوغ المرام) ابن حجر رحمه الله ويلي: په يقيني توګه چرس هم د شرابو غوندي نشه ورکوي او مستي راوړي. او که دا دعوه تسليم کړو چې نشه نه لري، نو په دې کې خو هيڅ شک نشته چې هغه کمزوري کوونکي او سستونکي دي چې (په حديث کې) ورځخه منع شوې ده، د سنن ابي داود په روايت کې ذکر شوي: ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ)). (رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر نشه کوونکي او کمزوري کوونکي شي له استعمال څخه منع کړې ده.

الخطابي رحمه الله ويلي:المُفْتِرِ: هر هغه څښل کېدونکي شيان دي چې په غړو کې سستي، تنبلي او بي سدي رامنځ ته کوي. حافظ عراقي او شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله دچرسو په حرمت باندې اجماع رانقل کړې او داچې څوک يې حلال وګڼي نو کافر کېږي.. او ابن البيطار رحمه الله ويلي: د چرسو قبايح او تاوانونه زيات دي چې ځيني علماوو له هغې څخه يوسل او شل ديني او دنياوي تاوانونه په ګوته

کړي دي او دهغې بد خویونه په اپین کې هم شتون لري، بلکې په اپین کې له چرسو څخه زیات تاوانونه شته دی)). (الصنعاني، سبل السلام 11/ 48)

**دریيم: دمخدره توکو استعمالوونکو سزا**

که څه هم ځینې علماء لکه شیخ الاِسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي چې چرس څښونکی به د شرابي غوندې په درو باندې وهل کیږي، لیکن ځینې علماء دچرسو او نورو جامدو مخدراتو استعمالوونکي لپاره د تعزیر سزا لازم ګڼي.

تعزیر په لغت کې منع کیدونکي شي ته ویل کیږي او په اصطلاحي مفهوم سره هغې نا ټاکلې سزا ته ویل کیږي چې قاضي یا حاکم یې د مجرم د جنایت او حالاتو سره برابر هغه ته ورکوي، لکه د وهلو او یا خبرو له لارې تادیب، بندي کول، مالي تاوان اخستل او داسې نور. (الفقه الاسلامی و أدلته، وهبة الزحیلي ۷/ ۵۱۴- ۵۱۵).

دکتور وهبة الزحیلي رحمه الله ویلي دي: (( له مایعو شیانو څخه علاوه جامد شیان لکه بنګ، چرس او اپین چې په استعمال سره یې عقل زایل کیږي، تاوان او ضرر یې ثابت دی، پداسې حال کې چې په اسلام کې ځان ته تاوان او بل ته تاوان رسول نشته دی (لاضَرر ولاضِرار فی الاسلام)، لیکن د دې شیانو په استعمال کې حد نشته؛ ځکه چې د شرابو په کچه مستي او خوشحالي نه راوړي او نه یې په لړو سره ډېرو ته بلنه کیږي، بلکې تعزیر په کې دی؛ د دې لپاره چې دا شیان تاوان لري او د دې حدیث له مخې چې: ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ)). (رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر نشه کوونکي او له هغه څه منع کړې چې بدن کمزوری کوي او غړي سستوي). (الفقه الإسلامي و أدلته, وهبة الزحیلي 7/ 437).

فقهاء په دې متفق دي چې څوک بې له عذره (د درملنې له اړتیا پرته) کوم مخدر شی استعمال کړي، د هغې لپاره تعزیر (اړونده لازمه سزا) ده، که هغه يې په رټلو، وهلو، بندي کولو، د خلکو پر وړاندې اعلانولو، مالي غرامت او داسې نورو سره وي، هره کومه سزا چې قاضي او یا حاکم يې ورته تجویز کوي؛ د دې لپاره چې نور خلک ورڅخه عبرت واخلي او څوک هم د کوم جرم او ناروا شیانو استعمالولو جرات ونه کړي.

حنفي او مالکي فقهاوو دا روا ګڼلې چې دغسې تعزیر کېدای شي وژنه هم وي، چې هغې ته سیاسي وژنه ویل کیږي، کله چې حاکم په کې مصلحت وګوري او د جرم نوعیت د وژنې موجب وي، لکه دا چې یو څوک په تکرار سره د نشه يي یا مخدره موادو کار ترسره کوي ( او خپل عادت يې ګرځولی وي)، یا داچې د هغې له امله په جرمونو کې اخته وي، یا د لواطت او یا قتل په کارونو کې ملوث وي.. نو پدغسې حالاتو کې د روږدي کس وژنه د ځینې معاصرو هغو مفتیانو لپاره دلیل دی کومو چې د داسې یو قانون مشروع ګرځولو وړاندیز کړی چې د هغې پر بنسټ د مخدره موادو استعمالوونکي او یا معامله کوونکي په دار ځړولو سره اعدام شي، چې پدغسې کړنلاره کې به د مخدره موادو سوداګرو، قاچاق کبرو او د هغې استعمالوونکو لپاره پوره عبرت اخیستنه وي. (الفقه الإسلامي وأدلته, وهبة الزحيلي 7/ 450-451).

**څلورم: د بنګو او کوکنارو کرهڼه**

که چیرې د بنګو او کوکنارو کرهڼه د دې لپاره وي، چې د هغې مخدره ماده راوویستل شي، څو پر هغو خلکو وپلورل شي چې پرته له جایزې او موخې مخدره مواد ورڅخه جوړوي، نو دا کار په قطعي توګه حرام دی. په دې ځای کې موږ د هغې د حراموالي دلایل په لنډه توګه څېړلي دي:

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي :((مَنْ حَبَسَ الْعِنَبَ أَيَّامَ الْقِطَافِ حَتَّى يَبِيعَهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ، أَوْ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْراً، فَقَدْ تَقَحَّمَ النَّارَ عَلَى بَصِيرَةٍ)). (شعب الإيمان، البيهقي 17/5، رقم 5619).

**ژباړه:** څوک چې د انګورو کټايي (مېوه اخستنې) په ورځو کې هغه د دې لپاره وساتي چې (وروسته يې) پر کوم يهودي او يا نصراني باندې وپلوري او يا يې پر هغه چا پلوري چې شراب ورڅخه جوړوي، نو بېشکه چې په پوهه او بصيرت سره يې ځان اور ته وغورزاوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: ((مَنْ حَبَسَ اَلْعِنَبَ أَيَّامَ اَلْقِطَافِ, حَتَّى يَبِيعَهُ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْراً, فَقَدَ تَقَحَّمَ اَلنَّارَ)). (المعجم الأوسط للطبراني ۵/ ۲۹۴).

**ژباړه:** څوک چې انګور د هغې د حاصل او فصل اخستنې په ورځو کې وساتي (او وروسته کړي) څو يې پر هغه چا وپلوري چې شراب ورڅخه جوړوي، نو اور ته يې ځان وغورزاوه.

د کتور وهبة الزحيلي صاحب ويلي: د بنګو بوټي، د (القات) په نامه بوټي (کوم چې په حبشه او يمن کې رازرغونيږي) او هر هغه څه چې د اپين، هيرويين، کوکاين او داسې نورو مخدره موادو شيره او پوډر ورڅخه راويستل کيږي، دا حديث يې د کرهڼې په حرمراموالي صريح دليل دی. (الفقه الاسلامي وادلته، وهبة الزحيلي 7/ 449).

د الفقه على المذاهب الأربعة مؤلف (عبد الرحمن الجزيري) ذکر کړي چې امامان په دې متفق دي، هغه څوک چې د بنګو او کوکنارو کښت او کرهڼه په دې موخه کوي، چې د هغې مخدره (بې سده کوونکي) ماده ورڅخه راوويستل او وکارول شي او يا يې د همدې موخې لپاره سوداګري کوي، داکا رحرام دی.

همدارنگه د کوکنارو او چرسو په کرهڼه سره د مسلمان امیر د امر مخالفت هم دی؛ دا ځکه چې په اسلامي هېواد او ټولنه کې مسلمانان په دې مکلف دي، چې د حاکم اورهبري مقام اړوند د هغه قانون پیروي وکړي په کوم کې چې د الله تعالی اود هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو اجماع مخالفت نه وي، نو پدغسې قانون پلې کولو او عملي کولو کې د حاکم پیروي لازم او فرض ده. (الفقه علد المذاهب الاربعة الجزيري ج ۵، ص/۲۱ او ص ۴۰).

د بنگو بوټي او کوکنار د دې غرض لپاره کرل چې د هغې مخدر مواد ( چرس او اپین ) راوویستل شي او خلک یې واخلي او سوداگري پرې وشي، دا پر گناه باندې رضایت دی او پر گناه باندې رضایت گناه ده؛ ځکه چې د یو ناروا کار په زړه کې بد گڼل او له هغې سره بغض کول په هر حال کې پر مسلمان باندې فرض دي، لکه څرنگه چې د(مسلم ۶۹/۱،رقم:۸۰) په روایت کې راغلي چې یو څوک بد کار په زړه کې هم بد ونه گڼي،نو د هغه په زړه کې د وري ( یا سپیلنۍ ) دانې په اندازه ایمان نه پاتې کیږي.( فقه السنة سید سابق ۳۹۱/۲).

انگور چې یوه مهمه مېوه او نعمت دی، پر هغه چا یې پلورل حرام دي، چې شراب ورڅخه جوړوي، یا یې کتابیي وروسته کول د دې له امله حرام دي، چې داسې نه د شرابو لپاره اخستونکي راشي او هغوی یې وپیري، نو د بنگو او تریاکو کرهڼه به ولې حرامه نه وي، پداسې حال کې چې په عامه توگه یې کرل د اړونده نشه یي توکو جوړولو په خاطر دي او دا خو معلومه خبره ده چې د اپین نرخ زیات والی، لدې امله وي چې هیرویین ورڅخه جوړیږي.

که څه هم زموږ په هېواد او ټولنه کې د ځینو اهل علمو له خوا د کوکنارو او چرسو د کرهڼې په اړه ښکاره فتوا گانې نه دي صادر شوي، لیکن محققین علماء پر همغه نظر

دي، کوم چې د معاصرو جمهورو علماو نظر دی. او لکه څرنګه چې د عربي نړۍ علماوو د دې کار د حراموالي فتوا ګانې صادرې کړي، د پاکستان ځینو معتبرو مدرسو دار الافتاوو هم د هغې د حراموالي فتواوې صادر کړي دي، د مثال په توګه وګوره: د دارالافتاء : جامعه علوم اسلامیة علامه محمد یوسف بنوری ټاؤن)، 144010200024 نمبر فتوا.

او هغه ځینې علماء چې وایي: د ونو بوټو کرهنه په اصل کې حلال کار دی، نو فلهذا د کوکنارو یا چرسو کرهنه هم جایز ده، د دې خبرې او مدعی په ځواب کې همدغه مخکې ذکر شوي دلایل کافي ځواب دی. او که د کوکنارو او بنګو کرهنه (لذاته: په خپل ذات کې) روا کار دی، نو په اوسنۍ زمانه کې د (لغیره) په بر بنسټ حرام کار دی؛ ځکه چې خلک یې په دې نیت کرهنه نه کوي چې هغه په دوایانو یا نورو مفیدو شیانو کې وکارول شي، بلکې موخه یې دا وي چې د هغې له لارې زیاتې پیسې تر لاسه کړای شي.

د دې ذکر شوي حقیقت او پر دلایلو ولاړ نظر، مخالف نظر خلکو په مقابل کې، د اپین او چرسو او له هغې څخه د بېلابېلو مخدره تباه کوونکو موادو جوړېدل، د هغې کارېدل او عملا یې انسانانو او بشري ټولنې ته د تاوانونو رسیدو پدیده، هم یو قاطع دلیل دی.

**پنځم: د نشه یې او مخدره توکو سوداګري**

لکه څرنګه چې د نشه یې او مخدره توکو استعمال او د هغې د بوټو او فصل کرل حرام دي، همدارنګه یې سوداګري او ګټه هم حرامه ده، چې د حراموالي مهم دلایل په دې توګه دي:

١. الله تعالی فرمايي: ((وَلاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ)). (البقرة: ۱۸۸).

**ژباړه:** او تاسو په خپلو کې يو د بل مال په ناحقه مه خورئ )).

د دې وضاحت داسې دی: که يو مسلمان له بل څخه مال لاس ته راوړي، نو په معاوضه کې به حلال مال ورکوي، همدارنگه يو څوک چې پر بل انسان باندې يو شی پلوري، نو هغه به جايز او روا وي. پداسې حال کې چې د نشه يي او مخدره موادو د پير او پلور په معامله کې د يوه لوري معاوضه (نشه يي او مخدره توکی) حرام جنس دی.

٢. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ((لَعَنَ اللهُ اليَهُودَ، حُرِّمَتْ عليهم الشحومُ فباعوها وأكلوا أثمانَها، وإن الله عزوجل إذا حَّرم أكلَ شيءٍ حَرَّم ثمنَه)).(مسند أحمد1207/3، رقم:1582 )).

**ژباړه**: الله تعالی پر يهودو باندې لعنت کړی دی؛ ځکه چې پرهغوی وازدې حرامې وې، نو هغه يې خرڅولې او د هغې پيسې به يې خوړلې. همدارنگه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ((إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ)).(سنن الدار القطني، الدار القطني،7/3، رقم: 20).

**ژباړه**: بيشکه، الله تعالی چې کله يو شی حرام کړی دی، نو دهغې پيسې يې هم حرامې کړي دي.

**٣.** د مخدره موادو معامله د ظلم، شکونې، غلا او داسې نورو په څير ده؛ ځکه په دې کې انسان ته زيان رسيږي، بلکې دواړه لوري (اخستونکی او خرڅوونکی) تاواني کيږي او پدغسې معاملاتو کې پرته له تير ايستنې او دوکې کولو بل څه نه وي.

**۴.** د مخدره موادو گټه له حرامې لارې لاس ته راوړل کيږي، لکه جواري اوقمار او يا لکه د حرامو معاملاتو په څير لکه سود او شراب (چې حکم يې روښانه دی او

مخدره موادو ته هم شامل دی)، نو لدغسې معاملاتو لاس ته راوړل شوې پیسې، د غلا له لارې لاس ته راوړل شوي مال په څیر دي، برابره ده چې د خاوند له پلوه يې د نفس خوښي وي او یا نه وي.

**۵.** جمهورو فقهاو ویلي: کله چې انګور پر هغه چا پلورل چې شراب ورځخه جوړوي حرام دي او که داسې وکړي پیسې يې حرامې ګرځي او که یو مسلمان پر داسې چا باندې اسلحه پلوري چې مسلمان پرې وژني، د دې ډول بیې پیسې هم حرامې دي، همدارنګه د وریښمو جامې چې کله پر کوم نارینه د دې لپاره پلورل کیږي چې هغه يې اغوندي، د داسې بیې پیسې حرامې دي. نو د دې معاملاتو په څیر د مخدره موادو خرڅول چې اصلي موښه او هدف يې نشه او د الله تعالی په نافرمانۍ کې اخته کیدل دي، په طریق اولی د هغې د سوداګرئ له لارې راوړل شوې پیسې حرامې دي. بلکې مخدره مواد په خپل ذات کې حرام شی دی، نو د هغې له لارې دګټې کولو او پیسې لاس ته راوړلو حراموالی د نوموړو حلالو شیانو (لکه انګور، اسلحه ) له حراموالي څخه سخت او زیات دی. (الفقه على المذاهب الأربعة, الجزيري 5/ 39-40).

دکتور وهبه الزحیلي رحمه الله ویلي: (( د مخدره موادو پیر پلور، قاچاق کول او د هغې لپاره بازار موندل دا ټول حرام دي؛ ځکه چې په اسلامې شریعت کې وسائل د مقاصدو حکم اخلي او هغه څه چې د حرامو لپاره وسیله وي، د هغې مخنیوی فرض دی، په دې معامله کې چې کله سوداګر د نشه يي او مخدره موادو خپرولو، رایجولو او استعمالولو لارې چارې خلکو ته آسانوي، نو پیسې او ګټه يې حرامه ده)). (الفقه الاسلامی و ادلته، وهبة الزحيلي،447/7).

**پایله**

د سورت المائدة په ۹۰- ۹۱ آیتونو کې د شرابو قطعي حرمت راغلی، په زيات شمېر احاديثو او د امت په اجماع سره هم شراب حرام دي او هر هغه شی چې نشه کوونکی او يا بدن کمزوری کوي او سستوي، په احاديثو او د امت په اجماع کې يې حراموالی ثابت شوی دی.

د شرابو د اصل مادې په اړه د فقهاوو نظرونه مختلف دي؛ دامام ابوحنيفه او ابويوسف رحمهما الله په اند شراب يوازې له انګورو څخه وي، نه له نورو شيانو، نوکله چې له هغې پرته بل کوم څيز جوش کړی شي او بيا نشه ونلري، هغه حرام نه دی،ليکن د دې رايې په مقابل کې د جمهورو فقهاوو او له حنفي مذهب څخه د امام محمد رحمه الله رايه ده چې شراب له انګورو پرته له خرماوو او غلجاتو لکه غنم او اوربشو څخه هم وي. په حنفي مذهب کې همدا رايه داعتماد وړ ګرځيدلې ده.

په ټولو نشه کوونو شيانو باندې د شرابو اطلاق کېږي او په حراموالي کې د همغې حکم اخلي، دا ځکه چې په احاديثو کې هر مُسْكِرْ (نشه کوونکي) ته الخَمْر (شراب) ويل شوی دي او شراب همغه دي چې عقل پټوي, ګډ وډ کوي او بې سده کوي يې.

په اسلامي شريعت کې د دې وضاحت او څرګندونه هم شوې ده چې د نشه کوونکو څيزونو سربېره هغه څيزونه چې په کارونې سره يې عقل ته تاوان رسيږي حرام دي، لکه مخدره مواد، چې څوک يې وکاروي، نو سست، کمزوری او بې حاله وګرځي، د نشه يي انسان په څير په ګډوډو سر شي، اېلتې ولي، د حرامو او حلالو تميز نه شي کولی، له کاره ولويږي، پر ځای د دې چې ځان او کورنۍ او ټولنې ته ګټه ورسوي، سراسر تاواني او پر نورو باندې بوج وګرځي.

په وروستنيو پيړيو کې نوي راپيداشوي شيان لکه چرس او افيون، همدارنگه په اوسنۍ زمانې کې له اپين او يا نورو څخه بېلابېل راويستل شوي مواد چې په استعمال او کارونې سره يې د انسان عقل او جسم ته زيان رسيږي، د بېلابېلو شرعي دلايلو له مخې حرام دي، نو دې ته اعتبار نشته چې يو شی د اوبو په څير وڅښل شي، هغه دې حرام وي، بلکې هر هغه څه چې نشه ورکوي، که هغه خوړل کيږي لکه افيون او يا يې دود تيريږي لکه چرس، هيرويين او دې ته ورته نشه يې او عقل کمزوري کوونکي توکې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې نه وو، په وروستنيو زمانو کې رامنځ ته شو،هغه ټول د دين علماوو د شرابو د حراموالي په حکم کې داخل کړي دي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وېناوې چې: (هر نشه کوونکي څيز حرام دی)،او( هر کمزوری کوونکی او سستي راوستونکی شی حرام دی)، د دې نوو راپيداشوو څيزونو په حراموالی باندې صريح دليل دی. همدارنگه داسلامي شريعت له څلورگونو دلايلو څخه وروستنی دليل يعنې قياس د دې شيانو پر حراموالي باندې ښکاره دليل دی.

لکه څرنگه چې د نشه يي او مخدره موادو کارونه او استعمال حرام دی، د هغې د توليد او سوداگرۍ ټولې لارې چارې هم په اسلامي شريعت کې حرامې گرځول شوي دي.

دا چې زموږ په ټولنه کې ځينې علماء په دې نظر دي چې د کوکنارو کرهڼه او يا سوداگري جايز کار دی، خو کوم شرعي دلايل چې معاصرو علماوو د کوکنارو يا بنگو د کرهڼې او د هغې د سوداگرۍ حراموالي لپاره ذکر کړي او هغه تريخ واقعيت او بېلابېل زيانونه او گواښونه چې د هغې له امله ورسره وگړي او ټولنې مخ دي، د ذکر شوي نظر په رد کې پوره او قوي دليل دی.

په شریعت کې د شرابو څښوونکي سزا معلومه ده چې هغه په (اتیاوو) درو وهل دي، اما د نوو راپیداشوو نشه يي او مخدره موادو په اړه کومه معلومه او ټاکلې سزا نشته دی، بلکې تعزیر په کې دی. تعزیر هغه نا ټاکلې سزا ته ویل کېږي چې قاضي یا حاکم یې د مجرم جنایت او حالاتو سره برابر هغه ته ټاکي، لکه د وهلو او یا خبرو له لارې تادیب، بندي کول، مالي تاوان او داسې نور.

د ځینې علماوو (حنفي او مالکي فقهاوو) په اند تعزیر کیدای شي وژنې ته هم ورسیږي کله چې په کې مصلحت ولیدل شي او د جرم نوعیت ستر او د وژنې موجب وي، لکه داچې څوک په تکرار سره د نشه يي یا مخدره موادو کارو بار ترسره کوي، یا د هغې معتاد وي او له امله یې په سختو جرمونو کې اخته وي لکه لواطت او انسان وژنه.

د تعزیز سزا د هغه معاصرې قانوني پریکړو لره هم یو دلیل دی چې له مخې یې د مخدره موادو استعمالوونکي او یا معامله کوونکي په دار ځړولو سره اعدام کېږي، څو پدغسې کړنلاره سره د مخدره موادو سوداګرو، قاچاق کبرو او د هغې استعمالوونکو لپاره پوره عبرت اخیستنه وي.

د نشه يي او مخدره توکو د کارونې له امله چې وګړو او ټولنې ته بېلابېل تاوانونه رسیږي، او په دې ډګر کې هغه تاوانونه چې عملا لیدل کېږي، په دې باندې ښکاره دلیل دی، چې کوم شی په اسلامي سپیڅلي شریعت کې حرام ګرځول شوی دی، وګړو او ټولنې ته سراسر تاوان دی او د وګړو، کورنیو اوټولنو آرامي، سکون، امن او خوشحالي د اسلامي شریعت په پلي کېدو او نافذیدو کې ده.

**پایله اخیستنه**

د الله تعالی په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې چې شراب منعه شوي، علت او لامل يې دادی چې د انسان عقل ته تاوان رسوي، دا ځکه چې عقل بې سده کوي او له خپل اصلي حالت څخه يې راوباسي. څوک چې شراب و څښي نو خپل حالت له لاسه ورکړي، عقلي او ذهني توازن يې ختم شي، په اپلتو او بې ځايه حرکتونو باندې سر شي، په دې نه پوهيږي چې څه مې وويل او څه وايم، د حلالو او حرامو ترمنځ توپير کولو توان له لاسه ورکړی شي، د الله تعالی له ذکر او عبادت کولو استعداد ترې سلب شي، په دې نه پوهيږي چې ځان ته ګټه رسوم او که تاوان.

که له يو پلوه شراب په شريعت کې حرام ګرځول شوي؛ ځکه چې انساني عقل او جسم ته زيان رسوي، د مال او شتمنۍ تاوان راوړي، نو دې ته ورته د کومو شيانو کې په کارونې او استعمال سره چې دا علت پيداکيږي، عقل، جسم او اقتصاد ته زيان او تاوان رسوي، نو هغه هم حرام دي، لکه چرس، اپين، له اپين او نورو موادو څخه بېلابېل راويستل شوي او جوړشوي مخدره توکي لکه هيرويين او داسې نور.

د اسلامي شريعت دا کړنلاره چې په کې د قرآن، حديث او اجماع سربېره نور ځينې دلايل لکه قياس او داسې نور هم شتون لري، د دې ښکارندويه ده چې دا شريعت له هرې زمانې او هر ځای سره مناسب او ورسره برابر دی. او دا کړنلاره په دې باندې هم دلالت کوي چې اسلامي شريعت د هرې زمانې او هر ځای لپاره سراسر هدايت او رحمت دی.

که چيرې زموږ په ټولنه او يا په نورو ټولنو کې خلکو د اسلامي شريعت له لارښوونو سره سم تګ کړی وای، نو د موجوده سترو ناورينونو او ستونزو سره به نه وومخ او د

آرامی، سکون، برکت او له ستونزو څخه خوندي ژوند څښتنان به وو، الله تعالی فرمايلي: ((وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (). [الأعراف ٩٦]. (او که چېرې يقينا د کلو والاو ايمان راوړی وای له ګناه څخه يې ځانونه ساتلي وای، نو هرومرو به مو نږ دوی ته د اسمانونو او د ځمکې د برکتونه دروازای راپرانيستې وای ، ليکن دوی له حق څخه انکار وکړ ، ځکه ځو مو د خپلو عملونو په سبب په عذاب سره تباه کړل).

که موږ ليرې نورو هېوادونو ته لاړ نه شو، بلکې خپل هېواد او نژدې چاپيريال ته وګورو، نو دا به راته جوته شي چې د بنګو او کوکنارو له نهه نوي سلنې څخه زيات استعمال د انسانانو د تباهۍ په موادو (چرس، پوډر او نورو کې وو، او تاوان يې يوازې بهرنيانو ته نه رسيده، بلکې په دې وروستيو کې چې زموږ د هېواد او پاکستان ترمنځ د ګډې پولې په دواړو خواو کې ځينې قبايلي سيمې د کوکنارو د کښت او د اپين د توليد مرکزونه وګرځيدل، د پولې له اخوا څخه د هيرويينو د توليد تکنالوژي راوارد کړای شوه او په دواړو خواو کې ورڅخه د هيرويينو توليد پيل شو، نو لومړی يې زيات تاوان په خپله د توليد او جوړونې سيمو او ورته نژدې خلکو ته ورسيد او له هغې وروسته نور هېوادوال ورڅخه زيانمن او بالآخره دا پديده په يو ستر ناورين باندې بدله شوه.

د ځينې خلکو هغه تصور چې موږ اپين د دې لپاره توليدوو او بهر ته ليږدوو چې دښمنان او کافران ورباندې ووژل شي، د شريعت له مخې پوره ناسم دی؛ دا ځکه چې مسلمانان د داسې يو دين پيروان دي چې يوازې پر انسان نه بلکې پر حيوان باندې هم د رحم کولو امر کوي او د داسې نبي صلی الله عليه وسلم پيروان دي چې د ټولو عالميانو لپاره رحمت راليږل شوی دی، الله تعالی فرمايلي: ((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ ().

[الأنبیاء ۱۰۷]. ( او ای پیغمبره! ته مو نه یې لیږلی مګر ټولو عالمیانو ته رحمت او مهرباني ښوونکی).

د نشه یانو او مخدره توکو استعمالونکو د مخه ډب کولو لپاره، که له یوه پلوه په ټولنې کې دیني بیدارۍ ته اړتیا ده، څو خلک د دې شیانو پر شرعي حکم باندې په پوره معنا پوه شي او له بېلابېلو تاوانونو یې خبر شي، نو له بله پلوه له هغې څخه د منع کېدو لپاره سزا ورکول هم یوه مهمه وسیله ده. که چیرې په ټولنه کې شرعي حدود او شرعي سزاګانې په سهي معنی سره قایم او عملي کړای شي، نو تر ډېره حده به د جرمونو کچه راټیټه کړای شي.

الحمد لله د اسلامي امارت په راتګ سره د جرایمو د مخنیوي په برخه کې چې تر اوسه کوم اقدامات وشول او کېږي، تر ډېره حده د نورو جرمونو ترڅنګ د نشه یي او مخدره توکو اړوند جرایم هم کم شول. لدې کړنلارې او حالت څخه دا نتیجه او پایله اخیستل کیږي چې د اسلامي شریعت برابر تګ او د هغې د احکامو، حدودو، او تعزیراتو پلي کول سراسر د ټولنې د وګړو او ټولنو د ژغورنې مهمه لار ده.

باید وویل شي چې اسلامي احکام پلي کول او حدود قایمول د ټولنو د ښیرازۍ، هوسایې لامل او په واقعي معنی سره امن تامینول دي، الله تعالی فرمایلي دي: ((وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (). [البقرة ۱۷۹]. ( ای د عقل څښتنانو که پوهیږئ، نو تاسو لره په قصاص اخستلو کې ژوندن دی، ښایږي چې له سرغړاوي څخه وډار شئ).

باید چې د نشه یي او مخدره توکو د جرایمو د مخنیوي او کموالي په میدان کې د سزا ورکولو سربېره اساسي حل ته هم زیاته پاملرنه وشي، چې هغه په ټولنه کې د دې جرایمو

په هکله اګاهي، په ولس کې د ښوونې او روزنې کچه پراخه کول، همدارنګه د جنايت کوونکو او مجرمينو په بند کې ساتنې پر مهال د هغوی ديني روزنې ته پاملرنه کيدل، ترڅو کله هغوی له بند څخه راووځي، د سمې عقيدې، نيک عمل او ښو اخلاقو لرونکي وي، د ځان، کورنۍ او ټولنې لپاره ګټور وګرځي.

**وړانديزونه**

۱. د نشه يي او مخدره موادو د مخنيوي په لارو چارو کې، خاص او عام، ولس او حکومت ټول يو بل ته لاسونه ورکړي. د د ينې وجيبې او مسئوليت له مخې بايد چې هر هېوادوال د دې ناروا کار په مخنيوي کې هلې ځلې وکړي.

۲. بايد چې علماء او مصلح خلک په ټولنه کې دا ذهن سازي وکړي چې د ايماني وجدان او احساس له مخې يو مسلما بايد پرانسان باندې ترحم او مهرباني ولري، همداراز يومسلمان يوازې د بل مسلمان د نجات او ژغورنې لپاره نه، بلکې د ټول انسانيت د لارښوونې او هوساينې لپاره هلې ځلې او کوښښونه وکړي.

۳. حکومت او نظام بايدد ټولو نشه يي او مخدره موادو پر توليد، سوداګرۍ او کارونې باندې سخت بنديزونه ولګوي. له جنايت کوونکو سره جدي چلند وشي او څوک چې هم اسلامي شريعت او قانون څخه سرغړونه کوي، که د مسئوليت په مقام کې وي او يا عام ولسې وګړی وي، د قانون منګولو ته وسپارل شي او محاکمه کړای شي.

۴. عالمانو او څېړونکو، او محصلينو لپاره دا وړانديز لرم، چې د نشه يي او مخدره توکو اړونده موضوع بېلابېلې برخې څېړنې ته اړتيا لري، لکه د نشه يي او مخدره توکو د مخنيوي لارې چارې، د نشه يي او مخدره توکو زيانونه، د معتادينو د درملنې

نظام پیاوړی کول. همدارنګه دا موضوع چې دلته په لنډه توګه څېړل شوې ده: (د نشه يي او مخدره توکو شرعي حکم) د دې وړتیا لري چې د ماسترۍ د مرحلې موضوع وګرځي، څو په تفصیل سره وڅېړل شي.

۵. د نشه يي او مخدره توکو پر موضوع کې د اړونده علمي ادارو او څېړنیزو مرکزونو لخوا سیمنارونه دایرول او د اګاهۍ برنامې په کار اچول.

۶. د حکومت اړونده ادارو له پلوه چې په دې وروستیو کې د پوډرو معتادینو د درملنې لپاره کوم اقدامات وشول، باید چې دغسې او یا دې ته ورته اقدامات دې د چرسو معتادینو په وړاندې هم وشي، چرسیانو ته د درملنې پر موخه مناسبې لارې چارې ولټول شي، توبه ویستلو ته اړ شي او د هغوی له ځواک څخه دهېواد او ټولنې په دیني او دنیاوي پرمختګ کې ګټې واخستل شي.

۷. د هېواد هغه سیمې چې د کوکنارو په کر او کښت باندې يې زیاته اتکا وي، باید چې دهغې په معاوضه کې ورته مناسب بدیل ولټول شي، لکه د هرات په ځینې ولسوالیو کې چې د زعفران بوټي کښت او کر رواج کیدل،د هېواد په ځینې شمالي سیمو کې د اینجې کښت او کر رامنځ کیدل، همداراز له دهقانانو سره باید چې لازمې مرستې وشي، څو د هغوی اقتصادي ستونزي حل شي او دغسې ناروا کښت ته بیا اړ نه شي.

۸. د روږدو (معتادینو) د درملنې لپاره په صحي مرکزونو کې وسعت او پراختیا رامنځ ته کیدل، همدرانګه د معتادینو لپاره د مشغولتیا او د هغوی له استعدادونو څخه د ګټې اخیستنې پر موخه حرفوي او صنعتي مرکزونو جوړولو ته د حکومت او خیري بنسټونو جدي پاملرنه کول.

۹. په موجوده وخت کې د روږدو او معتادینو ددرملنې لپاره چې کومې هڅې روانې دي، هغه کمې دي، نو باید چې حکومت او اړونده ارگانونه په دې هکله ځانگړې توجه وکړي. کیدای شي په دې ډگر کې د ځینو هېوادونو له تجاربو څخه استفاده وشي او د یو ځانگړي برنامې له لارې، له یوه اړخه د روږدو د تداوې لپاره روغتونونه زیات شي او له بله اړخه داسې مرکزونه جوړ شي، چې په کې روږدي کسان له صحي پاملرنې ترڅنگ، مناسب کسبونه زده کړي او کله چې خپلو کورنیو ته ورگرځي د گټې کولو او عاید ترلاسه کولو توانایي ورپه برخه شوي وي.

**ماخذونه**


١ـ القرآن الكريم

٢- ابن الأثير ،مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري، النهاية في غريب الحديث والأثر، چاپ: المكتبة العلمية - بيروت، 1399هـ ق - 1979م تحقيق: طاهر أحمد الزاوى - محمود محمد الطناحي.

٣ـ ابن تيمية ،تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (المتوفى: 728هـ ق)،الفتاوى الكبرى، چاپ: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ 1408هـ ق - 1987م.

۴ـ ابن حجر ،أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، چاپ: دار المعرفة - بيروت، 1379 هـ ق.

۵ـ أحمدبن حنبل، مسندالامام أحمدبن حنبل ،تحقيق :شعيب الأرنوط وآخرون ، چاپ: مؤسسة الرسالة ، دويم چاپ ۱۴۲۰هـ ق،۱۹۹۹م.

٦- البخاري،أبو عبدالله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة الجعفي ، الجامع المسند الصحيح.. لومړی چاپ: بيروت ، لبنان.

٧- البستي، أبو حاتم محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، الدارمي، (المتوفى: 354هـ)، صحيح ابن حبان ([الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان]ـ ترتيب: الأمير علاء الدين علي بن بلبان الفارسي (المتوفى: 739 هـ) تحقيق، د احاديثو تخريج او تعليق: شعيب الأرنؤوط، لومړی چاپ 1408 هـ ق.

٨- أبو بكر أحمد بن الحسين البيهقي، شعب الإيمان، تحقيق: محمد السعيد بسيوني زغلول،خپرونه: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ: 1410هـ ق.

٩- الجوزية، شمس الدين،محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد (المتوفى: 751هـ ق)، زاد المعاد في هدي خير العباد،خپرونه: مؤسسة الرسالة، بيروت مكتبة المنار الإسلامية، الكويت، اوويشتم چاپ1415هـ ق.

١٠- الجزيري،عبد الرحمن بن محمد عوض،(المتوفى: 1360هـ ق) الفقه على المذاهب، چاپ: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان دويم چاپ: 1424 هـ ق - 2003 م.

١١- الحصفكي،محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن الحنفي،الدر المختار بأعلى صفحة رد المحتار حاشية ابن عابدين،(الكتاب: رد المحتار على الدر المختار، ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين، الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ ق)، خپرونه:دار الفكربيروت،دويم چاپ 141هـ ق.

١٢- الدارقطني، الإمام الحافظ على بن عمر (المتوفى 385 ه ق)، سنن الدارقطني، تعليق او د احاديثو تخريج: مجدي بن منصور بن سيد الشورى، چاپ: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان.

١٣ـ الزحيلي، دكتور وهبة بن مصطفى، الفقه الاسلامي و أدلته، خپرونه: دار الفكر - سوريَّة – دمشق.

۱۴ـ الزيلعي ،فخر الدين عثمان بن علي بن محجن البارعي (المتوفى: 743 هـ ق)، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ..خپرونه: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة.

۱۵ـ السجستاني الحافظ ،أبي داود سليمان بن الاشعث السجستاني المتوفى (المتوفى 275 هـ ق) سنن أبي داود، تحقيق اوتعليق سعيد محمد اللحام ، چاپ: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.

۱٦ـ الشوكاني ،محمد بن علي بن محمد، نيل الأوطار شرح منتقى الأخبار من أحاديث سيد الأخيار، خپرونه: مكتبة الدعوة الإسلامية شباب الأزهر.

۱۷ـ الصابوني ،محمد علي، روائع البيان تفسير آيات الأحكام ، خپرونه او چاپ:مكتبة الغزالي - دمشق، مؤسسة مناهل العرفان - بيروت1400 هـ ق – 1980م .

۱۸ـ الصنعاني ،محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني، الكحلاني ، أبو إبراهيم، عز الدين، المعروف كأسلافه بالأمير ،(المتوفى: 1182هـ ق)، سبل السلام، خپرونه: دار الحديث.

۱۹- الطبراني ،الحافظ أبي القاسم سليمان بن احمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي ،،(المتوفى: 360هـ ق)، المعجم الاوسط، تحقيق أبو معاذ طارق بن عوض الله بن محمد أبو الفضل عبد الحسن بن إبراهيم الحسيني ، چاپ او خپرونه: دار الحرمين للطباعة والنشر والتوزيع.

۲۰- الطبراني، أبو القاسم، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي ،(المتوفى: 360هـ)، المعجم الكبير ،تحقيق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، خپرونه: مكتبة ابن تيمية القاهرة ،دويم چاپ.

۲۱- الفيروزآبادي، مجد الدين أبو طاهر محمدبن يعقوب (ت 817 هـ ق)، القاموس المحيط، خپرونه: مؤسسة الرسالة، د خپروني كال:1410هـ ق.

۲۲- القزويني،الإمام الحَافظ أبي عبد الله محمَّد بن يزيد بن ماجـة (209 - 273 هــ ق) سنن ابن ماجه، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، چاپ: دار الرسالة العلمية.

۲۳- المصري،محمد بن مكرم بن منظور الإفريقي، لسان العرب، لومړی ، خپرونه: دار صادر بيروت.

۲۴ـ النيسابوري، الإمام أبي الحسين مسلم بن الحجاج بن القشيري، الجـامع الصـحيح المسمى صحيح مسلم، تحقيق محمد فؤاد عبدالباقي،چاپ: بيروت.

۲۵- سيدسابق، فقه السنة،خپرونه::دار الكتاب العربي، بيروت،دريم چاپ 1397 هـ ق.

۲٦- صحت عامه، روغتيا مجله، ۲۵ گڼه، ۱۳۹۳هـ ش.

۲۷-علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هــ ق) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، خپرونه: دار الكتب العلمية، دويم چاپ: 1406هـ ق.

۲۸- مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية،جزء 23.

۲۹- وزارة الأوقـاف والشـئون الإسـلامية الكويـت، الموسـوعة الفقهيـة الكـويتي

د افغانستان اسلامي امارت — امارت اسلامی افغانستان

د لوړو زده کړو وزارت — وزارت تحصیلات عالی

معینیت علمی

ریاست تحقیق، تألیف و ترجمه

آمریت تألیف

شماره: ۳۲۱ / ۴۹۵

تاریخ: ۶/ ۱۱/ ۱۴۴۳ هـ ق

بلاک ☐ عاجل ☐ عادي ☐ استعجاب ☐

**د التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه محترم ریاست ته !**

ستاسي د (۳) ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۹هـ.ش ګڼه مکتوب په ځواب کې چې د (التقوی علمي مجله) تر عنوان لاندې علمي او څېړنیزې مجلې د جوړولو وړاندیز په اړه لیکل کیږي:

دغه موضوع د څېړنې، تالیف او ژباړې کمېسیون په (۹) نمبر پرتوکول په ۱۴۴۳/۱۱/۱ نېټه غونډه کې مطرح شوه.

د التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه د (التقوی علمي مجله) عنوان لاندې علمي او څېړنیزې مجلې د جوړولو جوړښت په لاندې توګه:

| شمېره | موضوع | بشپړ معلومات |
|---|---|---|
| ۱ | دامتیاز خاوند | د التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه |
| ۲ | مسؤل مدیر | منګل شېرزاد |
| ۳ | سردبیران | عرفان الله ستانکزی |
| ۴ | اداري بورډ | دوکتور عبدالوهاب حسام، دوکتور حمدالله کاکړ، دوکتور هلمند بختاني، دوکتور اظهارالحق عزیز، پوهاند فرمان الله، پوهاند شاه ولي خان، پوهنوال منګل شېرزاد، محمد ایمل حقمل، اظهار الحق عزیز او معروف شاه خان |
| ۵ | د نشر دوران | په هرو شپږ میاشتو کې |
| ۶ | د نشر ژبه | پښتو، دري او انګلیسي |
| ۷ | د علمي مجلې د فعالیت ساحه | ټولنیز علوم (حقوق، سیاسي علوم او اقتصاد) |

د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست لخوا د مجلې علمي اعتبار تر لاسه کولو پورې د مجلې د دوو ګڼو خپرول منظور شول.

د دوو ګڼو له خپرولو وروسته، د التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه کولای شي په رسمي ډول د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست ته د دې مجلې د علمي اعتبار د تر لاسه کولو په موخه پشنهاد وکړي.

دیادولو وړ ده چې په یاده مجله کې خپرې شوې مقالې چې د ثبت وروسته خپرې شوي د مجلې د اعتبار پر اساس د مثبت ارزونې په صورت کې د ترفیعي فرعي اثر په توګه منل کیږي.

په درنښت

دوکتور حمیدالله مزمل

د څېړنې، تالیف او ژباړې رئیس

Adress: Karte -4-, Kabul, Afghanistan

Tell: 0202500645

Email: rctdcompilation@gmail.com

آدرس: کارته چهار، کابل، افغانستان

تیلفون: ۰۲۰۲۵۰۰۶۴۵

ایمیل آدرس: rctdcompilation@gmail.com